پہ مختلفو موضوع گانو باندې

دتقريرونو يوه مُفصّله، مُعتَمده، علمي، او تحقيقي مجموعه:

# دتقريرونو

# مُدلّله ذخيره

6

شپږم جلد

(تاليف)


ابوالشمس مولانا نورالهدیٰ عُمری عنه

فاضل جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، ووفاق المدارس العربيه ملتان

ايم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان





زیر اهتمام

کفایت الله آزمانی

0344-9995990

مکتبه اعزازيّه محله جنگی پشاور

جاده ميوند پخته فروشی کابل



Scanned with CamScanner

دا کتاب د لیکوال په اجازه پی ډی ایف شوي دی، الله تعالیٰ دې ابو شمس مولانا نور الهدي صاحب ته اجر عظیم ورکړي.
ډیرو علماء کرام او طلباء ترې ګټه پورته کړه

📚کفایت دینی کتب خانہ📚

کفایت الله ابن صدیق
ټیلی ګرام نمبر. +923247442395
واټس ایپ نمبر
+923052488551

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner




Scanned with CamScanner

په مختلفو موضوع ګانو باندې

د تقريرونو يوه مُفَصَّلَه، مُعتَمَده، عِلمي، او تحقيقي مجموعه:

# د تقريرونو مُدَلَّلَــه ذَخيره

جلد ۶

تاليف

اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربية ملتان

ايم اے عبدالولی خان يونيورسٹی مردان

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د كتاب نوم : د تقريرونو مُدَلَّلَــهٔ ذخيره جلد ٦

مؤلف : آبُوالشَّمْس مولانا نُورُالهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

فون نمبر ۰۳۰٦۵۴۴۷۱۷۴

كمپوزر : مؤلف پخپله

د چاپ كال : ۱٤٤٣هـ ق ، مطابق ۲۰۲۱ ء

مكتبه اعزازيه
محله جنگي پشاور

زير اهتمام
كفايت الله ارماني ۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰

نوټ : د كتاب ټول حقوق د مكتبه اعزازيه سره محفوظ دي

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# سریزه ( د شپږم جلد )

نَحۡمَدُهٗ وَنُصَلِّيۡ عَلٰی رَسُوۡلِهِ الۡکَرِيۡم ، اَمَّا بَعۡد !

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّکۡرُ لِلّٰهِ . ددې کتاب شپږم جلد هم د الله ﷻ په فضل و کرم سره پوره شو . چونکه پنځم جلد کې ټوله د جنت موضوع وه ، د هغې څه حصه پاتې وه چې هغه "د جنت حُوري بِيبيانې او خادِمان" او "د جنت متعلق فِقهي مسائل" دي ، دا موضوع ګانې مې هم دلته په دې شپږم جلد کې اوليکلې .

او ورسره مې په دې جلد کې د جهنم موضوع په پوره تفصيل سره اوليکله : چې هغه "د جهنم عذابونه" "د جهنميانو د پاره سختې سزاګانې او مختلف عذابونه" دي .

اګر چې "د جهنم متعلق تفصيلي واقعات" او "جهنم ته بُوتلونکي بَداعمال" پاتې دي چې هغه به اِن شَاءَ الله په راتلونکي اُووم جلد کې وي ، او ورسره به د "آخرت د ورځې تفصيلي احوال" او څه نورې موضوع ګانې هم وي .

**خوشخبري** : اِن شَاءَ الله ددې پسې به اُووم جلد وي ، او دا سلسله به د الله ﷻ په توفيق سره همداسې تر يو وخته پورې جاري وي .

الله تعالی دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، او پَروَردِګار عالم دې دا کتابونه زما ، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذريعه اوګرځوي .

آمِيۡن يَا رَبَّ الۡعَالَمِيۡن .

رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّا اِنَّكَ اَنۡتَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴ نمبر راسره رابطه کولې شئ .

ابوالشمس نُورُالهدٰی عفی عنه

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# اِجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ت |
| ۲. | ۱. د جنت حُورې ، بِيبياني او خادمان | ۱ |
| ۳. | ۲. د جنت او حُورو متعلق فقهي مسائل | ۹۴ |
| ۴. | ۳. د جهنم عذابونه | ۱۱۰ |
| ۵. | ٤. د جهنميانو د پاره سختې سزاګانې او مختلف عذابونه | ۲۰۹ |
| ۶. | خوشخبري | ۳۳۱ |



Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# تفصيلي فهرست


| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ت |
| | **۱. د جنت حُورې ، بِيبياني او خادمان** | ۱ |
| ۲. | تمهيدي خبره | ۳ |
| ۳. | د جنت ښائسته حُورې او پاکيزه بيبيانې | ۳ |
| ۴. | د حُورې تعريف | ۴ |
| ۵. | د دُنيا دې ښځو ته به الله تعالى په جنت کې ځواني او ښائست ورکړي | ۹ |
| ۶. | د دُنيا ښځې به جنت ته د ځوانئ په حالت کې داخليږي | ۱۱ |
| ۷. | د جنت د ښځو ښائست | ۱۲ |
| ۸. | د جنتي ښځو د پنډو حُسن | ۱۵ |
| ۹. | د جنتي حُورو د غابښونو حُسن | ۱۶ |
| ۱۰. | د جنتي حُورو د لاسونو او مخ حُسن | ۱۷ |
| ۱۱. | د حورو د آئنگو او زيوراتو حُسن | ۱۷ |
| ۱۲. | د جنتي حُورو خوشبوئي | ۱۹ |
| ۱۳. | د جنتي حُورو سَندرې | ۱۹ |
| ۱۴. | د خپلو خاوندانو د وړاندې د جنتي ښځو سندرې | ۲۱ |
| ۱۵. | د جنت نهر په غاړه باندې د ځوانانو جينکو سندرې | ۲۲ |
| ۱۶. | د جنتي سَر او خپو ته د حُورو سندرې | ۲۳ |
| ۱۷. | د حورو خوش آوازي آوريدو سره د جنت د اُونو نه ښائسته آواز راوتل | ۲۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸. | د دُنیا ښځو ته به د جنت په حُورو باندې د عبادت په وجه فضیلت حاصل وي | ۲۴ |
| ۱۹. | د نېک عمله ښځو په جنت کې اُوچت مقام، او د جنتي د پاره ډېرې خوشحالي | ۲۷ |
| ۲۱. | د جنت تختونه | ۲۸ |
| ۲۲. | د جنت تکیه ګانې | ۲۸ |
| ۲۳. | د دُنیوي ښځې حُسن و جَمال | ۳۰ |
| ۲۴. | د دُنیوي ښځې ښائست | ۳۳ |
| ۲۵. | د دُنیوي ښځې د زَلفو ښائست | ۳۴ |
| ۲۶. | د دُنیوي ښځې د پاره خادمانې | ۳۴ |
| ۲۷. | "لُعبَه" حُورې | ۳۷ |
| ۲۸. | حورِ "عَینَاء" | ۳۷ |
| ۲۹. | "حورِعِین" به د خپل خاوند د اِستقبال د پاره د جنت په دروازه کې ولاړه وي | ۳۸ |
| ۳۰. | د "حورِعِین" په ناز او نخرو سره تلل | ۳۸ |
| ۳۱. | "حورِعِین" د څه شي نه پیدا شوي؟ | ۳۹ |
| ۳۲. | په جنت کې به بې وَاده کس نه وي | ۴۱ |
| ۳۳. | جنتیانو ته د حُورو ورکولو تعداد | ۴۲ |
| ۳۵. | هر جنّتي ته به د سلو (۱۰۰) کسانو قوّت ورکولې شي | ۴۷ |
| ۳۶. | په جنت کې به د بچو پیدا کیدو اِشتهاء نه پیدا کیږي، خو که پیدا شي نو سمدست به په لږ ساعت کې هر څه اوشي | ۵۰ |
| ۳۷. | په جنت کې به د خدمت د پاره د ملغلرو په شان ښائسته هلکان وي | ۵۴ |
| ۳۸. | دا هلکان به په جنتیانو باندې د صفا شرابو ډک ګلاسونه ګرځوي | ۵۵ |
| ۳۹. | د اَدنٰی جنتي د پاره به په زرهاؤ خادِمان وي | ۵۶ |
| ۴۰. | **هغه خاص اعمال چې د هغې په وجه انسان ته په جنت کې حُورې نصیبه کیږي** | ۵۷ |
| ۴۱. | ۱. د قدرت باوجود غصه برداشت کولو سره د جنت حُورې نصیب کیدل | ۵۹ |
| ۴۳. | ۲. اَمانت اداء کولو، قاتل معاف کولو، او د هر مانځه نه پس سورة الاخلاص ویلو سره حورِعِین نصیبُ کیدل | ۶۰ |

Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۴. | ۳ . جُمات صفا کولو سره حُورِعِین نصیب کیدل | ٦٠ |
| ۴۵. | ۴ . د لارې نه د تکلیف واله څیز لرې کول ، او د جُمات نه گندگي ویستل | ٦١ |
| ۴٦. | ۵ . په صدقې کولو سره د حورِعِین مستحق کیدل | ٦١ |
| ۴۷. | ٦ . په صحیح طریقې سره د رمضان روژې نیولو سره د حورو مستحق کیدل | ٦٢ |
| ۴۸. | ۷ . د شهادت په وجه حُورِعِین نصیب کیدل | ٦٣ |
| ۴۹. | د شهادت په وخت شهید ته حُورې راځي | ٦۴ |
| ۵۰. | ُورې چې د زخمي مجاهد لاس اُونیولو نو د مجاهد په لاس کې د حُورو د لاس ښائسته نښې پاتې شوی | ٦۵ |
| ۵۱. | د حورې د لاس نه اُوبه څکوُنکي مجاهد ته بیا د خوراک او څکاک ضرورت رانغی | ٦٨ |
| ۵۲. | روژه دار مُجاهد ته په خوب کې د حُورِعَیناء ویناچې : " نن د مونږ سره روژه ماته کړه " | ٦٩ |
| ۵۳. | مجاهد ته د شهادت نه مخکې په خوب کې حُورو " مرحبا " وویله | ۷۴ |
| ۵۴. | د حورو صفت آوریدو سره اُمِّ ابراهیم خپل نیازبین ځوي جهاد ته لیږل | ۷۷ |
| ۵۵. | ۸ . تهجّد مونځ کولو سره د جنت حُورې نصیب کیدل | ۸۱ |
| ۵٦. | ۹ . د قرآن کریم په تلاوت سره د جنت حُورې نصیب کیدل | ۸۴ |
| ۵۷. | د حُورو صفت آوریدو سره د غفلت نه توبه ویستل ، او عبادت طرف ته متوجه کیدل | ۸٦ |
| ۵۷. | کومه ښځه چې په دُنیا کې خپل خاوند ته تکلیف رسوي نو د جنت حُوره دې ښځې ته خبرې کوي | ۹۰ |
| ۵۸. | د غونډ تقریر خلاصه | ۹۰ |
| | **۲ . د جنت او حُورو متعلق فقهي مسائل** | ۹۴ |
| ۵۹. | جنت ته داخلیدل اعمالو سره دي او که د الله تعالی په فضل سره ؟ | ۹٦ |
| ٦۰. | په جنت کې د ټولو نه لوي نِعمت د الله تعالی دِیدار او د هغه رَضا ده | ۹۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ٦١. | جنت ته به ځنې حیوانات هم ځي | ۹۸ |
| ٦٢. | د مسلمانانو د نابالغه بچو حکم | ۱۰۰ |
| ٦٣. | د کافرانو د نابالغه بچو حکم | ۱۰۱ |
| ٦٤. | دُنیوي ښځه به د جنت د حُورو سَرداره وي | ۱۰۲ |
| ٦٥. | کومې ښځې چې په دُنیا کې ډیر خاوندان کړي وي نو دا به په جنت کې د کوم خاوند سره وي ؟ | ۱۰۳ |
| ٦٦. | کومه مسلمانه بالغه جینۍ چې بغیر د نکاح کولو نه وفات شوي وي دا به په جنت کې چاته ورکولې شي ؟ | ۱۰۴ |
| ٦٧. | کومه نابالغه جینۍ چې په ماشوم والي کې وفات شوي وي دا به په جنت کې چاته ورکولې شي ؟ | ۱۰۵ |
| ٦٨. | که مسلمان خاوند د ګناهونو د وجې جهنم ته لاړ شي او ښځه یې جنت ته لاړه شي نو دواړه به څنګه ملاویږي ؟ | ۱۰٦ |
| ٦٩. | که خاوند د دُنیا نه کافر تللې وي او ښځه یې مسلمانه وي نو دا به په جنت کې چاته ورکولې شي ؟ | ۱۰٦ |
| ۷۰. | په جنت کې به جِماع وي خو مَني خارجیدل او غُسل به نه وي | ۱۰۷ |
| ۷۱. | غِلمان به د خدمت د پاره وي ، د جِماع د پاره به نه وي | ۱۰۸ |


## ۳ . د جهنم عذابونه


| | | ۱۱۰ |
| --- | --- | --- |
| ۷۲. | تمهیدي خبره | ۱۱۱ |
| ۷۳. | د ”جهنم“ تعریف | ۱۱۲ |
| ۷۴. | کافران به همیشه په جهنم کې وي ، او مسلمانان به صرف د ګناهونو ختمولو د پاره جهنم ته داخلولې شي | ۱۱۲ |
| ۷۵. | د دُوزخ مختلف نومونه | ۱۱۳ |
| ۷۵. | جهنم به د قیامت په ورځ میدانِ محشر ته راوستې شي | ۱۱۳ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۷۶. | د جهنم به اَويا زره واګې وي ، او هره واګه بهٔ اَويا زره فرښتو نيولي وي | ۱۱۵ |
| ۷۷. | د قيامت په ورځ به جهنم ښکاره کړې شي او هر کس به يې په يقين سره اوګوري | ۱۱۶ |
| ۷۸. | د سختې غصې په وجه د جهنم شور او آوازونه | ۱۱۸ |
| ۷۹. | جهنم هر سهر او ماښام خطرناک آوازونه کوي | ۱۲۰ |
| ۸۰. | د جهنم آواز کولو سره د ټولو مخلوقاتو يَره | ۱۲۰ |
| ۸۱. | د جهنم اُور به بار بار تېزولې شي | ۱۲۳ |
| ۸۲. | د جهنم اُور ډير ګرم دی | ۱۲۴ |
| ۸۳. | د جهنم اُور د دُنيا د اُور نه اَويا (۷۰) چنده زيات ګرم دی | ۱۲۵ |
| ۸۴. | د جهنم اُور دومره تېز دی چې د دې يوه حصه بلې حصې له خُوري | ۱۲۶ |
| ۸۵. | د "طبقهٔ هاويه" اُور ډير ګرم دی | ۱۲۷ |
| ۸۶. | د جهنم اُور به لمبې وهي | ۱۲۷ |
| ۸۷ | د جهنم د ګرمی اَثر ډير لرې رَسي | ۱۲۸ |
| ۸۸. | د جهنم اُور به هميشه بَل وي | ۱۲۹ |
| ۸۹. | د جهنم اُور درې زره (۳۰۰۰) کاله بل شوی ، او س تَک تور دی | ۱۲۹ |
| ۹۰. | د جهنم اُور به مخونه سوَزوي ، او شکل به خرابوي | ۱۳۰ |
| ۹۱. | د جهنم عذاب سره د تارګولو په شان توريدل | ۱۳۱ |
| ۹۲. | د جهنم اُور سره به څرمن او اَندامونه د بدن نه جدا شي | ۱۳۲ |
| ۹۳. | د جهنم اُور سره د کافرانو څرمن سوَزيدل او بيا نوې کيدل | ۱۳۴ |
| ۹۴. | د جهنم اُور سره په لږ ساعت کې سل (۱۰۰) پيرې څرمن سوَزيدل او دوباره جوړيدل | ۱۳۴ |
| ۹۵. | د هر دوه څرمنو په مينځ کې جدا قِسم عذاب | ۱۳۵ |
| ۹۶. | په هره ورځ اَويا زره (۷۰۰۰۰) پيرې په اُور څرمن سوَزيدل او بيا جوړيدل | ۱۳۵ |
| ۹۷. | د مجرمانو مخونه به د اُور په لمبو کې پټ وي | ۱۳۶ |
| ۹۸. | د جهنم اُور به په کافرانو او مجرمانو باندې اِحاطه کړي وي | ۱۳۶ |
| ۹۹. | په ظالمانو باندې به د اُور دِيوالونو اِحاطه کړي وي | ۱۳۸ |

| صفحه | موضوع | نمبر شمار |
| --- | --- | --- |
| ۱۳۹ | د جهنم اُور به په مجرمانو باندې د خپلو ګناهونو په مقدار احاطه کړې وي | ۱۰۰ |
| ۱۳۹ | د جهنم اُور به زړه ته رسيږي | ۱۰۱ |
| ۱۴۰ | کافران به د خپلو مخونو او شاګانو نه اُور نشي دفع کولی | ۱۰۲ |
| ۱۴۲ | د جهنميانو مخونه به تک تور وي | ۱۰۴ |
| ۱۴۳ | جهنميان به پړمخې جهنم ته راښکلې شي | ۱۰۵ |
| ۱۴۴ | رِياکار به پړمخې جهنم ته غورځولې شي | ۱۰۶ |
| ۱۴۷ | ګمراهان به د قيامت په ورځ پړمخ په مخونو باندې راپاڅولې شي | ۱۰۷ |
| ۱۴۷ | د يو سوال جواب | ۱۰۸ |
| ۱۴۸ | د جهنم خَشاک به انسانان او کانړي وي | ۱۰۹ |
| ۱۵۰ | ضروري وضاحت | ۱۱۰ |
| ۱۵۲ | د جهنم ډُوبوالې او غټوالې | ۱۱۱ |
| ۱۵۲ | اللّٰه تعالی د جهنم ډکولو فيصله کړې | ۱۱۲ |
| ۱۵۴ | په جهنم کې غورځيدونکې کانړې آويا کاله پس د جهنم بيخ ته اُورسيد | ۱۱۳ |
| ۱۵۵ | صرف د جهنم په پُل باندې به دا ټول انسانان ځائيږي | ۱۱۴ |
| ۱۵۶ | په جهنم کې به د اُوښانو هومره ماران او د قچرو هومره لړمان وي | ۱۱۵ |
| ۱۵۷ | د لړمانو غټې غټې لشې | ۱۱۶ |
| ۱۵۸ | څوک چې په دُنيا کې مؤمنانو ته ضَرَر رسوي نو په جهنم کې به ورباندې ماران او لړمان مسلّط کيږي | ۱۱۷ |
| ۱۵۹ | په جهنم کې زَهرجَن ګنجې مار | ۱۱۸ |
| ۱۶۰ | جهنم د کافرانو د پاره قيدخانه ده | ۱۱۹ |
| ۱۶۱ | د قيامت په ورځ د جهنم نه "عُنُق" راوتل، او درې کسانو ته عذاب ورکول | ۱۲۰ |
| ۱۶۳ | د جهنم د سختې يَخنۍ عذاب | ۱۲۱ |
| ۱۶۵ | **د جهنم وَاديانې** | ۱۲۲ |
| ۱۶۵ | د جهنم په يوې وادۍ کې "هَبهَب" کوهي / ( يا : هَبهب وادي ) | ۱۲۳ |

Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۲۴ | په جهنم کې " وَیل " وادي | ۱٦٦ |
| ۱۲۵ | په جهنم کې " جُبّ الحُزن " وادي | ۱٦٧ |
| ۱۲۷ | په جهنم کې " غَيّ " وادي | ۱٦٨ |
| ۱۲۸ | په جهنم کې " آثام " وادي | ۱٦٩ |
| ۱۲۹ | په جهنم کې " مَوبِق " وادي | ۱٦٩ |
| ۱۳۰ | په جهنم کې اَویا زره ( ۷۰۰۰۰ ) خطرناکې وادیانې دي | ۱۷۰ |
| ۱۳۱ | د جهنم اُووه (۷) دَروازې دي ، هر قِسم جهنمیانو له ځانله دروازه مخصوص ده | ۱۷۱ |
| ۱۳۲ | جهنم د مخکې نه تیار کړې شوی ، او اوس هم موجود دی | ۱۷۳ |
| ۱۳۳ | په جهنم باندې سخت خُویه او قوي فرښتې مقرر دي | ۱۷۵ |
| ۱۳۴ | په جهنم باندې د مقرر شوو فرښتو سختي او قوّت | ۱۷۵ |
| ۱۳۵ | په جهنم باندې نورلس (۱۹) فرښتې مقرر دي | ۱۷۷ |
| ۱۳٦ | د جهنم داروغه ( مالِک ) ډیر بَدشکله دی ، دا به د جهنم اُور تېزوي | ۱۷۸ |
| ۱۳۷ | د جهنم د پاسه پُل صراط دی ، هر کس به پدې باندې تېرېږي | ۱۸۰ |
| ۱۳۸ | په پُل صراط باندې به هر کس د خپلو اعمالو په اِعتبار سره تیرېږي | ۱۸۲ |
| ۱۳۹ | د پل صراط دواړو غاړو ته به د اَزغو په شان خطرناکې د اُور ګُنډې وي چې خلق به د خپلو ګناهونو په مقدار رانیسي | ۱۸۴ |
| ۱۴۰ | پُل صراط به د تورې نه تېره ، او د ویښته نه نرې وي | ۱۸۷ |
| ۱۴۱ | په جهنم باندې د پل ضراط ایخودو سره د فرښتو الله ﷻ ته عرض ، او یَره | ۱۸۸ |
| ۱۴۲ | پل صراط دومره اُوږد دی چې د قیامت په ورځ به دا ټول خلق ددې د پاسه وي | ۱۸۹ |
| ۱۴۳ | په پل صراط باندې درې زره ( ۳۰۰۰ ) کاله مسافت مزل دی | ۱۹۰ |
| ۱۴۴ | که چیرته دا خلق په دُنیا کې د جهنم د اَحوالو نه خبر شي نو بیا به لږ اُوخاندي او ډیر به اُوژاړي | ۱۹۱ |
| ۱۴۵ | د جهنم سزاګانې د انسان د سوچ نه بهر دي | ۱۹۳ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۴۶ | اوس دې انسان سوچ او کړي چې جنهم ښه دی او که جنت ؟ | ۱۹۳ |
| ۱۴۷ | افسوس چې خلق د جهنم نه د بچ کیدو کوشش نه کوي | ۱۹۵ |
| ۱۴۸ | جهنم په شهوتونو او خواهشاتو باندې پټ شوی | ۱۹۵ |
| ۱۴۹ | مجموعي لحاظ سره په جهنم کې به زيات مقدار د ياجوج و ماجوج وي | ۱۹۸ |
| ۱۵۰ | په جهنم کې به د سړو په نسبت ښځې زياتې وي | ۲۰۰ |
| ۱۵۲ | جهنم ته د زياتو ښځو داخليدو وجه " د خپل خاوند ناشکري ، او ډير لعنت ويل " دي | ۲۰۱ |
| ۱۵۳ | ددې اُمت په درې اَويا (۷۳) فِرقو کې به يوه فِرقه جنت ته ځي ، او دا نورې دوه اَويا (۷۲) فِرقې به جهنم ته ځي | ۲۰۳ |
| ۱۵۴ | د غونډ تقرير خلاصه | ۲۰۵ |
| ۱۵۵ | دُعا | ۲۰۷ |
| | **٤ . د جهنميانو د پاره سختې سزاګانې او مختلف عذابونه** | ۲۰۹ |
| ۱۵۶ | نوټ | ۲۱۰ |
| ۱۵۷ | " د جهنم سزاګانې " ذکر کولو وجه | ۲۱۲ |
| ۱۵۸ | **جهنميانو ته به مختلف قِسمه عذابونه ورکولې شي** | ۲۱۲ |
| ۱۵۹ | د کافرانو او ګناهګارانو په سَر به ګرمې اُوبه اړولې شي | ۲۱۲ |
| ۱۶۰ | د جهنميانو د ټولو نه سپک عذاب هم ډير خطرناک دی | ۲۱۴ |
| ۱۶۱ | جهنميان به د اُور په زَنځيرونو او هَتکړو کې تړلې شي | ۲۱٦ |
| ۱٦۲ | کافران به په زنځيرونو کې د تړلو نه پس په ګرمو اُوبو کې راښکلې شي او جهنم ته به غورځولې شي | ۲۱۸ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ١٦٣ | مُجرمان به په جهنم کې په زنځيرونو کې تړل شوي وي او د دوی قميصونه به د ګوګړو وي | ٢١٨ |
| ١٦٤ | د جهنم زنځيرونه به ډير اُوږده وي | ٢١٩ |
| ١٦٥ | د جهنم زنځيرونه به ډير درانه وي | ٢٢٠ |
| ١٦٦ | د جهنم په زنځيرونو کې د کافرانو تړلو کيفيت | ٢٢٠ |
| ١٦٧ | کافران به د اُوسپنو په ګُرزُونو باندې وهلې شي | ٢٢١ |
| ١٦٨ | د جهنم د ګرزونو دروند والې | ٢٢٢ |
| ١٦٩ | د جهنم په ګرز باندې وهلو سره ټول اندامونه جدا جدا کيدل | ٢٢٢ |
| ١٧٠ | جهنمي به په ګرز باندې لړيدو سره ځان د جهنم په تالاب کې غوپه کړي | ٢٢٣ |
| ١٧١ | کافرانو ته به په جهنم کې د اُور په غر باندې د ختلو سزا ورکولې شي | ٢٢٣ |
| ١٧٢ | **د جهنميانو خوراک** | ٢٢٥ |
| ١٧٣ | ١. د زقوم د اُونې نه خوراک | ٢٢٥ |
| ١٧٤ | د زقوم اُونه به د وِيلې شوې تانبې په شان په خېټه کې داسې جوش وهي لکه ګرمې اُوبه | ٢٢٥ |
| ١٧٥ | د زقوم اُونه د جهنم په مينځ کې ده ، په جهنميانو به ددې د خوراک نه پس ګرمې اُوبه څکلې شي | ٢٢٦ |
| ١٧٦ | که د زقوم اُونې يو څاڅکې دُنيا ته رااُوڅاڅي نو د ټولې دُنيا خلقو ژوند به تباه کړي | ٢٢٩ |
| ١٧٧ | ٢. جهنميانو ته به د خوراک د پاره غِسلين ( وِينې او زَوې ) ورکولې شي | ٢٣٠ |
| ١٧٨ | "غِسلين" به ډير زيات ګرم وي | ٢٣١ |
| ١٧٩ | ٣. جهنميانو ته به د خوراک د پاره ذا غصّه ( په مَرئ کې نختونکې خوراک ) ورکولې شي | ٢٣٢ |
| ١٨٠ | ۴. جهنمياتو ته به د خوراک د پاره ضَريع ( اَزغي دار بُوټې ) ورکولې شي | ٢٣٣ |
| ١٨١ | د ضريع تشريح | ٢٣٣ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۲ | **د جهنميانو د څکلو اُوبه** | ۲۳۴ |
| ۱۸۳ | ۱. په جهنميانو به ګرمې جُوشيدلې اُوبه څکلې شي | ۲۳۴ |
| ۱۸۴ | ۲. په جهنميانو باندې به د زخمونو وِينې، زَوې، او نَوُونه څکلې شي | ۲۳۶ |
| ۱۸۵ | د غسّاق په باره کې بل قول | ۲۳۷ |
| ۱۸۶ | که د جهنميانو د غسّاق (يعنی د وِينو او زَوُو) يوه بُوقه دنيا ته راواړولې شي نو ټوله دُنيا به بَدبُويه شي | ۲۳۸ |
| ۱۸۷ | جهنميان به وِينې او زَوې په ګوټ ګوټ څکي خو په آسانه به يې نشي تيرولی | ۲۳۸ |
| ۱۸۸ | ۳. په جهنميانو باندې به د تېلو د خِيرې يا ويلې شوې تانبې په شان ګرمې اُوبه هم څکلې شي | ۲۴۰ |
| ۱۹۰ | ۴. په دُنيا کې نشه کوونکي خلقو باندې به په آخرت کې طِيْنَةُ الْخَبَال (يعنی د جهنميانو خوَله) څکلې شي | ۲۴۱ |
| ۱۹۲ | هميشه شراب څکونکی به په جهنم کې د زِناکاره ښځو د شرمګاه اُوبه څکي | ۲۴۲ |
| ۱۹۳ | جهنميانو ته به يوه قطره خوَړې اُوبه او يوه خوَړه نوَړی هم نشي ورکولی | ۲۴۳ |
| ۱۹۵ | **جهنميانو ته به د سختې تندې او سختې اُولږې عذاب ور کولې شي** | ۲۴۴ |
| ۱۹۶ | مجرمان به په جهنم کې تږي غورځولې شي | ۲۴۴ |
| ۱۹۷ | يهود او نصارٰی به د تَندې په حالت کې جهنم ته غورځولې شي | ۲۴۴ |
| ۱۹۸ | د کافرانو د اُولږې او تندې نه فريادونه | ۲۴۵ |
| ۱۹۹ | کافرانو ته په ميدانِ محشر کې پنځوس زره کاله خوراک او څکاک نه ورکول او بيا پرې د جهنم ګرمې اُوبه څکل | ۲۴۹ |
| ۲۰۰ | په جهنميانو باندې به د سختې تَندې نه پس ګرمې خُوټکيدلې اُوبه څکلې شي | ۲۵۰ |
| ۲۰۱ | **جهنميانو د پاره د اور خطرناک لباس** | ۲۵۱ |
| ۲۰۲ | کافرانو ته به د اُور کپړې وَراغوستلې | ۲۵۱ |
| ۲۰۳ | د بعضې مجرمانو قميصونه به د ګوګړو (رانځړو) وي | ۲۵۲ |
| ۲۰۴ | د جهنم د کپړو ګرمائش | ۲۵۳ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۰۵ | د جهنم لباس به اول ابليس ته وَراغوستلې شي | ۲۵۳ |
| ۲۰۶ | په مري باندې چغې سُورې وهونکې ښځې ته به د اُور لباس او خارَښ گرته وَرواغوستلې شي | ۲۵۴ |
| ۲۰۷ | د اُور پَنړې | ۲۵۶ |
| ۲۰۸ | د دِين احکامات پټونکي عالِم ته به د قيامت په ورځ په خُله کې د اُور واگې وَرواچولې شي | ۲۵۷ |
| ۲۰۹ | **د جهنميانو بِستره او برَستن دواړه به د اُور وي** | ۲۵۸ |
| ۲۱۰ | جهنميان به د هر طرف نه اُور راگير کړي وي | ۲۵۸ |
| ۲۱۱ | د جهنميانو هر څه به د اُور وي | ۲۵۹ |
| ۲۱۲ | **د جهنميانو چغې او سُورې** | ۲٦۱ |
| ۲۱۳ | د زَفير او شهيق تشريح | ۲٦۱ |
| ۲۱۴ | **د جهنميانو ژړا** | ۲٦۲ |
| ۲۱۵ | جهنميان به د سخت عذاب په وجه دومره اُوژاړي چې په آخر کې به يې د سترگو نه د اُوښکو په ځاى وِينې روانې شي | ۲٦۲ |
| ۲۱٦ | د ډيرې ژړا په وجه به د جهنميانو آواز کيني | ۲٦۴ |
| ۲۱۷ | جهنميان به په تنگ ځاى کې اَچولې شي | ۲٦۴ |
| ۲۱۸ | کافران به د اُور په تابوتونو کې بند وي | ۲٦٦ |
| ۲۱۹ | د جهنم دروازې به په کافرانو باندې رابندولې شي او په ستَنو پورې به کلک تړلې شي | ۲٦۸ |
| ۲۲۰ | د الله تعالی عذاب او تړَل ډير سخت دي | ۲۷۰ |
| ۲۲۱ | د جهنميانو بَدبُوئي | ۲۷۱ |
| ۲۲۲ | د څلور قِسمه جهنميانو د عذاب نه به نور جهنميان هم تَنگ وي | ۲۷۳ |
| ۲۲۳ | په جهنم کې کولمې راوتل او د ځان پسې راښکل | ۲۷۵ |
| ۲۲۳ | **د جهنميانو جِسمونه به د عذاب د پاره غټولې شي** | ۲۷٦ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲۴ | د کافر د غاښونو او څرمن غټوالې | ۲۷۶ |
| ۲۲۵ | د کافر د مَټ، ورنون، او د ناستې ځای غټوالې | ۲۷۷ |
| ۲۲۶ | د کافر د اُوږو د مینځ غټوالې | ۲۷۸ |
| ۲۲۷ | د جهنمیانو د غوږونو نرمۍ نه ترد اُوږې پورې غټوالې | ۲۷۸ |
| ۲۲۸ | د جهنمیانو د غوږونو د نرمۍ او اُوږې په مینځ کې به د نَوُونو او وِینو وادۍ (خوَړونه) بهیږي | ۲۷۹ |
| ۲۳۰ | بعضې مسلمانان به د خپلو گناهونو په وجه دومره غټ شي چې د جهنم یو گنج به مکمل اُونیسي | ۲۸۰ |
| ۲۳۱ | کافر به د ځان پسې دوه فرسخه مقدرا غټه ژبه راکاږي | ۲۸۱ |
| ۲۳۲ | د والدینو نافرماني کوونکي کس وجود به هم د عذاب د پاره غټولې شي | ۲۸۱ |
| ۲۳۳ | د احادیثو په مینځ کې تطبیق | ۲۸۲ |
| ۲۳۴ | کافرانو د پاره به په جهنم کې د تکبّر په وجه د رَسوایۍ عذاب وي | ۲۸۳ |
| ۲۳۵ | الله‌تعالی به د بعضې کافرانو ذلیله کولو د پاره د هغوی په پُوزه باندې داغ اُولږوي | ۲۸۳ |
| ۲۳۶ | د جهنمیانو په عذاب کې به هیڅ کمې نشي کولی | ۲۸۴ |
| ۲۳۷ | جهنمیانو ته به د هر طرف نه د مرگ اَسباب راځي خو مره کیږي به نه | ۲۸۶ |
| ۲۳۸ | د قیامت په ورځ به مرگ د جنت او جهنم په مینځ کې ذبح کړې شي | ۲۸۷ |
| ۲۳۹ | جهنمیان به د الله ﷻ د دِیدار نه محروم وي | ۲۹۰ |
| ۲۴۰ | د کافرانو او مجرمانو د پاره بعضې نامعلوم عذابونه | ۲۹۰ |
| ۲۴۱ | د قیامت په ورځ به په کافرانو او گناهگارانو باندې د دوی غوږونه، سترگې او څرمن د دوی خلاف گواهي ورکړي | ۲۹۲ |
| ۲۴۲ | د قیامت په ورځ به په کافرانو او گناهگارانو باندې د دوی لاسونه او خپې د دوی خلاف گواهي ورکړي | ۲۹۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٢٤٣ | **د جهنميانو دَرخواستونه او آرزوګانې** | ٢٩٤ |
| ٢٤٤ | جهنميان به د جهنم نه د وتلو او دُنيا ته د واپس تللو درخواست اوکړي خو قبول به نشي | ٢٩٤ |
| ٢٤٥ | د عذاب په ليدلو اِقرار کول ، او دُنيا ته د واپس تللو آرزو کول | ٢٩٧ |
| ٢٤٦ | د جهنم په ليدلو دُنيا ته د واپس کيدلو آرزو کول | ٢٩٨ |
| ٢٤٧ | د جهنم په ليدلو اَفسوس کول : " چې کاش ما په دُنيا کې نېک اعمال کړي وی " | ٢٩٩ |
| ٢٤٨ | کافران به د جهنم په ليدلو دا آرزو اوکړي: "چې کاش په دُنيا کې مو د الله او رسول اِطاعت کړې وی " | ٢٩٩ |
| ٢٤٩ | کافران به په جهنم کې په خپلو کارونو پښيمانتيا ښکاره کړي | ٣٠٠ |
| ٢٥٠ | په کافر کې عقل نه وي | ٣٠٠ |
| ٢٥١ | کافر به د جهنم په ليدلو آرزو اوکړي چې " کاش زه خاورې وی " | ٣٠١ |
| ٢٥٢ | ظالمان به د عذاب په ليدلو پښيمانتيا ښکاره کړي خو فائده به نه ورکوي | ٣٠١ |
| ٢٥٣ | ظالمان چې په دُنيا کې عذاب اوګوري نو نور مهلت به غواړي خو نه به شي ورکولی | ٣٠٢ |
| ٢٥٤ | کافران او ګناهګاران به د مرګ په وخت هم دا آرزو کوي چې په دُنيا کې د نېک عمل د پاره نور وخت راکړې شوې وی | ٣٠٣ |
| ٢٥٥ | مُجرم او کافر که د جهنم د عذاب نه ځان بچ کولو د پاره هر څه ورکول اُوغواړي خو دا به نشي قبلولی | ٣٠٥ |
| ٢٥٦ | د جهنم داروغه ګانو (نِګرانانو فرښتو) ته د عذاب سپکولو درخواست کول | ٣٠٧ |
| ٢٥٧ | د جهنم د ټولو فرښتو سردار "مالِک " ته درخواست کول " چې مونږ ته دې مرګ راشي " | ٣٠٨ |
| ٢٥٨ | د جهنم داروغه ګان ( محافظې فرښتې ) به د کافرانو نه پوښتنې اوکړي | ٣٠٩ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٢٥٩ | منافقان به د قيامت په ورځ د مؤمنانو نه د نور حاصلولو درخواست اوکړي خو قبول به نشي | ٣١١ |
| ٢٦٠ | د جنتيانو او جهنميانو په خپل مينځ کې خبرې | ٣١٣ |
| ٢٦١ | د قيامت په ورځ په مُجرمانو پسې خندل | ٣١٣ |
| ٢٦٢ | په جهنم کې به تابعين د خپلو ګمراه مشرانو نه د عذاب کمولو درخواست اوکړي خو هغوی به يې څه مدد اونکړې شي | ٣١٥ |
| ٢٦٣ | په جهنم کې به تابعين د خپلې ګمراهۍ پړه په ګمراه متبوعينو وَرواچوي خو هغوی به اِنکار اوکړي | ٣١٧ |
| ٢٦٤ | مَتبوعين به د عذاب په ليدلو سره ځان د تابعينو نه بې زاره کړي | ٣١٩ |
| ٢٦٥ | شيطان به په جهنم کې د خپلو پيروانو نه ځان بې زاره کړي | ٣٢٠ |
| ٢٦٦ | تابعين به الله ﷻ ته دَرخواست اوکړي چې "زمونږ دې ګمراه مشرانو ته دُوچند عذاب ورکړه، او لعنت پرې رااُوليږه" | ٣٢٢ |
| ٢٦٧ | الله تعالى ته درخواست کول: "چې مونږ لره ګمراه کوونکي مشران راته اُوښايه چې په خپو پرې اُوخيجو" | ٣٢٤ |
| ٢٦٨ | د کافرانو نه به په قيامت کې خپل باطل معبودان ورک شي | ٣٢٤ |
| ٢٦٩ | اوس الله ﷻ طرف ته متوجِّه کيدل په کار دي، ګني بيا به سرې اَرمانونه کوي خو په ګوتو به ورته څه نه ورځي | ٣٢٥ |
| ٢٧٠ | خپل ځان او خپل اَولاد د جهنم د اُورنه بچ کول په کار دي | ٣٢٦ |
| ٢٧١ | د آخرت ناکامي ډير غټ تاوان دی | ٣٢٧ |
| ٢٧٢ | د غونډ تقرير خلاصه | ٣٢٨ |
| ٢٧٣ | دُعا | ٣٣٠ |
| ٢٧٤ | خوشخبري | ٣٣١ |
| ٢٧٤ | د غونډ کتاب اجمالي فهرست | ٣ |


Scanned with CamScanner

ا

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ وَزَوَّجۡنٰهُمۡ بِحُوۡرٍ عِيۡنٍ ﴾

الدخان آية ۵۴ .

# د جنت حُورې، بِيبيانې او خادمان

تاليف


آبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، ووفاق المدارس العربية ملتان

ايم اے عبدالولی خان يونيورسٹی مردان


Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جنت حُورې، بيبياني او خادمان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴾. (١)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ۝ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ ﴾. (٢)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ وَلَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾. (٣)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: .... وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا، وَلَمَلَأَتْهُ رِيْحًا، وَلَنَصِيْفُهَا عَلٰى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا. (٤)

---

(١) الدخان آية ٥٤ . و سورة الطور آية ٢٠ .

(٢) الصافات آية ٤٨ ، ٤٩ .

(٣) البقرة آية ٢٥ .

(٤) پوره حديث داسې دى : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَرَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ غَدْوَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنَ الجَنَّةِ، أَوْ مَوْضِعُ قِيدٍ - يَعْنِي سَوْطَهُ - خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا، وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا، وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا . صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ الحُورِ العِينِ، وَصِفَتِهِنَّ يُحَارُ فِيهَا الطَّرْفُ، شَدِيدَةُ سَوَادِ العَيْنِ، شَدِيدَةُ بَيَاضِ العَيْنِ" رقم الحديث ٢٧٩٦ . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ١٦٥١ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٢٤٣٦ . مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق باب صفة الجنة واهلها الفصل الاول رقم الحديث ٥٦١٤(٣) .

وَ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : .... لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ ، كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ لَحْمِهَا مِنَ الْحُسْنِ . (١)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمِ .

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! الله تعالی چې جنّتيانو ته په جنت کې کوم نِعمتونه ورکوي په هغې کې يو نِعمت حُورې هم دي .

د قرآن کريم په مختلفو ځايونو کې ، او په صحيح احاديثو کې دا خبره ذکر ده چې الله تعالی به جنتيانو ته د غټو سترګو واله ، د ملغلرو په شان داسې ښائسته همزولې حُورې هم ورکوي چې هغوی ته به دد ينه مخکې انسانانو او پيريانو لاس نه وي وَروړی .

په نن موضوع کې به اِنْ شَاءَ الله زه تاسو ته د جنت د حُورو ، غِلمانو ، پاکيزه بيبيانو او خادمانو متعلق بيان کوم :

## د جنت ښائسته حُورې او پاکيزه بيبيانې

١ . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴾ . (٢)

---

(١) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُوْرَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ، وَالَّذِيْنَ عَلَى إِثْرِهِمْ كَأَشَدِّ كَوْكَبٍ إِضَاءَةً ، قُلُوْبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ ، لَا اخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ ، لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ ، كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ لَحْمِهَا مِنَ الْحُسْنِ ، يُسَبِّحُوْنَ اللهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ، لَا يَسْقَمُوْنَ ، وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ ، وَلَا يَبْصُقُوْنَ ، آنِيَتُهُمُ الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ ، وَأَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ ، وَوَقُوْدُ مَجَامِرِهِمُ الْأَلُوَّةُ _ قَالَ أَبُو الْيَمَانِ : يَعْنِي الْعُوْدَ _ ، وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ .
صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوْقَةٌ رقم الحديث ٣٢٤٦ ، و رقم الحديث ٣٢٤٥ .
مشكاة المصابيح كتاب أحوال القِيَامَة وبدء الخلق بَاب صفة الجنة وأَهْلهَا الْفَصْل الأول رقم الحديث ٥٦١٩(٨) .

(٢) الدخان آية ٥٤ . و سورة الطور آية ٢٠ .

ترجمه: او مونږ به واده کړو دوی ته د غټو سترګو واله (ښائسته) حورې. (۱)

## د حورې تعريف

" حُوره " هغې ښځې ته وايي چې ځوانه، ښکلې مخ واله، ښائسته، سپينه او د غټو مزيداره سترګو واله وي چې د سترګو سپين والې يې تک سپين وي او تور والې يې تک تور وي، جنتي چې هغې ته اوګوري نو د ډير ښائست په وجه به حيران شي، آئنګي به يې دومره صفا وي چې جنّتي ته به د هغې په آئنګو کې خپل مخ ښکاري. (۲)

۲. الله تعالى په قرآن کريم کې د حورو نور صفتونه داسې ذکر کړي:

---

(۱) {وَ زَوَّجۡنَاهُمۡ} مِنَ التَّزۡوِيجِ أَوۡ قَرَنَّاهُمۡ {بِحُورٍ عِينٍ} بِنِسَاءٍ بِيضٍ وَاسِعَاتِ الأَعۡيُنِ حسانها. تفسير الجلالين سورة الدخان آية ۵۴.

{كَذٰلِكَ وَ زَوَّجۡنَاهُمۡ} أَيۡ كَمَا أَكۡرَمۡنَاهُمۡ بِمَا وَصَفۡنَا مِنَ الجَنَّاتِ وَالعُيُونِ وَاللِّبَاسِ كَذٰلِكَ أَكۡرَمۡنَاهُمۡ بِأَنۡ زَوَّجۡنَاهُمۡ. {بِحُورٍ عِينٍ} أَيۡ قَرَنَّاهُمۡ بِهِنَّ، لَيۡسَ مِنۡ عَقۡدِ التَّزۡوِيجِ، لِأَنَّهُ لَا يُقَالُ: زَوَّجۡتُهُ بِامۡرَأَةٍ. قَالَ أَبُو عُبَيۡدَةَ: جَعَلۡنَاهُمۡ أَزۡوَاجًا لَهُنَّ كَمَا يُزَوَّجُ البَعۡلُ بِالبَعۡلِ، أَيۡ جَعَلۡنَاهُمۡ اثۡنَيۡنِ اثۡنَيۡنِ. تفسير البغوي ج۷ ص ۲۳۷ الدخان آية ۵۴ ط دار طيبة.

(۲) وَالحُورُ جَمۡعُ حَوۡرَاءَ وهي المرأةُ الشابةُ الحسناءُ الجميلةُ البيضاءُ شديدة سَوَاد العَيۡنِ.

وقال زيد بن أسلم الحوراء التي يحار فيها الطرف وعين حسان الأعين. وقال مجاهد: الحوراء التي يحار فيها الطرف من رقة الجلد وصفاء اللون. وقال الحسن: الحوراء شديدة بياض العين شديدة سواد العين. حادي الأرواح إلى بلاد الأفراح لابن قيم الجوزية ص ۲۱۹ الباب الثالث والخمسون: في ذكر نساء أهل الجنة وأصنافهن وحسنهن وأوصافهن وجمالهن الظاهر والباطن الذي وصفهن الله تعالى به في كتابه.

وَ "الحُورُ": هُنَّ النِّسَاءُ النَّقِيَّاتُ البَيَاضِ. قَالَ مُجَاهِدٌ: يَحَارُ فِيهِنَّ الطَّرۡفُ مِنۡ بَيَاضِهِنَّ وَصَفَاءِ لَوۡنِهِنَّ. وَقَالَ أَبُو عُبَيۡدَةَ: "الحُورُ": هُنَّ شَدِيدَاتُ بَيَاضِ الأَعۡيُنِ الشَّدِيدَاتُ سَوَادِهَا، وَاحِدُهَا أَحۡوَرُ، وَالمَرۡأَةُ حَوۡرَاءُ، وَ "العِينُ" جَمۡعُ العَيۡنَاءِ، وَهِيَ عَظِيمَةُ العَيۡنَيۡنِ. تفسير البغوي ج۷ ص۲۳۷ الدخان آية ۵۴ ط دار طيبة.

(حُورٌ) جَمۡعُ حَوۡرَاءَ، وَهِيَ الشَّدِيدَةُ بَيَاضِ العَيۡنِ الشَّدِيدَةُ سَوَادِهَا وَقَدۡ تَقَدَّمَ. تفسير القرطبي ج ۱۷ ص ۱۸۸. سورة الرحمن آية ۷۲.

Scanned with CamScanner

﴿ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ عِينٌ ۞ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴾. (١)

ترجمه : او ددې جنتيانو سره به داسې ښځې وي چې (د حياء د وجې) خپل نظرونه به ښکته ساتونکي وي (يعنى د پاکدامنى په وجه به يې د خپل خاوند نه علاوه بل چاته نه وي کتلي) ، د غټو (ښائسته) سترګو واله به وي ، ګويا چې دا به په ښائست کې د شُترمرغ د هغه هګۍ په شان وي کومه چې په پَرده کې محفوظه وي.

يعنى دا ښځې به دملغلرو په شان ډيرې ښائسته وي. يا دا مطلب دى چې لکه څرنګې د شُترمرغ هګۍ سپينه او زيړوالي طرف ته مائله وي چې دا په ښځو کې ښائسته رَنګ دى نو همدغه شان به دا حُورې هم ښائستهاو نازکې وي.

(په تفاسيرو کې ددې آيت بهترينه تشريح هم ذکر شوى) . (٢)

---

(١) الصافات آية ٤٨ ، ٤٩ .

(٢) په تفسير زاد المسير کې ذکر دي : قوله تعالى: ﴿وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ﴾ فيه قولان: أحدهما: أنهنّ نساء قد قصرن طرفهنّ على أزواجهنّ فلا يَنظُرنَ إلى غيرهم. وأصل القَصْر: الحبس. قال ابن زيد: إنّ المرأة منهنّ لَتقولُ لزوجها : وعِزَّةِ ربِّي ما أرى في الجنَّة شيئًا أحسنَ منكَ. فالحمد لله الذي جعلني زوجكَ وجعلكَ زوجي. والثاني: أنّهنّ قد قَصَرن طَرْفَ الأزواج عن غيرهنَّ، لكمال حُسنهنّ. سمعتُه من الشيخ أبي محمد بن الخشّاب النحوي.

وفي العِين ثلاثة أقوال: أحدها: حِسانُ العُيون. قاله مجاهد. والثاني: عِظام الأعيُن. قاله السدي وابن زيد. والثالث: كِبار العُيون حِسانُها، وواحدتُهنّ عَيْناء. قاله الزجاج.

قوله تعالى: ﴿ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَكْنُونٌ ﴾ في المراد بالبيض ها هنا ثلاثة أقوال: أحدها: أنه اللؤلؤ. رواه عليّ بن أبي طلحة عن ابن عباس، وبه قال أبو عبيدة. والثاني: بَيْضُ النَّعام. قاله الحسن، وابن زيد، والزجاج. قال جماعة من أهل اللغة: والعرب تُشَبِّه المرأةَ الحسناءَ في بياضها وحُسْن لونها بِبَيْضَة النَّعامة. وهو أحسن ألوان النساء. وهو أن تكون المرأة بيضاءَ مُشْرَبَةً صُفْرَةً. والثالث: أنه البَيْض حين يُقْشَر قبل أن تَمَسَّه الأيدي. قاله السدي. وإلى هذا المعنى ذهب سعيد بن جبير، وقتادة، وابن جرير.

فأما المكنون، فهو المصون. فعلى القول الأول: هو مكنون في صَدَفِهِ، وعلى الثاني: هو مكنون بريش النَّعام، وعلى الثالث: هو مكنون بقشره. زاد المسير في علم التفسير ج ٣ ص ٥٤١ الصافات آية ٤٨ ، ٤٩ ←←←←

Scanned with CamScanner

٣. بل ځاى الله تعالى فرمايي: ﴿ وَحُورٌ عِينٌ ۝ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴾. (١)

---

←←← په تفسيرِ بغوي كې ذكر دي: { وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ} حَابِسَاتُ الْأَعْيُنِ غَاضَّاتُ الْجُفُونِ، قَصَرْنَ أَعْيُنَهُنَّ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ لَا يَنظُرْنَ إِلَى غَيْرِهِمْ، {عِينٌ} أَيْ: حِسَانُ الْأَعْيُنِ، يُقَالُ: رَجُلٌ أَعْيَنُ وَامْرَأَةٌ عَيْنَاءُ وَنِسَاءٌ عِينٌ. {كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ} جَمْعُ الْبَيْضَةِ {مَكْنُونٌ} مَصُونٌ مَسْتُورٌ، وَإِنَّمَا ذَكَرَ "المكنون والبيض" جمع لِأَنَّهُ رَدَّهُ إِلَى اللَّفْظِ. قَالَ الْحَسَنُ: شَبَّهَهُنَّ بِبَيْضِ النَّعَامَةِ تُكِنُّهَا بِالرِّيشِ مِنَ الرِّيحِ وَالْغُبَارِ، فَلَوْنُهَا أَبْيَضُ فِي صُفْرَةٍ. وَيُقَالُ: هَذَا أَحْسَنُ أَلْوَانِ النِّسَاءِ أَنْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ بَيْضَاءَ مُشْرَبَةً صُفْرَةً، وَالْعَرَبُ تُشَبِّهُهَا بِبَيْضَةِ النَّعَامَةِ. تفسير البغوي ج٧ ص٤٠ الصافات آية ٤٨، ٤٩ ط دار طيبة.

په تفسيرِ قرطبي كې ذكر دي: قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ﴾ أَيْ نِسَاءٌ قَدْ قَصَرْنَ طَرْفَهُنَّ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ فَلَا يَنظُرْنَ إِلَى غَيْرِهِمْ، قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَمُجَاهِدٌ وَمُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ وَغَيْرُهُمْ. عِكْرِمَةُ: " قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ" أَيْ مَحْبُوسَاتٌ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ. وَالتَّفْسِيرُ الْأَوَّلُ أَبْيَنُ، لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي الْآيَةِ مَقْصُورَاتٌ وَلَكِنْ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ " مَقْصُورَاتٌ" يَأْتِي بَيَانُهُ.... " عِينٌ" عظام العيون الواحدة عيناء، وقال السُّدِّيُّ. مُجَاهِدٌ: " عِينٌ" حِسَانُ الْعُيُونِ. الْحَسَنُ: الشَّدِيدَاتُ بياض العين، الشديد ات سَوَادِهَا. وَالْأَوَّلُ أَشْهَرُ فِي اللُّغَةِ. يُقَالُ: رَجُلٌ أَعْيَنُ وَاسِعُ الْعَيْنِ بَيِّنُ الْعَيْنِ، وَالْجَمْعُ عِينٌ. وَأَصْلُهُ فُعْلٌ بِالضَّمِّ فَكُسِرَتِ الْعَيْنُ، لِئَلَّا تَنْقَلِبَ الْوَاوُ يَاءً. وَمِنْهُ قِيلَ لِبَقَرِ الْوَحْشِ عِينٌ، وَالثَّوْرُ أَعْيَنُ، وَالْبَقَرَةُ عَيْنَاءُ. " كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَكْنُونٌ" أَيْ مَصُونٌ. قَالَ الْحَسَنُ وَابْنُ زَيْدٍ: شُبِّهْنَ بِبَيْضِ النَّعَامِ، تُكِنُّهَا النَّعَامَةُ بِالرِّيشِ مِنَ الرِّيحِ والغبار، فلونها أبيض في صفرة وهو حسن أَلْوَانِ النِّسَاءِ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَابْنُ جُبَيْرٍ وَالسُّدِّيُّ: شُبِّهْنَ بِبَطْنِ الْبَيْضِ قَبْلَ أَنْ يُقْشَرَ وَتَمَسَّهُ الْأَيْدِي. وَقَالَ عَطَاءٌ: شُبِّهْنَ بِالسِّحَاءِ الَّذِي يكون بين القشرة العليا و لباب البيض. وسحاة كل شي: قِشْرُهُ وَالْجَمْعُ سَحًا، قَالَهُ الْجَوْهَرِيُّ. وَنَحْوُهُ قَوْلُ الطَّبَرِيِّ، قَالَ: هُوَ الْقِشْرُ الرَّقِيقُ، الَّذِي عَلَى الْبَيْضَةِ بَيْنَ ذَلِكَ. وَرُوِيَ نَحْوُهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَالْعَرَبُ تُشَبِّهُ الْمَرْأَةَ بِالْبَيْضَةِ لِصَفَائِهَا وَبَيَاضِهَا، وَتَقُولُ الْعَرَبُ إِذَا وَصَفَتِ الشَّيْءَ بِالْحُسْنِ وَالنَّظَافَةِ: كَأَنَّهُ بَيْضُ النَّعَامِ الْمُغَطَّى بِالرِّيشِ. وَقِيلَ: الْمَكْنُونُ الْمَصُونُ عَنِ الْكَسْرِ، أَيْ إِنَّهُنَّ عَذَارَى. وَقِيلَ: الْمُرَادُ بِالْبَيْضِ اللُّؤْلُؤُ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى: " وَحُورٌ عِينٌ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ" [الواقعة: ٢٢، ٢٣] أَيْ فِي أَصْدَافِهِ، قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ أَيْضًا. تفسير القرطبي ج ١٥ ص ٨٠ الصافات آية ٤٨، ٤٩.

(١) الواقعة آية ٢٢، ٢٣.

Scanned with CamScanner

ترجمه: او (د دوی د پاره) د غټو سترګو واله (ښائسته) حوري به وي، د هغه ملغلرو په شان به (پاکيزه) وي کومې چې (په پَرده کې) پټې ساتل شوي وي.(۱)

٤. بل ځای الله تعالی فرمايي:

﴿ فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ ...... حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِي ٱلْخِيَامِ ﴾.(۲)

ترجمه: په دې جنتونو کې به د بهترينو اخلاقو او ښائسته مخونو واله حُورې وي .... دا حُورې به (د زَبرجدو او ياقوتو) په خېمو کې محفوظې وي.

**فائده**: په دې آيت کې الله تعالی د حُورو په باره کې پخپله اُوفرمايل چې "حِسَانٌ" يعنی د ښائسته مخونو واله به وي. نو کله يې چې الله تعالی د مخ د ښائست صفت اوکړو نو يقيني چې دا به ډيرې ښائسته وي.(۳)

---

(۱) {كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ} الْمَخْزُونِ فِي الصَّدَفِ لَمْ تَمَسَّهُ الْأَيْدِي. تفسير البغوي ج۸ ص ۴۰ سورة الواقعة آية ۲۳. دار طيبة.

(كَأَمْثَالِ) أَيْ مِثْلِ أَمْثَالِ (اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ) أَيِ الَّذِي لَمْ تَمَسَّهُ الْأَيْدِي وَلَمْ يَقَعْ عَلَيْهِ الْغُبَارُ فَهُوَ أَشَدُّ مَا يَكُونُ صَفَاءً وَتَلَأْلُؤًا، أَيْ هُنَّ فِي تَشَاكُلِ أَجْسَادِهِنَّ فِي الْحُسْنِ مِنْ جَمِيعِ جَوَانِبِهِنَّ. تفسير القرطبي ج ۱۷ ص ۲۰۵ سورة الواقعة آية ۲۳.

(۲) الرحمن آية ۷۰، ۷۲.

(۳) (حِسانٌ) أَيْ حِسَانُ الْخَلْقِ، وَإِذَا قَالَ اللهُ تَعَالَى: (حِسانٌ) فَمَنْ ذَا الَّذِي يَقْدِرُ أَنْ يَصِفَ حُسْنَهُنَّ! وَقَالَ الزُّهْرِيُّ وَقَتَادَةُ: (خَيْراتٌ) الْأَخْلَاقِ (حِسَانٌ) الْوُجُوهِ. وَرُوِيَ ذَلِكَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَدِيثِ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. وَقَالَ أَبُو صَالِحٍ: لِأَنَّهُنَّ عَذَارَى أَبْكَارٌ. وَقَرَأَ قَتَادَةُ وابن السميقع وَأَبُو رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيُّ وَبَكْرُ بْنُ حَبِيبٍ السَّهْمِيُّ (خَيِّرَاتٌ) بِالتَّشْدِيدِ عَلَى الْأَصْلِ. وَقَدْ قِيلَ: إِنَّ خَيِّرَاتٍ جَمْعُ خَيِّرٍ وَالْمَعْنَى ذَوَاتُ خَيْرٍ. وَقِيلَ: مُخْتَارَاتٌ. قَالَ التِّرْمِذِيُّ: فَالْخَيِّرَاتُ مَا اخْتَارَهُنَّ اللهُ فَأَبْدَعَ خَلْقَهُنَّ بِاخْتِيَارِهِ. فَاخْتِيَارُ اللهِ لَا يُشْبِهُ اخْتِيَارَ الْآدَمِيِّينَ. ثُمَّ قَالَ: (حِسانٌ) فَوَصَفَهُنَّ بِالْحُسْنِ. فَإِذَا وَصَفَ خَالِقُ الْحُسْنِ شَيْئًا بِالْحُسْنِ فَانْظُرْ مَا هُنَاكَ. وَفِي الْأُولَيَيْنِ ذَكَرَ بِأَنَّهُنَّ (قَاصِراتُ الطَّرْفِ) وَ(كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجانُ) فَانْظُرْ كَمْ بَيْنَ الْخَيِّرَةِ وَهِيَ مُخْتَارَةُ اللهِ، وَبَيْنَ قَاصِرَاتِ الطَّرْفِ. تفسير القرطبي ج ۱۷ ص ۱۸۷ سورة الرحمن آية ۷۰.

Scanned with CamScanner

**٥. بل ځای الله تعالی فرمايي :**

﴿ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴾. (١)

ترجمه: په دې جنتونو کې به (د دوی د پاره) داسې بيبيانې وي چې خپل نظرونه به (د حياء د وجې) ښکته ساتونکي وي (يعنی د خپل خاوندانو نه علاوه به يې په بل چا نظر نه وي لګېدلی)، چې ددې جنتيانو نه وړاندې به دوی ته چا انسان يا پيري لاس هم نه وي وروړی.

﴿ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾. (٢)

ترجمه: ګويا دا ښځې به (په ښائست او ځمک کې) د ياقوت او مرجان په شان وي.

**٦. د جنت بيبيانې به د سرې همزولې وي، الله ﷻ فرمايي :**

﴿ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴾. (٣)

ترجمه: او ددې جنتيانو سره به داسې ښځې وي چې د حياء د وجې به خپلې سترګې ښکته ساتي، (او) د دوی همزولې به وي.

بل ځای فرمايي: ﴿ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴾. (٤)

ترجمه: او (د متقيانو د پاره) پېغلې همزولې جينکۍ به وي.

**د کواعب تشريح :** کواعِب هغې ځوانو جينکو ته وايي چې سِينې يې راا وچتې شوې وي نو دا ډيرې ښائسته معلومېږي. (٥)

---

(١) الرحمن آية ٥٦.

(٢) الرحمن آية ٥٨.

(٣) ص آية ٥٢.

(٤) النبأ آية ٣٣.

(٥) {وَكَوَاعِبَ} جَوَارِيَ نَوَاهِدَ قَدْ تَكَعَّبَتْ ثُدِيُّهُنَّ، وَاحِدَتُهَا كَاعِبٌ. تفسير البغوي ج٨ ص ٣١٦ سورة النبأ آية ٣٣ دار طيبة. تفسير القرطبي ج ١٩ ص ١٨٣ سورة النبأ آية ٣٣.

←←←←←

Scanned with CamScanner

۷ . د جنت حُورې او بيبيانې به پاكيزه وي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَهُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ . (١)

ترجمه : او د جنتيانو د پاره به په دې جنت كې پاكيزه بيبيانې وي ، او دوى به په دې كې هميشه وي .

## د دُنيا دې ښځو ته به الله تعالى په جنت كې ځواني او ښائست وركړي

كومو ښځو چې په دُنيا كې د الله او رسول د احكاماتو موافق ژوند تېر كړې وي نو دوى ته به په جنت كې الله تعالى دوباره ځواني او ښائست وركړي .

الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ۝٣٥ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ۝٣٦ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴾ . (٢)

ترجمه : بيشكه مونږ دا د جنت ښځې په يو خاص أنداز سره پيدا كړي ، پس دا مو پيغلې، محبوبې او همزولې جوړې كړي .

( يعنى هميشه به پيغلې وي ، په خپلو خاوندانو باندې به عاشقانې وي ، او د دوى همزولې به وي ) .

**تشريح** : " عُرُب " هغه ښځو ته وايي چې د خپلو خاوندانو سره عِشق او محبت كوي . (٣)

---

←←← { وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا } أَيْ: وَحُورًا كَوَاعِبَ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَمُجَاهِدٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ: { كَوَاعِبَ } أَيْ: نَوَاهِدَ. يَعْنُونَ أَن ثديهن نَوَاهِدَ لَمْ يَتَدَلَّيْنَ لِأَنَّهُنَّ أَبْكَارٌ عُرُبٌ أَتْرَابٌ، أَيْ: فِي سِنٍّ وَاحِدَةٍ. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٣٠٨ سورة النبا آية ٣٣ .

(١) البقرة آية ٢٥ ./ په سورة النساء كې ذكر دي : ﴿ لَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴾ .
ترجمه : د جنتيانو د پاره به په دې جنت كې پاكيزه بيبيانې وي ، او مونږ به دوى په ډير ګڼ ( د راحت واله ) سيورې كې داخل كړو . النساء آية ٥٧ .

(٢) الواقعة آية ٣٥ تا ٣٧ .

(٣) { عُرُبًا } وَهِيَ جَمْعُ "عَرُوبٍ" أَيْ: عَوَاشِقَ مُتَحَبِّبَاتٍ إِلَى أَزْوَاجِهِنَّ. قَالَهُ الْحَسَنُ ←←←←

Scanned with CamScanner

ددې آيت په باره کې مُفسّرين فرمايي چې ددينه مراد د دُنيا ښځې دي چې الله تعالى به يې په آخرت کې دوباره پيغلې کړي.

او ځنې مفسّرين وايي چې ددينه مراد د جنت حُورې دي. (١)

←←← وَمُجَاهِدٌ وَقَتَادَةُ وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ، وَهِيَ رِوَايَةُ الْوَالِبِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

وَقَالَ عِكْرِمَةُ عَنْهُ: مَلِقَةٌ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ: غَنِجَةٌ.

وَقَالَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَبِيهِ: "عُرُبًا" حَسَنَاتِ الْكَلَامِ. {أَتْرَابًا} مُسْتَوِيَاتٍ فِي السِّنِّ عَلَى سِنٍّ وَاحِدٍ. تفسير البغوي ج٨ ص١٥ سورة الواقعة آية ٣٧ دار طيبة. وتفسير الجلالين.

وقوله: {عُرُبًا} جمع عروب: وهن المتحببات إلى أزواجهن قال ابن الأعرابي: العروب من النساء: المطيعة لزوجها المتحببة إليه. وقال أبو عبيدة العروب الحسنة التبعل. قلت: يريد حسن مواقعها وملاطفتها لزوجها عند الجماع. وقال المبرد: هي العاشقة لزوجها .... وذكر لمفسرون في تفسير العرب أنهن العواشق المتحببات الغنجات الشكلات المتعشقات الغلمات المغنوجات كل ذلك من ألفاظهم ... قلت فجمع سبحانه بين حسن صورتها وحسن عشرتها وهذا غاية ما يطلب من النساء وبه تكمل لذة الرجل بهن.

حادي الأرواح إلى بلاد الأفراح لابن قيم الجوزية ص ٢٢٧ الباب الثالث والخمسون: في ذكر نساء أهل الجنة وأصنافهن وحسنهن وأوصافهن وجمالهن الظاهر والباطن الذي وصفهن الله تعالى به في كتابه.

(١) {إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً} خَلَقْنَاهُنَّ خَلْقًا جَدِيدًا، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: يَعْنِي الْآدَمِيَّاتِ الْعُجُزَ الشُّمْطَ، يَقُولُ خَلَقْنَاهُنَّ بَعْدَ الْهَرَمِ خَلْقًا آخَرَ. {فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا} عذارى ....

وَقَالَ الْمُسَيَّبُ بْنُ شَرِيكٍ: هُنَّ عَجَائِزُ الدُّنْيَا أَنْشَأَهُنَّ اللَّهُ تَعَالَى خَلْقًا جَدِيدًا كُلَّمَا أَتَاهُنَّ أَزْوَاجُهُنَّ وَجَدُوهُنَّ أَبْكَارًا. وَذَكَرَ الْمُسَيَّبُ عَنْ غَيْرِهِ: أَنَّهُنَّ فُضِّلْنَ عَلَى الْحُورِ الْعِينِ بِصَلَاتِهِنَّ فِي الدُّنْيَا.

وَقَالَ مُقَاتِلٌ وَغَيْرُهُ: هُنَّ الْحُورُ الْعِينُ أَنْشَأَهُنَّ اللَّهُ لَمْ يَقَعْ عَلَيْهِنَّ وِلَادَةٌ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا عَذَارَى وَلَيْسَ هُنَاكَ وَجَعٌ. تفسير البغوي ج٨ ص١٣ سورة الواقعة آية ٣٥.

(إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً) أَيْ خَلَقْنَاهُنَّ خَلْقًا وَأَبْدَعْنَاهُنَّ إِبْدَاعًا .... ثُمَّ قِيلَ: عَلَى هَذَا هُنَّ الْحُورُ الْعِينُ، أَيْ خَلَقْنَاهُنَّ مِنْ غَيْرِ وِلَادَةٍ. وَقِيلَ: الْمُرَادُ نِسَاءُ بَنِي آدَمَ، أَيْ خَلَقْنَاهُنَّ خَلْقًا جَدِيدًا وَهُوَ الْإِعَادَةُ، أَيْ أَعَدْنَاهُنَّ إِلَى حَالِ الشَّبَابِ وَكَمَالِ الْجَمَالِ. وَالْمَعْنَى أَنْشَأْنَا الْعَجُوزَ وَالصَّبِيَّةَ إِنْشَاءً وَاحِدًا. تفسير القرطبي ج ١٧ ص ٢١٠ سورة الواقعة آية ٣٥.

Scanned with CamScanner

# د دُنيا ښځې به جنت ته د ځوانۍ په حالت کې داخليږي

١ . د مشکوة شريف حديث دی، چې نبي عليه السلام يوې بُوډۍ ښځې ته وويل:

إِنَّهُ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوْزٌ . جنت ته به بُوډۍ ښځه نه داخليږي.

هغې ورته وويل: په څه وجه به نه داخليږي؟

دې بُوډۍ چونکه قرآن کريم لوستلی وُ نو نبي عليه السلام ورته او فرمايل:

أَمَا تَقْرَئِيْنَ الْقُرْآنَ؟ ﴿ إِنَّآ أَنْشَأْنٰهُنَّ إِنْشَآءً ، فَجَعَلْنٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴾.

آيا تا قرآن کريم ندې لوستلی؟ الله تعالی فرمايي: مونږ (د هغه ځای) دا ښځې په خاص انداز سره پيدا کړي، او هميشه مو پيغلې جوړې کړي. (١)

٢ . په ځنې احاديثو کې ددې سره څه نوره اِضافه هم شته چې:

يوه بُوډۍ ښځه نبي عليه السلام ته راغله، او ورته وې فرمايل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اُدْعُ اللهَ أَنْ يُدْخِلَنِي الْجَنَّةَ.

اې د الله رسوله! د الله ﷻ نه زما د پاره دُعا اوغواړه چې ما جنت ته داخله کړي.

نبي عليه السلام ورته او فرمايل:

يَا أُمَّ فُلَانٍ ! إِنَّ الْجَنَّةَ لَا تَدْخُلُهَا عَجُوْزٌ.

اې د فلانکي مورې! بيشکه جنت ته به بُوډۍ نه داخليږي.

دا بوډۍ په ژړا شوه او لاړه. پيغمبر عليه السلام صحابه کرامو ته او فرمايل:

أَخْبِرُوْهَا أَنَّهَا لَا تَدْخُلُهَا وَهِيَ عَجُوْزٌ ، إِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ: ﴿ إِنَّآ أَنْشَأْنٰهُنَّ إِنْشَآءً ، فَجَعَلْنٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴾.

---

(١) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِامْرَأَةٍ عَجُوْزٍ: إِنَّهُ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوْزٌ . فَقَالَتْ: وَمَا لَهُنَّ؟ وَكَانَتْ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ. فَقَالَ لَهَا: أَمَا تَقْرَئِيْنَ الْقُرْآنَ؟ ﴿ إِنَّآ أَنْشَأْنٰهُنَّ إِنْشَآءً ۝ فَجَعَلْنٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴾. سورة الواقعة آية ٣٥، ٣٦ . مشكاة المصابيح باب المزاح الفصل الثاني رقم الحديث ٤٨٨٨(٥).

تاسو هغې ته خبر ورکړئ چې جنت ته به په دې بُودې، توب حالت کې نه داخلیږي ( بلکه پیغله به ورنه جوړه شي او بیا به جنت ته داخله کړې شي ) ، ځکه الله تعالی فرمایي : مونږ ( د هغه ځای ) دا ښځې په خاص انداز سره پیدا کړي ، او همیشه مو پیغلې جوړې کړي.(۱)

همداسې مضمون په نورو احادیثو کې هم ذکر شوی. (۲)

## د جنت د ښځو ښائست

د جنت ښځو ته الله تعالی ډیر ښائست ورکړی ، ددې په باره کې درته یو څو احادیث ذکر کوم :

**۱. د بخاري شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :**

---

(۱) وَرَوَاهُ التِّرمِذِيُّ فِي الشَّمَائِلِ عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ رَحِمَهُ اللهُ مُرْسَلًا قَالَ : « أَتَتْ عَجُوزٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ : يَا رَسُولَ اللهِ ! اُدْعُ اللهَ أَنْ يُدْخِلَنِي الْجَنَّةَ . فَقَالَ : يَا أُمَّ فُلَانٍ ! إِنَّ الْجَنَّةَ لَا تَدْخُلُهَا عَجُوزٌ . قَالَ : فَوَلَّتْ تَبْكِي . فَقَالَ : أَخْبِرُوهَا أَنَّهَا لَا تَدْخُلُهَا وَهِيَ عَجُوزٌ . إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ : { إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً ۝ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا } . مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۳۰٦۳ باب المزاح الفصل الثاني في تشريح حديث ۴۸۸۸ . البعث والنشور للبيهقي بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ حُورِ الْعِينِ، وَالْوِلْدَانِ، وَالْغِلْمَانِ ... رقم الحديث ۳۴٦ .

(۲) عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ : دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَعِنْدَهَا عَجُوزٌ ، فَقَالَ : مَنْ هٰذِهِ ؟ قَالَتْ : هِيَ عَجُوزٌ مِنْ أَخْوَالِي . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ الْعُجُزَ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ . فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَى الْمَرْأَةِ . فَلَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، فَقَالَ : إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُنْشِئُهُنَّ خَلْقًا غَيْرَ خَلْقِهِنَّ .

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : أَنَّ عَجُوزًا دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَتْهُ عَنْ شَيْءٍ ، فَقَالَ لَهَا ، وَمَازَحَهَا : " إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوزٌ " . فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلَاةِ ، فَبَكَتْ بُكَاءً شَدِيدًا ، حَتَّى رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنَّ هٰذِهِ الْمَرْأَةَ تَبْكِي لِمَا قُلْتَ لَهَا أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوزٌ ، فَضَحِكَ وَقَالَ : " أَجَلْ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوزٌ ، وَلٰكِنْ قَالَ اللهُ تَعَالَى : { إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً ۝ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ۝ عُرُبًا أَتْرَابًا } ، وَهُنَّ الْعَجَائِزُ الرُّمْصُ " . مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۳۰٦۴ باب المزاح الفصل الثاني في تشريح حديث ۴۸۸۸ .

Scanned with CamScanner

... وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا، وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا، وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. (١)

که یوه جنتي ښځه زمکې واله ؤ ته راښکاره شي نو د آسمان او زمکې په مینځ کې دا هر څه به روښانه کړي او د خوشبوئي نه به یې ډک کړي، او د هغې د سَر یوه لوپټه د دُنیا او مَافِیهَا د هر څه نه ډیره بهتره ده.

۲. د بخاري شريف په یو بل حدیث کې ذکر دي، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

.... لِكُلِّ امْرِئٍ زَوْجَتَانِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، يُرَى مُخُّ سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ الْعَظْمِ وَاللَّحْمِ. (٢)

(په جنت کې) د هر سړي به د حُورِعين نه دوه بيبيانې وي (دومره به ښائسته وي) چې د ډیر حُسن په وجه به یې د بهر نه په هډوکي او غوښه کې دننه د پِنډو نَلي (مازغه) هم ښکاري.

(همداسې مضمون د بخاري شريف په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی). (٣)

---

(١) پوره حديث داسې دی: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَرَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ غَدْوَةٌ، خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنَ الجَنَّةِ، أَوْ مَوْضِعُ قِيدٍ - يَعْنِي سَوْطَهُ - خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا، وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا، وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا». صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ الحُورِ العِينِ، وَصِفَتِهِنَّ يُحَارُ فِيهَا الطَّرْفُ، شَدِيدَةُ سَوَادِ العَيْنِ، شَدِيدَةُ بَيَاضِ العَيْنِ" رقم الحديث ٢٧٩٦. سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ١٦٥١. مشكاة المصابيح كتابُ أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وأهلها الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٥٦١٤(٣).

(٢) پوره حديث داسې دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، وَالَّذِينَ عَلَى آثَارِهِمْ كَأَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً، قُلُوبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، لاَ تَبَاغُضَ بَيْنَهُمْ وَلاَ تَحَاسُدَ، لِكُلِّ امْرِئٍ زَوْجَتَانِ مِنَ الحُورِ العِينِ، يُرَى مُخُّ سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ العَظْمِ وَاللَّحْمِ». صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٥٤.

(٣) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، وَالَّذِينَ عَلَى إِثْرِهِمْ كَأَشَدِّ كَوْكَبٍ إِضَاءَةً، قُلُوبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، ←←←←

Scanned with CamScanner

۳. په ترمذي شريف کې ورسره نوره اضافه هم شته، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

... لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً، يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا. (١)

په جنت کې به د هر جنتي دوه بيبيانې وي، هرې يوې به آويا (۷۰) جوړه کپړې اغوستې وي، (دومره به ښائسته وي چې) د بهر نه به د دوی د پنډو نَلي (مازغه) هم ښکاري.

**تطبيق**: د بخاري شريف او ترمذي شريف په مذکوره احاديثو کې ذکر شو چې د هر جنتي د پاره به دوه حُورې وي، حالانکه په نورو صحيح احاديثو کې هر جنتي ته د بې شماره حُورو ورکولو تذکره راغلی، په يو حديث کې هر جنتي ته د دوه آويا (۷۲) حُورو ورکولو تذکره هم راغلی.

نو په دې احاديثو کې تطبيق دا دی چې يقيني د هر جنتي د پاره به بې شماره حُورې وي،

---

←←← لَا اخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ، لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ لَحْمِهَا مِنَ الْحُسْنِ، يُسَبِّحُونَ اللهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا، لَا يَسْقَمُونَ، وَلَا يَمْتَخِطُونَ، وَلَا يَبْصُقُونَ، آنِيَتُهُمُ الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ، وَأَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ، وَوَقُودُ مَجَامِرِهِمُ الْأَلُوَّةُ _ قَالَ أَبُو الْيَمَانِ: يَعْنِي الْعُودَ _، وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ. صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ۳۲۴٦. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٥٦١٩(٨).

وفي رواية: .... وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، يُرَى مُخُّ سُوقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ... صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ۳۲۴٥.

(١) پوره حديث دا سې دی: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُ وُجُوهِهِمْ عَلَى مِثْلِ ضَوْءِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، وَالزُّمْرَةُ الثَّانِيَةُ عَلَى مِثْلِ أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ، لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابٌ فِي صِفَةِ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۲٥۳٥. وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... وَلِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ حُلَّةٌ يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ كَمَا يُرَى الشَّرَابُ الْأَحْمَرُ فِي الزُّجَاجَةِ الْبَيْضَاءِ. المعجم الاوسط رقم الحديث ٩١٥ بَابُ الْأَلِفِ مَنِ اسْمُهُ أَحْمَدُ.

Scanned with CamScanner

او دلته چې د کومو دوه ( ٢ ) حُورو تذکره شوی نو دا به هغه حُورې وي چې په ټولو حُورو کې به ډیرې زیاتې ښائسته وي ، او د ډیر ښائست په وجه به یې د پنډو نَلي هم د بهر نه ښکاري. (١)

## د جنتي ښځو د پنډو حُسن

د جنتي ښځو پُنډی به هم ډیرې ښائسته وي ، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

إِنَّ الْمَرْأَةَ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُرَى بَيَاضُ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ سَبْعِيْنَ حُلَّةً ، حَتَّى يُرَى مُخُّهَا .

بیشکه د جنّتي ښځو د پنډو سپین والې به د اَویا ( ٧٠ ) جوړه کپړو د لاندې نه هم په نظر راځي ، تردې چې د پنډو نَلي ( مازغه ) به یې هم په نظر راځي .

---

(١) ( لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ ) أَيْ : عَظِيْمَتَانِ ( مِنَ الْحُوْرِ ) أَيِ النِّسَاءِ الْبِيْضِ الْأَبْدَانِ. مِنَ الْحورِ وَهُوَ الْبَيَاضُ الْخَالِصُ، وَمِنْهُ الْحَوَارِيُّ وَالْحَوَارِيُّوْنَ ( الْعِيْنِ ) أَيْ: حِسَانُ الْأَعْيَانِ ( يُرَى ) بِصِيْغَةِ الْمَجْهُوْلِ أَيْ يُبْصَرُ ( مُخُّ سُوْقِهِنَّ ) جَمْعُ السَّاقِ، أَيْ مُخُّ عِظَامِهِنَّ ( مِنْ وَرَاءِ الْعَظْمِ وَاللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ ) أَيْ مِنْ أَجْلِ لَطَافَةِ خِلْقَتِهِنَّ.... وَلَعَلَّ الزَّوْجَتَيْنِ الْمَذْكُوْرَتَيْنِ لِعُمُوْمِ أَفْرَادِ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ. وَأَمَّا أَهْلُ الْخُصُوْصِ فَيُزَادُ لَهُمْ عَلَى حَسَبِ مَقَامَاتِهِمْ. وَقَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلظَّاهِرُ أَنَّ التَّثْنِيَةَ لِلتَّكْرِيْرِ لَا لِلتَّحْدِيْدِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى : ﴿ فَارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ ﴾ لِأَنَّهُ قَدْ جَاءَ أَنَّ لِلْوَاحِدِ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْعَدَدَ الْكَثِيْرَ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٩ ص ٣٥٨٠ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا .

وَذِكْرُ الزَّوْجَتَيْنِ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ هُنَا لَا يُنَافِيْ ذِكْرَ أَكْثَرَ مِنْهُمَا فِيْ بَعْضِ الْأَحَادِيْثِ كَحَدِيْثِ أَحْمَدَ: « وَ إِنَّ لَهُ ـ أَيْ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ـ لَاثْنَتَانِ وَسَبْعُوْنَ زَوْجَةً سِوَى أَزْوَاجِهِ مِنَ الدُّنْيَا. وَإِنَّ الْوَاحِدَةَ مِنْهُنَّ لَتَأْخُذُ مَقْعَدَتِهَا قَدْرَ مِيْلٍ » . وَصَحَّ عَنِ الْبَيْهَقِيِّ : « إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيَتَزَوَّجُ خَمْسَ مِائَةِ حَوْرَاءَ وَأَرْبَعَةَ آلَافِ بِكْرٍ وَثَمَانِيَةَ آلَافِ ثَيِّبٍ يُعَانِقُ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ مِقْدَارَ عُمُرِهِ فِي الدُّنْيَا » .... وَوَجْهُ عَدَمِ الْمُنَافَاةِ بَيْنَ هٰذِهِ الْأَحَادِيْثِ وَاللهُ أَعْلَمُ أَنَّ الْمَوْصُوْفِيْنَ بِمَا ذُكِرَ مِنْ تِلْكَ الْحُلَلِ الْمَذْكُوْرَةِ اثْنَتَانِ وَالْبَاقِيَاتُ مِنْهُنَّ لَسْنَ كَذٰلِكَ . أَوْ أُعْلِمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقَلِيْلِ فَأَخْبَرَ بِهِ ثُمَّ أُعْلِمَ بِالْكَثِيْرِ فَأَخْبَرَ بِهِ . نَظِيْرُ مَا قَالُوْهُ فِيْ حَدِيْثِ : « صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ بِخَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً » . وَفِيْ رِوَايَةٍ « بِسَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً » وَمَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ. الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٣٣ خَاتِمَةٌ فِيْ ذِكْرِ أُمُوْرٍ أَرْبَعَةٍ اَلْأَمْرُ الرَّابِعُ فِي الْجَنَّةِ وَنَعِيْمِهَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذٰلِكَ .

Scanned with CamScanner

يا نبي عليه السلام (ددې خبرې) د اِستدلال د پاره د قرآن كريم دا آيت پيش كړو، چې الله تعالى فرمايي: ﴿ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴾.(١)

ترجمه: ګويا دا ښځې به (په ښائست او ځمک كې) د ياقوت او مَرجان په شان وي.

ياقوت داسې كاڼړې دى چې كه ته په هغې كې تار واچوى بيا هغه صفا ليدل اُوغواړې نو د لرې نه به درته صفا ښكاره شي.

(نو چې د دُنيا په كاڼړي كې دا صفت شته چې دَنَنه تار په كې ښكاره كيږي نو د جنت ښځې خو به نورې هم ښائسته وي). (٢)

## د جنتي حُورو د غاښونو حُسن

په حديث كې راځي چې په جنت كې به يوه رَڼا خوَره شي، جنتيان به هغې طرف ته خپل سرونه وَر اُوچت كړي: فَإِذَا هُوَ مِنْ ثَغْرِ حَوْرَاءَ ضَحِكَتْ فِي وَجْهِ زَوْجِهَا .(٣)

نو دا به د يوې حُورې د غاښونو رَڼا وي چې د خپل خاوند مخې ته به يې خندلي وي.

---

(١) الرحمن آية ٥٨.

(٢) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ الْمَرْأَةَ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُرَى بَيَاضُ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ سَبْعِينَ حُلَّةً حَتَّى يُرَى مُخُّهَا، وَذَلِكَ بِأَنَّ اللهَ يَقُولُ: {كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ} [الرحمن: ٥٨] فَأَمَّا الْيَاقُوتُ فَإِنَّهُ حَجَرٌ لَوْ أَدْخَلْتَ فِيهِ سِلْكًا ثُمَّ اسْتَصْفَيْتَهُ لَأُرِيتَهُ مِنْ وَرَائِهِ". سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابٌ فِي صِفَةِ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٣٣. الترغيب والترهيب للمنذري فصل في وصف نساء أهل الجنة رقم الحديث ٥٧١٠ وقال المنذري: رَوَاهُ ابْن أبي الدُّنْيَا وَابْن حبَان فِي صَحِيحه وَالتِّرْمِذِيّ وَاللَّفْظ لَهُ وَقَالَ وَقد رُوِيَ عَن ابْن مَسْعُود وَلم يرفعهُ وَهُوَ أصح. كنز العمال رقم الحديث ٣٩٣٣٠، تفسير البغوي ج٤ ص ٣٤٣ رقم الحديث ٢٠٩٣. البحر المحيط فى التفسير ج ١٠ ص ٦٩. تفسير ابن كثير ج ٧ ص٥٠٤. الدر المنثور فى التفسير بالمأثور ج ٧ ص ٧١٢. صفوة التفاسير ج ٣ ص ٢٨٣.

(٣) عَنْ عَبْدِ اللهِ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «سَطَعَ نُورٌ فِي الْجَنَّةِ فَرَفَعُوا رُءُوسَهُمْ فَإِذَا هُوَ مِنْ ثَغْرِ حَوْرَاءَ ضَحِكَتْ فِي وَجْهِ زَوْجِهَا» وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ غَالِبٍ: «بَرِقَتْ بَرْقَةٌ فِي الْجَنَّةِ فَقَالُوا حَوْرَاءُ ضَحِكَتْ فِي وَجْهِ زَوْجِهَا». حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٦ ص ٣٧٤. كنز العمال رقم الحديث ٣٩٤٦٦، تفسير البغوي ج ٥ ص ٧ سورة الواقعة في تفسير آية ٢٣. التفسير المظهري ج ٩ ص ١٧ سورة الواقعة في تفسير آية ٢٣.

Scanned with CamScanner

# د جنتي حُورو د لاسونو او مخ حُسن

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي:

لَوْ أَنَّ حَوْرَاءَ أَخْرَجَتْ كَفَّهَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَافْتَتَنَ الْخَلَائِقُ بِحُسْنِهَا ، وَلَوْ أَخْرَجَتْ نَصِيفَهَا لَكَانَتِ الشَّمْسُ عِنْدَ حُسْنِهِ مِثْلَ الْفَتِيلَةِ فِي الشَّمْسِ لَا ضَوْءَ لَهَا ، وَلَوْ أَخْرَجَتْ وَجْهَهَا لَأَضَاءَ حُسْنُهَا مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. (۱)

كه چيرته يوه حُوره د آسمان او زمكې په مينځ كې خپل لاس راأوباسي نو دا ټول مخلوقات به د هغې د حُسن په وجه په فِتنه كې واقع شي، او كه هغه خپله لوپټه (زړوكې) راښكاره كړي نو د هغې د حُسن په وجه به نمر داسې شي لكه د نمر د وړاندې چې د ډيوې هيڅ رڼا نه وي، او كه هغه خپل مخ راښكاره كړي نو د هغې حُسن به د آسمان او زمكې په مينځ كې دا هر څه رُوښانه كړي.

# د حورو د اَنګو او زيوراتو حُسن

په مسند احمد او نورو ډيرو د احاديثو په كتابونو كې دا حديث ذكر دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې جنّتي به په جنت كې اَويا (۷۰) كاله تَكيه لږولې وي.

(په بعضې احاديثو كې راځي چې په اَويا تَكيه ګانو باندې به يې تَكيه لږولې وي) د اَړخ (ډډې) بدلولو نه مخكې به ده ته (د جنت د حُورو نه) خپله بي بي راشي، دده په اوږه به لاس اُووهي (چې ځان طرف ته يې متوجِّه كړي)، دا سړی به هغې طرف ته اوګوري:

---

(۱) الترغيب والترهيب للمنذري فصل في وصف نساء أهل الجنّة رقم الحديث ۵۷۱۵ وقال المنذري: رَوَاهُ ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا مَوْقُوفاً . التفسير المظهري ج ۸ ص ۳۷۷ سورة الدخان في تفسير آية ۵۴ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ۷ ص ۴۲۱ سورة الدخان في تفسير آية ۵۴ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي عِيَاضٍ ، قَالَ: كُنَّا مَعَ كَعْبٍ يَوْمًا فَقَالَ : لَوْ أَنَّ يَدًا مِنَ الْحُورِ دُلِّيَتْ مِنَ السَّمَاءِ بِبَيَاضِهَا وَخَوَاتِيمِهَا لَأَضَاءَتْ لَهَا الْأَرْضُ كَمَا تُضِيءُ الشَّمْسُ لِأَهْلِ الدُّنْيَا. قَالَ : قُلْتُ : يَدُهَا فَكَيْفَ بِالْوَجْهِ بَيَاضِهِ وَحُسْنِهِ وَجَمَالِهِ وَتَاجِهِ بِيَاقُوتِهِ وَلُؤْلُؤِهِ وَزَبَرْجَدِهِ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ صِفَةِ الْحُورِ الْعِينِ رقم ۲۹۴ . الزهد والرقائق لابن المبارك ج ۲ ص ۷۲ ، الترغيب والترهيب للمنذري فصل في وصف نساء أهل الجنّة رقم ۵۷۱۸ .

فَيَنْظُرُ وَجْهَهُ فِيْ خَدِّهَا أَصْفَى مِنَ الْمِرْآةِ .

د هغې په آئنگو کې به خپل مخ د آئينې نه صفا اوګوري. (د هغې آئنګي به د آئنې نه هم زيات صفا وي).

په هغې باندې (د ښائست د پاره) چې کومې ملغلرې وي په هغې کې به اَدنٰی ملغلره دومره قيمتي وي چې که دُنيا ته راښکاره شي نو د مشرق او مغرب په مينځ کې به دا هر څه روښانه کړي. دا حُوره به په ده باندې سلام واچوي، دا به ورته د سلام جواب ورکړي او پوښتنه به ورنه اوکړي: مَنْ أَنْتِ؟ ته څوک يې؟

هغه به ورته اووايي: أَنَا مِنَ الْمَزِيْدِ.

زه د مزيد نه يم. (يعنى الله تعالى چې تاسو ته د خصوصي اِنعام په طور کوم څه درکوي زه په هغې کې يو نعمت يم).

او په دې جنتي ښځه باندې به اَويا (٧٠) جوړه (د قِسما قِسم رنګونو واله) کپړې وي، د ټولو نه اَدنٰی به د طوبٰی اُونې د نُعماني (سُور رَنګ) وي. د دې سړي نظر به د دې جنتي ښځې په بدن باندې اُولړي، تر دې چې دا به د هغې د پندو نَلي (مازغه) هم د بهر نه اُوګوري، د دې ښځې په سَر باندې به داسې قيمتي تاجونه وي چې د هغې اَدنٰی ملغلره (که دُنيا ته راښکاره شي نو دا) به د مشرق او مغرب په مينځ کې دا هر څه روښانه کړي. (١)

---

(١) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَّكِئُ فِي الْجَنَّةِ سَبْعِيْنَ سَنَةً قَبْلَ أَنْ يَتَحَوَّلَ . ثُمَّ تَأْتِيْهِ امْرَأَتُهُ، فَتَضْرِبُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ، فَيَنْظُرُ وَجْهَهُ فِيْ خَدِّهَا أَصْفَى مِنَ الْمِرْآةِ ، وَإِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ عَلَيْهَا تُضِيْءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، فَتُسَلِّمُ عَلَيْهِ، قَالَ: فَيَرُدُّ السَّلَامَ، وَيَسْأَلُهَا: مَنْ أَنْتِ؟ وَتَقُوْلُ: أَنَا مِنَ الْمَزِيْدِ . وَإِنَّهُ لَيَكُوْنُ عَلَيْهَا سَبْعُوْنَ ثَوْبًا، أَدْنَاهَا مِثْلُ النُّعْمَانِ مِنْ طُوْبَى، فَيَنْفُذُهَا بَصَرُهُ، حَتَّى يَرَى مُخَّ سَاقِهَا، مِنْ وَرَاءِ ذٰلِكَ، وَإِنَّ عَلَيْهَا مِنَ التِّيْجَانِ إِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ عَلَيْهَا لَتُضِيْءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٧١٥ مُسْنَدُ الْمُكْثِرِيْنَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٧١ باب جماع اهل الجنة . صحيح ابن حبان بَابُ وَصْفِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ذِكْرُ الْإِخْبَارِ بِأَنَّ الْمَرْأَةَ الَّتِيْ وَصَفْنَا نَعْتَهَا مِنَ الْمَزِيْدِ الَّذِيْ ذَكَرَ اللهُ فِيْ كِتَابِهِ، وَوَعَدَ التَّمَكُّنَ مِنْهُ لِأَوْلِيَائِهِ رقم الحديث ٧٣٩٧ . مجمع الزوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ وَغَيْرِهِنَّ رقم الحديث ١٨٧٦٢ . ←←←

Scanned with CamScanner

# د جنت د حُورو خوشبوئي

امام مجاهد رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

إِنَّهُ لَيُوجَدُ رِيحُ الْمَرْأَةِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مِنْ مَسِيرَةِ خَمْسِينَ سَنَةً . (١)

د حورِ عِین خوشبوئي د پنځوس (٥٠) کاله مسافت په اندازه د لرې نه محسوسیږي .

په يو روايت کې ذکر دي چې د حورِ عِین خوشبوئي د پنځه سوه (٥٠٠) کاله مسافت په اندازه د لرې نه محسوسیږي . (٢) .

# د جنت د حُورو سَندرې

الله تعالی فرمايي :

﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ﴾ . (٣)

ترجمه : پس څوک چې ایمان راوړي او نېک اعمال اوکړي نو دوی به د جنت په باغیچو کې خوشحاله وي .

د يحيٰى ابن کثير رَحِمَهُ اللَّهُ نه د دې آيت ﴿ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ﴾ په تفسير کې نقل دي :

اَلْحَبْرُ : السَّمَاعُ وَاللَّذَّةُ . د خوشحالۍ نه مراد دادی چې دوی به په جنت کې د حُورو سندرې اَوري او لِذّت به حاصلوي . (٤)

---

←←← الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٠٠ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٣٥٦ . تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٣٢٨ ، الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور ج ٧ ص ٦٠٥ .

(١) مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجَنَّةِ مَا ذُكِرَ فِي الْجَنَّةِ وَمَا فِيهَا مِمَّا أُعِدَّ لِأَهْلِهَا رقم ٣٣٩٨٧ .

(٢) عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّهُ قَالَ : لَيُوجَدُ رِيحُ الْمَرْأَةِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مِنْ مَسِيرَةِ خَمْسِ مِائَةِ سنة . الدرالمنثور فى التفسر بالمأثور ج ٧ ص ٤٢١ .

(٣) الروم آية ١٥ .

(٤) عَنْ عَامِرِ بْنِ يَسَافٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي كَثِيرٍ، فِي قَوْلِهِ تَعَالَى : {فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ} [الروم: ١٥] قَالَ: اَلْحَبْرُ: السَّمَاعُ وَاللَّذَّةُ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا ص ١٨٦ رقم ٢٥٢ بَابُ غِنَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ .

Scanned with CamScanner

مفسّرينو د "يُحْبَرُوْنَ" ډيرې معناګانې کړي، يوه په کې دا هم ده چې دوى به د حُورو سندرې آوري.(١)

٢. رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې په جنت کې د حورِ عِين (يعنى د غټو ښائسته سترګو واله حورو) د راجمع کيدو يو ځاى دى (چې هلته به حُورې د سپل او تفريح د پاره راجمع کيږي) او په اُوچت آواز سره به داسې سندرې وايي چې په مخلوقاتو کې به هيچا داسې ښائسته آواز نه وي آوريدلى.

حُورې به دا سندرې وايي:

نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَبِيْدُ ✡ وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْأَسُ

مونږ به هميشه ژوندۍ يو هيڅ کله به مرګ (او فناء کيدل) مونږ ته نه راځي، او مونږ به هميشه په نِعمتونو (خوشحالو) کې يو په مونږ به سختي (او محتاجي) نه راځي.

وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ ✡ طُوْبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَكُنَّا لَهُ

او مونږ به هميشه (د خپل رَب يا د خپل خاوند نه) راضي يو پس مونږ به هيڅ کله نه ناراضه کيږو. د هغه سړي د پاره مبارکي (او خوشحالي) ده چې څوک زمونږ د پاره دى او مونږ د هغه د پاره يو.(٢)

---

(١) (يُحْبَرُوْنَ) قَالَ الضَّحَّاكُ وَابْنُ عَبَّاسٍ: يُكْرَمُوْنَ. وَقِيْلَ: يُنَعَّمُوْنَ. وَقَالَهُ مُجَاهِدٌ وَقَتَادَةُ. وَقِيْلَ: يُسَرُّوْنَ. السُّدِّيُّ: يَفْرَحُوْنَ. وَالْحَبْرَةُ عِنْدَ الْعَرَبِ: اَلسُّرُوْرُ وَالْفَرَحُ، ذَكَرَهُ الْمَاوَرْدِيُّ. وَقَالَ الْجَوْهَرِيُّ: اَلْحَبْرُ: الْحُبُوْرُ وَهُوَ السُّرُوْرُ... وَقَالَ يَحْيَى بْنُ أَبِيْ كَثِيْرٍ "فِيْ رَوْضَةٍ يُحْبَرُوْنَ" قَالَ: اَلسَّمَاعُ (اي الغناء) فِي الْجَنَّةِ. وَقَالَهُ الْأَوْزَاعِيُّ. قَالَ: إِذَا أَخَذَ أَهْلُ الْجَنَّةِ فِي السَّمَاعِ لَمْ تَبْقَ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ إِلَّا رَدَّدَتِ الْغِنَاءَ بِالتَّسْبِيْحِ وَالتَّقْدِيْسِ. تفسير القرطبي ج ١٤ ص ١٢. زاد المسير في علم التفسير ج ٣ ص ٤١٨ سورة الروم آية ١٥.

(٢) عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَمُجْتَمَعًا لِلْحُوْرِ الْعِيْنِ يَرْفَعْنَ بِأَصْوَاتٍ لَمْ تَسْمَعِ الْخَلَائِقُ مِثْلَهَا يَقُلْنَ: نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَبِيْدُ ✡ وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْأَسُ
وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ ✡ طُوْبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَكُنَّا لَهُ.
مشكاة المصابيح كتابُ أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم ٥٦٤٩ (٣٨)، ←←←

# د خپلو خاوندانو د وړاندې د جنتي ښځو سندرې

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي چې بيشکه د جنت بيبيانې به د خپلو خاوندانو د وړاندې په داسې ښائسته آواز باندې سندرې وايي چې داسې ښائسته آواز به هيچا نه وي آوريدلی . هغه سندرې به دا وايي :

نَحْنُ الْخَيْرَاتُ الْحِسَانُ ، أَزْوَاجُ قَوْمٍ كِرَامٍ ، يَنْظُرُوْنَ بِقُرَّةِ أَعْيَانٍ .

مونږ خوش آخلاقه ښائسته ښځې يو ، د مُعَزّزو خلقو بيبيانې يو ، دوی چې مونږ ته ګوري نو خپلې سترګې به يَخوي .

يوه سندره به دا هم وايي :

نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُتْنَهْ ، وَنَحْنُ الْآمِنَاتُ فَلَا نَخَفْنَهْ ، وَنَحْنُ الْمُقِيْمَاتُ فَلَا نَظْعَنَّهْ .

مونږ به هميشه ژوندی يو وفات کيږو به نه. مونږ به هميشه په آمن کې يو ويريږو به نه. مونږ به هميشه دلته جنت کې أوسيږو ددې ځای نه به بل ځای ته نه ځو . (١)

---

←←← سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَلَامِ الْحُورِ الْعِينِ رقم الحديث ٢٥٦٤ ، كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٤٦١ ذكر الحور ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٣٩٧١ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٢١ فصل في غناء الحور العين. تفسير الخازن ج ١ ص ٣٣، احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٤١ .

نوټ : دې حديث ته اګر چې علماؤ ضعيف ويلی خو ضعيف حديث په فضائلو کې معتبر دی . ابوالشمس عفي عنه

(١) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَزْوَاجَ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُغَنِّيْنَ أَزْوَاجَهُنَّ بِأَحْسَنِ أَصْوَاتٍ مَا سَمِعَهَا أَحَدٌ قَطُّ ، وَإِنَّ مِمَّا يُغَنِّيْنَ بِهِ : نَحْنُ الْخَيْرَاتُ الْحِسَانُ ، أَزْوَاجُ قَوْمٍ كِرَامٍ ، يَنْظُرُوْنَ بِقُرَّةِ أَعْيَانٍ . وَإِنَّ مِمَّا يُغَنِّيْنَ بِهِ : نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُتْنَهْ ، وَنَحْنُ الْآمِنَاتُ فَلَا نَخَفْنَهْ ، وَنَحْنُ الْمُقِيْمَاتُ فَلَا نَظْعَنَّهْ . رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ بِسَنَدٍ صَحِيْحٍ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٤٣٥ خَاتِمَةٌ فِي ذِكْرِ أُمُوْرٍ أَرْبَعَةٍ اَلْأَمْرُ الرَّابِعُ فِي الْجَنَّةِ وَنَعِيْمِهَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذٰلِكَ. صحيح الترغيب والترهيب ج ٣ ص ٥١٩ كتاب صفة الجنة فصل في غناء الحور العين رقم الحديث ٣٧٤٩(١) وقال المنذري : رواه الطبراني في الصغير والأوسط وروا تهما رواة الصحيح . المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ٤٩١٧ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٤٦٢ ذكر الحور . صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٥٩ باب غناء اهل الجنة . الاحاديث المختارة رقم الحديث ٣٠٣ . مجمع الزوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَغَيْرِهِنَّ رقم الحديث ١٨٧٦٠ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الصَّغِيْرِ وَالْأَوْسَطِ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيْحِ ←←←

Scanned with CamScanner

# د جنت نهر په غاړه باندې د ځوانانو جينکو سندرې

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي : په جنت کې به يو نهر وي چې د جنت د اوږدوالي په اندازه به اوږد وي، ددې نهر په دواړو غاړو باندې به باکرې (ځواناني) جينکۍ يو بل ته مخامخ ولاړې وي :

وَيُغَنِّيْنَ بِأَحْسَنِ أَصْوَاتٍ يَسْمَعُهَا الْخَلَائِقُ، حَتَّى مَا يَرَوْنَ أَنَّ فِي الْجَنَّةِ لَذَّةً مِثْلَهَا .

او دوی به په داسې ښائسته آوازونو سره سَندرې وايي چې ټول (جنتيان) خلق به يې اَوري، تردې چې دوی به محسوسه کړي چې ددې په شان مزه د جنت په بل څيز کې نشته.

صحابه کرام رضي الله عنهم فرمايي چې مونږ د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه نه پوښتنه اوکړه :

يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! وَمَا ذَلِكَ الْغِنَاءُ ؟

اې ابوهريره ! دا سندرې به څه قِسم وي ؟

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ورته اوفرمايل :

إِنْ شَاءَ اللهُ دا به د الله تعالى تسبيح، حمد، پاکي او ثناء وي.(١)

←←← وفي رواية : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « إِنَّ الْحُورَ فِي الْجَنَّةِ يُغَنِّيْنَ يَقُلْنَ: نَحْنُ الْحُورُ الْحِسَانُ ، هُدِينَا لِأَزْوَاجٍ كِرَامٍ » . مجمع الزوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَغَيْرِهِنَّ رقم الحديث ١٨٧٦١ وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَرِجَالُهُ وُثِّقُوا. المعجم الاوسط للطبراني رقم ٦٤٩٧ . كنزالعمال رقم ٣٩٤٦٠ ذكر الحور. الترغيب والترهيب للمنذري رقم ٥٧٢٤ .

(١) عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، قَالَ : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ نَهْرًا طُولَ الْجَنَّةِ، حَافَتَاهُ الْعَذَارَى قِيَامٌ مُتَقَابِلَاتٌ، وَيُغَنِّيْنَ بِأَحْسَنِ أَصْوَاتٍ يَسْمَعُهَا الْخَلَائِقُ، حَتَّى مَا يَرَوْنَ أَنَّ فِي الْجَنَّةِ لَذَّةً مِثْلَهَا . قُلْنَا : يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! وَمَا ذَلِكَ الْغِنَاءُ ؟ قَالَ : « إِنْ شَاءَ اللهُ التَّسْبِيحُ، وَالتَّحْمِيدُ، وَالتَّقْدِيسُ وَثَنَاءٌ عَلَى الرَّبِّ عَزَّ وَجَلَّ » . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٨٣ بَابُ السَّمَاعِ فِي الْجَنَّةِ، وَالتَّغَنِّي بِذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ} [ الروم: ١٥]. صحيح الترغيب والترهيب كتاب صفة الجنة فصل في غناء الحور العين رقم الحديث ٣٧٥١(٣). العمل الصالح رقم الحديث ١٩٤٣ . اعراب القرآن و بيانه ج ٧ ص ٤٨١ . الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور ج١ ص ٩٥ .

## د جنتي سَر او خپو ته د حُورو سندرې

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : چې کوم بنده جنت ته داخل شي نو دده سَر او خپو ته به حورِ عِين (يعنى د غټو سترګو واله ښائسته حُورې) کيني :

تُغَنِّيَنَّهُ بِأَحْسَنِ صَوْتٍ سَمِعَهُ الْجِنُّ وَالْإِنْسُ .

ده ته په داسې ښائسته انداز باندې سندرې وايي چې پيريانو او انسانانو به ددينه مخکې داسې ښائسته آواز چيرته نه وي اَوريدلى .

دا (سندرې) به د شيطان بَاجه نه وي بلکه دا به د الله تعالى په بزرګۍ او پاکۍ باندې مشتمل وي . (١)

## د حورو خوش آوازي اَوريدو سره د جنت د اُونو نه ښائسته آواز راوتل

١ . کله چې حُورې د اُونو لاندې ناستې وي او په خوش آوازۍ سره اشعار وايي نو د جنت اُونې چې دا آواز واوري نو دا به هم په حرکت کې راشي او ددينه نه به هم ښائسته آواز رااُوځي . (٢)

٢ . بلکه د جنت اُونې به داسې وي چې کله په دې باندې هوا چليږي نو ددينه به

---

(١) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَا مِنْ عَبْدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا وَيَجْلِسُ عِنْدَ رَأْسِهِ ، وَعِنْدَ رِجْلَيْهِ نِسَاءٌ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، تُغَنِّيَنَّهُ بِأَحْسَنِ صَوْتٍ سَمِعَهُ الْجِنُّ وَالْإِنْسُ ، وَلَيْسَ بِمَزَامِيرِ الشَّيْطَانِ، وَلَكِنْ بِتَمْجِيدِ اللهِ وَتَقْدِيسِهِ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٤٧٨ . مجمع الزوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَغَيْرِهِنَّ رقم الحديث ١٨٧٥٩ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٢٢ فصل في غناء الحور العين . التفسير المظهري ج ٧ ص ٢٢٦ ، احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٤١ .

(٢) قَالَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ لِابْنِ شِهَابٍ : هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ سَمَاعٍ فَإِنَّهُ حُبِّبَ إِلَيَّ السَّمَاعُ ؟ قَالَ : إِيْ وَالَّذِي نَفْسُ ابْنِ شِهَابٍ بِيَدِهِ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرًا حِمْلُهُ اللُّؤْلُؤُ وَالزَّبَرْجَدُ تَحْتَهُ جَوَارٍ نَاهِدَاتٌ يَتَغَنَّيْنَ بِالْقُرْآنِ يَقُلْنَ : نَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْأَسُ ، وَنَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوتُ . فَإِذَا سَمِعَ ذَلِكَ الشَّجَرُ صَفَّقَ بَعْضُهُ بَعْضًا. فَأَجَبْنَ الْجَوَارِيَ، فَلَا يُدْرَى أَصْوَاتُ الْجَوَارِيْ أَحْسَنُ أَمْ أَصْوَاتُ الشَّجَرِ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٥٠ بَابُ غِنَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ .

Scanned with CamScanner

ښائسته آواز راأوځي. رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً جُذُوعُهَا مِنْ ذَهَبٍ، وَفُرُوعُهَا مِنْ زَبَرْجَدٍ وَلُؤْلُؤٍ، فَتَهُبُّ لَهَا رِيحٌ فَتَصْفِقُ، فَمَا سَمِعَ السَّامِعُونَ بِصَوْتِ شَيْءٍ قَطُّ أَلَذَّ مِنْهُ. (١)

بیشکه په جنت کې به داسې یوه أونه وي چې د هغې تَنې به د سروزرو وي، او شاخونه به يې د زَبرجدو او ملغلرو وي، چې کله په دې باندې هوا أولګي نو ددينه به داسې ښائسته آواز راأوځي چې آوريدونکو به ددينه ډير مزيدار آواز د بل شي نه وي آوريدلى.

## د دُنيا ښځو ته به د جنت په حُورو باندې د عبادت په وجه فضيلت حاصل وي

د دُنيا ښځې چې جنت ته لاړې شي نو دوی ته به د جنت په حُورو باندې ډير فضيلت حاصل وي؛ ځکه دوی به په دُنيا کې مونځونه، روژې، أودسونه، او نور ډير عبادات کړي وي، او حُورو خو دا عبادات ندي کړي. نو دوی به د جنت د حورو سرداري وي.

۱. د احاديثو په کتابونو کې يو أوږد حديث ذکر دی، (چې حضرت أمّ سلمة رضي الله عنها د نبي عليه السلام نه د قرآن کريم د هغه آيتونو متعلق پوښتنه اوکړه چې په هغې کې دجنت د حُورو صفتونه بيان شوي، پيغمبر عليه السلام ورته د هر آيت پوره وضاحت اوکړو) د حديث په آخر کې أمّ سلمة رضي الله عنها د نبي عليه السلام نه دا پوښتنه هم اوکړه:

اې د الله رسوله! د دُنيا دا ښځې افضلې دي که د جنت حُورِ عِين؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: د دُنيا دا ښځې افضلې دي ... ځکه دوی مونځونه،

(١) الترغيب والترهيب فصل في شجر الجنّة وثمارها رقم الحديث ٥٦٨٠ . صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني ذِكْرُ حُبُورِ أَهْلِهَا وَاجْتِمَاعِهِمْ عَلَى الْغِنَاءِ وَالطَّرَبِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ} [الروم: ١٥] رقم الحديث ٤٣٣ .

وفي رواية: عَنْ عَبْدَةَ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً ثَمَرُهَا زَبَرْجَدٌ وَيَاقُوتٌ وَلُؤْلُؤٌ فَيَبْعَثُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ رِيحًا فَتَصْفِقُ، فَيُسْمَعُ لَهَا أَصْوَاتٌ لَمْ يُسْمَعْ أَلَذُّ مِنْهَا. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ غِنَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٤ .

وفي رواية: عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْحَارِثِيِّ، قَالَ: حُدِّثْتُ أَنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً آجَامُهَا مِنْ قَصَبٍ مِنْ ذَهَبٍ حِمْلُهَا اللُّؤْلُؤُ، فَإِذَا اشْتَهَى أَهْلُ الْجَنَّةِ أَنْ يَسْمَعُوا صَوْتًا حَسَنًا بَعَثَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى تِلْكَ الْآجَامِ رِيحًا فَتَأْتِي بِكُلِّ صَوْتٍ يَشْتَهُونَ. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ غِنَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٦ .

Scanned with CamScanner

روژې او نور عبادتونه کړي. (١)

نو الله ربّ العزت به دوی ته په حورو باندې ډېر فضيلت ورکړي، او ډېر نعمتونه به ورکړي. (٢)

---

(١) پوره حديث داسې دی : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنها، قَالَتْ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنِي عَنْ قَوْلِ اللهِ {حُورٌ عِينٌ} [الواقعة : ٢٢]. قَالَ: " حُورٌ: بِيضٌ، عِينٌ: ضِخَامُ الْعُيُونِ شُفْرُ الْجَرْدَاءِ بِمَنْزِلَةِ جَنَاحِ النُّسُورِ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنِي عَنْ قَوْلِهِ: {كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَكْنُونٌ} [الطور : ٢٤]. قَالَ: « صَفَاؤُهُنَّ صَفَاءُ الدُّرِّ فِي الْأَصْدَافِ الَّتِي لَمْ تَمَسَّهُ الْأَيْدِي ». قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنِي عَنْ قَوْلِهِ: {فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ} [الرحمن : ٧٠]. قَالَ: « خَيْرَاتُ الْأَخْلَاقِ، حِسَانُ الْوُجُوهِ ». قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنِي عَنْ قَوْلِهِ: {كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَكْنُونٌ} [الصافات: ٤٩]. قَالَ : « رِقَّتُهُنَّ كَرِقَّةِ الْجِلْدِ الَّذِي رَأَيْتِ فِي دَاخِلِ الْبَيْضَةِ مِمَّا يَلِي الْقِشْرَ وَهُوَ الْغِرْقِئُ ». قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنِي عَنْ قَوْلِهِ : {عُرُبًا أَتْرَابًا} [الواقعة : ٣٧]. قَالَ : « هُنَّ اللَّوَاتِي قُبِضْنَ فِي دَارِ الدُّنْيَا عَجَائِزَ رُمْصًا شُمْطًا، خَلَقَهُنَّ اللهُ بَعْدَ الْكِبَرِ، فَجَعَلَهُنَّ عَذَارَى عُرُبًا مُتَعَشِّقَاتٍ مُحَبَّبَاتٍ، أَتْرَابًا عَلَى مِيلَادٍ وَاحِدٍ ». قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَنِسَاءُ الدُّنْيَا أَفْضَلُ أَمِ الْحُورُ الْعِينُ ؟. قَالَ: « بَلْ نِسَاءُ الدُّنْيَا أَفْضَلُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ كَفَضْلِ الظِّهَارَةِ عَلَى الْبِطَانَةِ ». قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ ! وَبِمَا ذَاكَ ؟. قَالَ: " بِصَلَاتِهِنَّ وَصِيَامِهِنَّ وَعِبَادَتِهِنَّ اللهَ، أَلْبَسَ اللهُ وُجُوهَهُنَّ النُّورَ، وَأَجْسَادَهُنَّ الْحَرِيرَ بِيضَ الْأَلْوَانِ خُضْرَ الثِّيَابِ صُفْرَ الْحُلِيِّ مَجَامِرُهُنَّ الدُّرُّ وَأَمْشَاطُهُنَّ الذَّهَبُ يَقُلْنَ : أَلَا نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوتُ أَبَدًا ، أَلَا وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْؤُسُ أَبَدًا ، أَلَا وَنَحْنُ الْمُقِيمَاتُ فَلَا نَظْعَنُ أَبَدًا ، أَلَا وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا ، طُوبَى لِمَنْ كُنَّا لَهُ وَكَانَ لَنَا". قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! الْمَرْأَةُ مِنَّا تَتَزَوَّجُ الزَّوْجَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ وَالْأَرْبَعَةَ ثُمَّ تَمُوتُ فَتَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَيَدْخُلُونَ مَعَهَا مَنْ يَكُونُ زَوْجُهَا ؟. قَالَ: " يَا أُمَّ سَلَمَةَ ! إِنَّهَا تُخَيَّرُ فَتَخْتَارُ أَحْسَنَهُمْ خُلُقًا . فَتَقُولُ : أَيْ رَبِّ إِنَّ هَذَا كَانَ أَحْسَنَهُمْ مَعِي خُلُقًا فِي دَارِ الدُّنْيَا فَزَوِّجْنِيهِ . يَا أُمَّ سَلَمَةَ ذَهَبَ حُسْنُ الْخُلُقِ بِخَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ". المعجم الكبير للطبراني ج ٢٣ ص ٣٦٧ رقم الحديث ٨٧٠ أُمُّ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. الْحَسَنُ عَنْ أُمِّهِ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٣١٤١ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٢٠ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١١٣٩٦ ، و رقم الحديث ١٨٧٥٤ . الزواجر ج ٢ ص ٤٣٤ . حادي الارواح لابن قيم ص ٢٢٨ . كنز العمال رقم الحديث ٣٠٤٦ .

(٢) وَفِي حَدِيثٍ عِنْدَ أَبِي يَعْلَى وَالْبَيْهَقِيِّ « وَالَّذِي بَعَثَنِي بِالْحَقِّ مَا أَنْتُمْ فِي الدُّنْيَا بِأَعْرَفَ بِأَزْوَاجِكُمْ وَمَسَاكِنِكُمْ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ بِأَزْوَاجِهِمْ وَمَسَاكِنِهِمْ ، فَيَدْخُلُ رَجُلٌ مِنْهُمْ عَلَى اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِمَّا يُنْشِئُ اللهُ تَعَالَى ، وَاثْنَتَيْنِ مِنْ وَلَدِ آدَمَ لَهُمَا فَضْلٌ عَلَى مَنْ أَنْشَأَ اللهُ بِعِبَادَتِهِمَا فِي الدُّنْيَا ... ←←←←← ←←←←←

Scanned with CamScanner

۴. امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ دا حديث رانقل کړی چې د جنت حُور عِين به د يو بل لاس نيولې وي او په داسې ښائسته انداز باندې به سندرې وايي چې تر اوسه به مخلوقاتو دغه شان يا ددې په مثل ښائسته آواز نه وي آوريدلی.

(هغه حُورې به په سندرو کې دا اشعار وايي:)

نَحْنُ الرَّاضِيَاتِ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا ✿ وَنَحْنُ الْمُقِيمَاتُ فَلَا نَظْعَنُ أَبَدًا

مونږ به (د خپل رَب يا د خپل خاوند نه) راضي يو هيڅ کله به نه ناراضه کيږو.

وَنَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوتُ أَبَدًا ✿ وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْؤُسُ أَبَدًا

مونږ به ژوندی يو هيڅ کله به نه وفات کيږو، او مونږ به خوشحاله يو هيڅ کله به سختي (او محتاجي) په مونږ نه راځي.

وَنَحْنُ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ ✿ حَبِيْبَاتٌ لِأَزْوَاجٍ كِرَامٍ.

مونږ خوش اخلاقه او ښائسته مخونو واله يو، (او) مُعزَّزو خاوندانو ته محبوبې يو.

حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې کله حور عِين دا سندرې اُووايي نو د دُنيا مؤمناني ښځې به ورته دا جواب ورکړي:

نَحْنُ الْمُصَلِّيَاتُ وَمَا صَلَّيْتُنَّ ✿ وَنَحْنُ الصَّائِمَاتُ وَمَا صُمْتُنَّ

(مونږ ته دا شرَف حاصل دی چې:) مونږ (په دُنيا کې) مونځونه کړي تاسو مونځونه ندي کړي. او مونږ روژې نيولې تاسو روژې ندي نيولې.

وَنَحْنُ الْمُتَوَضِّيَاتُ وَمَا تَوَضَّأْتُنَّ ✿ وَنَحْنُ الْمُتَصَدِّقَاتُ وَمَا تَصَدَّقْتُنَّ.

او مونږ اَودسونه کړي تاسو اَودسونه ندي کړي، او مونږ صدقې ورکړي تاسو صدقې ندي ورکړي.

حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي: فَغَلَبْنَهُنَّ وَاللهِ.

---

←ح← الزواجر عن اقتراف الكبائر ج۲ ص ۴۳۳ خَاتِمَةٌ فِي ذِكْرِ أُمُورٍ أَرْبَعَةٍ اَلْأَمْرُ الرَّابِعُ فِي الْجَنَّةِ وَنَعِيمِهَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذٰلِكَ. البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۶۰۹. حادي الارواح ص ۲۲۹. الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۷۱۴، تفسير ابن كثير ج ۳ ص ۲۸۷، و ج ۷ ص ۵۳۳.

Scanned with CamScanner

قسَم په الله ، چې د دُنيا ښځې به ( په دې جواب ورکولو سره ) په حُورو باندې غالبې شي . (١)

بهر حال ، د دُنيا دا ښځې چې جنت ته لاړې شي نو الله تعالى به دا په ډير ښائسته شکل باندې پيدا کړي ، د جنت د حور عِين نه به ډيرې ښکلې وي ، او د هغوی نه به ډيرې افضلې وي . (٢)

## د نيک عمله ښځو په جنت کې اُوچت مقام ، او د جنتي د پاره ډيرې خوشحالې

علامه ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ په "بُسْتَانُ الْوَاعِظِيْن" کې يو روايت رانقل کړی :

---

(١) وَفِي الحَدِيْثِ : " إِنَّ الحُوْرَ العِيْنَ يَأْخُذُ بَعْضُهُنَّ بِأَيْدِيْ بَعْضٍ وَيَتَغَنَّيْنَ بِأَصْوَاتٍ لَمْ تَسْمَعِ الخَلَائِقُ بِأَحْسَنَ مِنْهَا وَلَا بِمِثْلِهَا : نَحْنُ الرَّاضِيَاتِ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا ، وَنَحْنُ المُقِيْمَاتُ فَلَا نَظْعَنُ أَبَدًا ، وَنَحْنُ الخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوْتُ أَبَدًا ، وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْؤُسُ أَبَدًا ، وَنَحْنُ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ حَبِيْبَاتٌ لِأَزْوَاجٍ كِرَامٍ . ( خَرَّجَهُ التِّرْمِذِيُّ بِمَعْنَاهُ مِنْ حَدِيْثِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . وَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : إِنَّ الحُوْرَ العِيْنَ إِذَا قُلْنَ هٰذِهِ المَقَالَةَ أَجَابَهُنَّ المُؤْمِنَاتُ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الدُّنْيَا : نَحْنُ المُصَلِّيَاتُ وَمَا صَلَّيْتُنَّ ، وَنَحْنُ الصَّائِمَاتُ وَمَا صُمْتُنَّ ، وَنَحْنُ المُتَوَضِّيَاتُ وَمَا تَوَضَّأْتُنَّ ، وَنَحْنُ المُتَصَدِّقَاتُ وَمَا تَصَدَّقْتُنَّ . فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : فَغَلَبْنَهُنَّ وَاللهِ . تفسير القرطبي ج ١٧ ص ١٨٧ سورة الرحمن في تفسير آية ٧٠ .

(٢) علامه قرطبي رَحِمَهُ اللهُ ددې متعلق پوره تفصيل رانقل کړی : وَاخْتُلِفَ أَيُّهُمَا أَكْثَرُ حُسْنًا وَأَبْهَرُ جَمَالًا الحُوْرُ أَوِ الآدَمِيَّاتُ ؟ فَقِيْلَ : الحُوْرُ لِمَا ذُكِرَ مِنْ وَصْفِهِنَّ فِي القُرْآنِ وَالسُّنَّةِ ، وَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي دُعَائِهِ على الميت فِي الجِنَازَةِ : ( وَأَبْدِلْهُ زَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ ) . وَقِيْلَ : الآدَمِيَّاتُ أَفْضَلُ مِنَ الحُوْرِ العِيْنِ بِسَبْعِيْنَ أَلْفَ ضِعْفٍ ، وَرُوِيَ مَرْفُوْعًا . وَذَكَرَ ابْنُ المُبَارَكِ : قَالَ : إِنَّ نِسَاءَ الدُّنْيَا مَنْ دَخَلَ مِنْهُنَّ الجَنَّةَ فُضِّلْنَ عَلَى الحُوْرِ العِيْنِ بِمَا عَمِلْنَ فِي الدُّنْيَا . وَقَدْ قِيْلَ : إِنَّ الحُوْرَ العِيْنَ المَذْكُوْرَاتِ فِي القُرْآنِ هُنَّ المُؤْمِنَاتُ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّيْنَ وَالمُؤْمِنِيْنَ يُخْلَقْنَ فِي الآخِرَةِ عَلَى أَحْسَنِ صُوْرَةٍ ، قَالَهُ الحَسَنُ البَصْرِيُّ . وَالمَشْهُوْرُ أَنَّ الحُوْرَ العِيْنَ لَسْنَ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الدُّنْيَا وَإِنَّمَا هُنَّ مَخْلُوْقَاتٌ فِي الجَنَّةِ لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ : ( لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ) وَأَكْثَرُ نِسَاءِ أَهْلِ الدُّنْيَا مَطْمُوْثَاتٌ ، وَلِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : ( إِنَّ أَقَلَّ سَاكِنِي الجَنَّةِ النِّسَاءُ ) فَلَا يُصِيْبُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ امْرَأَةٌ ، وَوَعَدَ الحُوْرَ العِيْنَ لِجَمَاعَتِهِمْ . فَثَبَتَ أَنَّهُنَّ مِنْ غَيْرِ نِسَاءِ الدُّنْيَا . تفسير القرطبي ج ١٧ ص ١٨٧ سورة الرحمن في تفسير آية ٧٠ .

Scanned with CamScanner

(اګر چې دا روايت اُوږد دی خو د عبرت نه ډک دی نو ځکه يې درته پوره رانقل کوم :)

**د جنت تختونه** : حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا فرمايي چې د الله تعالی يو دوست به په جنت کې په يو تَخت باندې کيني ، ددې تخت اُوچتوالې به د پنځه سوه (٥٠٠) کاله مسافت په مقدار وي .

((( الله تعالی هم د جنت د فرشونو او تختونو په باره کې فرمايي :

﴿ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴾. (١)

ترجمه : او جنتيان به په اُوچتو بِسترو (فرشونو) باندې وي )))

دا تخت به د سرو ياقوتو نه جوړ وي ، ددې به د زمرودو دوه ښنې وزرې وي ، په دې تخت باندې به اَويا (٧٠) بِسترې وي ، ددې بِسترو مالوچ به د نُور وي ، بهرنې اَستر به يې د نري وريښمو وي ، او دننه اَستر به يې د غټو وريښمو وي ، که چيرته ددې پورته طرف په ښکته طرف راځوړند کړې شي نو آخر ته به په څلويښت (٤٠) کاله کې هم را اُو نه رسي .

**د جنت تکيه ګانې** : په دې تخت باندې به د ناويانو د پاره جوړه شوې کمره وي چې د ملغلرو نه به جوړه شوې وي ، په دې باندې به د نُور اَويا (٧٠) پَردې وي .

((( ددې په باره کې الله تعالی هم فرمايي : ﴿ هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ ﴾ . (٢) ترجمه : دوی او د دوی بيبيانې به (د اُونو) په سيورو کې وي ، په تَختونو باندې به يې تکيه لګولې وي ))) .

يعنی جنتي به د خپلو بيبيانو سره د جنت د اُونو د سيورو لاندې د تَختونو د پاسه د ناويانو په دې کمره کې تکيه لګولې ناست وي .

---

(١) الواقعة آية ٣٤. / بل ځای فرمايي : ﴿ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴾ الغاشية آية ١٣.
ترجمه : په دې جنت کې به اُوچت اُوچت تَختونه وي .

(٢) يس آية ٥٦. / په سورة الکهف کې ذکر دي : ﴿ مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ﴾ . الکهف آية ٣١.
ترجمه : دوی به په دې جنت کې په تختونو باندې تکيه لګولې وي .

Scanned with CamScanner

دې جنتي به د خپلې بي بي سره غاړه ملاؤ کړي وي ، نه به دا بي بي ستړې کيږي او نه به دا سړی ستړې کيږي (يعنی د يو بل نه به يې زړه نه مړيږي) ، په دې غاړه ملاؤولو کې به څلويښت (۴۰) کاله تېر شي.

کله چې دا جنتي خپل سَر رااُوچت کړي نو ناڅاپه به يوه بله بي بي اوګوري، هغه به ده ته اوګوري او دا آواز به ورته اوکړي :

يَا وَلِيَّ اللهِ ! أَمَا لَنَا فِيْكَ مِنْ دَوْلَةٍ ؟

اې د الله دوسته ! آيا زمونږ د پاره د تا سره څه حصه نشته؟

دا جنتي به ورته اُووايي :

حَبِيْبَتِيْ ! مَنْ أَنْتِ؟ اې زما محبوبې ! ته څوک يې ؟

هغه به ورته اووايي :

أَنَا مِنَ اللَّوَاتِيْ قَالَ فِيْهِنَّ اللهُ ﴿ وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴾(۱)

زه د هغه ښځو نه يم چې د هغې متعلق الله تعالى فرمايي : " او مونږ سره (ددې جنتيانو د پاره) نور زيات نعمتونه هم شته ".

نو ددې جنتي دا تَخت ( يا : د سروزرو وزرو واله کرسۍ ) به والوځي ( او هغې بي بي ته به وَرَاُورسي ) ، کله چې جنتي دا دويمه بي بي اُوګوري نو دا به په هغه اوله باندې يو لک (۱۰۰۰۰۰) درجې په نُور کې زياته وي ، دا به د هغې سره څلويښت (۴۰) کاله داسې غاړه ملاؤ کړي چې نه به دا ښځه ستړې کيږي او نه به دا سړې ستړې کيږي . (۲)

---

(۱) ق آية ۳۵ .

(۲) قَالَ ابن عَبَّاس رَضِي الله عَنهما وَذَلِكَ أَنَّ وليّ الله فِي الجنَّة على سَرِير . والسرير ارتفاعُه خَمْس مِائَة عَام وَهُوَ قَول الله عز وَجل {وفرش مَرْفُوعَة} (الوَاقِعَة ۳۴) قَالَ : والسرير من يَاقُوت أَحْمَر . وَله جَنَاحَانِ من زمرد أَخْضَر ، وعَلى السرير سَبْعُونَ فراشا حشوهَا النُّور وظواهرهَا السندس وبطائنها من استبرق . وَلَو دلي أَعْلَاهَا فراشا مَا وصل إِلَى آخرهَا مِقْدَار أَرْبَعِينَ عَاما .

أرائك الجنَّة : وعَلى السرير أريكة وَهِي الحجلة . وَهِي من لؤلؤة عَلَيْهَا سَبْعُونَ سترا من نُور ←←←←

Scanned with CamScanner

**د دُنيوي ښځې حُسن و جَمال** : کله چې دا جنتي ځلويښت کاله پس خپل سَر راپورته کړي نو په دې خپل کور کې به يو پړقيدونکې نُور ( رَڼا ) اوګوري ، دا به حيران شي او عرض به اوکړي :

سُبْحَانَ اللهِ ، أَمَلَكٌ كَرِيْمٌ زَارَنَا أَمْ رَبُّنَا أَشْرَفَ عَلَيْنَا ؟

سبحان الله ، آيا دا يو مُعزّزه فرښته زمونږ ملاقات له راغله يا زمونږ رَب راته خپل دِيدار رانصيب کړو ؟

يو فرښته کومه چې د نُور په کرسۍ ناسته وي هغه به دې جنتي ته اووايي :

نه خو ستا ملاقات ته فرښته راغلې ، او نه درته خپل رَب دِيدار نصيب کړې.

دا جنتي به عرض اوکړي :

مَا هَذَا النُّوْرُ ؟ نو بيا دا رَڼا د څه شي ده ؟

فرښته به ورته اووايي :

لِزَوْجَتِكَ الدُّنْيَوِيَّةِ وَهِيَ مَعَكَ فِي الْجَنَّةِ ، إِنَّهَا طَلَعَتْ عَلَيْكَ وَرَأَتْكَ مُعَانِقًا لِهَذِهِ فَتَبَسَّمَتْ ، فَهَذَا النُّوْرُ السَّاطِعُ الَّذِيْ تَرَاهُ فِيْ دَارِكَ هُوَ نُوْرُ ثَنَايَاهَا .

دا ستا دُنيوي بي بي ده هغه د تاسره په جنت کې ده ، هغې تا طرف ته اُوکتل ، هغې چې ته په غاړه ملاؤلو باندې اُوليدی نو مُسکې ( په خندا ) شوه ، دا په خپل کور کې چې ته کومه پړقيدونکې رڼا ګورې دا د هغې د غاښونو رَڼا ده .

جنتي به خپل سَر راپورته کړي او هغې طرف ته به اوګوري ، نو هغه به ده ته اووايي :

يَا وَلِيَّ اللهِ ! أَمَا لَنَا فِيْكَ مِنْ دَوْلَةٍ ؟

اې د الله دوسته ! آيا زمونږ د پاره د تا سره څه حصه شته ؟

دا جنتي به ورته پوښتنه اوکړي :

←←← وَذَلِكَ قَوْلُه عز وَجل { هم وأزواجهم فِي ظلال على الأرائك متكئون } ( يس ٥٦ ) يَعْنِي ظلال الأَشْجَار على الأرائك يَعْنِي الأسرة فِي الحجال فَبَيْنَمَا هُوَ معانقها لَا تمل مِنْهُ وَلَا يمل مِنْهَا ، والمعانقة أَرْبَعِين عَاما ......

حَبِيْبَتِيْ ! مَنْ أَنْتِ؟ اې زما محبوبې ! ته څوک يې ؟
هغه به ورته اووايي :

يَا وَلِيَّ اللهِ ! أَمَّا أَنَا فَمِنَ اللَّوَاتِيْ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْهِنَّ ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ ﴾. (١)

اې د الله دوسته ! زه د هغه ښځو نه يم چې د هغې په باره کې الله تعالى فرمائلي دي : پس هيڅ نفس ته دا معلومه نده چې د دوى د پاره د سترګو د يَخ والي څومره نِعمتونه پټ ساتلي شوي .

نو دا جنتي تَخت به هغې طرف ته وَر والوځي ( او هغې ته به وَر اُورسي ) . کله چې دا جنتي د هغې سره ملاقات اوکړي نو دا به د هغې دويمې بي بي نه په نُور کې يو لک (١٠٠٠٠٠) چنده زياته وي .

لِأَنَّ هَذِهِ صَامَتْ وَصَلَّتْ وَ عَبَدَتِ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ . فَهِيَ إِذَا دَخَلَتِ الْجَنَّةَ أَفْضَلُ مِنْ نِسَاءِ الْجَنَّةِ لِأَنَّ أُولَئِكَ أُنبِتْنَ نَبَاتًا .

ځکه د دُنيا دې ښځې به روژې نيولې وي ، مونځونه به يې کړي وي ، او د الله تعالى عبادت به يې کړې وي ، کله چې دا بي بي جنت ته داخله شي نو د جنت د ټولو ښځو نه به افضله وي ؛ ځکه د جنت حُورې خو صرف پيدا شوي ( او د دُنيا ښځو عبادت هم کړى ) .

دا جنتي به ددې ( دُنيا واله ) ښځې سره څلويښت (٤٠) کاله داسې غاړه ملاؤ کړي چې په دواړو کې به هيڅوک نه ستړې کيږي ( او نه به يې د يو بل نه زړه مړيږي ) .

بيا به دا ښځه د جنتي مخې ته اُودريږي ددې په خپو کې به د ياقوتو پازيب وي ، کله چې دا په زمکه باندې خپه کيږدي نو ددې د پازيب نه به د جنت د هرې مرغۍ د ښائسته آواز په شان آواز رااُووځي .

کله چې دا سړى ددې ښځې د لاس وَرغوي له لاس وَروړي نو دا به ( د هډوکي ) د مازغو نه زيات نرم وي ، ددې د وَرغوي نه به د جنت د هرې خوشبوئي بُوئ محسوس

---

(١) السجدة آية ١٧ .

کړي، ددې په بدن باندې به د نُور اَويا (٧٠) جوړه کپړې وي، که چيرته ددينه يو څادر (دُنيا ته راښکاره او) څُور کړې شي نو د مشرق او مغرب په مينځ کې دا هر څه به روښانه کړي، دا به د نُور نه پيدا شوي وي، په دې باندې به د سروزرو، سپينو زرو او ملغلرو بَنگړي وي، دا کپړې به د غنړې (عَنکبوت) د جَال نه ډيرې نرۍ وي، او په اُوچتولو کې به ډيرې سپَکې وي. دا کپړې به دومره صفا او باريکې وي چې دې سړي ته به د بهر نه د هغې په هډوکي، غوښه او پوستکي کې دنَنه د پُوندۍ نَلي (مازغه) هم ښکاري.

د کپړو په خي طرف لستونړي باندې به په نُور سره دا ليکل شوي وي:

﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ ﴾.(١)

ترجمه: ټول تعريفونه الله تعالى لره دي کوم چې د مونږ سره خپله وعده ريښتيا کړه.

او په چپ (گس) طرف لستونړي به په نُور سره دا ليکل شوي وي:

﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ﴾.(٢)

ترجمه: ټول تعريفونه الله تعالى لره دي کوم چې د مونږ نه غم لرې کړو.

او په ځِگر به يې په نُور سره دا ليکل شوي وي:

حَبِيْبِيْ! اَنَا لَكَ لَا اُرِيْدُ بِكَ بَدَلًا.

اې زما محبوبه! زه ستا يم، زه ستا په ځای باندې بل څوک نه غواړم.(٣)

---

(١) الزمر آية ٧٤.

(٢) فاطر آية ٣٤.

(٣) ...... فَإِذَا رفع رَأسه رأى نُورا ساطعا فِي دَاره فيعجب، فَيَقُول: سُبْحَانَ الله أملك كريم زارنا أم رَبنَا أشرف علينا؟ فَيَقُول الْملك وَهُوَ على كرْسِي من نُور بَينه وَبَين الْملك سَبْعُونَ عَاما وَالْملك فِي حَجَبته فِي الْمَلَائِكَة: لم يزرك ملك وَلم يشرف عَلَيْك رَبك عز وَجل. فَيَقُول مَا هَذَا النُّور؟

زَوجَة الدُّنْيَا: فَيَقُول الْملك: لزوجتك الدُّنْيَوِيَّة وَهِي مَعَك فِي الْجنَّة إِنَّهَا طلعت عَلَيْك ورأتك معانقا لهَذِهِ فتبسمت فَهَذَا النُّور الساطع الَّذِي ترَاهُ فِي دَارك هُوَ نُور ثناياها. فيرفع رَأسه إِلَيْهَا فَتَقول: يَا ولي الله! أما لنا فِيك من دولة؟ فَيَقُول: حبيبتي! من أَنْت؟ فَتَقول لَهُ: يَا ولي الله! أما أَنا فَمن اللواتي ←←←←

**د دُنيوي ښځې ښائست** : ددې ښځې سِينه به د سرې د پاره آئينه وي ، دا ښځه به په صفا والي کې د ياقوتو په شان وي ، په ښائست کې به د مرجان په شان وي ، او په سپين والي کې به د شترمرغ د هغه هگی په شان وي کومه چې په پَرده کې محفوظه وي .

د دُنيا دا ښځې به په خپلو خاوندانو باندې عاشقانې وي ، همزولې به وي ، يعنی د پنځه ويشت (٢٥) کالو په عُمر به وي ، د غاښونو په مينځ کې به يې د ښائست په وجه فاصلې وي ، که چيرته دوی اُوخاندي نو د غاښونو نُور به يې اُوپرقيږي ، که مخلوقات ددې خبرې واوري نو هر ښه او بَد به پرې عاشقان شي ، دا به ددې جنتي مخې ته ولاړه وي .

ددې د پنډو نُور (او حُسن) به په قدمونو باندې يو لک (١٠٠٠٠٠) چنده زيات وي ، ددې د ورَنونو نُور (او حُسن) به په پنډو باندې يو لک (١٠٠٠٠٠) چنده زيات وي ، ددې د شاطرف حصې (گناټو) نُور به په ورَنونو باندې يو لک (١٠٠٠٠٠) چنده زيات وي ، ددې د خيټې حُسن به په شا طرف حصې باندې يو لک (١٠٠٠٠٠) چنده زيات وي ، ددې د سِينې نُور به په خيټه باندې يو لک (١٠٠٠٠٠) چنده زيات وي ، او ددې د مخ نُور (او

---

←←← قَالَ الله عز وَجل فِيهِنّ {فَلَا تعلم نفس مَا أُخْفِي لَهُم من قُرَّة أعين} (السّجدَة ١٧) ، فيطير سَرِيره إِلَيْهَا فَإِذا لقيها فَهِيَ تضعف عَن هَذِه الْأُخْرَى بِمِائَة ألف جُزْء من النُّور ؛ لِأَن هَذِه صَامت وصلت وعبدت الله عز وَجل فَهِيَ إِذا دخلت الْجنَّة أفضل من نسَاء الْجنَّة لِأَن أُولَئِكَ أُنبتن نباتا . فيعانق هَذِه مِقْدَار أَرْبَعِينَ عَاما لَا تمل مِنْهُ وَلَا يمل مِنْهَا . ثمَّ إِنَّهَا تقوم بَين يَدَيْهِ وخلالها من يَوَاقِيت فَإِذا وطِئت يسمع من خلالها صفير كل طير فِي الْجنَّة . فَإِذا مسّ كفها كَانَ أَلين من المخ ، ويشم من كفها رَائِحَة كل طيب فِي الْجنَّة . وَعَلَيْهَا سَبْعُونَ حلَّة من نور لَو نشر الرِّدَاء مِنْهَا لأضاء مَا بَين الْمشرق وَالْمغْرب . خلقت من نور وَالْحلَل عَلَيْهَا أسورة من ذهب وأسورة من فضَّة وأسورة من لُؤْلُؤ ، وَتلك الْحلَل أرق من نسج العنكبوت . وَهُوَ أخف عَلَيْهَا من النقش . وانه يرى مخ سَاقهَا من صفائها و رقتها من وَرَاء الْعظم وَاللَّحم وَالْجلد . وَالْحلَل مَكْتُوب على ذراعها الْيَمين بِالنورِ { الْحَمدُ لله الَّذِي صدقنا وعده } (الزمر ٧٤) وعَلى الذِّرَاع الآخر مَكْتُوب بِالنورِ {الْحَمد لله الَّذِي أذهب عَنَّا الْحزن} (فاطر آية ٣٤) .

**تبادل الْحبّ** : ومكتوب على كَبِدهَا بِالنورِ : حَبِيْبِيْ أَنَا لَكَ لَا أُرِيْدُ بِكَ بَدَلًا ......

Scanned with CamScanner

حُسن) به په سینې باندې یو لک (۱۰۰۰۰۰) چنده زیات وي (یعنی ددې ښځې هر یو اندام به د بل نه زیات ښکلې وي، او مخ به یې په ټولو اندامونو کې ښائسته وي).

که چیرته دا ښځه د دُنیا په سمندرونو کې خپلې لاړې واچوي نو ټول سمندرونه به خواږه شي، که چیرته دا د خپل کور د چَت نه دُنیا ته مخ راښکاره کړي نو ددې رَڼا به د نمر او سپوږمۍ رَڼا ختمه کړي.

**د دُنیوي ښځې د زَلفو ښائست**: په دې ښځه باندې به د سرو یاقوتو تاج وي، دا به په ملغلرو او مرجان سره ښائسته کړې شوي وي. ددې په خې طرف به ددې د ویښتانو یو لک (۱۰۰۰۰۰) زَلفې وي، په دې زلفو کې به بعضې د نُور وي، بعضې به د یاقوتو وي، بعضې به د ملغلرو وي، بعضې به د زَبرجدو وي، بعضې به د مرجان وي، او بعضې زلفې به د هغه ملغلرو وي چې په شنو او سرو زمرودو سره به ښائسته کړې شوې وي، په مختلف رنګونو واله جواهرو سره به پائیللې شوي وي، ددې زلفو نه به مختلف قِسمه خوشبوئي ځي، د جنت هر قِسمه خوشبوئي به ددې د یو ویښته د لاندې وي، ددې هره زلفه به د څلویښت (۴۰) کاله مسافت په اندازه د لرې نه پړقیږي.

ددې ښځې چَپ (ګس) طرف به هم همدغه شان (یو لک) زلفې وي. ددې د سَر په شا طرف به هم د ویښتانو یو لک (۱۰۰۰۰۰) زلفې وي، دا زلفې به یې سینې ته رارسیدلې وي، قدمونو طرف ته به زوړندې وي، او په مشکو به یې راکاږي.

**د دُنیوي ښځې د پاره خادمانې**: ددې ښځې به یو لک (۱۰۰۰۰۰) خادمانې وي، ددې هره یوه زَلفه به یوې خادمې په لاس کې نیولې وي، همدغه شان ددې چپ (ګس) طرف او شا طرف به هم یو یو لک خادمانې وي چې ددې زلفې به یې نیولې وي.

ددې ښځې مخې ته به یو لک (۱۰۰۰۰۰) داسې خادمانې وي چې د هغوی په لاسونو کې به د ملغلرو آنګیټۍ وي چې په هغې کې به د اُور نه بغیر د بخور خوشبوئي سوزیږي، او ددې خوشبوئي به په جنت کې د سلو (۱۰۰) کالو په فاصله باندې محسوسیږي.

ددې ښځې ګېر چاپیره به (د خدمت د پاره) داسې هلکان وي چې همیشه به ځوانان وي، په دوی به مرګ نه راځي، دا به د ډیروالي په وجه داسې معلومیږي لکه خوَرې ملغلرې.

دا ښځه به د الله د دُوست ( یعنی ددې خپل خاوند ) مخې ته ولاړه وي ، دا به د خپل خاوند خوشحالي ګوري ، دا به پخپله هم خوشحاله وي او په دې خاوند باندې به عاشقه وي، بیا به دې خپل خاوند ته اووايي :

اې د الله دوسته ! اوس به ستا خوشحالي نوره هم زیاته شي .

بیا به دا ښځه د خپل خاوند مخې ته روانه شي ، زر ( ۱۰۰۰ ) قِسمه ټګ به او کړي ، په هر قِسمه تللو کې به د نُور په اَویا ( ۷۰ ) جوړه کپړو کې ښکاره شي ، ددې سره به د ويښتانو ګومَنز کوونکې خادمه هم وي ، کله چې روانه وي نو په ډير ناز و نَخرو او مستۍ سره به ځي، یو طرف او بل طرف به کږیږي ، خوشحاله به وي او مُسکا به کوي ، کله چې یو طرف ته مائله شي نو زلفې او دواړه طرف خادمانې به یې هم هاغې طرف ته مائلې شي ، او چې کله راتاؤ شي یا مخې طرف ته مائله شي نو دوی به هم ورسره په هماغه طرف مائله کیږي .

دا دُنیوي ښځې به الله تعالی ( هلته په جنت کې په دویم ځل ) په داسې انداز سره پیدا کړې وي چې هر وخت به د سړي د مخې نه نه جدا کیږي ، او نه به غائبیږي ، دا سړی به د هغې هر حُسن ګوري .

کله چې دا ښځه یو لک ( ۱۰۰۰۰۰ ) قِسمه ټَګ کولو نه روستو کيني نو په ډير ښائسته انداز به کيني ، ددې زلفې او کمځې به رازوړندې وي ، ( په دې ليدلو سره ) د الله تعالی دا دوست ( یعنی ددې خاوند ) به دومره خوشحاله شي چې که الله تعالی د مخکې نه دا فیصله نه وې کړی چې " په جنت کې مرګ نشته " نو د ډیرې خوشحالۍ نه به دا مَړ شوې وُ ، او که الله تعالی ده ته طاقت نه وې ورکړی نو ده به هغې ښځې ته د ليدلو قوّت هم نه لرلو ؛ ځکه دده سره به یَره وه چې د هغې د ډیر ښائست د وجې نه زما نظر ختم نشي .

دا ښځه به دې خپل خاوند ته اُووايي :

یَا وَلِيَّ اللّٰهِ ! تَمَتَّعْ فَلَا مَوْتَ فِيْهَا .

اې د الله دوسته ! ته ښه مزې حاصلې کړه ځکه په جنت کې مرګ نشته . (۱)

(۱) ...... وکبدها مرآته . وَهِيَ علی صفاء اليَاقُوت وَحسن المرجان وَبَيَاض البيض المكنون {عربا أَتْرَابًا} (الوَاقِعَة ۳۷) الْعَرَب العاشقات لِأَزْوَاجِهِنَّ والأتراب بَنَات خمس وَعشرين سنة . مفلجة لَو ضحِكت ←←←

Scanned with CamScanner

←←←← لأضاء نور ثناياها ، وَلَو سمع الخَلَائق منطقها لافتتن كل برّ وَفَاجر ، فَهِيَ قَائِمَة بَين يَدَيْهِ ، فساقها يضعف على قدميها بِمِائَة ألف جُزْء من النُّور وفخذها يضعف على سَاقهَا بِمِائَة ألف جُزْء من النُّور ، وعجزها يضعف على فخذها بِمِائَة ألف جُزْء من النُّور ، وبطنها يضعف على عجزها بِمِائَة ألف جُزْء من النُّور ، وصدرها يضعف على بَطنهَا بِمِائَة ألف جُزْء من النُّور ، ووجهها يضعف على نحرها بِمِائَة ألف جُزْء من النُّور ، وَلَو تفلت فِي بحار الدُّنْيَا لعذبت كلهَا ، وَلَو أطلعت من سقف بَيتهَا إِلَى الدُّنْيَا لأخفى نورها نور الشَّمْس وَالْقَمَر ، عَلَيْهَا تَاج من يَاقُوت أَحْمَر مكلل بالدّرّ والمرجان ، على يَمِينهَا مائَة ألف قرن من قُرُون شعرهَا .

**ضفائر الجمال :** وَتلك الْقُرُون قرن من نُور ، وَقرن من يَاقُوت ، وَقرن من لُؤْلُؤ ، وَقرن من زبرجد ، وَقرن من مرجان ، وَقرن من در مكلل بالزمرد الْأَخْضَر والأحمر ، مفضض بألوان الْجَوْهَر ، موشح بألوان الرياحين ، لَيْسَ فِي الْجنَّة طيب إِلَّا وَهُوَ تَحت شعرهَا الْوَاحِدَة ، تضيء مسيرَة أَرْبَعِينَ عَاما ، وعَلى يسارها مثل ذَلِك ، وعَلى مؤخرها مائَة ألف ذؤابة من ذوائب شعرهَا ، فَتلك الْقُرُون والذوائب إِلَى نحرها ، ثمَّ تتدلى إِلَى عجزها ثمَّ تتدلى إِلَى قدميها حَتَّى تجره بالمسك ، وَعَن يَمِينهَا مائَة ألف وصيفة ، كل قرن بيد وصيفة ، وَعَن يسارها مثل ذَلِك ، وَمن وَرَائِهَا مائَة ألف وصيفة كل وصيفة آخِذَة بذؤابة من ذوائب شعرهَا .

**الوصائف :** وَمن بَين يَديهَا مائَة ألف وصيفة ، مَعَهُنَّ مجامر من درّ ، فِيهَا بخور من غير نَار ، وَيذْهب رِيحه فِي الْجنَّة مسيرَة مائَة عَام ، حولهَا ولدان مخلدون شباب لَا يموتون ، كأنهن اللُّؤْلُؤ المنثور كَثْرَة فِيهِ ، قَائِمَة بَين يَدي ولي الله ، ترى إعجابه وسروره بهَا وَهِي مسرورة عاشقة لَهُ ، فَتَقول لَهُ : يَا ولي الله لتزدادن غِبْطَة وسرورا ، فتمشي بَين يَدَيْهِ بِمِائَة ألف لون من الْمَشْي فِي كل مشْيَة تجلى فِي سبعين حلَّة من النُّور وان الماشطة مَعهَا ، فَإِذا مشت تتمايل وتنعطف وتتكاسر وتدور وتبتهج بذلك وتبتسم ، فَإِذا مَالَتْ مَالَتِ الْقُرُون من الشّعْر مَعهَا ومالت الذوائب مَعهَا ومالت الوصفان مَعهَا ، فَإِذا دارت درن مَعهَا ، فَإِذا أَقبلت أقبلن مَعهَا خلقهَا الرَّحْمَن تبَارك وَتَعَالَى خلقَة إِذا أَقبلت فَهِيَ مُقَابِله وَإِذا ولت فَهِيَ مقبلة الْوَجْه لَا تفارق وَجهه وَلَا تغيب عَنهُ وَيرى كل شَيْء مِنْهَا ، إِذا جَلَست بعد مائَة ألف لون من الْمَشْي خرجت عجزتها من السرير وتدلي قُرُونهَا وذوائبها فيضطرب ولي الله لَوْلَا أَن الله سُبْحَانَهُ قضى أَن لَا موت فِيهَا لمات طَربا ، فلولا أَن الله تبَارك وَتَعَالَى قدرهَا لَهُ مَا اسْتَطَاعَ أَن ينظر إِلَيْهَا مَخَافَة أَن يذهب بَصَره ، فَتَقول لَهُ : يَا وَلِيَّ اللهِ تَمَتَّعْ فَلَا مَوْتَ فِيْهَا .

بستان الواعظين ورياض السامعين لابن الجوزي ص ٢٣٥ مجلس فِي ذكر الْجنَّة وأوصافها وَمَا أعد الله لأوليائه من النَّعيم فِيهَا.

## ''لُعْبَه'' حُورې

د جنت په حُورو کې څه حُورې دي چې هغې ته ''لُعْبَه'' وايي، دا دومره ښائسته دي چې د جنت نورې حُورې ددې په ښائست باندې تعجّب کوي. (۱)

دا لُعبه حُورې د څلورو شيانو نه جوړې شوي: مشک، عنبر، کافور، او زعفران. که چيرته دا حُورې د دُنيا په سمندر کې لاړې واچوي نو د ټول سمندر اُوبه به خوږې شي. (۲)

## حورِ ''عَيْنَاء''

حضرت ابو هريره ﷺ فرمايي:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ حَوْرَاءَ يُقَالُ لَهَا الْعَيْنَاءُ، إِذَا مَشَتْ مَشَى حَوْلَهَا سَبْعُوْنَ أَلْفَ وَصِيْفٍ، وَهِيَ تَقُوْلُ: أَيْنَ الْآمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ، وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ؟

بيشکه په جنت کې څه حُورې دي چې د هغې نوم ''عَيْنَاء'' دی، چې کله هغه روانه وي نو ګېرچاپيره به ورته آويازره (۷۰۰۰۰) خدمتګارې جينکۍ روانې وي، او هغه حُوره دا

(۱) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ حَوْرَاءَ يُقَالُ لَهَا: اللُّعْبَةُ، كُلُّ حُوْرِ الْجِنَانِ يُعْجَبْنَ بِهَا يَضْرِبْنَ بِأَيْدِيهِنَّ عَلَى كَتِفِهَا وَيَقُلْنَ: طُوْبَى لَكِ يَا لُعْبَةُ لَوْ يَعْلَمُ الطَّالِبُوْنَ لَكِ لَجَدُّوْا. بَيْنَ عَيْنَيْهَا مَكْتُوْبٌ: مَنْ كَانَ يَبْتَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ لَهُ مِثْلِيْ فَلْيَعْمَلْ بِرِضَاءِ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ. صفة الجنة لابن ابي الدنيا ص ۲۱۲ رقم الحديث ۲۹۸ بَابُ صِفَةِ الْحُوْرِ الْعِيْنِ.

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ حَوْرَاءَ يُقَالُ لَهَا ''لُعْبَةٌ'' خُلِقَتْ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْيَاءَ: مِنَ الْمِسْكِ وَالْعَنْبَرِ وَالْكَافُوْرِ وَالزَّعْفَرَانِ، وَعُجِنَ طِيْنُهَا بِمَاءِ الْحَيَوَانِ، فَقَالَ لَهَا الْعَزِيْزُ كُوْنِيْ فَكَانَتْ، وَجَمِيْعُ الْحُوْرِ عُشَّاقٌ لَهَا، وَلَوْ بَزَقَتْ فِي الْبَحْرِ بَزْقَةً تُعْذِبُ مَاءَ الْبَحْرِ، مَكْتُوْبٌ عَلَى نَحْرِهَا مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَكُوْنَ لَهُ مِثْلِيْ فَلْيَعْمَلْ بِطَاعَةِ رَبِّيْ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۷۷ بَابُ: صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا.

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ حَوْرَاءَ يُقَالُ لَهَا ''لُعْبَةٌ'' وَلَوْ بَزَقَتْ فِي الْبَحْرِ لَعَذُبَ مَاءُ الْبَحْرِ كُلُّهُ. مَكْتُوْبٌ عَلَى نَحْرِهَا مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَكُوْنَ لَهُ مِثْلِيْ فَلْيَعْمَلْ بِطَاعَةِ رَبِّيْ عز وجل. التذكرة باحوال الموتى وامور الآخرة للقرطبي ص ۹۸۶ باب منه في الحور العين وكلامهن وجواب نساء الآدميات وحسنهن

Scanned with CamScanner

وايي: هغه خلق چيرته دي چې هغوی (په دُنيا کې) خلقو ته د نېکۍ حکم کولو او د بدۍ نه يې منع کول؟ (مونږ د هغوی د پاره يو). (١)

## "حورِ عين" به د خپل خاوند د اِستقبال د پاره د جنت په دروازه کې ولاړه وي

يحيٰی بن ابي کثير رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې د جنت حورِ عين به د خپلو خاوندانو د اِستقبال د پاره د جنت په دَروازه کې ولاړې وي، د ملاقات په وخت به ورته وايي چې:

طَالَمَا انْتَظَرْنَاکُمْ.

مونږ د ډير وخت نه ستاسو اِنتظار کولو.

بيا به ورته په ښائسته آواز سره څه اَشعار هم اووايي .... (٢)

## د "حورِ عين" په ناز او نخرو سره تلل

علامه ابن جوزي رَحِمَهُ اللّٰهُ دا روايت رانقل کړی: حضرت حسن ﷺ فرمايي چې د الله دوست (يعنی جنتي) به په جنت کې د خپلې بي بي "حورِ عين" سره د سرويا قوتو په تَخت باندې ناست وي، دده د پاسه به د نُور قُبه وي، په دې وخت کې به دا دې حُورې ته اووايي: قَدِ اشْتَقْتُ إِلَی مشْيَتِكِ. زه ستا ګرځيدو ته شوقي يم.

نو دا حُوره به د سرويا قوتو د تَخت نه راښکته شي او د شنو مرجانو باغيچې ته به راشي، الله تعالی به ددې د پاره په دې باغيچه کې د نُور دوه لارې پيدا کړي: په يوه لاره کې به زعفران رازَرغون شي، او په بله کې به کافور رازَرغون شي، نو دا حُوره به د زعفرانو په لاره

---

(١) التذكرة بأحوال الموتى وأمور الآخرة للقرطبي ص ٩٨٥ باب منه في الحور العين وكلامهن وجواب نساء الآدميات وحسنهن. النهاية في الفتن والملاحم لابن كثير ج ٢ ص ٣٣٨ كتاب صفة أهل الجنة وما فيها من النعيم. احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٤٣ بيان جمل مفرقة من اوصاف أهل الجنة وردت بها الأخبار.

(٢) قَالَ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيْرٍ: إِنَّ الْحُوْرَ الْعِيْنَ يَتَلَقَّيْنَ أَزْوَاجَهُنَّ عِنْدَ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَيَقُلْنَ: طَالَمَا انْتَظَرْنَاكُمْ. فَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ، وَنَحْنُ الْمُقِيْمَاتُ فَلَا نَظْعَنُ، وَنَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوْتُ. بِأَحْسَنِ أَصْوَاتٍ سُمِعَتْ. فَيَقُوْلُ هُوَ: أَنْتِ حِبِّيْ لَيْسَ دُوْنَكِ مُقَصِّرٌ، وَلَا وَرَاءَكِ مَعْدًى. الزهد والرقائق لابن المبارك ج ٢ ص ١٣١ فِي صِفَةِ الْجَنَّةِ وَمَا أَعَدَّ اللّٰهُ فِيهَا. صفة الجنة لابن ابي الدنيا ص ١٨٩ رقم الحديث ٢٥٧.

Scanned with CamScanner

ځي او د کافورو په لاره به واپس راځي.

وَتَمْشِيْ بِسَبْعِيْنَ أَلْف لَوْنٍ مِنَ الْغنجِ.

او دا به آويازره (۷۰۰۰۰) قِسمه نخرو سره تلل کوي. (۱)

## "حورِ عين" د څه شي نه پيدا شوي؟

۱. په يو حديث کې راځي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

اَلْحُوْرُ الْعِيْنُ خُلِقْنَ مِنَ الزَّعْفَرَانِ. (۲)

حورِ عين د زعفرانو نه پيدا شوي.

۲. حضرت زيد بن اسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَخْلُقِ الْحُوْرَ الْعِيْنَ مِنْ تُرَابٍ، إِنَّمَا خَلَقَهُنَّ مِنْ مِسْكٍ، وَكَافُوْرٍ، وَ زَعْفَرَانٍ، وَأَنْتُمْ تَطْمَعُوْنَ أَنْ تُعَانِقُوْا هٰؤُلَاءِ، وَلَا تُطِيْعُوْنَ اللهَ فِيْمَا أَمَرَكُمْ. (۳)

---

(۱) رُوِيَ عَنِ الْحسن رَضِيَ الله عَنهُ أَنه قَالَ بَيْنَمَا وليّ الله فِي الْجنَّة مَعَ زَوجته من الحور الْعين على سَرِير من يَاقُوت أَحْمَر وَعَلَيهِ قبَّة من نور إِذْ قَالَ لَهَا: قَدِ اشْتَقْتُ إِلَى مشْيَتِكِ. قَالَ فتنزل من سَرِير يَاقُوت أَحْمَر إِلَى رَوْضَة مرجان أَخْضَر وينشئ الله عز وَجل لَهَا فِي تِلْكَ الرَّوْضَة طَرِيقين من نور: أَحدهمَا نبت الزَّعْفَرَان وَالْآخر نبت الكافور فتمشي فِي نبت الزَّعْفَرَان وترجع فِي نبت الكافور وتمشي بسبعين أَلف لون من الغنج. بستان الواعظين ورياض السامعين لابن الجوزي ص ۱۳۲ مجْلِس فِي ذكر الْجنَّة وأوصافها وَمَا أعد الله لأوليائه من النَّعيم فِيهَا دلال الْحور

(۲) البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۳۵۵ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ حُورِ الْعِينِ. كنز العمال رقم الحديث ۳۹۴۶۳. صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۲۸۸. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۸۱۳. تفسير الطبري ج ۲۲ ص ۳۰۳. الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور ج ۷ ص ۴۲۰. تفسير القرطبي ج ۱۷ ص ۲۰۵ سورة الواقعة في تفسير آية ۲۲.

(۳) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ: « إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَخْلُقِ الْحُوْرَ الْعِيْنَ مِنْ تُرَابٍ، إِنَّمَا خَلَقَهُنَّ مِنْ مِسْكٍ، وَكَافُوْرٍ، وَزَعْفَرَانٍ، وَأَنْتُمْ تَطْمَعُوْنَ أَنْ تُعَانِقُوْا هٰؤُلَاءِ، وَلَا تُطِيْعُوْنَ اللهَ فِيْمَا أَمَرَكُمْ ». الزهد والرقائق لابن المبارك ج ۱ ص ۵۳۸ رقم الحديث ۱۵۳۷ بَابُ فَضْلِ ذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور ج ۷ ص ۴۲۱. التفسير المظهري ج ۸ ص ۳۷۷، و ج ۹ ص ۱۶۲. ←←←

Scanned with CamScanner

بيشكه الله تعالى حورِ عِين د خاورو نه ندي پيدا كړي بلكه دا يې د مشكو كافورو او زعفرانو نه پيدا كړي دي.

۳. په بعضې رواياتو كې راځي چې د حُورو مختلف آندامونه د مختلف قِسمه قيمتي شيانو (زعفرانو، مشكو، عنبرو، او سپينو كافورونو) نه جوړ شوي.(۱)

٤. په احاديثو كې دا هم ذكر دي چې د جنت د مَڼې (سېب) نه به هم حُورې پيدا كيږي.(۲)

۵. په ځنې رواياتو كې راځي چې د عرش نه به باران اوشي او د هغې د څاڅكو د رحمت نه به حُورې پيدا شي.(۳)

---

←←← وفي رواية: عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: مَا مِنْ غُدْوَةٍ مِنْ غُدْوَاتِ الْجَنَّةِ ـ قِيلَ: وَلِلْجَنَّةِ غُدْوَاتٌ؟ قَالَ: نَعَمْ ـ إِلَّا يُزَفُّ إِلَى وَلِيِّ اللهِ فِيهَا عَرُوسٌ لَمْ يَلِدْهَا آدَمُ وَلَا حَوَّاءُ، إِنَّمَا هِيَ إِنْشَاءٌ خُلِقَتْ مِنْ زَعْفَرَانٍ. صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم ٢٨٩ بَابُ صِفَةِ الْحُورِ الْعِينِ

(۱) رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ: خَلَقَ اللهُ الْحُورَ الْعِينَ مِنْ أَصَابِعِ رِجْلَيْهَا إِلَى رُكْبَتَيْهَا مِنَ الزَّعْفَرَانِ، وَمِنْ رُكْبَتَيْهَا إِلَى ثَدْيَيْهَا مِنَ الْمِسْكِ الْأَذْفَرِ، وَمِنْ ثَدْيَيْهَا إِلَى عُنُقِهَا مِنَ الْعَنْبَرِ الْأَشْهَبِ، وَمِنْ عُنُقِهَا إِلَى رَأْسِهَا مِنَ الْكَافُورِ الْأَبْيَضِ، عَلَيْهَا سَبْعُونَ أَلْفَ حُلَّةٍ مِثْلُ شَقَائِقِ النُّعْمَانِ، إِذَا أَقْبَلَتْ يَتَلَأْلَأُ وَجْهُهَا نُورًا سَاطِعًا كَمَا تَتَلَأْلَأُ الشَّمْسُ لِأَهْلِ الدُّنْيَا، وَإِذَا أَدْبَرَتْ يُرَى كَبِدُهَا مِنْ رِقَّةِ ثِيَابِهَا وَجِلْدِهَا، فِي رَأْسِهَا سَبْعُونَ أَلْفَ ذُؤَابَةٍ مِنَ الْمِسْكِ الْأَذْفَرِ، لِكُلِّ ذُؤَابَةٍ مِنْهَا وَصِيفَةٌ تَرْفَعُ ذَيْلَهَا وَهِيَ تُنَادِي: هَذَا ثَوَابُ الْأَوْلِيَاءِ. تفسير القرطبي (الجامع لأحكام القرآن) ج ١٧ ص ٢٠٦ سورة الواقعة في تفسير آية ٢٢.

(۲) قَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: (إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُمْسِكُ التُّفَّاحَةَ مِنْ تُفَّاحِ الْجَنَّةِ فَتَنْفَلِقُ فِي يَدِهِ فَتَخْرُجُ مِنْهَا حَوْرَاءُ لَوْ نَظَرَتْ لِلشَّمْسِ لَأَخْجَلَتِ الشَّمْسَ مِنْ حُسْنِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنَ التُّفَّاحَةِ). فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا أَبَا سُلَيْمَانَ! إِنَّ هَذَا لَعَجَبٌ وَلَا يَنْقُصُ مِنَ التُّفَّاحَةِ؟ قَالَ: نَعَمْ كَالسِّرَاجِ الَّذِي يُوقَدُ مِنْهُ سِرَاجٌ آخَرُ وَسُرُجٌ وَلَا يَنْقُصُ، وَاللهُ عَلَى مَا يَشَاءُ قَدِيرٌ. تفسير القرطبي (الجامع لأحكام القرآن) ج ١٧ ص ٢٠٦ سورة الواقعة في تفسير آية ٢٢.

(۳) قَالَ التِّرْمِذِيُّ الْحَكِيمُ أَبُو عَبْدِ اللهِ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى (حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ): بَلَغَنَا فِي ←←←←

Scanned with CamScanner

٦ . علماؤ ليکلي : په جنت کې به په جنتيانو باندې وريځ تيرېږي، دوی چې څه اوغواړي د هغې نه به راورېږي تردې چې که دوی د هغې نه حورې راوريدل اُوغواړي نو دا به هم ورنه راورېږي . (١)

## په جنت کې به بې وَاده کس نه وي

په جنت کې به " بې وَاده کس " نه وي بلکه د هرچا به واده وي ؛ ځکه د جنت په نِعمتونو کې يو نِعمت دا هم دی چې الله تعالى به سړو ته د جنت ښځې ، او حُورې ورکوي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

.... مَا فِي الْجَنَّةِ أَعْزَبُ . (٢)

---

←←← الرِّوَايَةِ أَنَّ سَحَابَةً أَمْطَرَتْ مِنَ الْعَرْشِ فَخُلِقَتِ الْحُورُ مِنْ قَطَرَاتِ الرَّحْمَةِ . ثُمَّ ضُرِبَ عَلَى كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ خَيْمَةٌ عَلَى شَاطِئِ الْأَنْهَارِ سَعَتُهَا أَرْبَعُونَ مِيلًا وَلَيْسَ لَهَا بَابٌ. حَتَّى إِذَا دَخَلَ وَلِيُّ اللهِ الْجَنَّةَ انْصَدَعَتِ الْخَيْمَةُ عَنْ بَابٍ لِيَعْلَمَ وَلِيُّ اللهِ أَنَّ أَبْصَارَ الْمَخْلُوقِينَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ وَالْخَدَمِ لَمْ تَأْخُذْهَا. فَهِيَ مَقْصُورَةٌ قَدْ قُصِرَ بِهَا عَنْ أَبْصَارِ الْمَخْلُوقِينَ. وَاللهُ أَعْلَمُ. تفسير القرطبي ج ١٧ ص ١٨٨ سورة الواقعة في تفسير آية ٧٢ . التذكرة بأحوال الموتى وأمور الآخرة للقرطبي ج ١ ص ٩٣٤ باب منه. وهل تفضل جنة جنة؟ ، و ص ١٠٣٣ نبذ من أقوال العلماء في تفسير كلمات و آيات من القرآن وردت في ذكر الجنة وأهلها .

(١) عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ الْحَضْرَمِيِّ، قَالَ : إِنَّ مِنَ الْمَزِيدِ أَنْ تَمُرَّ السَّحَابَةُ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ فَتَقُولُ : مَا تَشَاءُونَ أَنْ أُمْطِرَكُمْ؟ فَلَا يَسْأَلُونَ شَيْئًا إِلَّا مَطَرَتْهُمْ. فَقَالَ كَثِيرُ بْنُ مُرَّةَ : لَئِنْ أَشْهَدَنَا اللهُ ذَلِكَ الْمَشْهَدَ لَأَقُولَنَّ أَمْطِرِينَا جَوَارِيَ مُزَيَّنَاتٍ. صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم ٢٩٥ بَابُ صِفَةِ الْحُورِ الْعِينِ

(٢) پوره حديث داسې دی : عَنْ مُحَمَّدٍ، قَالَ: إِمَّا تَفَاخَرُوا وَإِمَّا تَذَاكَرُوا : الرِّجَالُ فِي الْجَنَّةِ أَكْثَرُ أَمِ النِّسَاءُ؟ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : أَوَلَمْ يَقُلْ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، وَالَّتِي تَلِيهَا عَلَى أَضْوَإِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ، لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ اثْنَتَانِ يُرَى مُخُّ سُوقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ، وَمَا فِي الْجَنَّةِ أَعْزَبُ؟ » . صحيح مسلم كِتاب صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابُ أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَصِفَاتُهُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ رقم الحديث ١٤ (٢٨٣٤) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧١٥٢ ، و رقم الحديث ٧٣٧٥ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٢٠ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٦٤٣ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٠٩ فصل في وصف نساء اهل الجنة .

په جنت کې به بې واده کس نه وي.(۱)

## جنتيانو ته د حُورو ورکولو تعداد

۱. رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ، وَاثْنَانِ وَسَبْعُونَ زَوْجَةً، وَيُنْصَبُ لَهُ قُبَّةٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ، وَيَاقُوتٍ وَزَبَرْجَدٍ كَمَا بَيْنَ الْجَابِيَةِ وَصَنْعَاءَ.(۲)

بيشکه د أدنی مرتبې واله جنتي د پاره به آتيازره (۸۰۰۰۰) خادمان، او دوه آويا (۷۲) بيبيانې (حُورې) وي، د دوی د پاره به د ياقوتو او زَبرجدو خيمې اُودرولې شي چې (ددې اُوږدوالې به) د جابِيه نه تر صَنعاء (ښار) پورې وي.

۲. په يو روايت کې اَدنی جنتي ته د زر (۱۰۰۰) حُورو ورکولو ذکر شوی.

حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي:

إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً رَجُلٌ لَهُ أَلْفُ قَصْرٍ، مَا بَيْنَ كُلِّ قَصْرٍ مَسِيرَةُ سَنَةٍ، يَرَى أَقْصَاهَا كَمَا يَرَى أَدْنَاهَا. فِي كُلِّ قَصْرٍ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَالرَّيَاحِينِ وَالْوِلْدَانِ مَا يَدْعُو بِشَيْءٍ إِلَّا أُتِيَ بِهِ.

---

(۱) وَالعَزَبُ مَنْ لَا زَوْجَةَ لَهُ، وَالعُزُوبُ البُعْدُ وَسُمِّيَ عَزَبًا لِبُعْدِهِ عَنِ النِّسَاءِ. قَالَ القَاضِي ظَاهِرُ هَذَا الحَدِيثِ أَنَّ النِّسَاءَ أَكْثَرُ أَهْلِ الجَنَّةِ. وَفِي الحَدِيثِ الآخَرِ أَنَّهُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ النَّارِ. قَالَ فَيَخْرُجُ مِنْ مَجْمُوعِ هَذَا أَنَّ النِّسَاءَ أَكْثَرُ وَلَدِ آدَمَ. قَالَ وَهَذَا كُلُّهُ فِي الآدميات وَإِلَّا فَقَدْ جَاءَ لِلْوَاحِدِ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ مِنَ الحُورِ العَدَدُ الكَثِيرُ. شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) ج ۱۷ ص ۱۷۲ كتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها

(۲) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۱۷۲۳ مُسْنَدُ الْمُكْثِرِينَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ مَا لِأَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْكَرَامَةِ رقم الحديث ۲۵۶۲ . الزهد والرقائق لابن المبارک ج ۲ ص ۱۲۷، صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۲۰۶ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۴۰۱ . شرح السنّة للبغوي ج ۱۵ ص ۲۱۸، تفسير البغوي ج ۵ ص ۱۲ رقم الحديث ۲۱۰۸ . مشكاة المصابيح بَابُ صفة الجنة وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۶۳۸(۳۸) . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۶۳۹ . كنز العمال رقم الحديث ۳۹۳۲۷.

Scanned with CamScanner

د ټولو نه د کمې درجې واله جنتي به هغه کس وي چې د هغه به زر (۱۰۰۰) محلونه وي، د هر دوه محلونو په مينځ کې به د يو کال مسافت په اندازه فاصله وي، آخري محل به داسې وينې لکه څنګه چې نزدې محل وِيني، په هر محل کې به حورِ عِين، قيمتي خوشبوياني او کم عُمره هلکان وي، دا جنتي چې څه اوغواړي نو دې ته به راوړلې شي . (۱)

**فائده** : په دې روايت کې ذکر شو چې د اَدنٰی جنتي د پاره به زر (۱۰۰۰) محلونه وي، او په هر محل کې به حورِعِين وي . نو دا زر (۱۰۰۰) حُورې شوی.

۳ . په يو حديث کې د هر جنتي د بيبيانو مجموعه تعداد دولس نيم زره (۱۲۵۰۰) خُودل شوی . (۲)

٤ . بلکه انبياء کرامو، صدّقينو، او شهيدانو ته په جنتِ عَدن کې د دوه نيم کروړه (۲۵۰۰۰۰۰) حُورو ورکولو ذکر هم راغلی.

حضرت عبدالله بن عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ قَصْرًا يُقَالُ لَهُ عَدْنٌ ، حَوْلَهُ الْبُرُوْجُ وَالْمُرُوْجُ ، وَلَهُ خَمْسَةُ آلَافِ بَابٍ ، عَلَى كُلِّ بَابٍ خَمْسَةُ آلَافِ حَوْرَاء لَايَدْخُلُهُ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيْقٌ أَوْ شَهِيْدٌ . (۳)

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجَنَّةِ مَا ذُكِرَ فِي الْجَنَّةِ وَمَا فِيهَا مِمَّا أُعِدَّ لِأَهْلِهَا رقم الحديث ۳۴۰۲۴ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۶۳۸ فصل فيما لأدنى اهل الجنة فيها . صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۳۲ صفة الجنة . الدر المنثور فى التفسير بالمأثور ج ۴ ص ۲۳۸ .

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُزَوَّجُ خَمْسَمِائَةِ حَوْرَاءَ ، وَأَرْبَعَ آلَافِ بِكْرٍ ، وَثَمَانِيَةَ آلَافِ ثَيِّبٍ ، يُعَانِقُ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ مِقْدَارَ عُمْرِهِ فِي الدُّنْيَا » . البعث والنشور للبيهقي بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ حُورِ الْعَيْنِ، وَالْوِلْدَانِ، وَالْغِلْمَانِ رقم الحديث ۳۷۳ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۷۰۷ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۲ ص ۴۳۳ خَاتِمَةٌ فِي ذِكْرِ أُمُورٍ أَرْبَعَةٍ اَلْأَمْرُ الرَّابِعُ فِي الْجَنَّةِ وَنَعِيمِهَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذَلِكَ . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۵۴۱ صفة الحور العين والولدان.

(۳) تفسير ابي السعود ( إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم ) ج ۴ ص ۸۳ سورة التوبة في تفسير آية ۷۲ . تفسير الطبري ج ۱۱ ص ۵۶۳، و ج ۱۳ ص ۵۱۲ .

Scanned with CamScanner

بیشکه په جنت کې یو محل دی چې هغې ته " عدن " ویلې شي ، ددې ګېرچاپېره برجونه او چمنونه دي ، ددې محل پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) دروازې دي ، او په هره دروازه کې به پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) حُورې وي ، دیته به صرف نبي ، صدّیق او شهید داخلیږي .

(( **نوټ** : پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) ته چې په پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) کې ضرب ورکړې شي نو دا دوه نیم کروړه (۲۵۰۰۰۰۰۰) حُورې شوی )) .

په ځنې روایتونو کې ورسره دا هم ذکر دي چې عادِل بادشاه به هم دیته داخلیږي . (۱)

**۵ . د انبیاء کرامو ، صدیقینو او شهیدانو په باره کې خو دا هم راځي چې دوی ته به دولس نیم کروړه (۱۲۵۰۰۰۰۰۰) حورې ورکولې شي .**

یو ځل حضرت عُمر ﷺ په ممبر باندې دا آیت اُولوست : ﴿ جَنّٰتُ عَدۡنٍ ﴾ . (۲)

ترجمه : ( څوک چې نېک اعمال کوي نو د دوی د پاره ) جنتونه د همیشه اُوسید دي .

بیا حضرت عُمر ﷺ اوفرمایل : وَهَلۡ تَدۡرُوۡنَ مَا جَنّٰاتُ عَدۡنٍ ؟

آیا تاسو ته پته ده چې : جنت عدن څه شی دی ؟

---

(۱) په مسند البزار کې دا حدیث داسې ذکر دی : عَنۡ عَبۡدِ اللهِ بۡنِ عَمۡرٍو رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا ، قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ فِي الۡجَنَّةِ لَقَصۡرًا يُسَمَّى عَدۡنَ ، حَوۡلَهُ الۡبُرُوۡجُ وَالۡمُرُوۡجُ ، لَهُ خَمۡسَةُ آلَافِ بَابٍ عِنۡدَ كُلِّ بَابٍ خَمۡسَةُ آلَافِ حِبَرَةٍ لَا يَدۡخُلُهُ أَوۡ لَا يَسۡكُنُهُ إِلَّا نَبِيٌّ أَوۡ صِدِّيۡقٌ أَوۡ شَهِيۡدٌ أَوۡ إِمَامٌ عَادِلٌ » . مسند البزار ج ۶ ص ۴۴۹ رقم الحديث ۲۴۸۷ .

وفي رواية : عَنۡ عَبۡدِ اللهِ بۡنِ عَمۡرٍو ( بن العاص ) ﷺ ، قَالَ: « فِي الۡجَنَّةِ قَصۡرٌ يُدۡعَى عَدۡنًا ، حَوۡلَهُ الۡبُرُوۡجُ ، وَالۡمُرُوۡجُ ، لَهُ خَمۡسَةُ آلَافِ بَابٍ ، لَا يَسۡكُنُهُ أَوۡ لَا يَدۡخُلُهُ إِلَّا نَبِيٌّ ، أَوۡ صِدِّيۡقٌ ، أَوۡ شَهِيۡدٌ ، أَوۡ إِمَامٌ عَادِلٌ » . مصنف ابن ابي شيبة فِي الۡإِمَامِ الۡعَادِلِ رقم الحديث ۲۱۹۱۹ ، تفسير البغوي ج ۲ ص ۳۶۹ سورة التوبة في تفسير آية ۷۲ . التفسير المظهري ج ۴ ص ۲۶۵ .

(۲) پوره مضمون داسې دی : ﴿ إِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ أُولٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ الۡبَرِيَّةِ ۞ جَزَآؤُهُمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ جَنّٰتُ عَدۡنٍ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَآ اَبَدًا ؕ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُوۡا عَنۡهُ ؕ ذٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهٗ ﴾ . البينة آية ۷ ، ۸ .

Scanned with CamScanner

نو پخپله يې اوفرمايل :

قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ لَهُ خَمْسَةُ آلَافِ بَابٍ ، عَلَى كُلِّ بَابٍ خَمْسَةٌ وَعِشْرُوْنَ أَلْفًا مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ . لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا نَبِيٌّ .

دا په جنت کې يو محل دی چې د هغې پنځه زره (۵۰۰۰) دروازې دي ، او په هره دروازه کې پنځه ويشت زره (۲۵۰۰۰) حورِ عِين دي ، ديته به صرف نبي داخليږي .

بيا حضرت عُمر ﷜ د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم قبر مبارک طرف ته اشاره اوکړه او وې فرمايل : هَنِيْئًا لِصَاحِبِ الْقَبْرِ .

ددې قبر واله (يعنی نبي عليه السلام) د پاره دې مبارک وي .

وَصِدِّيْقٌ . دې محل ته به (بل کس) صدّيق داخليږي .

د حضرت ابوبکر صديق ﷜ د پاره دې مبارک وي .

وَشَهِيْدٌ . او دې محل ته به (دريم کس) شهيد داخليږي .

بيا حضرت عُمر ﷜ اوفرمايل : وَأَنَّى لِعُمَرَ شَهَادَةٌ ؟

مګر عُمر (﷜) ته به شهادت څنګه ملاؤ شي ؟

بيا يې اوفرمايل : قسَم په هغه ذات چې هغه زه د کُفر بَدحالی نه راويستې يم هغه په دې باندې قادِر دی چې ما ته د شهادت دا مرتبه راکړي .(۱)

(او يقيني چې بيا الله تعالى حضرت عُمر ﷜ ته د شهادت مرتبه ورکړه) .

---

(۱) عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ﷜ ، قَرَأَ عَلَى الْمِنْبَرِ {جَنَّاتُ عَدْنٍ} [البينة: ۸] فَقَالَ: وَهَلْ تَدْرُوْنَ مَا جَنَّاتُ عَدْنٍ ؟ قَالَ : قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ لَهُ خَمْسَةُ آلَافِ بَابٍ ، عَلَى كُلِّ بَابٍ خَمْسَةٌ وَعِشْرُوْنَ أَلْفًا مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ، لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا نَبِيٌّ هَنِيْئًا لِصَاحِبِ الْقَبْرِ وَأَشَارَ إِلَى قَبْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَصِدِّيْقٌ هَنِيْئًا لِأَبِي بَكْرٍ . وَشَهِيْدٌ ، وَأَنَّى لِعُمَرَ شَهَادَةٌ ؟ ثُمَّ قَالَ : وَالَّذِي أَخْرَجَنِيْ مِنْ مَنْزِلِيْ إِنَّهُ لَقَادِرٌ عَلَى أَنْ يَسُوْقَهَا إِلَيَّ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجَنَّةِ مَا ذُكِرَ فِي الْجَنَّةِ وَمَا فِيهَا مِمَّا أُعِدَّ لِأَهْلِهَا رقم الحديث ۳۴۰۳۲ . كنزالعمال رقم الحديث ۳۹۷۷۰ . الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور ج ۴ ص ۲۳۸ .

Scanned with CamScanner

(( **نوټ** : پنځه زره (٥٠٠٠) ته چې په پنځه ویشت زره (٢٥٠٠٠) کې ضرب ورکړې شي نو دا دولس نیم کروړه (١٢٥٠٠٠٠٠٠) حُورې شوی )) .

٦. بلکه په ځنې کتابونو کې د کعب الاحبار نه نقل دي چې نبي، صدیق، شهید، عادِل بادشاه، او په اسلام باندې مضبوط پاتې کیدونکي کس د پاره به په جنت کې څلور آربه او نوي کروړه (٤٩٠٠٠٠٠٠٠) حُورې وي.

ځکه دوی ته چې د یاقوتو نه جوړ شوې کوم محل ورکولې شي نو په هغې کې به آویا زره (٧٠٠٠٠) کورونه وي، او په هر کور کې به آویا زره (٧٠٠٠٠) حُورې وي، چې ددینه مجموعه څلور آربه او نوي کروړه (٤٩٠٠٠٠٠٠٠) حُورې جوړیږي. (١)

( په ځنې نورو آحادیثو کې د جنتي د پاره د حُورو او کورونو مختلف تعداد راغلې دی ). (٢)

---

(١) قَالَ كَعْبٌ : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ يَاقُوتَةً لَيْسَ فِيهَا صَدْعٌ وَلَا وَصْلٌ ، فِيهَا سَبْعُونَ أَلْفَ دَارٍ ، فِي كُلِّ دَارٍ سَبْعُونَ أَلْفًا مِنَ الْحُورِ الْعِينِ ، لَا يَدْخُلُهَا إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ أَوْ إِمَامٌ عَادِلٌ أَوْ مُحَكَّمٌ فِي نَفْسِهِ ، قَالَ: قُلْنَا: يَا كَعْبُ ! وَمَا الْمُحَكَّمُ فِي نَفْسِهِ ؟ قَالَ : الرَّجُلُ يَأْخُذُهُ الْعَدُوُّ فَيُحَكِّمُونَهُ بَيْنَ أَنْ يَكْفُرَ أَوْ يَلْزَمَ الْإِسْلَامَ فَيُقْتَلُ ، فَيَخْتَارُ أَنْ يَلْزَمَ الْإِسْلَامَ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجَنَّةِ مَا ذُكِرَ فِي الْجَنَّةِ وَمَا فِيهَا مِمَّا أُعِدَّ لِأَهْلِهَا رقم الحديث ٣٤٠٣٢ .

(( **نوټ** آویا زره (٧٠٠٠٠) ته چې په آویا زره (٧٠٠٠٠) کې ضرب ورکړې شي نو ددینه مجموعه څلور آربه او نوي کروړه (٤٩٠٠٠٠٠٠٠) حُورې جوړیږي )) .

(٢) وفي رواية : عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: «لَقِيتُ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ وَأَبَا هُرَيْرَةَ ﷺ فَسَأَلْتُهُمَا عَنْ تَفْسِيرِ هَذِهِ الْآيَةِ {وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ} [ التوبة: ٧٢] قَالَا: عَلَى الْخَبِيرِ سَقَطْتَ، سَأَلْنَا عَنْهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : " قَصْرٌ مِنْ دُرَّةٍ ، فِي ذَلِكَ الْقَصْرِ سَبْعُونَ أَلْفَ دَارٍ مِنْ زُمُرُّدَةٍ خَضْرَاءَ، فِي كُلِّ بَيْتٍ مِنْهَا سَبْعُونَ سَرِيرًا، عَلَى كُلِّ سَرِيرٍ سَبْعُونَ فِرَاشًا مِنْ كُلِّ لَوْنٍ، عَلَى كُلِّ فِرَاشٍ امْرَأَةٌ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، فِي كُلِّ بَيْتٍ مَائِدَةٌ عَلَى كُلِّ مَائِدَةٍ سَبْعُونَ لَوْنًا ، فِي كُلِّ بَيْتٍ سَبْعُونَ وَصِيفًا أَوْ وَصِيفَةً ، يُعْطَى مِنَ الْقُوَّةِ مَا يَأْتِي عَلَى ذَلِكَ كُلِّهِ فِي غَدَاةٍ وَاحِدَةٍ». مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ التَّفْسِيرِ سُورَةُ بَرَاءَةٌ ( سورة التوبة ) رقم الحديث ١١٠٣٥ . وقال الهيثمي: رَوَاهُ الْبَزَّارُ وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَفِيهِ جِسْرُ بْنُ فَرْقَدٍ وَهُوَ ضَعِيفٌ، وَقَدْ وَثَّقَهُ سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، وَبَقِيَّةُ رِجَالِ الطَّبَرَانِيِّ ثِقَاتٌ. ←←←←←

# هر جنّتي ته به د سلو (١٠٠) کسانو قوّت ورکولې شي

١. په جنت کې به هر جنّتي ته د سلو (١٠٠) کسانو د کوروالي (جِماع) قوّت ورکولې شي.(١)

٢. په یو حدیث کې خو تر دې پورې راغلي دي چې هر جنّتي ته به په خوراک، څکاک، کوروالي، او شهوت کې د سلو (١٠٠) کسانو قوّت ورکولې شي.(٢)

---

←←← وفي رواية: عَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ قَالَ: « إِنَّ لِلَّهِ لَدَارًا دُرَّةٌ فَوْقَ دُرَّةٍ، أَوْ لُؤْلُؤَةٌ فَوْقَ لُؤْلُؤَةٍ، فِيهَا سَبْعُونَ أَلْفَ قَصْرٍ، فِي كُلِّ قَصْرٍ سَبْعُونَ أَلْفَ دَارٍ، فِي كُلِّ دَارٍ سَبْعُونَ أَلْفَ بَيْتٍ، لَا يَسْكُنُهَا إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ أَوْ إِمَامٌ عَادِلٌ أَوْ مُحَكَّمٌ فِي نَفْسِهِ ». حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٥ ص ٣٧٩ .شعب الايمان رقم الحديث ٦٧٠٥.

تنبیه الغافلین ج ١ ص ٣٩٢ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم ١٦٣ .

(١) د ترمذي شریف او مشکوة شریف حدیث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

« يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ »، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَوَ يُطِيقُ ذَلِكَ؟ قَالَ: « يُعْطَى قُوَّةَ مِائَةٍ »

مؤمن ته به په جنت کې د کوروالي (جِماع) دومره دومره قوّت ورکولې شي. د نبي علیه السلام نه پوښتنه اوشوه: اې د الله رسوله! آیا جنّتي ته به د دومره (زیات) کوروالي طاقت لري؟ نبي علیه السلام ورته اوفرمایل: یو جنّتي ته به د سلو(١٠٠) کسانو قوّت ورکولې شي.

سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٣٦ قال الالباني: حسنٌ صحيح.

مشكاة المصابيح كِتَابُ أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٣٦(٢٥).

المعجم الاوسط رقم الحديث ٢٥١٧، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٦٣ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٣٦١.

مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٢١٢٣.

(٢) یو یهودي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی، او وې ویل: آیا ستاسو دا ګمان دی چې جنّتیان به خوراک او څکاک هم کوي؟ نبي علیه السلام ورته اوفرمایل: آو، زما دې قسَم وي په هغه ذات باندې چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده یقیناً هر جنّتي ته به په خوراک، څکاک، جِماع او خواهشاتو کې د سلو (١٠٠) کسانو قوّت ورکولې شي...

پوره حدیث داسې دی: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَتَزْعُمُ أَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ وَيَشْرَبُونَ؟ قَالَ: « إِيْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ الرَّجُلَ مِنْهُمْ لَيُعْطَى قُوَّةَ مِائَةِ رَجُلٍ فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْجِمَاعِ وَالشَّهْوَةِ ». فَقَالَ الرَّجُلُ: فَإِنَّ الَّذِي يَأْكُلُ وَيَشْرَبُ تَكُونُ ←←←

Scanned with CamScanner

۳. بلکه جنتي به صرف د سهر په خت د سلو (۱۰۰) باکرو پیغلو سره د نزدې کید و قوّت لري.(۱)

۴. د جنت بیبیانې به همیشه باکرې وي، (یعنی د هر ځل نه پس به واپس باکره کیږي).(۲)

←←← لَهُ الْحَاجَةُ، وَلَيْسَ فِي الْجَنَّةِ أَذًى ؟ فَقَالَ لَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « حَاجَةُ أَحَدِهِمْ رَشْحٌ يَفِيضُ مِنْ جِلْدِهِ، فَإِذَا بَطْنُهُ قَدْ ضَمُرَ » .السنن الكبرى للنسائي سُورَةُ الزُّخْرُفِ قَوْلُهُ تَعَالَى: {وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ} [الزخرف: ٧١] رقم الحديث ١١٤١٤ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٣٩٩٤ . سنن الدارمي رقم الحديث ٢٨٦٧ ، اسناده صحيح . مسند البزار رقم الحديث ٤٣٠١ . المعجم الاوسط رقم الحديث ١٧٢٢ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٥٠٠٥ ، و رقم الحديث ٥٠٠٩ . حلية الاولياء ج ٧ ص ٣٦٦ . مجمع الزوائد باب في اكل اهل الجنة رقم الحديث ١٨٧٤٣ .

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَنُفْضِي إِلَى نِسَائِنَا فِي الْجَنَّةِ؟ قَالَ: « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ الرَّجُلَ مِنْهُمْ لَيُفْضِي فِي الْغَدَاةِ الْوَاحِدَةِ إِلَى مِائَةِ عَذْرَاءَ » . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٦١ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٧١٨ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٦٥ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٣٦٠ . الدر المنثور فی التفسير بالمأثور ج ١ ص ١٠٠ .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قِيلَ لَهُ: أَنَطَأُ فِي الْجَنَّةِ؟ قَالَ: نَعَمْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ دَحْمًا دَحْمًا فَإِذَا قَامَ عَنْهَا رَجَعَتْ مُطَهَّرَةً بِكْرًا .

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوشوه: آیا مونږ به په جنت کې کوروالې کوو؟ نبي علیه السلام ورته اوفرمایل: آو، قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده چې جنّتیان به بار بار په ډیر قوّت سره کوروالې کوي، چې کله جنتي ورنه راپاڅي نو بي بي به یې واپس باکره شي.

صحيح ابن حبان محققا بَابُ وَصْفِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ذِكْرُ الْإِخْبَارِ بِأَنَّ الْمَرْءَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِذَا وَطِىءَ جَارِيَتَهُ فِيهَا عَادَتْ بِكْرًا كَمَا كَانَتْ رقم الحديث ٧٤٠٢ . إسناده حسن. رجاله ثقات رجال مسلم. تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٥٣٣ . الدر المنثور فی التفسير بالمأثور ج ١ ص ١٠١ ، و ج ٧ ص ٦٥ . العمل الصالح رقم الحديث ١٩٥٩ .

(دَحْمًا دَحْمًا) قَالَ ابْنُ الْأَثِيرِ: هُوَ النِّكَاحُ وَالْوَطْءُ بِدَفْعٍ وَإِزْعَاجٍ. وَانْتِصَابُهُ بِفِعْلٍ مُضْمَرٍ أَيْ يَدْحَمُونَ دَحْمًا يُجَامِعُونَ، وَالتَّكْرِيرُ لِلتَّأْكِيدِ، هُوَ بِمَنْزِلَةِ قَوْلِهِمْ: لَقِيتُهُمْ رَجُلًا رَجُلًا، أَيْ دَحْمًا بَعْدَ دَحْمٍ. لسان العرب ج ١٢ ص ١٩٦ فصل الدال المهملة

Scanned with CamScanner

۵. او جنتي به په کوروالي نه ستړي کیږي، او نه به يې شهوت ختمیږي. (۱)

۶. الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ٱلْيَوْمَ فِى شُغُلٍ فَٰكِهُونَ﴾. (۲)

ترجمه: بیشکه جنتیان به نن ورځ په مَشغلو کې خوشحاله وي.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه ددې مذکوره آیت

---

(۱) دا مضمون په احادیثو کې هم ذکر دی، دوه احادیث درته رانقل کوم: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَمَسُّ أَهْلُ الْجَنَّةِ نِسَاءَهُمْ؟ قَالَ: « نَعَمْ، بِذَكَرٍ لَا يَمَلُّ وَفَرْجٍ لَا يَحْفَى، وَشَهْوَةٍ لَا تَنْقَطِعُ ». د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوشوه: آیا جنتیان به د خپلو بیبیانو سره کوروالي کوي؟ نبي علیه السلام ورته اوفرمایل: آو، په داسې ذکر سره چې نه به ستړې کیږي، او داسې فَرج سره چې نه به سُولیږي (او نه به چیپَړ کیږي)، او په داسې شهوت سره چې نه به ختمیږي.

صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۲۵۹ . مسند البزار رقم الحديث ۹۴۱۶ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۶۷۴، و رقم الحديث ۷۷۲۱ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۳۶۶، بستان الواعظين لابن الجوزي ج ۱ ص ۱۳۴ رقم الحديث ۲۳۱ . مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۸۴۷ بابٌ في اكل اهل الجنة وشربهم و شهواتهم رقم الحديث ۱۸۷۵۰ . كنزالعمال رقم الحديث ۳۹۷۷۹ . الدرالمنثور ج ۱ ص ۱۰۰ .

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: هَلْ يُجَامِعُ أَهْلُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: « نَعَمْ، دِحَامًا دِحَامًا وَلَكِنْ لَا مَنِيَّ وَلَا مَنِيَّةَ ».

د حضرت ابوامامة رضي الله عنه نه روایت دی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوشوه: آیا جنتیان به جماع کوي؟ نبي علیه السلام ورته اوفرمایل: آو، بار بار په پوره قوّت سره به يې کوي، خو مَني به نه وي (یعنی اِنزال به نه کیږي)، او مرگ به هم نه وي.

صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۲۶۰، و رقم الحديث ۳۶۷ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۴۷۹ . والنشور للبيهقي رقم الحديث ۳۶۷ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۷۱۴ . تفسير ابن كثير ج ۳ ص ۲۵۷ و ج ۸ ص ۲۱ . مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۸۴۷ بابٌ في اكل اهل الجنة وشربهم و شهواتهم رقم الحديث ۱۸۷۴۸ . الزواجر ج ۲ ص ۴۳۳ . كنزالعمال رقم الحديث ۳۹۳۵۸، و رقم الحديث ۳۹۷۷۷ . الدرالمنثور في التفسير بالمأثور ج ۱ ص ۱۰۰ .

(۲) يس آية ۵۵ .

Scanned with CamScanner

په تفسير کې نقل دي : چې جنّتيان به په دغه ورځ د باکرو سره په کوروالي کې مشغول وي.(١)

## په جنت کې به د بچو پيدا کيدو اِشتهاء نه پيدا کيږي ، خو که پيدا شي نو سمدست به په لږ ساعت کې هر څه اوشي

جنتي ته به په جنت کې د خپلې بي بي او حورو نه د بچو پيدا کيدو اِشتهاء نه پيدا کيږي ، خو که چيرته بِالفَرض دا اِشتهاء يې پيدا شي نو دا هر څه به په لږ ساعت کې اوشي .

( يعنی د بي بي ماشوم په خېټه کيدل ، بيا پيدا کيدل ، او بيا ځوانيدل دا ټول به په لږ ساعت کې پوره شي ) . ددې په باره کې درته يو څو احاديث ذکر کوم :

**١ . د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :**

اَلْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ حَمْلُهُ وَوَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي .(٢)

که چيرته ( بِالفَرض ) مؤمِن ته په جنت کې د بچي خواهش پيدا شي نو ( دده دا خواهش به داسې پوره کولې شي چې ) ددې ماشوم په خېټه کيدل ، زېږيدل ، او د ځوانۍ عُمر ( درې

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ فِيْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: { إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فَاكِهُوْنَ } [يس: ٥٥] قَالَ: فِيْ افْتِضَاضِ الْعَذَارَى. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٦٤ . تفسير الطبري ج ١٩ ص ٤٦٠ . تفسير القرطبي ج ١٥ ص ٤٣ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٧ ص ٦٤ .

وفي رواية : عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فِيْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: { فِيْ شُغُلٍ فَاكِهُوْنَ } قَالَ فِي افْتِضَاضِ الْعَذَارَى. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ . تفسير الطبري ج ١٩ ص ٤٦٠ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٧ ص ٦٤ . الصحيح المسند من آثار الصحابة فى الزهد والرقائق والاخلاق والآداب ج ٢ ص ١٤ رقم الحديث ٧٧ .

(٢) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ مَا لِأَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْكَرَامَةِ رقم الحديث ٢٥٦٣ قال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ . وقال الالباني: صحيح. سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٣٣٨ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٠٦٣ ، و رقم الحديث ١١٧٦٤ . صحيح ابن حبان بَابُ وَصْفِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ذِكْرُ الْإِخْبَارِ بِأَنَّ الْمَرْءَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ كَانَ لَهُ ذَلِكَ لِأَنَّ فِيهَا مَا تَشْتَهِي الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ رقم الحديث ٧٤٠٤ . مشكاة المصابيح رقم الحديث كتابُ أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثاني ٥٦٤٨(٣٨) . التفسير المظهري ج ٢ ص ٢١ .

Scanned with CamScanner

ديرش ٣٣ كالو ) ته رسيدل به په لږ ساعت كې وي ، او دا به داسې پېچې وي چې څنګه دده خواهش وي .

**فائده :** په دې حديث كې لفظ د " إِذَا " د تعليق د پاره راغلى نو ددې مطلب دادى چې كه : چيرته دا يې خواهش اوكړي . حالانكه جنتي به په جنت كې د بچو پيدا كيدو خواهش نه كوي . لكه د ترمذي شريف د مذكوره حديث نه پس صراحةً په بل حديث كې ذكر دي : (هغه حديث دادى : )

٢ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ فِي سَاعَةٍ وَاحِدَةٍ كَمَا يَشْتَهِي ، وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي . (١)

كله چې مؤمن په جنت كې د بچي خواهش اوكړي نو دده د خواهش موافق به دا ټول په لږ ساعت كې اوشي ، خو جنتي به د بچي خواهش نه كوي .

٣ . په يو بل حديث كې صراحةً ذكر دي ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا يَكُونُ لَهُمْ فِيهَا وَلَدٌ . بيشكه جنتيانو د پاره به په جنت كې بچي نه وي .

امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ ددې په باره كې تحقيق هم رانقل كړي . (٢)

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ مَا لِأَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْكَرَامَةِ رقم الحديث ٢٥٦٣ قال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ . وقال الالباني : صحيحٌ . مشكاة المصابيح رقم الحديث كتابُ أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثاني ٥٦٤٨(٣٨) . التفسير المظهري ج ٢ ص ٢١ .

(٢) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « اَلْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ حَمْلُهُ وَ وَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي » : " هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ . وَقَدْ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ : فِي الْجَنَّةِ جِمَاعٌ وَلَا يَكُونُ وَلَدٌ . هَكَذَا رُوِيَ عَنْ طَاوُسٍ ، وَمُجَاهِدٍ ، وَ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ " وَقَالَ مُحَمَّدٌ . قَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ . فِي حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ فِي سَاعَةٍ وَاحِدَةٍ كَمَا يَشْتَهِي وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي » قَالَ مُحَمَّدٌ : وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا يَكُونُ لَهُمْ فِيهَا وَلَدٌ » . " سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ مَا لِأَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْكَرَامَةِ رقم الحديث ٢٥٦٣ قال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ . وقال الالباني : صحيحٌ .

Scanned with CamScanner

همدارنګې ملاعلي قاري رحمه الله هم ددې متعلق تحقيق رانقل کړی. (١)

همدارنګې علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللَّهُ هم په خپل کتاب " حادي الأرواح إلى بلاد الأفراح " کې ددې مسئلې پوره تحقيق رانقل کړی ، او ترجيح يې ديته ورکړی چې په جنت کې به د جنتي د بچو خواهش نه کيږي.

٤. د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه يو صحابي پوښتنه اوکړه : چې آيا په جنت کې به زمونږ د پاره بيبياني وي ؟ نو نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

اَلصَّالِحَاتُ لِلصَّالِحِيْنَ، تَلَذُّوْنَهُنَّ مِثْلَ لَذَّاتِكُمْ فِي الدُّنْيَا، وَيَلَذُّنَ بِكُمْ غَيْرَ أَنْ لَّا تَوَالُدَ.

نېکانې ښځې به د نېکانو سړو د پاره وي ، تاسو به د دوی نه داسې لذّت حاصلوی لکه څرنګې چې په دُنيا کې ورنه لذت حاصلوی ، او دوی به هم د تاسو نه لذّت حاصلوي ، خو صرف دومره ده چې ( هلته په جنت کې ) بچي پيدا کيدل به نه وي. (٢)

فائده : ددې حديث نه معلومه شوه چې په جنت کې به د بچو پيدا کيدو سلسله نه وي ، او جنتيان به ددې خواهش نه کوي.

---

(١) ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ ددې مذکوره حديث تحقيق داسې رانقل کړی :

« اَلْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ » أَيْ: فَرْضًا وَتَقْدِيْرًا (كَانَ حَمْلُهُ) أَيْ : حَمْلُ الْوَلَدِ ( وَ وَضْعُهُ وَسِنُّهُ ) أَيْ: كَمَالُ سِنِّهِ وَهُوَ الثَّلَاثُوْنَ سَنَةً ( فِيْ سَاعَةٍ ) ؛ لِأَنَّ الْإِنْتِظَارَ أَشَدُّ مِنَ الْمَوْتِ ، وَلَا مَوْتَ فِي الْجَنَّةِ وَلَا حَزَنَ ( كَمَا يُشْتَهَى ) : مِنْ أَنْ يَكُوْنَ ذَكَرًا أَوْ أُنْثَى وَنَحْوَ ذَلِكَ. (وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ رَحِمَهُ اللَّهُ فِي هَذَا الْحَدِيْثِ) أَيْ: ذُكِرَ فِي بَيَانِ هَذَا الْحَدِيْثِ (إِذَا اشْتَهَى) أَوْ فِي هَذَا الْحَدِيْثِ دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّهُ إِذَا اشْتَهَى (الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ الْوَلَدَ كَانَ فِي سَاعَةٍ) أَيْ حَصَلَ الْوَلَدُ فِيْ سَاعَةٍ (لَكِنْ لَا يُشْتَهَى) فَقَوْلُهُ : "وَلَكِنْ " هُوَ الْمَقُوْلُ حَقِيْقَةً . مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٥٩٧ بَابُ صفة الجنة وأهلها.

(٢) ..... قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَوَلَنَا فِيْهَا أَزْوَاجٌ . أَوْ مِنْهُنَّ مُصْلِحَاتٌ ؟ قَالَ : « اَلصَّالِحَاتُ لِلصَّالِحِيْنَ..... مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٦٢٠٦ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٤٧٧ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٦٨٣ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيْثٌ جَامِعٌ فِي الْبَابِ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ، كُلُّهُمْ مَدَنِيُّوْنَ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ . مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٣٥١ بَابٌ جَامِعٌ فِي البعث.

Scanned with CamScanner

بل دا چې د جنت د بيبيانو په باره کې الله تعالى فرمائلي چې دا به پاکې وي. (١)

او په حديث کې راځي چې هلته به اِنزال او مَني نه وي. (٢)

او په جنت کې بچو ته ضرورت هم نه وي؛ ځکه په دُنيا کې خو د بچو سلسله ددې د پاره وي چې د انسانانو دا سلسله ختمه نشي، او په جنت کې خو مرګ نشته نو بچو ته به هم د چا خواهش نه پيدا کيږي.

علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللَّهُ د نورو ډيرو دلائلو په رڼا کې دا ثابته کړې "چې په جنت کې به د بچو پيدا کيدو سلسله نه وي، او جنتي به ددې خواهش نه کوي".

په آخر کې يې د دواړه قِسمه احاديثو په مينځ کې تطبيق هم کړی چې په کومو احاديثو کې راځي "چې په جنت کې به بچي پيدا کيدل نه وي" نو د هغې مطلب دادی چې د دُنيا په شان ډير وخت پس پيدا کيدل به نه وي.

او په کومو احاديثو کې چې راځي "چې په جنت کې به بچي پيدا کيدل وي" نو د هغې مطلب دادی چې که بِالفرض والمحَال جنتي ددې خواهش اوکړي نو سمدست به دا ټولې مرحلې په لږ وخت کې پوره شي. (٣)

---

(١) الله تعالى فرمايي: ﴿ لَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ﴾. النساء آية ٥٧.

ترجمه: د دوی د پاره به په دې جنت کې پاکې بيبيانې وي.

(٢) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: هَلْ يُجَامِعُ أَهْلُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: « نَعَمْ، دِحَامًا دِحَامًا وَلَكِنْ لَا مَنِيٌّ وَلَا مَنِيَّةٌ ». صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٦٠، و رقم الحديث ٣٦٧. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٤٧٩. والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٦٧.

(٣) علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللَّهُ دا مسئله په پوره اُوږد تفصيل او دلائلو سره ذکر کړې. او ددې د پاره يې مستقل باب قائم کړی: حادي الأرواح إلى بلاد الأفراح الباب السادس والخمسون: في ذكر اختلاف الناس هل في الجنة حمل وولادة أم لا؟ ص ٢٣٢.

Scanned with CamScanner

# په جنت کې به د خدمت د پاره د ملغلرو په شان ښائسته هلکان وي

په جنت کې به د جنتیانو د خدمت د پاره د ملغلرو په شان ښائسته خادِمان او هلکان وي چې تړول عُمر به ځوانان وي، بُوډا والې به ورباندې هیڅ کله نه راځي.

۱. الله تعالی فرمایي:

﴿ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴾.(۱)

ترجمه: او ګرځي به په دې جنتیانو باندې داسې هلکان چې همیشه به ځوانان وي، چې کله ته دوی ته اوګورې نو دا ګمان به ورباندې اوکړې چې ګني دوی خوَرې وَرې ملغلرې دي.

یعنی لکه څرنګې چې ملغلرې په فَرش باندې خوَرې وَرې پرَتې وي نو ډیرې ښائسته ښکارې نو همدغه شان چې کله دا هلکان د خدمت د پاره ګرځي راګرځي نو هم ډیر ښائسته به ښکاري. (۲)

۲. بل ځای الله تعالی فرمایي:

(۱) الدهر آية ۱۹.

(۲) ﴿ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴾ قَالَ عَطَاءٌ: يُرِيدُ فِي بَيَاضِ اللُّؤْلُؤِ وَحُسْنِهِ، وَاللُّؤْلُؤُ إِذَا نُثِرَ مِنَ الْخَيْطِ عَلَى الْبِسَاطِ كَانَ أَحْسَنَ مِنْهُ مَنْظُومًا. وَقَالَ أَهْلُ الْمَعَانِي: إِنَّمَا شُبِّهُوا بِالْمَنْثُورِ لِانْتِشَارِهِمْ فِي الْخِدْمَةِ، فَلَوْ كَانُوا صَفًّا لَشُبِّهُوا بِالْمَنْظُومِ. تفسير البغوي ج ۵ ص ۱۹۳ سورة الدهر آية ۱۹.

وَالصِّفَةُ الثَّالِثَةُ: قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴾ وَفِي كَيْفِيَّةِ التَّشْبِيهِ وُجُوهٌ أَحَدُهَا: شُبِّهُوا فِي حُسْنِهِمْ وَصَفَاءِ أَلْوَانِهِمْ وَانْتِشَارِهِمْ فِي مَجَالِسِهِمْ وَمَنَازِلِهِمْ عِنْدَ اشْتِغَالِهِمْ بِأَنْوَاعِ الْخِدْمَةِ بِاللُّؤْلُؤِ الْمَنْثُورِ، وَلَوْ كَانَ صَفًّا لَشُبِّهُوا بِاللُّؤْلُؤِ الْمَنْظُومِ، أَلَا تَرَى أَنَّهُ تَعَالَى قَالَ: ﴿ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ ﴾ فَإِذَا كَانُوا يَطُوفُونَ كَانُوا مُتَنَاثِرِينَ. وَثَانِيهَا: أَنَّهُمْ شُبِّهُوا بِاللُّؤْلُؤِ الرَّطْبِ إِذَا انْتَثَرَ مِنْ صَدَفِهِ لِأَنَّهُ أَحْسَنُ وَأَكْثَرُ مَاءً. وَثَالِثُهَا: قَالَ الْقَاضِي: هَذَا مِنَ التَّشْبِيهِ الْعَجِيبِ لِأَنَّ اللُّؤْلُؤَ إِذَا كَانَ مُتَفَرِّقًا يَكُونُ أَحْسَنَ فِي الْمَنْظَرِ لِوُقُوعِ شُعَاعِ بَعْضِهِ عَلَى الْبَعْضِ فَيَكُونُ مُخَالِفًا لِلْمُجْتَمِعِ مِنْهُ. التفسير الكبير ج ۳۰ ص ۷۵۳ سورة الدهر آية ۱۹.

Scanned with CamScanner

﴿ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴾.(۱)

ترجمه: او د دوی گېرچاپېره به د دوی د خدمت د پاره داسې هلکان گرځي گویا چې دوی (د ډېر ښائست په وجه) په پَرده (سیپۍ) کې پټې ساتلې شوې (قیمتي) ملغلرې دي.(۲)

۳. حضرت عبدالله بن عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي چې د هر جنتي د پاره به زر (۱۰۰۰) هلکان د خدمت د پاره وي، او هر هلک به د بل نه جدا خدمت کوي.(۳)

## دا هلکان به په جنتیانو باندې د صفا شرابو ډک گلاسونه گرځوي

الله تعالی فرمايي:

﴿ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ۝ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ۝ لَّا يُصَدَّعُونَ

(۱) الطور آية ۲۴.

(۲) وَقَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ ﴾ أَيْ فِي الصَّفَاءِ، وَ ﴿ مَّكْنُونٌ ﴾ لِيُفِيدَ زِيَادَةً فِي صَفَاءِ أَلْوَانِهِمْ أَوْ لِبَيَانِ أَنَّهُمْ كَالْمُخَدَّرَاتِ لَا بُرُوزَ لَهُمْ وَلَا خُرُوجَ مِنْ عِنْدِهِمْ فَهُمْ فِي أَكْنَافِهِمْ. التفسير الكبير ج ۲۸ ص ۲۱۱ سورة الطور آية ۲۴.

{ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ } بِالْخِدْمَةِ { غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ } فِي الْحُسْنِ وَالْبَيَاضِ وَالصَّفَاءِ، { لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ } مَخْزُونٌ مَصُونٌ لَمْ تَمَسَّهُ الْأَيْدِي. قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: يَعْنِي فِي الصَّدَفِ.

وَ رُوِيَ عَنِ الْحَسَنِ أَنَّهُ لَمَّا تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ قَالَ: قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ! اَلْخَادِمُ كَاللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ، فَكَيْفَ الْمَخْدُومُ؟ وَعَنْ قَتَادَةَ أَيْضًا قَالَ: ذُكِرَ لَنَا أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ! هَذَا الْخَادِمُ فَكَيْفَ الْمَخْدُومُ؟ قَالَ: "فَضْلُ الْمَخْدُومِ عَلَى الْخَادِمِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ". تفسير البغوي ج ۴ ص ۲۹۳ سورة الطور آية ۲۴. تفسير القرطبي ج ۱۷ ص ٦۹ سورة الطور آية ۲۴.

(۳) قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: وَمَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا يَسْعَى عَلَيْهِ أَلْفُ غُلَامٍ، وَكُلُّ غُلَامٍ عَلَى عَمَلٍ مَا عَلَيْهِ صَاحِبُهُ. تفسير البغوي ج ۴ ص ۲۹۳ سورة الطور آية ۲۴. تفسير القرطبي ج ۱۷ ص ٦۹ سورة الطور آية ۲۴.

Scanned with CamScanner

عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُونَ ﴾. (۱)

ترجمه: گرځوي به په دوی باندې داسې خادمان چې همیشه به ځوانان وي ګلاسونه، جګونه، او د صفا شرابو ډک جامونه، چې نه به د دې شرابو په وجه د سَردرد راځي او نه به دوی بې هوشه کیږي.

## د اَدنٰی جنتي د پاره به په زرهاؤ خادِمان وي.

۱. په یو حدیث کې د اَدنٰی درجې واله جنتي د پاره د زرو (۱۰۰۰) خادمانو ذکر راغلی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِنَّ أَسْفَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَجْمَعِيْنَ دَرَجَةً لَمَنْ يَقُوْمُ عَلَى رَأْسِهِ عَشَرَةُ آلَافِ خَادِمٍ، بِيَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ صَحْفَتَانِ، وَاحِدَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَالْأُخْرَى مِنْ فِضَّةٍ، فِيْ كُلِّ وَاحِدَةٍ لَوْنٌ لَيْسَ فِي الْأُخْرَى مِثْلُهُ، يَأْكُلُ مِنْ آخِرِهَا مِثْلَ مَا يَأْكُلُ مِنْ أَوَّلِهَا، يَجِدُ لِآخِرِهَا مِنَ الطِّيْبِ وَاللَّذَّةِ مِثْلَ الَّذِيْ يَجِدُ لِأَوَّلِهَا.... (۲)

په ټولو جنتیانو کې به د اَدنٰی درجې واله جنتي هغه کس وي چې لس زره (۱۰۰۰۰) خادمان به ده ته ولاړ وي، د هر خادِم په لاس کې به دوه رکیبۍ وي، یوه به د سروزرو وي او بله به د سپینو زرو وي، په هره رکیبۍ کې به داسې نِعمت وي چې هغه به په بله کې نه وي (یعنی جدا جدا خوراکونه به په کې وي)، جنتي به د آخري رکیبۍ نه داسې په شوق باندې خوراک کوي لکه څرنګې چې د اولې نه کوي، په آخِري خوراک کې به داسې خوشبو او خوَند مومي څنګه چې په اوِل کې مومي.

۲. بلکه په یو حدیث کې د اَدنٰی جنتي د پاره د آتیازره (۸۰۰۰۰) خادمانو ذکر راغلی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

---

(۱) الواقعة آية ۱۷ تا ۱۹.

(۲) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۷۶۷۴ بَابُ الْمِيمِ مَنِ اسْمُهُ: مُحَمَّدٌ. الترغيب والترهيب للمنذري فصل فِيْمَا لأدنى أهل الجنّة فِيهَا رقم الحديث ۵۶۴۰ وقال المنذري: رَوَاهُ ابْن أبي الدُّنْيَا وَالطَّبَرَانِيّ وَاللَّفْظ لَهُ وَرُوَاته ثِقَات. الدر المنثور فى التفسير بالمأثور ج ۷ ص ۳۹۰.

إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ ..... (١).
بيشكه د اَدنى مرتبې واله جنتي د پاره به اَتيازره (٨٠٠٠٠) خادمان وي.

**٣**. په يو روايت کې راځي چې ادنى جنتي کله په سفر باندې ځي نو لس لکه (١٠٠٠٠٠٠) خادِمان به ورسره وي. (٢)

**فايده**: نو چې کله د اَدنى جنتي د پاره د دومره ډيرو خادِمانو ذِکر راغلى نو د اَعلى جنتي د پاره خو به بې شماره خادِمان وي.

## هغه خاص اعمال چې د هغې په وجه انسان ته په جنت کې حُورې نصيبه کيږي

دا خو يقيني خبره ده چې انسان ته د نېکو اعمالو په وجه په جنت کې حُورې او بيبيانې نصيبه کيږي.

الله تعالى په قرآن کريم کې د نېکو اعمالو کوونکو د پاره د جنت د نورو نعمتونو سره سره د حُورو زېرې هم اَورولى، فرمايي: ﴿وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ﴾. (٣)

---

(١) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٧٢٣ مُسْنَدُ الْمُكْثِرِينَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ مَا لِأَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْكَرَامَةِ رقم الحديث ٢٥٦٢ . الزهد والرقائق لابن المبارك ج ٢ ص ١٢٧ ، صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٠٦ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٠١ . شرح السنّة للبغوي ج ١٥ ص ٢١٨ ، تفسير البغوي ج ٥ ص ١٢ رقم الحديث ٢١٠٨ . مشكاة المصابيح بَابُ صفة الجنة وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٤٨(٣٨) . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٣٩ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٣٢٧ .

(٢) واخرج ابن وهب عن الحسن البصري أنّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إنّ ادنى اهل الجنة منزلة الذي يركب فى الف الف من خدم من الولدان المخلدين على خيل من ياقوت احمر لها اجنحة من ذهب . التفسير المظهري ج ٢ ص ٢٠ سورة آل عمران في تفسير آية ١٥ .

(٣) پوره آيت داسې دى : ﴿وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقًا قَالُوا هَذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا وَلَهُمْ فِيهَا ←←←← ←←←

Scanned with CamScanner

ترجمه: او د دوی د پاره به په دې جنت کې پاکې بیبیانې وي .

بل ځای فرمایي:

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴾. (١)

ترجمه: او کومو خلقو چې ایمان راوړو او نېک اعمال یې اوکړل نو ډیر زر به مونږ دوی په داسې جنتونو کې داخل کړو چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهیږي، دوی به په دې کې همیشه اُوسیږي، د دوی د پاره به په دې جنت کې پاکې بیبیانې وي، او مونږ به دوی په ډیر ګڼ (د راحت واله) سیوري کې داخل کړو.

پس معلومه شوه چې په نېکو اعمالو سره انسان ته لکه څرنګې چې په جنت کې نور نِعمتونه نصیب کیږي نو همدغه شان ورته حُورې هم نصیب کیږي.

خو بیا هم په احادیثو کې خصوصي طریقې سره څه اعمال داسې ذکر شوی چې د هغې په کولو سره انسان ته په جنت کې حُورې ملاویږي. زه درته اِن شاء الله یو څو دغه اعمال ذکر کوم.

امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب " اَلتَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة " کې په دې باندې مستقل باب قائم کړی: بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ .

باب دی په بیان د دې کې چې نېک اعمال د حُورِ عِین مَهر دی.

هغه اعمال دا دي:

---

←←← أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾. البقرة آية ٢٥ .

ترجمه: او (اې پیغمبره!) ته زیرې ورکړه هغه خلقو ته چې هغوی اِیمان راوړی او نېک کارونه یې کړي چې بیشکه د دوی د پاره داسې جنتونه (باغونه) دي چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهیږي. هر کله چې جنتیانو ته ددې باغونو نه څه میوه د خوراک د پاره ورکړې شي نو دوی به وایي چې دا خو مونږ ته مخکې هم راکړې شوې وه، او دوی ته به د دُنیا میوو په شان میوې ورکړې شي (خو خوَند به یې ډیر مزیدار وي). او د دوی د پاره به په دې جنت کې پاکې بیبیانې وي، او دوی به په دې جنت کې همیشه وي.

(١) النساء آية ٥٧ .

# ۱. د قدرت باوجود غصه برداشت کولو سره د جنت حُورې نصيب کيدل

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ .(۱)

څوک چې غصه برداشت کړي حالانکه دا ددې په نافذ ( عملي ) کولو باندې قادِر وي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ ( دده د اعزاز د پاره ) ده لره د ټولو مخلوقاتو د وړاندې رااوغواړي تردې چې ده ته به اختيار ورکړي چې کومه حُوره ستا خوښه وي هغه واخله.

يعنی دا سړی به د غصې برداشت کولو په وجه جنت ته داخل کړي ، د جنت حُورې نِعمتونه او اُوچته درجه به ورکړي .(۲)

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابٌ فِي كَظْمِ الْغَيْظِ رقم الحديث ۲۰۲۱ . ورقم الحديث ۲۴۹۳ أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ . مشكاة المصابيح كتاب الآداب بَابُ الرِّفْقِ وَالْحَيَاءِ وَحُسْنِ الْخُلُقِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۰۸۸(۲۱) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۵۶۳۷ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۱۸۶ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۶۶۴۵ . شعب الايمان رقم الحديث ۷۹۵۰ . تفسير القرطبي ج ۴ ص ۲۰۸ .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د مذکوره حديث بهترينه تشريح نقل کړی : ( مَنْ كَظَمَ غَيْظًا ) أَيْ: اجْتَرَعَ غَضَبًا كَامِنًا فِيهِ ( وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يُنَفِّذَهُ ) : بِتَشْدِيدِ الْفَاءِ أَيْ: يُمْضِيَهُ . وَفِي رِوَايَةٍ عَلَى إِنْفَاذِهِ ، فَيَجُوزُ تَخْفِيفُ الْفَاءِ ، وَالْجُمْلَةُ حَالِيَّةٌ وَجَوَابُ الشَّرْطِ ( دَعَاهُ اللهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ) أَيْ: شَهَرَهُ بَيْنَ النَّاسِ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَتَبَاهَى بِهِ ، وَيُقَالُ فِي حَقِّهِ : هَذَا الَّذِي صَدَرَتْ مِنْهُ هَذِهِ الْخَصْلَةُ الْعَظِيمَةُ ( حَتَّى يُخَيِّرَهُ ) أَيْ: يَجْعَلَهُ مُخَيَّرًا ( فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ ) أَيْ: فِي أَخْذِ أَيِّهِنَّ شَاءَ ، وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنْ إِدْخَالِهِ الْجَنَّةَ الْمَنِيعَةَ وَإِيصَالِهِ الدَّرَجَةَ الرَّفِيعَةَ. وَفِي النِّهَايَةِ: كَظْمُ الْغَيْظِ تَجَرُّعُهُ وَاحْتِمَالُ سَبَبِهِ وَالصَّبْرُ عَلَيْهِ. قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : وَإِنَّمَا حُمِدَ الْكَظْمُ لِأَنَّهُ قَهْرٌ لِلنَّفْسِ الْأَمَّارَةِ بِالسُّوءِ ، وَلِذَلِكَ مَدَحَهُمُ اللهُ تَعَالَى بِقَوْلِهِ: {وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ} [ آل عمران: ۱۳۴] ، وَمَنْ نَهَى النَّفْسَ عَنْ هَوَاهُ ، فَإِنَّ الْجَنَّةَ مَأْوَاهُ ، وَالْحُورَ الْعِينَ جَزَاهُ . قُلْتُ: وَهَذَا الثَّنَاءُ الْجَمِيلُ وَالْجَزَاءُ الْجَزِيلُ إِذَا تَرَتَّبَ عَلَى مُجَرَّدِ كَظْمِ الْغَيْظِ فَكَيْفَ إِذَا انْضَمَّ الْعَفْوُ إِلَيْهِ أَوْ زَادَ بِالْإِحْسَانِ عَلَيْهِ. مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۱۸۱ بَابُ الرِّفْقِ وَالْحَيَاءِ وَحُسْنِ الْخُلُقِ .

Scanned with CamScanner

## ۲ . اَمانت اداء كولو ، قاتل معاف كولو ، او د هر مانځه نه پس سورة الاخلاص ويلو سره حورِ عين نصيب كيدل

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : مَنْ كَانَ فِيْهِ وَاحِدَةٌ مِنْ ثَلَاثٍ زَوَّجَهُ اللهُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ : مَنْ كَانَتْ عِنْدَهُ يَعْنِيْ أَمَانَةٌ خَفِيَّةٌ شَهِيَّةٌ فَأَدَّاهَا مِنْ مَخَافَةِ اللهِ ، أَوْ رَجُلٌ عَفَا عَنْ قَاتِلِهِ. أَوْ رَجُلٌ قَرَأَ "قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ. (١)

په چا كې چې په درې ( ۳ ) كارونو كې يو كار وي نو الله تعالى به د حورِ عين سره ددهٔ وادهٔ اوكړي، ( هغه درې كارونه دادي ، اول : ) د چا سره چې د بل چا پټ خوَندهوَر اَمانت وي او دا كس هغه ته د الله ﷻ د يَرې نه دا اَمانت وركړي . ( دويم : ) هغه كس چې هغه قاتل ته معافي اوكړي ( يعنى قصاص معاف كړي ) . ( دريم : ) هغه كس چې هغه د هر مانځه نه پس "قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ...." وايي .

## ۳ . جُمات صفا كولو سره حُورِ عين نصيب كيدل

ځوک چې جُماتونه صفا كوي نو په دې سره هم ده ته د جنت حُورِ عين نصيب كيږي .
امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ دا حديث رانقل كړى ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

كَنْسُ الْمَسَاجِدِ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ . (٢)

د جُماتونو صفا كول د حُورِ عين مَهر دى .

---

(١) المعجم الكبير للطبراني ج ٢٣ ص ٣٩٥ رقم الحديث ٩٤٥ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ . الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ٢٢٥ باب في الترغيب في اداء الأمانة . مجمع الزوائد كِتَابُ الدِّيَاتِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَفْوِ عَنِ الْجَانِي وَالْقَاتِلِ رقم الحديث ١٠٧٩٦ وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ، وَفِيهِ جَمَاعَةٌ لَمْ أَعْرِفْهُمْ. و رقم الحديث ١٣٧٠٠ كِتَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَالْعَفْوِ عَمَّنْ ظَلَمَ .

(٢) تفسير القرطبي ج ١٦ ص ١٥٣ سورة الدخان في تفسير آية ٥٤ . التَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة للقرطبي بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ٩٨٨.

Scanned with CamScanner

## ۴ . د لارې نه د تکلیف واله څیز لرې کول ، او د جُمات نه ګندګي ويستل

څوک چې د لارې نه داسې څيز لرې کړي چې هغه خلقو ته ضَرَر رسوي ، يا د جُمات نه ګندګي اُوباسي نو په دې سره هم دا سړی د جنت د حُورو مستحق ګرځي .

حضرت علي ﷛ فرمايي چې ماته رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل :

يَا عَلِيُّ ! أَعْطِ حُوْرَ الْعِيْنِ مُهُوْرَهُنَّ .

اې علي ! ته د حورِ عِين مَهر اداء کړه .

ما ورته عرض اوکړو : اې د الله رسوله ! د حورِ عِين مَهر څه شی دی ؟

نو نبي عليه السلام ( راته ) اوفرمايل :

إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيْقِ ، وَإِخْرَاجُ الْقُمَامَةِ مِنَ الْمَسْجِدِ ، فَذَلِكَ مُهُوْرُهُنَّ يَا عَلِيُّ .

اې علي ! د لارې نه تکليف واله څيز لرې کول ، او د جُمات نه ګندګي ويستل ؛ څکه دا د حورِ عين مَهر دی . (١)

په يو بل حديث کې راځي . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِخْرَاجُ الْقُمَامَةِ مِنَ الْمَسْجِدِ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ . (٢)

د جُمات نه ګندګي ويستل د حورِ عِين مَهر دی .

## ۵ . په صدقې کولو سره د حورِ عِين مستحق کيدل

څوک چې د الله تعالی د رَضا د پاره صدقه ورکوي نو په دې سره هم ده ته د جنت حُورې

(١) عَنْ عَلِيٍّ ﷛ ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَا عَلِيُّ ! أَعْطِ حُوْرَ الْعَيْنِ مُهُوْرَهُنَّ » ، قُلْتُ : وَمَا مُهُوْرُهُنَّ ؟ قَالَ : « إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيْقِ ، وَإِخْرَاجُ الْقُمَامَةِ مِنَ الْمَسْجِدِ فَذَلِكَ مُهُوْرُهُنَّ يَا عَلِيُّ ». الترغيب في فضائل الأعمال وثواب ذلك لابن شاهين بَابُ فَضْلِ عَزْلِ الْأَذَى مِنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ رقم الحديث ٥٥٣ . كنز العمال كتاب المواعظ والرقائق والخطب والحكم فصل في الموعظة المخصوصة بالترغيبات الثنائي رقم الحديث ٤٤٢٦٨ . جامع الاحاديث رقم الحديث ٣٣٩٨٦ مسند علي بن ابي طالب رضي الله عنه . و رواه ابن النجار ، والديلمي .

(٢) تفسير القرطبي ج ١٦ ص ١٥٣ سورة الدخان في تفسير آية ٥٤ . اَلتَّذْكِرَةُ بأحوال الموتى وأمور الآخرة للقرطبي بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ٩٨٩.

Scanned with CamScanner

نصیب کیږي.

١. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

مُهُوْرُ الحُوْرِ العِيْنِ قَبَضَاتُ التَّمْرِ، وَفِلَقُ الخُبْزِ. (١)

د حورِ عِین مَهر دادی چې انسان یو مُوټې قجورې او د روټۍ څه ټکړې (حصې) صدقه کړي.

٢. حضرت ابو هریرة رضي الله عنه فرمایي:

يَتَزَوَّجُ أَحَدُكُمْ فُلَانَةَ بِنْتَ فُلَانٍ بِالْمَالِ الكَثِيْرِ وَيَدَعُ الحُوْرَ العِيْنَ بِاللُّقْمَةِ وَالتَّمْرَةِ وَالكِسْوَةِ. (٢)

په تاسو کې یو کس د فلاني د لور سره په (مَهر کې) ډیر مال ورکولو سره نکاح کوي خو لیکن حورِ عِین د یوه نوړۍ، یوې قجورې، او څه کپړو (په نه صدقه کولو سره) پریږدي.

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه مقصد دادی چې خلق د دُنیا د ښځو سره نکاح کولو د پاره په مهر کې ډیر مال ورکولو ته تیار دي خو لیکن معمولي صدقه نه ورکوي چې حورِ عِین ورته ملاؤ شي.

## ٦. په صحیح طریقې سره د رمضان روژې نیولو سره د حورو مستحق کیدل

څوک چې په صحیح طریقې سره د رمضانُ المبارک روژې اُونیسي نو په دې سره هم دا د جنت د حُورو مستحق گرځي؛ ځکه د رمضان په میاشت کې حُورې پخپله د الله جل جلاله نه دُعا غواړي چې د روژه دارو سره زمونږ نکاح اوکړه. همدارنګې حُورې روژه دارو ته هم خِطاب

(١) تفسیر القرطبي ج ١٦ ص ١٥٣ سورة الدخان في تفسیر آية ٥٣. التَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة للقرطبي بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الحُوْرِ العِيْنِ ص ٩٨٩.

(٢) التَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة للقرطبي بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الحُوْرِ العِيْنِ ص ٩٨٩.

Scanned with CamScanner

کوي چې د روژې په نيولو سره زمونږ د حاصلولو کوشش اوکړئ. (١)

په احاديثو کې هم همدغه شان مضمون شته. (٢)

## ٧. د شهادت په وجه حُورِ عِين نصيب کيدل

په ترمذي شريف او مشکوة شريف کې حديث ذکر دی، په هغې کې د شهيد شپږ (٦) خصلتونه او اِمتيازي اِنعامات ذکر شوي، په هغې کې يو دا هم دی:

وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ. (٣)

---

(١) شهر رمضان فيه يزوج الصائمون في الحديث: "إن الجنة لتزخرف وتنجد من الحول إلى الحول لدخول رمضان فتقول الحور: يا رب اجعل لنا في هذا الشهر من عبادك أزواجا تقر أعيننا بهم وتقر أعينهم بنا" وفي حديث آخر " أَنَّ الْحُوْرَ يُنَادِيْنَ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ: هَلْ مِنْ خَاطِبٍ إِلَى اللهِ فَنُزَوِّجَهُ". مهور الحور العين: طول التهجد وهو حاصل في رمضان أكثر من غيره. لطائف المعارف لابن رجب ج ١ ص ١٥٩ وظائف شهر رمضان المعظم المجلس الأول: في فضل الصيام

(٢) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "إِنَّ الْجَنَّةَ لَتُنَجَّدُ وَتُزَيَّنُ مِنَ الْحَوْلِ إِلَى الْحَوْلِ لِدُخُوْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ. فَإِذَا كَانَتْ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ هَبَّتْ رِيْحٌ مِنْ تَحْتِ الْعَرْشِ يُقَالُ لَهَا الْمُثِيْرَةُ تُصَفِّقُ وَرَقَ أَشْجَارِ الْجِنَانِ. وَحَلَقَ الْمَصَارِيْعِ يُسْمَعُ لِذَلِكَ طَنِيْنٌ لَمْ يَسْمَعِ السَّامِعُوْنَ أَحْسَنَ مِنْهُ. فَيَثِبْنَ الْحُوْرُ الْعِيْنُ حَتَّى يَشْرُفْنَ عَلَى شَرَفِ الْجَنَّةِ. فَيُنَادِيْنَ: هَلْ مِنْ خَاطِبٍ إِلَى اللهِ فَيُزَوِّجَهُ....

شعب الايمان رقم الحديث ٣٤٢١ الصيام. الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ١٤٩٣، تنبيه الغافلين ص ٣١٩ باب فضل شهر رمضان. كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٢٨١. الدرالمنثور ج ١ ص ٤٤٩.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَانَ نَفْسَهُ وَ دِيْنَهُ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ زَوَّجَهُ اللهُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ وَأَعْطَاهُ قَصْرًا مِنْ قُصُوْرِ الْجَنَّةِ. الدر المنثور فى التفسير بالمأثور ج ١ ص ٤٥٤ سورة البقرة في تفسير آية ١٨٥.

(٣) پوره حديث داسې دی:، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

لِلشَّهِيْدِ عِنْدَ اللهِ سِتُّ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِيْ أَوَّلِ دَفْعَةٍ، وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ، وَيُوْضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ، اَلْيَاقُوْتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا، وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، وَيُشَفَّعُ فِيْ سَبْعِيْنَ مِنْ أَقَارِبِهِ.

سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابٌ فِيْ ثَوَابِ الشَّهِيْدِ رقم الحديث ١٦٦٣، ←←←←←←←

شهید ته به دوه اویا (۷۲) حُورِعِین په نکاح ورکړې شي.

## د شهادت په وخت شهید ته حُورې راځي

**۱** . حضرت ابوهریرة ﷺ فرمایي چې د نبي علیه السلام د وړاندې د شهید ذِکر اوشو نو دوی اوفرمایل: زمکه د شهید د وِينې نه نه وي اُوچه شوي چې ده ته په ډیرې جَلتي سره دده دوه بیبیانې حُورې راشي ، دا دواړه ( په شفقت او مهربانۍ کې ) د هغه دوه شُوده ورکونکو اُوښو په شان وي چې د هغوی نه په خلاص میدان ( دَشته ) کې خپل بچي ورک شوي وي ( او د خپلو بچو په شَوق کې بې قرارې وي ).

وَفِي يَدِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا حُلَّةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا.

ددې هرې حُورې په لاس کې به داسې جوړه وي چې هغه به د دُنیا او مَافِیها نه ډیره بهتره وي.(۱)

**۲** . امام بیهقي رحمه الله په خپل کتاب " البعث والنشور " کې دا روایت ذکر کړی چې ( یزید بن شَجَره یو ځل خلقو ته اُوږد تقریر اوکړو ، او په تقریر کې یې دا هم اوفرمایل چې : ) کله په تاسو کې د چا د وِينې اول څاڅکي اوغورځیږي نو الله تعالی په دې سره دده ګناهونه داسې خمتوي لکه څنګه چې د ځانګې نه پاڼې دُوړیږي.

←←← وقال الترمذي: هذا حديث صحيح غريب . وقال الالباني: هذا حديث صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ٣٨٣۴(۴٧) ، سنن ابن ماجة باب فضل الشهادة في سبيل الله رقم الحديث ٢٧٩٩ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ١٩۴٦٧ ، كنزالعمال رقم الحديث ١١١۴٣ ، مسند احمد رقم ١٧١٨٢ ، و رقم ١٧٧٨٣ ، مجمع الزوائد رقم ٩٥١٦ ، الجهاد لابن ابي عاصم رقم ٢٠٣ .

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : ذُكِرَ الشُّهَدَاءُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : لَا تَجِفُّ الْأَرْضُ مِنْ دَمِ الشَّهِيدِ حَتَّى تَبْتَدِرَهُ زَوْجَتَاهُ كَأَنَّهُمَا ظِئْرَانِ أَضَلَّتَا فَصِيلَيْهِمَا فِي بَرَاحٍ مِنَ الْأَرْضِ ، وَفِي يَدِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا حُلَّةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الجِهَادِ وَالحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ١٩٣٢٢ . الجهاد لابن المبارك ج۱ ص ٣٧ رقم ٢٠ ، مسند احمد رقم الحديث ٩٥٢٠ ، سنن ابن ماجة باب فضل الشهادة في سبيل الله رقم الحديث ٢٧٩٨ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٣٧ ، مصنف عبدالرزاق رقم الحديث ٩٥٦١ .

Scanned with CamScanner

وَتَبْتَدِرُهُ اثْنَتَانِ مِنْ حُوْرِ الْعِيْنِ ، وَيَمْسَحَانِ التُّرَابَ عَنْ وَجْهِهِ وَيَقُوْلَانِ : فِدَا لَكَ ، وَيَقُوْلُ : أَنَا لَكُمَا .

او ده ته په جَلتۍ سره دوه حُورِعين راشي ، دده د مخ نه خاورې صفا کوي ، او دا ورته وايي چې مونږ په تا قربان يو ( اوس ستا راتلل رانزدې شوي ) ، دا زخمي هم ورته وايي چې زه ستاسو د پاره يم .

بيا ده ته داسې سل ( ١٠٠ ) جوړې ور واغوستلې شي چې که هغه ټولې د لاس د دوه ګوتو په مينځ کې کيښودې شي نو په کې رابه شي ، دا کپړې به انسانانو نه وي جوړې کړي بلکه دا به جنتي کپړې وي ... (١)

## حُورې چې د زخمي مجاهد لاس اُونيولو نو د مجاهد په لاس کې د حُورو د لاس ښائسته نښې پاتې شوی

علامه ابن نحاس رحمه الله په " مشارعُ الأشواق " کې ذکر کړي چې ماته يو مُعتمد ملګري دا واقعه بيان کړی چې مونږ په اسکندريه کې په جهاد کې مصروف وو ، نو مونږ ته د مغرب د طرفه يو مجاهد راغی او په جهاد کې راسره شريک شو چې هغه به هميشه خپل يو لاس پټولو ، هيڅ ته به يې نه ښکاره کولو ، بعضې وخت به ددغه لاس د ګوتو سرونه ښکاره شو خو نور لاس به يې پټ کړې وُ .

---

(١) .... فَإِنَّ أَوَّلَ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِ أَحَدِكُمْ يَحُطُّ اللهُ بِهَا عَنْهُ خَطَايَاهُ كَمَا تَحُطُّ الْغُصْنُ مِنْ وَرَقِ الشَّجَرَةِ ، وَتَبْتَدِرُهُ اثْنَتَانِ مِنْ حُورِ الْعِيْنِ ، وَيَمْسَحَانِ التُّرَابَ عَنْ وَجْهِهِ وَيَقُوْلَانِ : فِدَا لَكَ ، وَيَقُوْلُ : أَنَا لَكُمَا . فَيُكْسَى مِائَةَ حُلَّةٍ لَوْ وُضِعَتْ بَيْنَ أُصْبُعَيَّ هَاتَيْنِ لَوَسِعَتَاهُمَا ، لَيْسَتْ مِنْ نَسْجِ بَنِيْ آدَمَ ، وَلٰكِنَّهُمَا مِنْ ثِيَابِ الْجَنَّةِ ....
البعث والنشور للبيهقي ج١ ص ٣١١ رقم الحديث ٥٦٢ بَابُ مَا جَاءَ فِي حَيَّاتِ جَهَنَّمَ وَعَقَارِبِهَا

وفي رواية : عَنْ يَزِيدَ بْنِ شَجَرَةَ ﷺ ، قَالَ : اَلسُّيُوْفُ مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ ، فَإِذَا تَقَدَّمَ الرَّجُلُ إِلَى الْعَدُوِّ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ : اَللّٰهُمَّ انْصُرْهُ ، وَإِنْ تَأَخَّرَ قَالَتِ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ ، فَأَوَّلُ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِ السَّيْفِ يُغْفَرُ لَهُ بِهَا كُلُّ ذَنْبٍ ، وَيَنْزِلُ عَلَيْهِ حَوْرَانِ تَمْسَحَانِ الْغُبَارَ عَنْ وَجْهِهِ وَتَقُوْلَانِ : قَدْ آنَ لَكَ ، وَيَقُوْلُ لَهُمَا : وَإِنَّكُمَا قَدْ آنَ لَكُمَا .
مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ١٩٣٥١ .

Scanned with CamScanner

مونږ به د هغه سره خوراک ، څکاک کولو ، آخر زمونږ په زړه کې څه شک پيدا شو " چې کيدې شي دده په لاس کې څه مُتعدِّي بيماري وي ځکه يې مونږ ته نه ښکاره کوي " مونږ به هميشه ددې د ليدلو کوشش کولو .

يوه ورځ ناڅاپه دده لاس ښکاره شو ، مونږ اُوليد چې دده په لاس باندې د ګوتو سپينې نَخې وې ( يعنى د شُودو په شان ښائسته سپين والې وُ ) ، مونږ دا ګمان اوکړو چې دا به په ده باندې د برګې مرَض وي .

کله چې د خوراک وخت راغى نو مونږ دده سره د خوراک کولو نه اِنکار اوکړو ، دده سره چې کوم ملګرې وُ هغه مونږ ته وويل : تاسو ولې دده سره خوراک نه کوى ؟ مونږ ورته وويل چې دده په لاس کې مُتعدِّي بيماري ده . هغه راته وويل :

دده سره يو ځاى خوراک کوئ ، مه ويرېږئ ، دا د برګې بيماري نده ، کله چې د تاسو سره دا کس ځانله شي نو ددې په باره کې ورنه پوښتنه اوکړئ دا به درته پوره واقعه او ددې سپين والي سبب بيان کړي .

مونږ دده سره خوراک شروع کړو ... يو وخت مونږ ځانله ددې کس نه پوښتنه اوکړه چې ستا ددې لاس د سپين والي سبب څه شى دى ؟ هغه اول اِنکار اوکړو خو چې کله مونږ ډير اِصرار اوکړو او قسَم مو ورکړو نو هغه خپله واقعه داسې بيان کړه چې :

زه د مِغرب اُوسيدونکې يم ، د مونږ سره نژدې فرَنګيان اُوسيږي ، مونږ هميشه د هغوى سره جهاد کوو ، کله مونږ وريباندې حمله اوکړو او کله هغوى راباندې حمله اوکړي ، يو ځل مونږ شل ( ۲۰ ) کسان په دُښمن باندې حملې کولو د پاره اُووتو ، د هغوى ښار ته وَر روان شو ، زمونږ عادت دا وُ چې د شپې به مو سفر کولو او ورځې به په يو غار کې پټيدو ، کله چې مونږ نمیائي لارې ته اُورسيدو نو په مونږ باندې ورځ راغله ، مونږ په غره کې يو غار ته وَر روان شو ، کله چې هغې ته داخل شو نو په هغې کې مو کشار محسوس کړو ، ناڅاپه يو عجمي کافر بهر رااُووت ، هغه مونږ اُوليدو نو واپس لاړ ، لږ وخت پس سل (۱۰۰) عجمي کافران رااُووتل .

دا کافران د خپلو ښارونو نه ددې د پاره راروان شوي وو چې زمونږ په ښار حمله اوکړي ، دوى به هم د شپې مزل کولو او د ورځې به په يو غار کې پټيدل ، په دوى باندې هم

ورځ راغلې وه او په دې غار کې پټ شوي وو ، کله چې زمونږ سترګې د يو بل سره مخامخ شوی نو سمدستي مو په يو بل حمله اوکړه ، ځکه زمونږ او د دوی په مينځ کې دا طريقه د مخکې نه راروانه وه چې موقع پيدا کړو نو په يو بل سختې حملې کوو ، پس مونږ د دوی سره سخت جنګ اوکړو ، تر دې چې زمونږ يوولس (١١) ملګري شهيدان شو او د دوی پنځه څلويښت (۴۵) کافران مردار شو ، بيا هغوی په مونږ باندې په يو ځل سخته حمله اوکړه نو زما نه علاوه دا نور باقي ملګري هم شهيدان شو ، زه سخت زخمي شوم ، د شهيدانو په مينځ کې پروت ووم (هغوی دا ګمان اوکړو چې ګني ټول مړه شو) ، په دې وخت کې ناڅاپه د آسمان نه داسې ښائسته ښځې (حورې) راښکته شوی چې ددې په شان ښائسته ښځې ما په خپل ژوند کې نه وې ليدلی ، په دې کې به هره يوه ښځه يو شهيد ته ورتلله او ويل به يې :

هٰذَا نَصِيبِيْ. دا زما په حصه (قِسمَت) کې دی.

دې ښځې به د شهيد لاس اُونيو ، شهيد به راپاڅيد او ورسره به لاړو .

تر دې چې يوه ښځه (حُوره) ماته راغله او وې ويل :

هٰذَا نَصِيبِيْ. دا زما په حصه کې دی.

دې زما لاس اُونيو ، کله يې چې محسوسه کړه چې په ما کې رُوح دی نو د غصې په اَنداز کې يې زما لاس پريخود ، او وې ويل :

وَ أَنْتَ إِلَى السَّاعَةِ. ته لا تر اُوسه ژوندې يې.

نو هغه حُوره لاړه ، او زه يې پريخودم .

فَكَشَفَ لَنَا عَنْ سَاعِدِهِ فَإِذَا أَثَر قبضتها و أصابعها الخمس أَبْيَض شديد البياض مثل لبن الحَلِيْبِ.

پس دې مجاهد مونږ ته خپل مَروَند راښکاره کړو نو دده په مَروَند باندې د لاس د پنځو ګوتو داسې ښائسته نخې وې چې د شودو په شان ځليدی . (١)

(١) مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج٢ ص٦٨٨ .

# د حورې د لاس نه اُوبه څکوُنکي مجاهد ته بيا د خوراک او څکاک ضرورت رانغى

شيخ الحديث مولانا موسیٰ خان روحاني بازي رحمه الله په خپل کتاب " تَرغِيبُ المسلمين " کې يوه واقعه رانقل کړې :

يو بزرگ فرمايي : چې يو ځل د مونږ سره په رُوم کې يو نېک سړى په سفر کې ملګرې وُ، مونږ يوولس (١١) ورځې سفر اوکړو ، په دې يوولس ورځو کې ده نه څه خوراک کړى ، او نه يې اُوبه څکلي.

آخِر ما ورنه پوښتنه اوکړه : دا څه وجه ده چې تا په دې يوولس ورځو کې نه څه اُوخوړل او نه دې څه اُوڅکل؟ راته وې ويل چې کله سفر ختم شي او جدا کيږو نو بيا به درته ددې وجه بيان کړم.

کله چې د جدايۍ وخت رانزدې شو نو دې نېک کس ماته خپله واقعه بيان کړه چې : يو ځل مونږ څلورسوه (٤٠٠) مجاهدين د جِهاد د پاره اُووتو ، د کفارو سره مو سخته مقابله اوکړه ، ( ډير کافران مردار شو ، چونکه کافران ډير زيات وو ) زما ملګري شهيدان شو ، خو زه زَخمي ووم او د شهيدانو سره يو ځاى پروت ووم ، زما سترګې پټې وى ، د نمَر د وبيدو په وخت ما د پورته آسمان د طرفه ډيره ښائسته او مزيداره خوشبوئي محسوس کړه ، ما چې سترګې را اُوغړولى نو داسې ښائسته جينکۍ يعنى حُورې مې اُوليدې چې ددې نه مخکې ما داسې ښائسته جينکۍ چيرته نه وې ليدلى ، د دوى سره په لاسونو کې د اُوبو ډک ګلاسونه وو ، او د شهيدانو په خُله کې يې اُوبه اَچولى ، ما هم خپلې سترګې پټې کړى ، کله چې دا حورې ماته رااُورسيدى نو په دې کې دې يوې حُورې وويل :

أَصْبُبْنَ فِيْ حَلْقِ هٰذَا وَعَجِّلْنَ قَبْلَ اَنْ تُغْلَقَ اَبْوَابُ السَّمَآءِ ، فَنَبْقٰى فِي الْأَرْضِ .

ددې کس په خُله کې اُوبه واچوئ ، او جَلتي ( تَادي ) اوکړئ هسې نه چې د آسمان دَروازې بندې شي او مونږ په زمکه کې پاتې شو .

دې بلې حُورې ورته وويل : أَأَسْقِيْهِ وَفِيْهِ رَمَقٌ؟

آیا زه په ده باندې اُوبه اُوڅکم حالانکه په ده کې خو رُوح شته ؟

هغې بلې حُورې ورته وویل : اِسْقِيْهِ ، لَا بَأْسَ عَلَيْكِ يَا اُخْتِيْ .

زما خورې ! په ده باندې اُوبه اُوڅکه ، په تا باندې هیڅ حرَج (ملامتیا) نشته .

نو دې حُورې زما په خُله کې هم دا اُوبه واچولې .

دې نیک کس د خپل سفر دې ملګري ته وویل :

فَأَنَا مُنْذُ شَرِبْتُ ذٰلِكَ الشَّرَابَ لَا أَحْتَاجُ إِلٰى طَعَامٍ وَشَرَابٍ .

د کله نه چې ما هغه اُوبه څکلي دي د هاغه وخت نه را په دیخوا ماته نه د خوراک ضرورت شته ، او نه د څکاک . (۱)

دا واقعه علامه عبدالله یافعي رحمه الله په خپل کتاب " روضُ الرَّیاحین " کې ، او نورو علماؤ هم نقل کړې . (۲)

## روژه دار مُجاهد ته په خوب کې د حُورِ عَیناء وینا چې :
## " نن د مونږ سره روژه ماته کړه "

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه رانقل کړې : حضرت ثابت بُناني رحمه الله فرمایي چې یو انصاري ځوان ډیره زَمانه جهاد اوکړو ، (د شهادت دومره شَوقي

(۱) ترغيب المسلمين فى الرزق الحلال و طعمة الصالحين ص ۱۴۵ .

(۲) عن بعضهم ، قال كنتُ في بلاد الرّوم فَصَحِبَنَا رجلٌ فرأيناه لا يأكلُ و لايشربُ ، فقلتُ له : ما رأيتك تأكلُ شيئًا مّن القوتِ منذ أحدَ عشرَ يومًا ، فقال : إذا دَنَا فراقي منكم حدّثتُكم . فلمّا دَنَا الفِراقُ قلتُ له : حَدِّثْنَا ما وَعَدتَّنَا . قال : غزونَا في أربعِ مائة ، فخرج علينا العدوّ ، فقتل أصحابي وجرحتُ أنَا ، فكنتُ بين القتلى ، فلما كان وقتُ الغروبِ أحسستُ برائحةٍ فائحةٍ من قِبَلِ الجوّ فَفَتَحْتُ عَيني فإذا بِجَوَارٍ عليهنّ ثيابٌ ما رأيتُ مثلها ، وفي أيديهنّ كأساتٌ يصببن في أفواهِ القتلى ، فغمضتُ عَيني حتّى وَصَلْنَ إليّ ، فقالتْ واحدةٌ منهنّ : أصبُبنَ في حلقِ هذا ، وعجّلنَ قبلَ أن تغلقَ أبوابُ السماء فَنَبْقِيَ فى الأرض . فقالت أخرى : أَأَسْقِيْهِ وفيه رمقٌ ؟ فقالت لها الأخرى : لا بأس عليكِ يا أختي ، فصبتْ في حلقي ، فأنا منذ شربتُ ذلك الشراب لاأحتاجُ إلى طعامٍ ولا شرابٍ . روض الرياحين في حكايات الصالحين ص ۳۶۱ ، مشارع الاشواق ج۱ ص ۵۱۵ الباب الثاني والعشرون في فضل الجرح في سبيل الله تعالى و ذكر بعض الجرحى .

وُ چې) په هر جنګ کې به د شهادت په غرض ورمخکې کیدو لیکن شهادت تر اوسه ورته نه وُ نصیبه شوی، یوه ورځ یې د ځان سره په پریشانۍ کې دا سوچ کولو او وې ویل:

وَاللّٰهِ مَا أَرَانِيْ إِلَّا لَوْ قَفَلْتُ إِلٰى أَهْلِيْ فَتَزَوَّجْتُ.

(ما خو ډیر وخت شهادت اُوغوښت خو راته نصیب نه شو) قسَم په الله، که چیرته زه کورته لاړ شم نو واده به کوم.

بیا دا ځوان په خپله خیمه کې (د غرمې په وخت) د قیلولې په غرض اُوده شو (دده روژه وه)، څه وخت پس خپلو ملګرو د ماسپخین مانځه ته راپاڅولو، هغه چې کله راپاڅید نو په چغو چغو یې اُوژړل، ملګرې یې اُوپریدل چې کیدې شي دده ته په خوب کې څه تکلیف رسیدلې وي. دهٔ خپلو ملګرو ته وویل: ما ته څه تکلیف نشته، لیکن (ژاړم په دې چې) اوس ما ته په خُوب کې یو کس راغی، او راته وې ویل: اِنْطَلِقْ إِلٰى زَوْجَتِكَ الْعَيْنَاءِ.

(راځه چې زه دې ورله بوځم). ته خپلې بي بي "عَيْنَاء" ته لاړ شه.(١)

دا ځوان وايي چې زه ورسره روان شوم، هغه زه یوې سپینې صفا زمکې ته راوستم، بیا یې داسې ښائسته باغیچې ته د ننه کړم چې ما د دینه زیاته ښائسته باغیچه په خپل ژوند کې نه وه لیدلې، ناڅاپه مې په هغې کې لس (١٠) داسې ښائسته جینکۍ اولیدې چې ما په ټول عُمر کې داسې ښائسته جینکۍ نه وې لیدلې، زما دا اُمید وُ چې کیدې شي عَيْنَاء په دوی کې یوه وي، نو ما د دوی نه پوښتنه اوکړه:

أَفِيْكُنَّ الْعَيْنَاءُ؟ آیا په تاسو کې عَيْنَاء شته؟

هغوی راته وویل: هِيَ بَيْنَ أَيْدِيْنَا وَنَحْنُ جَوَارِيْهَا.

هغه زمونږ نه وړاندې ده، مونږ د هغې خِدمتګارې یو.

بیا زه د خپل ملګري سره مخکې لاړم نو هلته مې یوه بله باغیچه اُولیده چې دا د هغه مخکینۍ باغیچې نه په حُسن کې ډیره زیاته وه، په دې کې شل (٢٠) جینکۍ وې چې دا د هغه مخکینۍ جینکو نه په ښائست کې ډیرې زیاتې وې، زما دا اُمید وُ چې عَيْنَاء به په

---

(١) عَيْنَاء د غټو سترګو واله ښائسته حُورې ته وايي.

دوی کې يوه وې، نو ما د دوی نه پوښتنه اوکړه :

أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ؟ آيا په تاسو کې د عَيْنَاء په نوم ښځه شته ؟

هغوی وويل : هِيَ بَيْنَ أَيْدِينَا وَنَحْنُ جَوَارِيهَا.

هغه زمونږ نه وړاندې ده ، مونږ د هغې خِدمتګارې يو .

( همداسې ده د ديرشو ۳۰ جينکو تذکره اوکړه ) .

دا ځوان وايي چې زه بيا مخکې لاړم ، تر دې چې زه د سرو ياقوتو نه جوړ شوي يو محل ته اُورسيدم ، دې محل په خپل ښائست سره خپلې خواؤ شا علاقې رُوښانه کړې وی ، ما ته خپل ملګري وويل : ته دې محل ته ننوځه . زه چې محل ته ننوتم نو په هغې کې داسې ښائسته ځليدونکې ښځه موجود وه چې د محل رَڼا د هغې د وړاندې هيڅ نه وه ، زه د هغې سره په څنګ کې کيناستم ، هغې د ماسره خبرې کولی ، په دې دَوران کې ما ته خپل ملګري وويل : را اُووځه ، واپس ځو . (اګر چې زما زړه واپس راتګ نه غوښتل خو) ما چونکه د خپل ملګري د خبرې نه اِنکار نه شو کولی نو زه راپاڅيدم ، راروان شوم ، نو عَيْنَاء حُورې زما د څادر يو طَرف اونيو او راته وې ويل :

أَفْطِرْ عِنْدَنَا اللَّيْلَةَ . نن د مونږ سره روژه ماته کړه .

دا ځوان وايي چې کله تاسو زه اوس د ماسپخين مانځه ته راپاځولم نو ما ته معلومه شوه چې دا خو صرف خوب وُ نو ځکه د غم په وجه مې اُوښکې .

د دوی دا خبرې په خپل مينځ کې روانې وی چې په دې وخت کې د کافرانو سره د جهاد کولو اعلان اوشو ، ټول مجاهدين په آسونو باندې سواره شو او ميدانِ جنګ ته ورغلل ، په دې دَوران کې دا ځوان هم ورغی .

د کافرانو سره مسلسل جنګ شروع وُ ، کله چې ماښام د روژه ماتي وخت شو نو په همدې حالت کې دا ځوان شهيد شو ، حالانکه دده روژه وه . ( يقيني چې ده روژه د عَيْنَاء حُورې سره ماته کړه ، او خوب يې ريښتينې شو ) .(١)

(١) عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ أَنَّ فَتًى غَزَا زَمَانًا ، وَتَعَرَّضَ لِلشَّهَادَةِ ، فَلَمْ يُصِبْهَا ، فَحَدَّثَ نَفْسَهُ ، ←←←←←←←

همدغه شان تفصيلي واقعه په نورو كتابونو كې هم ذكر ده چې مجاهِد ته په خُوب كې عَيناء حُوره راغله ، دده ورسره خبرې اوشوى ، بيا دا مجاهد په همدغه جهاد كې شهيد شو. (١)

---

←←← فَقَالَ : وَاللهِ مَا أَرَانِي إِلَّا لَوْ قَفَلْتُ إِلَى أَهْلِي فَتَزَوَّجْتُ . قَالَ : ثُمَّ قَالَ فِي الْفُسْطَاطِ ، ثُمَّ أَيْقَظَهُ أَصْحَابُهُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ . قَالَ : فَبَكَى حَتَّى خَافَ أَصْحَابُهُ أَنْ يَكُونَ قَدْ أَصَابَهُ شَيْءٌ . فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ قَالَ : إِنِّي لَيْسَ بِي بَأْسٌ وَلَكِنَّهُ أَتَانِي آتٍ ، وَأَنَا فِي الْمَنَامِ ، فَقَالَ : انْطَلِقْ إِلَى زَوْجَتِكَ الْعَيْنَاءِ . قَالَ : فَقُمْتُ مَعَهُ ، فَانْطَلَقَ بِي فِي أَرْضٍ بَيْضَاءَ نَقِيَّةٍ . فَأَتَيْنَا عَلَى رَوْضَةٍ مَا رَأَيْتُ رَوْضَةً قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا ، فَإِذَا فِيهَا عَشْرُ جَوَارٍ مَا رَأَيْتُ مِثْلَهُنَّ قَطُّ وَلَا أَحْسَنَ مِنْهُنَّ . فَرَجَوْتُ أَنْ تَكُونَ إِحْدَاهُنَّ . فَقُلْتُ : أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ ؟ قُلْنَ : هِيَ بَيْنَ أَيْدِينَا وَنَحْنُ جَوَارِيهَا . قَالَ : فَمَضَيْتُ مَعَ صَاحِبِي فَإِذَا رَوْضَةٌ أُخْرَى يُضَعِّفُ حُسْنُهَا عَلَى حُسْنِ الَّتِي تَرَكْتُ ، فِيهَا عِشْرُونَ جَارِيَةً يُضَاعَفُ حُسْنُهُنَّ عَلَى حُسْنِ الْجَوَارِي اللَّاتِي خَلَّفْتُ ، فَرَجَوْتُ أَنْ تَكُونَ إِحْدَاهُنَّ ، فَقُلْتُ : أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ ؟ قُلْنَ : هِيَ بَيْنَ أَيْدِينَا وَنَحْنُ جَوَارِيهَا . حَتَّى ذَكَرَ ثَلَاثِينَ جَارِيَةً . قَالَ : ثُمَّ انْتَهَيْتُ إِلَى قُبَّةٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ مُجَوَّفَةٍ قَدْ أَضَاءَ لَهَا مَا حَوْلَهَا ، فَقَالَ لِي صَاحِبِي : أُدْخُلْ . فَدَخَلْتُ ، فَإِذَا امْرَأَةٌ لَيْسَ لِلْقُبَّةِ مَعَهَا ضَوْءٌ ، فَجَلَسْتُ ، فَتَحَدَّثْتُ سَاعَةً ، فَجَعَلَتْ تُحَدِّثُنِي ، فَقَالَ صَاحِبِي : أُخْرُجْ انْطَلِقْ . قَالَ : وَلَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَعْصِيَهُ . قَالَ : فَقُمْتُ ، فَأَخَذَتْ بِطَرَفِ رِدَائِي ، فَقَالَتْ : أَفْطِرْ عِنْدَنَا اللَّيْلَةَ . فَلَمَّا أَيْقَظْتُمُونِي رَأَيْتُ أَنَّمَا هُوَ حُلْمٌ ، فَبَكَيْتُ . فَلَمْ يَلْبَثُوا أَنْ نُودِيَ فِي الْخَيْلِ . قَالَ : فَرَكِبَ النَّاسُ ، فَمَا زَالُوا يَتَطَارَدُونَ حَتَّى إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ ، وَحَلَّ لِلصَّائِمِ الْإِفْطَارُ ، أُصِيبَ تِلْكَ السَّاعَةَ ، وَكَانَ صَائِمًا ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ مِنَ الْأَنْصَارِ . الجهاد لابن المبارك ج ١ ص ١٢٢ رقم ١٤٩ .

(١) حِكَايَةُ الشَّابِّ الَّذِي بَاعَ نَفْسَهُ: قَالَ الْفَقِيهُ رَحِمَهُ اللهُ حَدَّثَنَا أَبِي رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى ، بِإِسْنَادِهِ عَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ زَيْدٍ رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالَى ، قَالَ : بَيْنَمَا أَنَا يَوْمًا فِي مَجْلِسِنَا هَذَا ، وَقَدْ تَهَيَّأْنَا لِلْخُرُوجِ إِلَى الْغَزْوِ ، وَقَدْ أَمَرْتُ أَصْحَابِي أَنْ يَتَهَيَّئُوا غَدَاةَ الْإِثْنَيْنِ ، وَقَدْ قَرَأَ رَجُلٌ فِي مَجْلِسِنَا : { إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ } [التوبة : ١١١] الْآيَةَ ، فَقَامَ غُلَامٌ ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً ، أَوْ نَحْوِ ذَلِكَ ، وَقَدْ مَاتَ أَبُوهُ وَأَوْرَثَهُ مَالًا كَثِيرًا ، فَقَالَ : يَا عَبْدَ الْوَاحِدِ ! إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ . فَقُلْتُ : نَعَمْ حَبِيبِي . فَقَالَ لِي : إِنِّي أُشْهِدُكَ يَا عَبْدَ الْوَاحِدِ أَنِّي قَدْ بِعْتُ نَفْسِي ، وَمَالِي بِأَنَّ لِيَ الْجَنَّةَ ، فَقُلْتُ لَهُ : إِنَّ حَدَّ السَّيْفِ أَشَدُّ مِنْ ذَلِكَ وَأَنْتَ صَبِيٌّ ، وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكَ أَنْ لَا تَصْبِرَ وَتَعْجَزَ عَنْ ذَا الْبَيْعِ . قَالَ : ←←←

←←←← فَقَالَ لِي : يَا عَبْدَ الْوَاحِدِ ! إِنِّي أُبَايِعُ اللهَ بِالْجَنَّةِ. ثُمَّ أَعْجَزُ إِنِّي أُشْهِدُكَ أَنِّي بَايَعْتُ اللهَ فَقَالَ : فَتَقَاصَرَتْ إِلَيْنَا أَنْفُسُنَا . فَقُلْنَا: صَبِيٌّ يَفْعَلُ وَنَحْنُ لَا نَفْعَلُ. قَالَ: فَخَرَجَ مِنْ مَالِهِ كُلِّهِ يَعْنِي تَصَدَّقَ بِهِ، إِلَّا فَرَسَهُ وَسِلَاحَهُ وَنَفَقَتَهُ. فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الْخُرُوجِ كَانَ أَوَّلَ مَنْ طَلَعَ عَلَيْنَا. فَقَالَ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا عَبْدَ الْوَاحِدِ. فَقُلْتُ لَهُ: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. ارْبَحِ الْبَيْعَ . ثُمَّ سِرْنَا وَهُوَ مَعَنَا يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ وَيَخْدِمُنَا، وَيَرْعَى دَوَابَّنَا، وَيَحْرُسُنَا إِذَا بِتْنَا، حَتَّى دُفِعْنَا إِلَى بِلَادِ الرُّومِ. فَبَيْنَمَا نَحْنُ كَذَلِكَ يَوْمًا إِذْ أَقْبَلَ وَهُوَ يُنَادِي ، وَاشَوْقَاهُ إِلَى الْعَيْنَاءِ الْمَرْضِيَّةِ حَتَّى قَالَ أَصْحَابِي لَعَلَّهُ وَسْوَسَ الْغُلَامُ أو خلط عقله، حتى دنا وجعل ينادي : يَا عَبْدَ الْوَاحِدِ ! لَا صَبْرَ لِي وَاشَوْقَاهُ إِلَى الْعَيْنَاءِ الْمَرْضِيَّةِ. فَقُلْتُ: حَبِيبِي وَمَا هَذِهِ الْعَيْنَاءُ الْمَرْضِيَّةُ ؟ قَالَ: إِنِّي غَفَوْتُ غَفْوَةً. يَعْنِي نِمْتُ نَوْمَةً. فَرَأَيْتُ كَأَنَّهُ أَتَانِي آتٍ فَقَالَ: اَذْهَبْ بِكَ إِلَى الْعَيْنَاءِ الْمَرْضِيَّةِ. فَهَجَمَ بِي عَلَى رَوْضَةٍ فِيهَا شَطُّ نَهْرٍ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ. فَإِذَا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ جَوَارٍ عَلَيْهِنَّ مِنَ الْحُلِيِّ وَالْحُلَلِ مَا لَا أَصِفُ. فَلَمَّا رَأَيْنَنِي اسْتَبْشَرْنَ، وَقُلْنَ: هَذَا زَوْجُ الْعَيْنَاءِ الْمَرْضِيَّةِ قَدْ قَدِمَ. فَقُلْتُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ الْمَرْضِيَّةُ ؟ فَقُلْنَ: لَا نَحْنُ خَدَمٌ لَهَا وَ إِمَاؤُهَا. فَتَقَدَّمْ أَمَامَكَ . فَتَقَدَّمْتُ فَإِذَا بِنَهْرٍ فِيهِ لَبَنٌ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ، فِي رَوْضَةٍ فِيهَا مِنْ كُلِّ زِينَةٍ. فِيهَا جَوَارٍ. فَلَمَّا رَأَيْتُهُنَّ افْتُتِنْتُ مِنْ حُسْنِهِنَّ وَجَمَالِهِنَّ. فَلَمَّا رَأَيْنَنِي اسْتَبْشَرْنَ وَقُلْنَ: هَذَا وَاللهِ زَوْجُ الْعَيْنَاءِ الْمَرْضِيَّةِ قَدْ قَدِمَ عَلَيْنَا. فَقُلْتُ : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ الْمَرْضِيَّةُ ؟ فَقُلْنَ: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ يَا وَلِيَّ اللهِ نَحْنُ خَدَمٌ لَهَا وَ إِمَاءٌ لَهَا فَتَقَدَّمْ أَمَامَكَ . فَتَقَدَّمْتُ فَإِذَا بِنَهْرٍ آخَرَ مِنْ خَمْرٍ، عَلَى شَطِّ الْوَادِي فِيهِ جَوَارٍ أَنْسَيْنَنِي مَنْ خَلَّفْتُ. فَقُلْتُ : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ الْمَرْضِيَّةُ ؟ فَقُلْنَ: لَا نَحْنُ إِمَاءٌ لَهَا وَخَدَمٌ لَهَا امْضِ أَمَامَكَ. فَتَقَدَّمْتُ فَإِذَا بِنَهْرٍ آخَرَ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى وَ رَوْضَةٌ فِيهَا جَوَارٍ لَهُنَّ مِنَ النُّورِ وَالْجَمَالِ مَا أَنْسَانِي مَنْ خَلَّفْتُ. فَقُلْتُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ الْمَرْضِيَّةُ ؟ قُلْنَ: يَا وَلِيَّ الرَّحْمَنِ نَحْنُ إِمَاءٌ لَهَا امْضِ أَمَامَكَ. فَتَقَدَّمْتُ فَوَقَعْتُ فِي خَيْمَةٍ مِنْ دُرَّةٍ مُجَوَّفَةٍ عَلَى بَابِ الْخَيْمَةِ جَارِيَةٌ عَلَيْهَا مِنَ الْحُلِيِّ وَالْحُلَلِ مَا لَا أَصِفُهُ. فَلَمَّا رَأَتْنِي اسْتَبْشَرَتْ وَنَادَتْ مِنَ الْخَيْمَةِ، أَيَّتُهَا الْعَيْنَاءُ الْمَرْضِيَّةُ ! هَذَا بَعْلُكِ قَدْ قَدِمَ . قَالَ : فَدَنَوْتُ مِنَ الْخَيْمَةِ فَدَخَلْتُ فِيهَا فَإِذَا هِيَ عَلَى سَرِيرِهَا قَاعِدَةٌ وَسَرِيرُهَا مِنْ ذَهَبٍ مُكَلَّلٍ بِالدُّرِّ وَالْيَاقُوتِ. فَلَمَّا رَأَيْتُهَا افْتُتِنْتُ فِيهَا وَهِيَ تَقُولُ: مَرْحَبًا بِوَلِيِّ الرَّحْمَنِ قَدْ دَنَا لَكَ الْقُدُومُ عَلَيْنَا . فَذَهَبْتُ لِأُعَانِقَهَا. فَقَالَتْ: مَهْلًا فَإِنَّهُ لَمْ يَكُنْ لَكَ أَنْ تُعَانِقَنِي. فَإِنَّ فِيكَ رُوحَ الْحَيَاةِ وَأَنْتَ تُفْطِرُ اللَّيْلَةَ عِنْدَنَا إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى. فَانْتَبَهْتُ يَا عَبْدَ الْوَاحِدِ وَلَا صَبْرَ لِي عَنْهَا. قَالَ عَبْدُ الْوَاحِدِ: فَمَا انْقَطَعَ كَلَامُنَا حَتَّى ارْتَفَعَتْ لَنَا سَرِيَّةٌ مِنَ الْعَدُوِّ فَحَمَلْنَا عَلَيْهِمْ وَحَمَلَ الْغُلَامُ. قَالَ: فَعَدَدْتُ تِسْعَةً مِنَ الْعَدُوِّ الَّذِينَ قَتَلَهُمُ الْغُلَامُ وَكَانَ هُوَ الْعَاشِرَ. فَمَرَرْتُ بِهِ وَهُوَ يَتَشَحَّطُ فِي دَمِهِ فَضَحِكَ مِلْءَ فِيهِ حَتَّى فَارَقَ الدُّنْيَا . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ٦٢٢

بَابُ: الْحِكَايَاتِ .

# مجاهد ته د شهادت نه مخکې په خوب کې حُورو "مرحبا" وويله

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه رانقل کړې:

ابو اِدریس رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د مدينې منوّرې نه يو کس مونږ ته راغی د هغه نوم زياد وُ، مونږ په رُوم کې په صِقِلّيَه مقام کې په جهاد کې مصروف وو، هلته مونږ يو ښار محاصره کړو، مونږ درې (۳) ملګري وو: يو زه ووم، دويم زياد وُ، او او دريم راسره د مدينې منوّرې يو بل کس وُ.

مونږ دا ښار يوه ورځ محاصره کړې وُ، پس مونږ يو ملګرې اُوليږل چې خوراک راله راوړي، ناڅاپه د مَنجنيق نه راويشتل شوې يو کاڼې راغی او د زياد سره نږدې اُوغورځيد، د هغه کاڼي يوه ټوټه راغله او د زياد زَنګون وربانديې اُولږيد (سخت زخمي شو) چې په دې سره وربانديې بې هوشي راغله، ما هغه رااُوچت کړو، زما هغه بل ملګرې هم راغی، هغه ته مې آواز اوکړو، مونږ دواړو زياد يو محفوظ ځای ته منتقل کړو چې د منجنيق په بل ګوزار او نه لږي، د ورځې اکثره حصه مونږ اِنتظار اوکړو خو زياد هيڅ حرکت نه کولو (هماغه شان بې هُوشه وُ).

ناڅاپه يې داسې اُوخندل چې نواجد غاښونه يې هم ښکاره شو، بيا چپ شو، بيا يې داسې اُوژړل چې اُوښکې يې را اُوبهيدې، بيا چپ شو، بيا يې په دويم ځل اُوخندل، بيا څه وخت همداسې وُ چې فورًا په هوش کې راغی، راکيناست، او وې ويل:

مَا لِيْ هَاهُنَا؟ زه دلته ولې موجود يم؟

مونږ ورته وويل: أَمَا عَلِمْتَ مَا أَمْرُكَ؟

آيا ته په خپله واقعه پوهه نه شوې؟

هغه ووېل: نه. مونږ ورته وويل: آيا تا ته د منجنيق کاڼې ياد دی چې د تاسره په څنګ کې لږيدلې وُ؟ هغه ووېل: آو. مونږ ورته وويل: ته په هغه کاڼي باندې لږيدلې وې او بې هُوشي درباندې راغلې وه، خو مونږ (اوس) اُوليدل چې تا عجيبه عجيبه حرکتونه اوکړل (دا ولې؟). هغه ووېل: زه به تاسو ته ددې په باره کې خبر درکړم:

هغه دا چې په دې بې هُوشۍ کې زه په خُوب کې داسې يوې کمرې ته بوتلې شوم چې د

ياقوتو او زَبرجدو نه جوړه شوې وه ، بيا زه داسې بهترين قالين له بوتلې شوم چې د وريښمو او قيمتي تارونو نه جوړه شوې وه ، په دې باندې په ترتيب سره تَکيه ګانې ايخودلې شوې وې ، کله چې زه په دې قالين باندې کيناستم نو ما د خې طرف نه د زيوراتو شرَنګار واورېد .

د ډير ښائسته شکل ، ښائسته جامو او ښائسته زيوراتو والا يوه ښځه را اُووته ( چې د حُسن يې هيڅ اِنتهاء نه وه ) ، دې قالين ته راغله ، کله چې ماته رامخامخ شوه نو ماته يې

" مرحباً اهلاً و سهلاً " وويل ، او دا يې راته وويل :

ستا د پاره مرحبا ده اې مُشقت برداشت کوونکيه ، ( بې وَفاء ) ته خو د الله ﷻ نه زمونږ د غوښتلو هيڅ سوال نه کوی ، مونږ خو ستا د فلانۍ بي بي په شان نه يو .
کله چې دې ښځې دا خبره اوکړه نو زه په خَندا شوم ، دا راغله زما خې طرف کيناسته ،

ما ورنه پوښتنه اوکړه : مَنْ أَنْتِ؟ ته څوک يې ؟

هغې وويل : أَنَا خَوْدُ زَوْجَتُكَ. زه ستا بي بي " خَود " يم . (١)
کله چې ما هغې ته لاس وَر وړاندې کړو نو راته وې ويل :

عَلَى رِسْلِكَ، إِنَّكَ سَتَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهرِ .

لږ صبر اوکړه ، بيشکه ته به ډير زر مونږ ته د ماسپخين په وخت راشې .
دې خبرې اَورېدو سره زه په ژړا شوم . ( چې ماسپخين ته خو ډير وخت دی ) .
کله چې دا ښځه د خپلو خبرو نه فارغه شوه نو ما د چَپ ( ګس ) طرف نه د زيوراتو شرَنګار واورېد ، ما چې اوکتل نو دا هم د هماغه مخکينۍ ښځې په شان بهترينه ښائسته ښځه وه ، دې هم ماته د هغې په شان مرحبا اهلاً و سهلاً وويل ، او هماغه شان خبره دې هم راته اوکړه ، نو زه په خندا شوم ، دا زما ګس طرف کيناسته ، کله چې ما ديته لاس وَر وړاندې کول اُوغوښتل نو دې هم راته وويل :

---

(١) " خَود " ښائسته او ځوانې ښځې ته وايي . اَلْخَوْد : بفتح الخاء المعجمة وإسكان الواو وبالدال المهملة وهي المرأة الحسناء الناعمة . ترتيب القاموس ٢/١٢٣ . مشارع الاشواق ج٢ ص ٧٧٠ .

عَلىٰ رِسْلِكَ، إِنَّكَ تَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهْرِ .
لږ صبر اوکړه ، ته به يقيني مونږ ته د ماسپخين په وخت راځې .
نو زه په ژړا شوم .
ابو ادريس ؒ وايي : دا زياد د مونږ سره ناست وُ ، همدا خبرې يې کولی (سخت زخمي وُ)
فَلَمَّا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ مَالَ، فَمَاتَ .
کله چې مؤذن آذان اوکړو نو په دې وخت کې زياد را اُوغورځيد او وفات شو . (١)

---

(١) قَالَ أَبُوْ إِدْرِيسَ رَحِمَهُ اللّٰهُ : قَدِمَ عَلَيْنَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ يُقَالُ لَهُ زِيَادٌ قَالَ : فَغَزَوْنَا صِقِلِّيَةَ مِنْ أَرْضِ الرُّوْمِ، فَحَاصَرْنَا مَدِيْنَةً قَالَ : وَكُنَّا ثَلَاثَةً مُتَرَافِقِيْنَ : أَنَا، وَ زِيَادٌ، وَ رَجُلٌ آخَرُ مِنْ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ . قَالَ : فَإِنَّا لَمُحَاصِرُوْنَ يَوْمًا ، وَقَدْ وَجَّهْنَا أَحَدَنَا الثَّالِثَ ؛ لِيَأْتِيَنَا بِطَعَامٍ ، إِذْ أَقْبَلَتْ مَنْجَنِيْقَةٌ . فَوَقَعَتْ قَرِيْبًا مِنْ زِيَادٍ، فَشَظِيَتْ مِنْهَا شَظِيَّةٌ . فَأَصَابَتْ رُكْبَةَ زِيَادٍ . فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ. فَاجْتَرَرْتُهُ. وَأَقْبَلَ صَاحِبِيْ. فَنَادَيْتُهُ. فَجَاءَنِيْ فَبَرَزْنَا بِهِ حَيْثُ لَا يَنَالُهُ الْقَتْلُ وَالْمَنْجَنِيْقُ . فَمَكَثْنَا طَوِيْلًا مِنْ صَدْرِ نَهَارِنَا لَا يَتَحَرَّكُ مِنْهُ شَيْءٌ. ثُمَّ أَفْتَرَ ضَاحِكًا حَتّٰى تَبَيَّنَتْ نَوَاجِذُهُ ، ثُمَّ خَمَدَ . ثُمَّ بَكٰى حَتّٰى سَالَتْ دُمُوْعُهُ. ثُمَّ خَمَدَ . ثُمَّ ضَحِكَ مَرَّةً أُخْرٰى. ثُمَّ مَكَثَ سَاعَةً. فَأَفَاقَ . فَاسْتَوٰى جَالِسًا. فَقَالَ: مَا لِيْ هَاهُنَا ؟ فَقُلْنَا : أَمَا عَلِمْتَ مَا أَمْرُكَ ؟ قَالَ : لَا. قَالَ : أَمَا تَذْكُرُ الْمَنْجَنِيْقَ حِيْنَ وَقَعَ إِلٰى جَنْبِكَ ؟ قَالَ: بَلٰى . فَقُلْنَا : فَإِنَّهُ أَصَابَكَ مِنْهَا شَيْءٌ . فَأُغْمِيَ عَلَيْكَ ، وَ رَأَيْنَاكَ صَنَعْتَ كَذَا وَكَذَا. قَالَ: نَعَمْ. أُخْبِرُكُمْ أَنَّهُ أُفْضِيَ بِيْ إِلٰى غُرْفَةٍ مِنْ يَاقُوْتَةٍ أَوْ زَبَرْجَدَةٍ ، وَأُفْضِيَ بِيْ إِلٰى فُرُشٍ مَوْضُوْنَةٍ بَعْضِهَا إِلٰى بَعْضٍ. فَبَيْنَ يَدَيَّ ذٰلِكَ سِمَاطَانِ مِنْ نَمَارِقَ . فَلَمَّا اسْتَوَيْتُ قَاعِدًا عَلَى الْفِرَاشِ . سَمِعْتُ صَلْصَلَةَ حُلِيِّ عَنْ يَمِيْنِيْ، فَخَرَجَتِ امْرَأَةٌ . فَلَا أَدْرِيْ أَهِيَ أَحْسَنُ ، أَوْ ثِيَابُهَا ، أَوْ حُلِيُّهَا ؟ فَأَخَذَتْ إِلٰى طَرَفِ السِّمَاطِ . فَلَمَّا اسْتَقْبَلَتْنِيْ، رَحَّبَتْ، وَسَهَّلَتْ، وَقَالَتْ: مَرْحَبًا بِالْجَافِي الَّذِيْ لَمْ يَكُنْ يَسْأَلُنَا اللهَ عَزَّ وَجَلَّ، وَلَسْنَا كَفُلَانَةَ امْرَأَتِهِ . فَلَمَّا ذَكَرْتُهَا بِمَا ذَكَرَتْهَا بِهِ ضَحِكْتُ، وَأَقْبَلَتْ حَتّٰى جَلَسَتْ عَنْ يَمِيْنِيْ. فَقُلْتُ : مَنْ أَنْتِ ؟ قَالَتْ : أَنَا خَوْدُ زَوْجَتُكَ. فَلَمَّا مَدَدْتُ يَدَيَّ ، قَالَتْ: عَلىٰ رِسْلِكَ، إِنَّكَ سَتَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهْرِ . فَبَكَيْتُ . فَحِيْنَ فَرَغْتُ مِنْ كَلَامِهَا، سَمِعْتُ صَلْصَلَةً عَنْ يَسَارِيْ. فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ مِثْلِهَا فَوَصَفَ نَحْوَ ذٰلِكَ فَصَنَعَتْ كَمَا صَنَعَتْ صَاحِبَتُهَا. فَضَحِكْتُ حِيْنَ ذَكَرْتُ الْمَرْأَةَ ، وَقَعَدَتْ عَنْ يَسَارِيْ، فَمَدَدْتُ يَدَيَّ. فَقَالَتْ: عَلىٰ رِسْلِكَ، إِنَّكَ تَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهْرِ . فَبَكَيْتُ. قَالَ: فَكَانَ قَاعِدًا مَعَنَا يُحَدِّثُنَا. فَلَمَّا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ مَالَ. فَمَاتَ . الجهاد لابن المبارک ج ١ ص ١١٨ رقم ١٤٥ .

# د حورو صفت اَوريدو سره اُمِّ ابراهيم هاشميه خپل نِياز بِين ځوي جهاد ته ليږل

علامه ابو جعفر احمد رحمه الله په خپل كتاب " تَنْبِيهُ ذَوِي الْأَقْدَار عَلَى مَسَالِكِ الْأَبْرَار " كې او علامه ابن نحاس رحمه الله په " مَشَارِعُ الْأَشْوَاق " كې دا واقعه رانقل كړې چې د بَصرې په ښار كې يو څو عبادت ګُزارې زَنانه وې ، په هغې كې يوه اُمِّ ابراهيم هاشميه هم وه ، په دغه ورځو كې كافرانو د مسلمانانو په يو سَرحد باندې حمله اوكړه ، خلقو د جهاد د پاره تياري شروع كړو ، علماء كرامو هم خلقو ته د جهاد په باره كې تقريرونه كول ، شيخ عبدالواحد بن زيد بصري رحمه الله په يو مَجمع كې خلقو ته د جهاد په باره كې زبردست تقرير اوكړو ، په دې تقرير كې ده د قرآن كريم ، احاديثو او بهترينو قصيدو په ذريعه خلقو ته د جهاد ترغيب وركړو ، د مجاهدينو او شهيدانو د پاره يې د جنت د نِعمتونو او حُورو تذكره اوكړه ، ورسره يې د حُورو په حُسن و جمال او ښائست باندې بهترينه قصيده هم وويله ، په دې اشعارو كې د جنّتي حُورو ډير ښه صفتونه بيان شوي وو . (١) په دې سره د مجلس په خلقو كې د جهاد او شهادت سخته جَذبه راپيدا شوه .

په دې مجلس كې اُمِّ ابراهيم هم ناسته وه ، دې چې د حُورِعين ښائسته صفت واوريد نو سمدستي راپاڅيده ، شيخ عبدالواحد ته راغله ، او ورته وې ويل :

اې ابوعبيد ( عبدالواحَد ) ! آيا ته زما ځوې پيژنې ؟ د بصرې لوي لوي سردارانو هغه ته د خپلو لورانو د نكاح پيغام راليږلى خو ما د هيچا پيغام ندې قبول كړې :

فَقَدْ وَاللهِ أَعْجَبَتْنِيْ هٰذِهِ الْجَارِيَةُ ، وَأَنَا أَرْضَاهَا عِرْسًا لِوَلَدِيْ . فَكَرِّرْ مَا ذَكَرْتَ مِنْ حُسْنِهَا وَجَمَالِهَا .

قَسَم په الله ، تا چې ددې جينۍ ( حُورې ) كوم صفت اوكړو دې خو زه حيرانه كړم ، زما خوَښه ده چې دا زه خپل ځوي ته په نكاح كړم ، خو تا چې ددې حُورې كوم حُسن و جمال ذكر كړو ( مهرباني اوكړه ) هغه بيا ذكر كړه .

---

(١) هغه اشعار په مشارع الاشواق ج١ ص ٢١٦ كې ذكر دي .

Scanned with CamScanner

شیخ عبدالواحد په نورو أشعارو کې ددې حورې صفت په ډیر بهترین انداز کې ذکر کړو ، خلقو چې د حُورې دا صفتونه واوریدل نو جذبه یې نوره هم زیاته شوه ، اُمِّ ابراهیم راوړاندې شوه او عبدالواحد ته یې وویل :

قسَم په الله ، زه خو دې حُورې ډیره حېرانه کړم ، زما خوښه ده چې ددې واده د خپل ځوي سره اوکړم ، آیا ته دا کولې شی چې ددې حُورې نکاح زما د ځوي سره اوکړې او ددې په عِوض کې د مانه لس زره ( ۱۰۰۰۰ ) دِیناره واخلی ؟ ( او دا په جهاد کې خرچ کړی ) :

وَيَخْرُجُ مَعَكَ فِيْ هٰذِهِ الْغَزْوَةِ فَلَعَلَّ اللهُ يَرْزُقُهُ الشَّهَادَةَ ، فَيَكُوْن شَفِيْعًا لِيْ وَ لِأَبِيْهِ فِي الْقِيَامَةِ.

او زما ځوي ( ابراهیم ) به د تاسره دې غزا ته لاړ شي ، کیدې شي چې الله تعالی ورته د شهادت اُوچته مرتبه ورکړي ، او دا به د قیامت په ورځ زما او د خپل پلار د پاره شفاعت کوونکې اوګرځي .

شیخ عبدالواحد ورته وویل : که چیرته تا دا کار اوکړو نو یقینًا چې ته ، ستا ځوي ، او دده پلار به کامیاب شی .

بیا دې ښځې خپل ځوي ته آواز اوکړو : يَا اِبْرَاهِيْمُ ! اې ابراهیم !

دې آواز اُوریدو سره د خلقو د مینځ نه یو ښائسته ځوان راپاڅید ، او وې ویل :

لَبَّيْكَ يَا أُمَّاهُ. اې مورې ! زه حاضریم .

مور ورته وویل :

أَيْ بُنَيَّ ! أَرَضِيْتَ بِهٰذِهِ الْجَارِيَةِ زَوْجَةً بِبَذْلِ مُهْجَتِكَ فِيْ سَبِيْلِهِ وَتَرْكِ الْعَوْدِ فِي الذُّنُوْبِ ؟

اې بچیه ! آیا ته په دې جینۍ ( حُوره ) باندې راضي یې چې دا ستا بي بي شي په دې شرط چې ته به د الله ﷻ په لار کې خپل ځان قرباني کوې او ګناهونو ته به نه راواپس کیږې ؟

ځوي ورته وویل : اې مورې قسَم په الله ، زه په دې باندې پوره راضي یم . مور یې وویل :

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُشْهِدُكَ أَنِّيْ زَوَّجْتُ وَلَدِيْ هٰذَا مِنْ هٰذِهِ الْجَارِيَةِ بِبَذْلِ مُهْجَتِهِ فِيْ سَبِيْلِكَ وَتَرْكِ الْعَوْدِ فِي الذُّنُوْبِ فَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

Scanned with CamScanner

اې الله ! زه تا ګواه کوم چې ما ددې خپل ځوي نکاح ددې حُورې سره په دې شرط اوکړه چې دا به ستا په لار " جهاد " کې خپل ځان قربانوي ، او ګناهونو ته به نه راواپس کيږي ، پس اې أرحمُ الرّاحمين ذات ! ته دا د مانه قبول کړه .

شيخ عبدالواحد وايي چې ددينه پس اُمِّ ابراهيم لاړه ، لس زره ( ١٠٠٠٠ ) دِيناره يې راوړل ، ماته يې راکړل ، او راته وې ويل چې دا د هغه حُورې مهَر دی په دې باندې د مجاهدينو د پاره آسلحه وغيره واخله .

اُمِّ ابراهيم واپس لاړه ، خپل ځوي له يې بهترين آس او ښه آسلحه واخيسته ، ورله وَرپې کړه . شيخ عبدالواحد د جهاد د پاره لښکر سره روان شو ، ابراهيم هم په مَنډه راغی ، د دوی سره شريک شو ، د قرآن کريم قاريانو به ګېر چاپيره دا آيت په خوش آوازۍ سره لوستلو :

﴿ إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾ . (١)

ترجمه : بيشکه الله تعالی د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخيستي دي چې ددې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي .

اُمِّ ابراهيم هم د لښکر رُخصتولو د پاره راأووته ، کله چې د ځوي ( ابراهيم ) نه جدا کيده نو په دې وخت کې يې ځوي ته يو کفن او خوشبوئي ورکړه ، او ورته وې ويل :

اې بچيه ! چې کله ته په ميدانِ جنګ کې د دشمن سره د مخامخ کيدو اِراده اوکړې نو دا کفن واغونده ، دا خوشبوئي په ځان اُولړوه ، او ياد لره چې الله تعالی تا په جهاد کې سستي کوونکی او نه ګوري ( يعنی ښه په بهادرۍ سره اُوجنګيږه ) ، بيا يې خپل ځوي سِينې ته رانژدې کړو ، په تَندي يې ښکل کړو ، او وې ويل :

يَا بُنَيَّ ! لَا جَمَعَ اللّٰهُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ إِلَّا بَيْنَ يَدَيْهِ فِيْ عَرَصَاتِ الْمَيْدَانِ .

اې بچيه ! الله تعالی دې ما او تا په دُنيا کې بيا نه يو ځای کوي بلکه د قيامت په ميدان کې دې مونږ خپلې مخې ته يو ځای کړي .

شيخ عبدالواحدؒ وايي چې مونږ جهاد ته روان شو ، کله چې د دُښمن علاقې ته اُورسيدو

---

(١) التوبة آية ١١١ .

Scanned with CamScanner

او د جنګ اعلان اوشو ، خلق میدان ته را اُووتل ، نو په دې مخکینې کسانو کې ابراهیم هم وُ ، ده په دُشمن باندې داسې سخته حَمله اوکړه او دومره په بهادرۍ سره اُوجنګیدو چې ډیر کافران یې اُووژل ، آخر کافران دده نه ګېر چاپیره شو او دا یې هم شهید کړو .

کله چې د جنګ ختمیدو نه پس مسلمانانو ته فتح حاصله شوه او مونږ واپس بصرې ته د تللو اِراده اوکړه نو ما خپلو ملګرو ته وویل : تاسو اُمّ ابراهیم ته د ځوي د شهادت خبر مه ورکوئ بلکه زه به ورته په ښه طریقې سره تسلّي ورکړم ، هسې نه چې د بې صبرۍ په وجه د هغې اَجر ختم شي .

پس کله چې مونږ بصرې ته فاتحانه طریقې سره را اُورسیدو نو خلق زمونږ اِستقبال د پاره راوتلي وو ، په دې کې اُمّ ابراهیم هم راوتلې وه ، کله چې هغې زه اُولیدم نو راته وې ویل :

يَا اَبَا عُبَيْدٍ ! هَلْ قُبِلَتْ مِنِّيْ هَدِيَّتِيْ فَأَهْنَأُ اَمْ رُدَّتْ عَلَيَّ فَأُعَزِّى ؟

اې ابوعبید ( عبدالواحد ) ! که چیرته زما هدیه قبوله شوې وي چې زه خوشحاله شم ( د خلقو نه مبارکي واخلم ) ، او که راواپس شوې وي چې بیا زه غمخواري اوکړم ( او د خلقو نه تعزیت وصول کړم ) .

ما ورته وویل : قَدْ قُبِلَتْ وَاللهِ هَدِيَّتُکِ ، اِنَّ اِبْرَاهِيْمَ حَيٌّ مَعَ الْاَحْيَاءِ يُرْزَقُ .

قسَم په الله ، ستا هدیه قبوله شوې ، بیشکه ابراهیم حقیقي ژوندې دی ، د شهیدانو سره په جنت کې یو ځای خوراک څکاک کوي . (١)

اُمّ ابراهیم فورًا د شکریې اَداء کولو د پاره په سجده پریوته ، او وې ویل :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يُخَيِّبْ ظَنِّيْ وَتَقَبَّلَ نُسُكِيْ مِنِّيْ .

ټول تعریفونه هغه الله ﷻ لره دي چاچې زه نا اُمیده نکړم ، او د مانه یې زما قرباني قبوله کړه .

ددینه پس دا خپل کور ته لاړه . صبا سهَر د شیخ عبدالواحد جُمات ته راغله ، ده ته یې آواز اوکړو :

---

(١) د شهیدانو په باره کې الله تعالی فرمایي :

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ، بَلْ اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴾ . آل عمران آية ١٦٩ .

Scanned with CamScanner

اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا اَبَاعُبَيْدٍ بُشْرَاکَ.

اې ابوعبيد (عبدالواحد) ! په تا باندې دې سلام وي ، زه تاته د زيري د پاره راغلې يم.

عبدالواحد وايي ما ورته ووېل : الله تعالى دې تا هميشه خوشحاله کړي ، څه زيرې دی ؟ راته وې ويل : بيګاه شپه مې خپل ځوي " ابراهيم " په خوب کې اُوليد چې په يو ښائسته باغ کې وُ ، شنه چپَن يې اغوستې وه ، د ملغلرو په تخت باندې ناست وُ ، په سَر باندې يې قيمتي تاج وُ ، او ماته يې ووېل :

يَا اُمَّاهُ أَبْشِرِيْ فَقَدْ قبلَ الْمَهر ، وَزفَّتِ الْعَرُوْسُ.

اې مورې زيرې قبول کړه هغه مهر قبول کړې شو ، او د ناوې رُخصتي اوشوه ( يعنى زه ورسره ملاوُ شوم ) . (١)

بهر حال ، دا خبره ډيره اُوږده شوه ، ما هغه اعمال بيانول شروع کړي وو د کومو په وجه چې انسان د جنت د حُورو مستحق ګرځي ، په هغې کې يو شهادت هم وُ.

## ٨ . تهجّد مونځ کولو سره د جنت حُورې نصيب کيدل

څوک چې د شپې تهجد اداء کوي نو په دې سره دا سړی د جنت د حُورو مستحق ګرځي . (٢)

د دې په باره کې درته يو څو واقعات رانقل کوم :

١ . علامه قرطبي رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب " اَلتَّذْكِرَة بِأَحْوَالِ الْمَوْتَى وَأُمُوْرِ الْآخِرَة " کې دا واقعه رانقل کړی : حضرت ثابت رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې زما پلار به د شپې په تياره کې ولاړ وُ او د الله تعالى عبادت به يې ډير کولو ، هغه پخپله فرمايي : چې ما يوه شپه په خوب کې داسې يوه ښځه اُوليده چې هغه د دُنيا د ښځو په شان نه وه ، ما ورته پوښتنه اوکړه :

مَنْ أَنْتِ؟ ته څوک يې ؟

---

(١) تنبيه ذوى الاقدار على مسالک الابرار ، و مشارع الاشواق الى مصارع العشّاق ج١ ص ٢١٥ الباب الرابع فيما جاء في فضل التحريض على الجهاد في سبيل الله تعالى.

(٢) مهور الحور العين: طول التهجد وهو حاصل في رمضان أكثر من غيره . لطائف المعارف لابن رجب ج ١ ص ١٥٩ وظائف شهر رمضان المعظم المجلس الأول : في فضل الصيام

Scanned with CamScanner

هغې ووېل : زه حُوره يم د الله وِينځه (بنده) يم .

ما ورته ووېل : د ماسره نكاح اوكړه . نو هغې راته ووېل : د الله تعالى د وړاندې زما د نكاح پيغام پيش كړه او زما مَهر اداء كړه .

ما ورنه پوښتنه اوكړه : وَمَا مَهْرُكِ ؟ ستا مَهر څه شى دى ؟

هغې راته ووېل :

طُوْلُ التَّهَجُّدِ . اُوږه اُوږده تهجد كول . (١)

٢ . يحيٰى بن عيسٰى سعدي رَحِمَهُ اللَّهُ د الله تعالى په شوق كې شپيته (٦٠) كاله اُوژړل ، هغه پخپله فرمايي چې يوه شپه ما خوب اُوليد گويا چې د خالصه مشكو يو نهر بهيږي ، ددې غاړو ته د ملغلرو اُونې وى ، څانگې يې د سروزرو وى ، ددې سره څه ښائسته حسينې جينكۍ هم وى ، هغوى ټولو په يو آواز باندې دا ويل :

سُبْحَانَ الْمُسَبَّحِ بِكُلِّ لِسَانٍ . سُبْحَانَ الْمَوْجُوْدِ بِكُلِّ مَكَانٍ . سُبْحَانَ الدَّائِمِ فِيْ كُلِّ زَمَانٍ ، سُبْحَانَهُ سُبْحَانَهُ .

---

(١) ويروى عن ثابت رَحِمَهُ اللَّهُ أنه قال: كان أبي من القوامين لله في سواد الليل، قال: رأيتُ ذات ليلة في منامي امرأةً لا تشبه النساء، فقلتُ لها: مَنْ أَنْتِ ؟ فقالت حوراء أمة الله . فقلت لها: زَوِّجِيْنِيْ نَفْسَكِ، فقالت: اخطبني من عند ربي وأمهرني فقلت: وَمَا مَهْرُكِ ؟ فقال: طُوْلُ التَّهَجُّدِ . وأنشدوا :

يا خاطب الحور في خدرها ✡ وطالبًا ذلك على قدرها
انهض بجد لا تكن وانيًا ✡ وجاهد النفس على صبرها
وجانب الناس وارفضهم ✡ وحالف الوحدة في ذكرها
وقم إذا الليل بدا وجهه ✡ وصم نهارًا فهو من مهرها
فلو رأت عيناك إقبالها ✡ وقد بدت رمانتا صدرها
وهي تماشي بين أترابها ✡ وعقدها يشرق في نحرها
لهان في نفسك هذا الذي ✡ تراه في دنياك من زهرها

اَلتَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ٩٨٩.

Scanned with CamScanner

پاكي ده هغه ذات لره چې په هره ژبه كې د هغه پاكي بيانولې شي، پاكي ده هغه ذات لره چې هغه په هر ځاى كې موجود دى، پاكي ده هغه ذات لره چې هغه په هره زمانه كې موجود دى، هغه لره پاكي ده، هغه لره پاكي ده.

ما ورنه پوښتنه اوكړه: مَنْ أَنْتُنَّ ؟ تاسو څوك يَى ؟

هغوى وويل: مونږ د الله تعالى په مخلوقاتو كې يو مخلوق يو. هغه لره پاكي ده.

ما ورنه پوښتنه اوكړه: تاسو دلته څه شى كوئ؟ هغوى وويل:

ذَرَأَنَا إِلَهُ النَّاسِ رَبُّ مُحَمَّدٍ ✡ لِقَوْمٍ عَلَى الْأَقْدَامِ بِاللَّيْلِ قُوَّمُ

مونږ د خلقو مَعبود او د محمد ﷺ رَب د هغه خلقو د پاره پيدا كړي يو چې هغوى د شپې (د الله تعالى د عبادتّ د پاره) په (خپلو) قدمونو باندې ولاړ وي.

يُنَاجُوْنَ رَبَّ الْعَالَمِيْنَ لِحَقِّهِمُ ✡ وَتسرِيْ هُموم الْقَوْمِ وَالنَّاسُ نُوَّمُ

دوى د ربّ العالمين سره د خپل حق د پاره مناجات كوي، د دوى فكرونه (د الله تعالى په شوق كې) روان وي حالانكه نور خلق اُوده وي.

ما ورته وويل: دا خو ډيره د خوشحالى خبره ده. دا خلق څوك دي؟ يقينًا الله تعالى د هغوى سترگې په تاسو باندې يَخې كړي.

هغوى وويل: آيا ته دوى نه پيژنى؟ ما ورته وويل: قسَم په الله، زه دوى نه پيژنم. نو هغوى وويل:

هَؤُلَاءِ الْمُتَهَجِّدُوْنَ بِاللَّيْلِ، أَصْحَابُ السَّهر.

دا هغه خلق دي چې هغوى د شپې تهجد كوي، او شپې ويخې تيروي. (١)

---

(١) و روي عن يحيى بن عيسى بن ضرار السعدي وكان قد بكى شوقًا إلى الله ستين عامًا، قال: رأيتُ كأنّ ضَفَّة نهرٍ يجري بالمسك الأذفر، حافتاه شجر اللؤلؤ ونبت من قضبان الذهب، فإذا بجوار مُزَيَّنَاتٍ يقلن بصوت واحد: سُبْحَانَ الْمُسَبَّحِ بِكُلِّ لِسَانٍ. سُبْحَانَ الْمَوْجُوْدِ بِكُلِّ مَكَانٍ. سُبْحَانَ الدَّائِمِ فِيْ كُلِّ زَمَانٍ، سُبْحَانَهُ سُبْحَانَهُ. قال: فقلتُ: مَنْ أَنْتُنَّ ؟ قلن: خلق من خلق الله سبحانه، قلتُ: وما تصنعن ها هنا؟ فقلن:

ذَرَأَنَا إِلَهُ النَّاسِ رَبُّ مُحَمَّدٍ ✡ لِقَوْمٍ عَلَى الْأَقْدَامِ بِاللَّيْلِ قُوَّمُ ←←←

ددينه علاوه نور ډير داسې واقعات هم شته چې د هغې نه دا معلومېږي چې څوک د شپې تهجد کوي نو په دې سره دا د جنت د حُورو مستحق ګرځي. (١)

## ٩. د قرآن کريم په تلاوت سره د جنت حُورې نصيب کيدل

د قرآن کريم په تلاوت سره هم انسان د جنت د حُورو مستحق ګرځي.

١. علامه قرطبي رَحِمَهُ اللهُ دا واقعه رانقل کړې: محمد بن نعمان مقري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې زه په مکه معظمه مسجدِ حرام کې د جلا مقري رَحِمَهُ اللهُ سره ولاړ ووم، په دې وخت کې په مونږ باندې يو اُوږد قد واله، کمزوري جسم واله کس تير شو چې په هغه باندې زړې کپړې وې. جلامقري رَحِمَهُ اللهُ هغه ته ورپاڅيد، د هغه سره لږ وخت اُودريد، بيا مونږ ته راغی، او پوښتنه يې رانه اوکړه:

---

←←←← يُنَاجُوْنَ رَبَّ الْعَالَمِيْنَ لِحَقِّهِمْ ✡ وَتسرِيْ هُموم الْقَوْمِ وَالنَّاسُ نُوَّمُ

فقلت: بخ. بخ لهو مَنْ هٰؤُلَآءِ ؟ . لقد أقرّ اللهُ أعينهم بِكُنَّ. فقلن: أما تعرفهم؟ فقلتُ: والله ما أفهم. قلن: هٰؤُلَاءِ الْمُتَهَجِّدُوْنَ بِاللَّيْلِ، أَصْحَابُ السَّهر. اَلتَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ٩٩١. عيون الحكايات لابن الجوزي ص ٣٤٣.

(١) قال مضر القارئ رَحِمَهُ اللهُ: غلبني النوم ليلة، فنمتُ عن حزبي، فرأيتُ في منامي فيما يرى النائم جارية كأنّ وجهها القمر المستتم ومعها رق، فقالت: أتقرأ أيها الشيخ؟ قلت: نعم، فقالت: اقرأ هذا الكتاب، ففتحه فإذا فيه مكتوب: فو الله ما ذكرته قط إلا ذهب عني النوم.

ألهتك اللذائذ والأماني ✡ عن الفردوس والظل الدواني
ولذة نومة عن خير عيش ✡ مع الخيرات في غرف الجنان
تيقظ من منامك إن خيرا ✡ من النوم التهجد بالقران

اَلتَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ٩٩٠.

و روى عن سحنون أنه قال: كان بمصر رجل يقال له سعيد، وكانت له أمّ من المتعبدات، وكانت إذا قام من الليل يصلي تقوم والدته خلفه، فإذا غلب عليه النوم ونعس تناديه والدته: يا سعيد إنه لا ينام من يخاف النار ويخطب الحور الحسان. فيقوم مرعوبًا. اَلتَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ٩٨٩.

Scanned with CamScanner

هَلْ تَعْرِفُوْنَ مِنْ هَذَا الشَّيْخِ ؟ آیا تاسو دا شیخ پیژنی ؟
مونږ ورته وویل : نه ( مونږ دا نه پیژنو ) .
ده راته وویل : اِبْتَاعَ مِنَ اللهِ حَوْرَاءَ بِأَرْبَعَةِ آلَافِ خَتْمَةٍ .
دا هغه کس دی چې ده د الله تعالی نه د قرآن کریم په څلورزره ( ۴۰۰۰ ) ختمونو باندې د جنت حُوره اخیستې ده .
کله چې ده دا ختمونه پوره کړل نو هغه حُوره یې په ښائسته زیوراتو او ښائسته کپړو کې اُولیده ، پوښتنه یې ورنه اوکړه : مَنْ أَنْتِ؟ ته څوک یی ؟
هغې ورته وویل :
أَنَا الْحُوْرُ الَّتِيْ اِبْتَعْتَنِيْ مِنَ اللهِ تَعَالَى بِأَرْبَعَةِ آلَافِ خَتْمَة ، هَذَا الثَّمَنُ فَمَا نَحْلَتِيْ أَنَا مِنْكَ ؟
زه هغه حوره یم چې تا د الله تعالی نه په څلور زره ( ۴۰۰۰ ) ختمونو باندې اخیستې یم .
دا خو زما قیمت شو ، اوس به ته ما ته تحفه ( او مَهر ) څه شی راکوی ؟
ده ورته وویل : د قرآن کریم زر ( ۱۰۰۰ ) ختمونه .
جلا مقري رَحِمَهُ اللهُ خپلو ملګرو ته وویل : اوس دا د هغې زر ( ۱۰۰۰ ) ختمونو په پوره کولو کې لګیا دی . (۱)

۳ . مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ فرمایي : زما ( د قرآن کریم ) څه وظائف داسې وو چې ما به دا په هره شپه لوستل ، پس یوه شپه زه بغیر ددې وظائفو ویلو نه اُوده شوم . په خوب کې مې یوه ډیره ښائسته جینۍ اُولیده ، د هغې په لاس کې یو کاغذ ؤ ، هغې د ما نه پوښتنه اوکړه :

---

(۱) قال محمد بن النعمان المقري رَحِمَهُ اللهُ : كنتُ قاعدًا عند الجلا المقرى بمكة في المسجد الحرام إذ مرّبنا شيخٌ طويلٌ ، نحيل الجسم ، عليه أطمار خلقة ، فقام إليه الجلا ووقف معه ساعة ثم انصرف إلينا فقال : هَلْ تَعْرِفُوْنَ مِنْ هَذَا الشَّيْخِ ؟ فقلنا: لا. فقال: اِبْتَاعَ مِنَ اللهِ حَوْرَاءَ بِأَرْبَعَةِ آلَافِ خَتْمَة ، فلمّا أكملها رآها في المنام في حليها وحللها فقال: مَنْ أَنْتِ ؟ فقالت: أنا الحور التي ابتعتني من الله تعالى بأربعة آلاف ختمة هذا الثمن فما نحلتي أنا منك ؟ قال: ألف ختمة . قال الجلا: فهو يعمل فيها بعد. التذكرة بأحوال الموتى وأمور الآخرة بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ۹۸۹ .

Scanned with CamScanner

أَتُحْسِنُ أَنْ تَقْرَأَ؟ آیا ته صحیح طریقې سره خط لوستلې شې؟
ما ورته وویل: آو (لوستلې یې شم). نو هغې ماته هغه کاغذ راکړو، (ما چې اُوکتل) نو په دغه کاغذ کې دا اشعار لیکل شوي وو:

لَهَاكَ النَّوْمُ عَنْ طَلَبِ الْأَمَانِيْ ✿ وَعَنْ تِلْكَ الْأَوَانِسِ فِي الْجِنَانِ

خوب ته مشغوله کړې یې د طلب کولو د آرزوګانو (جنتونو) نه، او د هغه محبت کوونکو ځوانو جینکو نه کومې چې په جنت کې دي.

تَعِيْشُ مُخَلَّدًا لَا مَوْتَ فِيْهَا ✿ وَتَلْهُوْ فِي الْخِيَامِ مَعَ الْحِسَانِ

ته به په جنت کې همیشه ژوند تیروې، او ته به په خېمو کې د ښائسته جینکو سره مشغولیږې.

تَنَبَّهْ مِنْ مَنَامِكَ إِنَّ خَيْرًا ✿ مِنَ النَّوْمِ التَّهَجُّدُ بِالْقُرْآنِ

ته د خپل خوب نه راببدار شه؛ ځکه د خوب نه په تهجدو کې د قرآن کریم لوستل ډیر بهتر دي.(۱)

# د حُورو صفت اَوریدو سره د غفلت نه توبه ویستل، او عبادت طرف ته متوجِّه کیدل

مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللّٰهُ یوه ورځ د بَصرې په کوڅو کې روان ؤ، په دې وخت په لاره باندې د بادشاه یوه ښائسته وینځه تیریده چې د هغې سره ډیر خادمان او نوکران ؤ، مالِک بن دِینار رَحِمَهُ اللّٰهُ چې وَر اُوکتل نو ډیره په جاه و جلال کې روانه وه.

---

(۱) قال مالك بن دينار رَحِمَهُ اللّٰهُ: كان لي أحزابٌ أقرؤها كل ليلة. فنمتُ ذات ليلة. فإذا أنا في المنام بجارية ذات حسن وجمال. وبيدها رقعة. فقالت: أَتُحْسِنُ أَنْ تَقْرَأَ؟ فقلت: نعم. فدفعت إلي الرقعة. فإذا فيها مكتوب هذه الأبيات: لَهَاكَ النَّوْمُ عَنْ طَلَبِ الْأَمَانِيْ ✿ وَعَنْ تِلْكَ الْأَوَانِسِ فِي الْجِنَانِ
تَعِيْشُ مُخَلَّدًا لَا مَوْتَ فِيْهَا ✿ وَتَلْهُوْ فِي الْخِيَامِ مَعَ الْحِسَانِ
تَنَبَّهْ مِنْ مَنَامِكَ إِنَّ خَيْرًا ✿ مِنَ النَّوْمِ التَّهَجُّدُ بِالْقُرْآنِ
اَلتَّذْكِرَة بأحوال الموتى وأمور الآخرة بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الْأَعْمَالَ الصَّالِحَةَ مُهُوْرُ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ص ۹۹۰.

(دا مسئله یاده کړئ چې څوک د وینځې اخیستلو اِراده لري نو دده د پاره هغه وینځې ته کتل جائز دي ).

مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللَّهُ هغې وینځې ته آواز اوکړو ، او ورته وې ویل :

آیا ستا مالِک تا لره خرڅوي چې زه دې واخلم ؟

وینځې چې ده طرف ته اُوکتل نو اګر چې دده په بدن باندې پخوانۍ چُوغه وه ، ظاهري شکل یې د فقیرانو وُ خو لیکن په مخ کې یې نُورانیت وُ ، نو وینځې دده نه پوښتنه اوکړه :

ته بیا خپله خبره تکرار کړه ، تا څه وویل :

ده ورته وویل : آیا ستا مالِک تا لره خرڅوي چې زه دې واخلم ؟

وینځې ورته وویل : که چیرته بِالفرض زما مالِک ما خرڅوي نو ستا په شان غریب سړی خو ما نشي اخیستی .

ده ورته وویل : زه د تا نه بهترینه وینځه اخیستې شم .

وینځې چې دا خبره واوریده نو په خندا شوه ، خپلو نوکرانو ته یې حکم اوکړو چې دا د ځان سره راولئ .

کله چې دا وینځه خپل کور ته اُورسیده ، نو مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللَّهُ یې بهر په دَروازه کې اُودرول ، او پخپله کور ته دَننَه شوه .

بادشاه ته یې وویل چې : نن مې یوه عجیبه خبره واوریده ، هغه دا چې په لاره راروانه ووم نو یو فقیر اُولیدم ، راته وې ویل چې که ستا مالِک تا خرڅوي چې زه دې واخلم ؟

هغه بادشاه ډیر اُوخندل ، او وې ویل : هغه چیرته دی چې زه یې هم اوګورم ؟ وینځې ورته وویل : هغه ما د ځان سره راوستې دی ، بهر په دروازه کې ولاړ دی .

بادشاه هغه رااُوغوښت ، او پوښتنه یې ورنه اوکړه : تا څه خبره کوله ؟ ده ورته وویل : دا وینځه په ما خرڅوی چې زه یې واخلم ؟

بادشاه ورته وویل : آیا تا سره دومره دولت شته چې ته پرې دا واخلې ؟ دا خو ډیره زیاته قیمتي ده .

مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللَّهُ ورته وویل : قسَم په الله ، چې دا زما په نزد د قجورو دوه زَړو هډوکو هومره قیمت هم نه لري .

Scanned with CamScanner

بادشاه چې دا خبره واوریده نو ډیر یې اُوخندل، پوښتنه یې ورنه اوکړه چې : دا ولې ستا په نزد دومره بې قیمته ده ؟

ده ورته وویل : په دې کې ډیر زیات عیبونه دي ، او عیب دار څیز خلق دومره ګران نه اخلي . بادشاه ورته وویل : په دې کې څه څه عیبونه دي ؟

ده ورته وویل : په دې کې ظاهري او باطني دواړه عیبونه شته ، ظاهري عیبونه یې دا دي :

که چیرته دا عطر استعمال نکړي نو بَدبُوئي به ورنه ځي ، که غاښونه صفا نکړي نو د خُلې نه به یي خراب بُوئی ځي ، که اُو نه لامبي نو بدن به یې ډیر خیرَن وي ، که ویښتان اُو نه وینځي نو په سَر کې یې سپَګې کیږي ، که ویښتان غوړ او ګومَنز نکړي نو بَدرَنګه به معلومیږي ، که عُمر یې زیات شي نو بُوډۍ به معلومیږي بیا به د هیڅ کار نه وي ، حیض نِفاس او نورو بیماریانې وړاندې راځي ، تَش اَودس ماتې او ډک اَودس ماتې کوي ، بَلغم او نوره ګندګي یې د بدن نه خارجیږي ، د دُنیا غمونه او تکلیفونه وړاندې راځي . دا یې ظاهري عیبونه شو .

او باطني عیبونه یې دا دي چې دا که د تا سره محبت کوي نو د خپل غرَض د پاره یې کوي، په دې کې وَفاء نشته ، ځکه که ته وفات شې نو د تا نه پس چې دا چاته په میراث کې پاتې شي نو د هغه سره به هم دغه شان محبت کوي . دا په خپل محبت کې صادقه نه ده .

بیا مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللهُ وویل : ماته داسې ښائسته ښځه ( حُوره ) معلومه ده چې هغه د دې ټولو عیبونو نه خالي ده ، او د هغې حاصلول هم آسان دي . هغه د مشکو ، کافورو او زعفرانو نه جوړه شوی ، د هغې د خُلې لاړې داسې خوَږې او مزیدارې دي چې که هغه دا په سمندر کې واچوي نو ټول سمندر به خوږ شي . که هغه د یو مړي سره خبرې اوکړي نو مړی به سمدست راژوندې شي ، که د هغې مخ د نمر د وړاندې ښکاره شي نو نمر به بې نُوره شي ، که هغه په تیاره کې راښکاره شي نو هر طرف به رَڼا شي ، که د هغې زیورات او کپړې دُنیا ته راښکاره شي نو ټوله دُنیا به مُنوّره شي ، که د هغې زلفې دُنیا ته راښکاره شي نو ټوله دُنیا به مُزَیّنَه او مُعطّره شي ، د مشک او زعفرانو په باغونو او یاقوت و مرجان په څانګو کې د هغې پَرورَش شوی . د جنت د تَسنِیم چینې نه هغې ته اُوبه ورکړل شوي ، هغه به هیڅ کله نه زړیږي ، د هغې ښائست به هیڅ کله نه ختمیږي ، د هغې په محبت کې به هیڅ کله بې وَفائي نه

Scanned with CamScanner

راځي.

مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللّٰه چې د بادشاه د وړاندې د جنت د حُورې دا صفات بیان کړل نو هغه ډیر متأثر شو، او وې ویل: یقینًا چې دا تا د کومې ښځې صفتونه بیان کړل ددې حاصلول په کار دي.

بیا بادشاه د مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللّٰه نه پوښتنه اوکړه: دا تا چې د کومې ښځې صفتونه بیان کړل ددې قیمت څه شی دی؟ او دا څوک حاصلولې شي؟

ده ورته وویل: ددې ډیر معمولي قیمت دی، او هر کس یې حاصلولې شي.

بیا یې بادشاه ته وویل: ددې قیمت دادی چې ته یو څو کارونه کوه:

د شپې په څه حصه کې راپاڅه او خاص د الله د رَضا د پاره دوه رکعته مونځ کوه، چې ستا مخې ته خوراک کیخودې شي نو د غریبانو حصه په کې هم کوه، د قرآن کریم تلاوت او ذِکر کوه، د لارې نه د تکلیف واله څیز لرې کوه، د فقیرۍ ژوند تیروه، د دُنیا د حِرص او محبت نه ځان ساته، دُنیوي اَسباب صرف د ضرورت په مقدار ساته، په دُنیا کې د قناعت واله ژوند تیروه، نو ددې نتیجه به دا وي چې ته به په دُنیا کې په اِطمینان او سکون باندې یې، او په آخرت کې به د جنت په دائمي خوشحالو کې یې.

بادشاه چې دا خبرې واوریدې نو خپلې وینځې ته یې اُوکتل او پوښتنه یې ورنه اوکړه: تا ددې شیخ خبرې واوریدې، آیا دا ریښتیا وایي او که دروغ؟ وینځې ورته وویل: په الله قسَم چې دا ریښتیا وایي او د خېرخواهۍ خبره کوي.

بادشاه وویل: که خبره همدا وي نو بیا ته د الله ﷻ د رَضا د پاره آزاده یې، او زما فلانۍ فلانۍ زمکه او مال و دولت هم ستا شو، بیا بادشاه خپل غلامان هم آزاد کړل، او د کور مال یې په فقیرانو باندې صدقه کړو، د فخر لباس یې اُوویست او ساده کپړې یې واغوستې.

وینځې چې دا حالت اُولید نو وې ویل: اې زما آقا! د تا نه پس زما د ژوند څه خوَند نشته، زه هم د تاسره عبادت طرف ته متوجّه کیږم، دې هم د فخر لباس اُوویست او ساده کپړې یې واغوستې.

مالک بن دِینار رَحِمَهُ اللّٰه دې دواړو ته د خېر دُعا اوکړه، او ورنه روان شو.

Scanned with CamScanner

دوی دواړو هم د الله تعالی عبادت شروع کړو ، او تر آخري عُمره پورې یې بهترین عبادت اوکړو . (۱)

# کومه ښځه چې په دُنیا کې خپل خاوند ته تکلیف رسوي نو د جنت حُوره دې ښځې ته خبرې کوي

د ترمذي شریف او ابن ماجة شریف حدیث دی ، رسولُ الله ﷺ فرمایي : کومه ښځه چې په دُنیا کې خپل خاوند ته تکلیف رسوي نو په جنت کې چې ددې سړي د پاره د حُورو نه کومه بي بي ده هغه د دُنیا دې ښځې ته وایي :

لَا تُؤْذِيهِ ، قَاتَلَكِ اللهُ ، فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيلٌ ، يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا .

الله تعالی دې تا هلاکه کړي دَه ته ضَرَر مه رسوه ، دا خو د تا سره د یو څو ورځو میلمه دی ، قریبه ده چې په نزدې ورځو کې به دا د تا نه جدا شي او مونږ ته به راشي . (۲)

## د غونډ تقریر خلاصه

د غونډ تقریر خلاصه دا راأووته چې جنّتیانو ته په جنت کې کوم نعمتونه ورکولې شي په هغې کې یو نِعمت حُورې هم دي .

دا حُورې به د ښائسته غټو سترګو واله وي ، د پاکدامنۍ په وجه به خپل نظر ښکته ساتونکي وي ، د بهترینو اخلاقو او ښائسته مخونو واله به وي ، په قیمتي خېمو کې به محفوظې وي ، ددې خپل خاوند نه مخکې په انسانانو او پیریانو کې به هیچا هغې ته لاس نه وي وَروړی ، د یاقوتو مَرجان او ملغلرو په شان به ښائسته وي ، د جنتي همزولې به وي .

---

(۱) روض الرياحين .

(۲) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَا تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا ، إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الحُورِ العِينِ : لَا تُؤْذِيهِ ، قَاتَلَكِ اللهُ ، فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيلٌ ، يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا " . سنن الترمذي رقم الحديث ۱۱۷۴ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ . وقال الالباني : صحيح . سنن ابن ماجة كِتَابُ النِّكَاحِ بَابٌ فِي المَرْأَةِ تُؤْذِي زَوْجَهَا رقم الحديث ۲۰۱۴ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۱۰۱ . مشكاة المصابيح كتاب النِّكَاحِ بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ الفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۳۲۵۸(۲۱) .

Scanned with CamScanner

دا حُورې به دومره ښائسته وي چې که چیرته دُنیا ته راښکاره شي نو غونده دُنیا به رُوښانه او مُعطره کړي ، د هغې مخ به دومره صفا وي چې جنتي ته به د هغې په آئنګو کې خپل مخ ښکاري ، که یو لاس دُنیا ته راښکاره کړي نو د دُنیا ټول مخلوقات به د هغې د حُسن په وجه په فِتنه کې واقع شي ، په بدن به یې اُویا (٧٠) جوړه قیمتي کپړې وي خو د ډیر ښائست په وجه به یې په کپړو کې دننه د هډوکو نَلي هم ښکاري .

د هغې د سَر لوپټه به دومره قمیتي وي چې د دُنیا او مَافِیهَا نه به ډیره بهتره وي ، که دغه لوپټه دُنیا ته راښکاره کړي نو د هغې د ښائست په وجه به د نمر رَڼا تَتَه شي .

د هغې هر اندام به د بل نه ښائسته وي ، او مخ به یې د ټولو نه ډیر ښائسته وي ، غاښونه به یې هم دومره ښائسته وي چې د خندا په وخت به ورنه رَڼا خوریږي .

د حُورو نه به داسې ښائسته خوشبوئي ځي چې د پنځه سوه (٥٠٠) کاله مسافت په اندازه به د لرې نه محسوسیږي .

د جنت حُورې به د خپلو خاوندانو د وړاندې په ښائسته انداز باندې سندرې وایي چې په دې سره به دې جنتي ته ډیره خوشحالي او لِذّت محسوسیږي .

دې دُنیوي ښځو ته به هم الله تعالی په جنت کې ډیر ښائست او ځواني ورکړي ، دوی ته به د نېکو اعمالو په وجه د جنت په حورو باندې ډیر فضیلت حاصل وي ، دا به د جنتي حُورو سرداري وي .

جنتیانو ته به "لُعبه" حورې هم ورکولې شي ، دا به داسې ښائسته وي چې د جنت نورې حُورې به ددې د ښائست په وجه تعجّب کوي . همدارنګې جنتیانو ته به "عَیناء" حورې هم ورکولې شي .

"حورِ عِین" به د جنت په دَروازه کې د خپلو خاوندانو استقبال کوي ، دا به د خپل خاوند د وړاندې په ډیر ناز و نخرو سره ګرځي چې په دې سره به جنتي ته ډیر لِذّت او خوشحالي حاصلیږي . دا حُورې به د مشک زَعفران او کافورو نه جوړې شوې وي .

هر جنتي ته به د خپلې مرتبې موافق په زرهاؤ او لکونو په تعداد باندې حورې ورکولې شي . بیا به هر جنتي ته د سلو (١٠٠) کسانو د خوراک ، څکاک او کوروالي قوّت هم ورکولې شي . جنتي ته به دومره زیات قوّت ورکولې شي چې په لږ وخت کې به ډیرو حورو

ته د نژدې کیدو قوّت لري خو په دې سره به په دې کې هیڅ کمزوري نه راځي. او د جنت ښځې به هم همیشه باکرې وي.

په جنت کې به جنتي ته د خپلې بي بي او حورو نه د بچو پیدا کیدو خواهش نه پیدا کیږي خو که بِالفرض پیدا شي نو په لږ وخت کې به دده خواهش پوره شي.

په جنت کې به د جنتیانو د خدمت د پاره د ملغلرو په شان داسې ښائسته هلکان وي چې ټول عُمر به ځوانان وي، هیڅ کله به نه بوډاګان کیږي، کله چې دوی خدمت کوي نو د خوَرو وَرو ملغلرو په شان به ښائسته معلومیږي، دوی به په جنتیانو باندې د صفا شرابو ډک جامونه او ګلاسونه ګرځوي، همدارنګې دوی به جنتیانو ته د سروزرو او سپینوزرو په رکیبو کې مختلف قِسمه نعمتونه راوړي. د آدنٰی جنتي د پاره به په زرهاؤ خادمان وي نو د اعلٰی د پاره خو به بې شماره وي.

لهٰذا انسان ته په کار دي چې نیک اعمال او کړي او د جنت دا نِعمتونه حاصل کړي.

بیا خاصکر څه نیک اعمال داسې هم دي چې د هغې په وجه انسان ته په جنت کې حُورې نصیبه کیږي، هغه اعمال یو څو دادي:

د قدرت باوجود غصه برداشت کول، آمانت اداء کول، قاتِل معاف کول، د هرمانځه نه پس سورة اخلاص ویل، د جُمات صفائي کول او ګند ورنه لرې کول، د لارې نه د تکلیف واله څیز لرې کول، فقیرانو ته صدقه ورکول، په صحیح طریقې سره د رمضان روژې نیول، په جهاد کې شهید کیدل، د شپې تهجد کول، او د قرآن کریم تلاوت کول.

لهٰذا انسان ته په کار دي چې د جنت د حُورو ښائست ځان ته رامخې ته کړي او ددې د حاصلولو د پاره په نیکو اعمالو کې کوشش اوکړي.

ځکه ډیر داسې خلق تېر شوي دي چې کله هغوی د حُورو صفات آوریدلي نو د غفلت نه یې توبه ویستلې او عبادت طرف ته متوجِّه شوي.

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ته هم د هغه نیکو اعمالو کولو توفیق راکړي چې د هغې په وجه انسان ته د جنت حُورې نصیب کیږي.

ربِّ کریم دې مونږ ټول په خپل فضل و کرم سره جنت ته داخل کړي.

Scanned with CamScanner

ربّ کريم دې د جنت نِعمتونه او ددې اُوچتې درجې مونږ ټولو ته رانصيبه کړي.

الله ﷻ دې د مونږ ټولو نه راضي شي او په خپل ديدار باندې مو دې مشرّف کړي.

اې ربه! لکه څرنګې چې تا مونږ دلته راجمع کړي يو همدغه شان مو د قيامت په ورځ د خپل عرش د سيوري لاندې راجمع کړه، او همدغه شان مو د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د حوضِ کوثر په غاړه او جنت کې راجمع کړه.

يا الله! د قيامت په ورځ د نبي عليه السلام په لاس مبارک باندې د حوضِ کوثر اُوبه او د دوی شفاعتِ کُبریٰ مونږ ټولو ته رانصيبه کړه.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جنت متعلق یو څو فِقهي مسائل

تالِیف

آبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربیة ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

Scanned with CamScanner

# نوټ

د جنت او جنتي ښځو متعلق درته يو څو ضروري فِقهي مسائل رانقل کوم ، مُقرِّرين حضرات دې ددې مسائلو نه هم د ځان د پاره اِنتخاب اوکړي او د تقرير په دَوران يا آخِر کې دې يې بيان کړي .

نفسِ مسئله مې په پښتو ژبه کې واضحه ليکلی ، البته د علماؤ د فائدې په خاطر مې لاندې په حاشيه کې د فتاؤ نه عربي عبارتونه هم رانقل کړي .

ابوالشمس عفي عنه

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د جنت او جنتي ښځو متعلق يو څو فقهي مسائل

يو څو ضروري فِقهي مسائل هم واورئ :

## جنت ته داخليدل اعمالو سره دي او که د الله تعالى په فضل سره ؟

جنت ته نفسِ دُخول به د الله تعالى په فضل سره وي . (۱)

خو د الله ﷻ د قانون موافق د فضل مستحقين هغه خلق دي چې هغوی د اِيمان راوړو سره سره نېک اعمال هم کوي او د ګناهونو نه هم ځان ساتي . (۲)

او داسې هم کيدې شي چې د قانون نه بَالاتَر بغير د نېکو اعمالو نه الله تعالى په مؤمن باندې خپل فضل و اِحسان اوکړي ، او ددې باره کې نصوص او احاديث هم شته .

او د الله تعالى قدرت په دې هم شته چې بغير د اِيمان نه چاته بَخنه اوکړي خو چونکه الله تعالى بغير د اِيمان نه د نه بخلو وعده کړی ، او هغه د خپلې وَعدې خلاف وَرزي نه کوي ، لهذا بغير د اِيمان نه چاته بَخنه نه کوي . (۳)

بيا په جنت کې د درجو فرق د نېکو اعمالو په اِعتبار سره دی . (۴)

---

(۱) وأمّا نفسُ الدّخول فَبِالْفَضْل المجرد حيث لَايجبُ عليه شَيْءٌ . شرح فقه اكبر ص ۱۹۲ مطبوعه ديوبند .

(۲) ﴿ إِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنّٰتُ الۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ﴾ . الكهف آية ۱۰۷ .

(۳) ﴿ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ ﴾ . بيشکه الله تعالى د ( خپلې ) وعدې خلاف نه کوي . آل عمران آية ۹ .

وراجع لسبب دخول الجنة الفوائد العثمانية ص ۲۰۷ .

(۴) الجنان على ما ذكره ابن عباس رضي الله عنهما سبع : جنة الفردوس، وجنة عدن، وجنة النعيم، ودار الخلد، وجنة المأوى، ودار السلام، وعِلِّيُون، وفي كل واحدة منها مراتب ودرجات متفاوتة على حسب تفاوت الأعمال والعمال . تفسير البيضاوي (أنوار التنزيل وأسرار التأويل ) ص ٦۰ سورة البقرة في تفسير آية ۲۵ . شرح فقه اكبر ص ۹۱ .

فَقَالَ أَبُوۡ هُرَيۡرَةَ ﷺ .... إِنَّ أَهۡلَ الۡجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوۡهَا نَزَلُوۡا فِيۡهَا بِفَضۡلِ أَعۡمَالِهِمۡ .... سنن الترمذي أَبۡوَابُ صِفَةِ الۡجَنَّةِ عَنۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي سُوۡقِ الۡجَنَّةِ رقم الحديث ۲۵۴۹ ، سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهۡدِ ←←←

Scanned with CamScanner

په الکوکب الدرّي کې ددې خبرې د تائید د پاره احادیث او نصوص شته . (۱)

لهذا نیکي او بَدي بیکاره ګڼړل جهالت دی ، ( بلکه انسان ته به د نېکو اعمالو اجر ورکولې شي او د بدو اعمالو به سزا ورکولې شي ) ، الله تعالی فرمایي :

﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَه‌ۜ ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَه ﴾ . (۲)

ترجمه : پس څوک چې د یوې ذرې په اندازه نیکي اوکړي نو دا به هغه اوګوري ( یعنی د هغې ثواب به اوګوري ) ، او څوک چې د یوې ذرې برابر بَدي اوکړي نو دا به هغه ( هم ) اوګوري ( یعنی د هغې سزا به هم اوګوري ) .

البته خالصه په خپلو نېکو اعمالو باندې مغروره کیدل ، او د الله تعالی د فضل نه ځان مُستغنِي او بې نِیازه ګڼړل حماقت دی . (۳)

---

←←← بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ ‏ رقم الحديث ٤٣٣٦ ، ‏ مشكاة المصابيح ‏ كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق ‏ بَاب صفة الجنة وَأَهْلِهَا ‏ الْفَصْل الثَّانِي ‏ رقم الحديث ٥٦٤٧(٣٦) .

النجاة من النار بعفو الله ، ودخول الجنة برحمته ، و إقتسام المنازل والدرجات بالاعمال ، و يدل عليه حديث ابي هريرة ﷛ هذا ‏ أَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوهَا نَزَلُوا فِيهَا بِفَضْلِ أَعْمَالِهِمْ ... رواه الترمذي . التعليق الصبيح ‏ ج ٦ ص ٤٠٨ ط . المكتبة الفخرية ديوبند .

(۱) محصله ان تحمل الآية على ان الجنة تنال المنازل فيها بالاعمال فان درجات الجنة متفاوتة بحيث تفاوت الاعمال ، و ان يحمل الحديث على دخول الجنة والخلود فيها . الكوكب الدري ص ٢٦٣ ابواب التفسير سورة زخرف آية ٧٢ .

(۲) الزلزال آية ٧ ، ٨ .

(۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَنْ يُنَجِّيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ » قَالُوا : وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ : « وَلَا أَنَا ، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ، سَدِّدُوا وَقَارِبُوا ، وَاغْدُوا وَرُوحُوا ، وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ ، وَالقَصْدَ القَصْدَ تَبْلُغُوا . صحيح البخاري ‏ كِتَابُ الرِّقَاقِ ‏ بَابُ القَصْدِ وَالمُدَاوَمَةِ عَلَى العَمَلِ ‏ رقم الحديث ٦٤٦٣ . مشكاة المصابيح ‏ بَاب سَعَة رَحْمَة الله ‏ الْفَصْل الأول ‏ رقم الحديث ٢٣٧١(٨) .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « لَنْ يُنْجِيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ » قَالَ رَجُلٌ : وَلَا إِيَّاكَ ؟ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ : « وَلَا إِيَّايَ ، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللَّهُ مِنْهُ بِرَحْمَةٍ ، ←←←←←←←←

## په جنت کې د ټولو نه لوي نعمت د الله تعالی دیدار او د هغه رَضا ده

د جنت هر نِعمت ډیر لوي دی ، خو بیا هم په دې ټولو نِعمتونو کې د الله تعالی دِیدار او د هغه رَضا ډیر لوي نِعمت دی. (١)

## جنت ته به څنې حیوانات هم ځي

د مُقاتل رَحِمَهُ الله نه نقل دي چې لس حیوانات به هم جنت ته داخلیږي :

د نبي علیه السلام اوښه ، د حضرت صالح عليه السلام اوښه ، دحضرت ابراهیم عليه السلام سخې ، د حضرت اسماعیل عليه السلام ګډ ، د حضرت موسی عليه السلام غوا ، د حضرت یونس عليه السلام ماهي ، د حضرت عُزیر عليه السلام خَر ، د حضرت سلیمان علیه السلام میږې ، د بلقیس هُدهُد ، او د

---

←←← وَلَكِنْ سَدِّدُوا » . صحیح مسلم كتاب صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابُ لَنْ يَدْخُلَ أَحَدٌ الْجَنَّةَ بِعَمَلِهِ بَلْ بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى رقم الحدیث ٧١(٢٨١٦) . فتاوی محمودیه ج ٣ ص ٤٢٧ احوالِ جنت و جهنم.

(١) عَنْ صُهَيْبٍ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، قَالَ: يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ ؟ فَيَقُولُونَ : أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ، وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟ قَالَ: فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ. فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ" ... ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: { لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ} [ یونس : ٢٦ ] . صحیح مسلم رقم الحدیث ٢٩٧(١٨١) ، و رقم الحدیث ٢٩٨(١٨١) . مشكاة المصابیح ٥٦٥٨(٤) بَابُ رُؤيَةِ اللهِ تَعَالَى الفصل الاول رقم الحدیث ٥٦٥٦(٢) ، كنزالعمال رقم الحدیث ٣٩٢٠٤ .

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ؟ فَيَقُولُونَ : لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ، فَيَقُولُ: هَلْ رَضِيتُمْ؟ فَيَقُولُونَ : وَمَا لَنَا لَا نَرْضَى وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ. فَيَقُولُ : أَنَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ. قَالُوا : يَا رَبِّ ! وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ ؟ فَيَقُولُ : أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا . صحیح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحدیث ٦٥٤٩ ، و رقم الحدیث ٧٥١٨ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ . صحیح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ إِحْلَالِ الرِّضْوَانِ عَلَى أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلَا يَسْخَطُ عَلَيْهِمْ أَبَدًا رقم الحدیث ٩ ( ٢٨٢٩) ، مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ١١٨٣٥ ، سنن الترمذي رقم الحدیث ٢٥٥٥ ، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ٧٤٤٠ . مشكاة المصابیح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الأول رقم الحدیث ٥٦٢٦(١٥) .

آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ٣ ص ٣٨٩ تخریج شدہ ایڈیشن.

Scanned with CamScanner

اصحابِ کهف سپی. (١)

همدارنګې د نبي عليه السلام بُراق به هم جنت ته داخليږي . (٢)

همدارنګې په احاديثو کې صراحةً ذکر شوي چې د نبي عليه السلام اُستوانه حَنانه به هم جنت ته داخليږي. (٣)

---

(١) قَالَ فِي شَرْحِ شِرْعَةِ الإِسْلَامِ قَالَ مُقَاتِلٌ رَحِمَهُ اللهُ : عَشَرَةٌ مِنَ الحَيَوَانَاتِ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ: نَاقَةُ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ، وَنَاقَةُ صَالِحٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، وَعِجْلُ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، وَكَبْشُ إِسْمَاعِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، وَبَقَرَةُ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ ، وَحُوتُ يُونُسَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، وَحِمَارُ عُزَيْرٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، وَنَمْلَةُ سُلَيْمَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، وَهُدْهُدُ بِلْقِيسَ، وَكَلْبُ أَهْلِ الْكَهْفِ كُلُّهُمْ يُحْشَرُونَ كَذَا فِي مِشْكَاةِ الْأَنْوَارِ . غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر احمد بن محمد مكي الحموي الحنفي ج ٤ ص ١٣١ . تفسير روح البيان ج ٥ ص ٢٢٦ سورة الكهف آية ١٨ .

قيل ليس في الجنة دواب سوى كلب أصحاب الكهف وحمار بلعام. تفسير الخازن ج٣ ص ١٦٠ سورة الكهف آية ١٨ . فتاوى محموديه ج ٣ ص ٤١٨ احوالِ جنت و جهنم.

(٢) لَيْسَ مِنَ الْحَيَوَانِ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا خَمْسَةٌ : كَلْبُ أَصْحَابِ الْكَهْفِ وَكَبْشُ إِسْمَاعِيلَ، وَنَاقَةُ صَالِحٍ وَحِمَارُ عُزَيْرٍ، وَبُرَاقُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. اَلْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِي حَنِيفَةَ النُّعْمَانِ لابن نجيم المصري ج ١ ص ٣٣١ اَلْفَنُّ الثَّالِثُ: الْجَمْعُ وَالْفَرْقُ .

(٣) عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ قَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ، فَكَانَ يَشُقُّ عَلَيْهِ قِيَامُهُ، فَأُتِيَ بِجِذْعِ نَخْلَةٍ فَحُفِرَ لَهُ، وَأُقِيمَ إِلَى جَنْبِهِ قَائِمًا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ فَطَالَ الْقِيَامُ عَلَيْهِ، اسْتَنَدَ إِلَيْهِ، فَاتَّكَأَ عَلَيْهِ، فَبَصُرَ بِهِ رَجُلٌ كَانَ وَرَدَ الْمَدِينَةَ فَرَآهُ قَائِمًا إِلَى جَنْبِ ذَلِكَ الْجِذْعِ، فَقَالَ لِمَنْ يَلِيهِ مِنَ النَّاسِ: لَوْ أَعْلَمُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَحْمَدُنِي فِي شَيْءٍ يَرْفُقُ بِهِ لَصَنَعْتُ لَهُ مَجْلِسًا يَقُومُ عَلَيْهِ، فَإِنْ شَاءَ جَلَسَ مَا شَاءَ، وَإِنْ شَاءَ قَامَ، فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «ائْتُونِي بِهِ» فَأَتَوْهُ بِهِ فَأَمَرَهُ أَنْ يَصْنَعَ لَهُ هَذِهِ الْمَرَاقِيَ الثَّلَاثَ أَوِ الْأَرْبَعَ هِيَ الْآنَ فِي مِنْبَرِ الْمَدِينَةِ . فَوَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ رَاحَةً فَلَمَّا فَارَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجِذْعَ وَعَمَدَ إِلَى هَذِهِ الَّتِي صُنِعَتْ لَهُ. " جَزِعَ الْجِذْعُ، فَحَنَّ كَمَا تَحِنُّ النَّاقَةُ حِينَ فَارَقَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ سَمِعَ حَنِينَ الْجِذْعِ رَجَعَ إِلَيْهِ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهِ، وَقَالَ: « اِخْتَرْ أَنْ أَغْرِسَكَ فِي الْمَكَانِ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ، فَتَكُونَ كَمَا كُنْتَ، وَإِنْ شِئْتَ أَنْ أَغْرِسَكَ فِي الْجَنَّةِ فَتَشْرَبَ مِنْ أَنْهَارِهَا وَعُيُونِهَا فَيَحْسُنَ نَبْتُكَ، وَتُثْمِرَ فَيَأْكُلَ أَوْلِيَاءُ اللهِ ←←←

اوس دا خبره چې دا حیوانات وغیره به په څه شکل کې جنت ته ځي؟ نو ددې پوره علم د الله تعالی سره دی. (١)

## د مسلمانانو د نابالغه بچو حکم

د مسلمانانو نابالغ بچي به هم د دوی سره په جنت کې وي؛ ددې د پاره چې ددې والدينو سترګې وربانديې يخې شي. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴾. (٢)

ترجمه: او کومو خلقو چې ایمان راوړو او د دوی بچو هم په ایمان کې د دوی پیروي اوکړه نو مونږ به (په جنت کې) د دوی بچي د دوی سره یو ځای کړو، او مونږ به د دوی (پلارانو) د عملونو نه هیڅ کمي اونکړو، هر کس به په خپل عمل کې ګانړه (ګېر) وي.

د مسلمانانو نابالغ بچي به د خپلو والدينو د ایمان په وجه جنت ته داخليږي. (٣)

په یو حدیث کې راځي، رسول الله ﷺ فرمايي:

إِنَّ الْمُؤْمِنِينَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي الْجَنَّةِ. (٤)

---

←←← مِنْ ثَمَرَتِكَ وَنَخْلِكَ فَعَلْتُ » فَزَعَمَ أَنَّهُ سَمِعَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ لَهُ: « نَعَمْ قَدْ فَعَلْتُ مَرَّتَيْنِ ». فَسَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: « إِخْتَارَ أَنْ أَغْرِسَهُ فِي الْجَنَّةِ ». سنن الدارمي بَابُ مَا أُكْرِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَنِينِ الْمِنْبَرِ رقم الحديث ٣٢.

(١) فتاوى محموديه ج ٣ ص ٤١٨، وص ٤٢٩ احوال جنت و جهنم.

(٢) الطور آية ٢١.

(٣) .... وَإِنَّمَا يُسْتَفَادُ مِنْ تَفْسِيرِ الْبَغَوِيِّ حَيْثُ قَالَ: إِخْتَلَفُوا فِي تَفْسِيرِ الْآيَةِ. فَقَالَ قَوْمٌ: مَعْنَاهَا {وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ} [الطور: ٢١] يَعْنِي: أَوْلَادُهُمُ الصِّغَارُ وَالْكِبَارُ. فَالْكِبَارُ بِإِيمَانِهِمْ بِأَنْفُسِهِمْ، وَالصِّغَارُ بِإِيمَانِ آبَائِهِمْ. فَإِنَّ الْوَلَدَ الصَّغِيرَ يُحْكَمُ بِإِسْلَامِهِ تَبَعًا لِأَحَدِ الْأَبَوَيْنِ. مرقاة المفاتيح بَابُ الْإِيمَانِ بِالْقَدَرِ ج ١ ص ١٩٢ في تشريح حديث ١١٧.

(٤) پوره حدیث داسې دی: عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَأَلَتْ خَدِيجَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَلَدَيْنِ مَاتَا لَهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « هُمَا فِي النَّارِ ». قَالَ: فَلَمَّا رَأَى الْكَرَاهِيَةَ ←←←←

Scanned with CamScanner

بیشکه مؤمنان او د دوی اولاد به په جنت کې وي.

بلکه په احادیثو کې راځي چې د مسلمانانو کوم نابالغ بچي چې وفات شوي وي نو دوی به د خپلو والدینو شفارس کوي، او جنت ته به یې د ځان سره داخلوي. (١)

## د کافرانو د نابالغه بچو حکم

د کافرانو نابالغ بچي به جنت ته ځي که جهنم ته؟

ددې په باره کې چونکه دلائل متعارض دي نو ځکه امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په دې باره کې توقّف کړی.

د بعضې علماؤ په نزد به د کافرانو نابالغ بچي جنت ته ځي، او د بعضو په نزد به جهنم ته ځي. (٢)

---

←←← فِي وَجْهِهَا قَالَ: « لَوْ رَأَيْتِ مَكَانَهُمَا لَأَبْغَضْتِهِمَا » قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! فَوَلَدِي مِنْكَ؟ قَالَ: « فِي الْجَنَّةِ » قَالَ: ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ الْمُؤْمِنِينَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الْمُشْرِكِينَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي النَّارِ » ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: { وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ }. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٣١ مُسْنَدُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. مشكاة المصابيح كتاب الإيمان بَابُ الإِيمَانِ بِالقَدَرِ الفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ١١٧ (٣٩). مجمع الزوائد كِتَابُ الْقَدَرِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَطْفَالِ رقم الحديث ١١٩٤٠.

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَمُوتُ لَهُمَا ثَلَاثَةُ أَوْلَادٍ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللهُ وَإِيَّاهُمْ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ الْجَنَّةَ. قَالَ: يُقَالُ لَهُمْ: ادْخُلُوا الْجَنَّةَ. قَالَ: فَيَقُولُونَ: حَتَّى يَجِيءَ أَبَوَانَا " قَالَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. فَيَقُولُونَ مِثْلَ ذَلِكَ قَالَ: " فَيُقَالُ لَهُمْ: ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنْتُمْ وَأَبَوَاكُمْ ". مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٠٦٢٢.

(٢) اما اولاد المشركين فتوقف فيهم ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ، وصرح النسفي في الكافي ان المراد منه نجاة بعضهم و هلاک بعضهم لاعدام العلم و هو مذهب مالک رَحِمَهُ اللهُ كما صرح به ابو عمرو في التمهيد، وهو مذهب الشافعي رَحِمَهُ اللهُ كما صرح به الحافظ، و عن احمد رَحِمَهُ اللهُ روايتان: احدهما التوقف على وفق الاخيرين، وفي الاخرى النجاة، واختار الثانية الحافظ ابن القيم رَحِمَهُ اللهُ في شفاء العليل. فيض الباري ج ٢ ص ٤٩٢ كتاب الجنائز. ارشاد الساري ج ٣ ص ٥٤٦ كتاب الجنائز باب ما قيل في اولاد المشركين.

Scanned with CamScanner

په فتح الباري کې ددې متعلق لس (١٠) اَقوال ذکر دي. (١)

خو راجح داده چې د کافرانو نابالغ بچي به جنت ته ځي (علامه شامي رحمه الله هم ددې مسئلې ښه تحقيق کړی). (٢)

## دُنيوي ښځه به د جنت د حُورو سَرداره وي

کومې مسلمانې ښځې چې په دُنيا کې نيک اعمال کړي وي نو دا به په جنت کې د خپل مسلمان خاوند سره وي. (٣)

---

(١) فتح الباري لابن حجر ج ٣ ص ٢٤٦ بَابُ مَا قِيلَ فِي أَوْلَادِ الْمُشْرِكِينَ . فتاوى محموديه ج ٣ ص ٤٢٤ احوال جنت و جهنم .

(٢) وَقَدْ اُخْتُلِفَ فِي سُؤَالِ أَطْفَالِ الْمُشْرِكِينَ وَفِي دُخُولِهِمْ الْجَنَّةَ أَوِ النَّارَ ، فَتَرَدَّدَ فِيهِمْ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَغَيْرُهُ وَقَدْ وَرَدَتْ فِيهِمْ أَخْبَارٌ مُتَعَارِضَةٌ فَالسَّبِيلُ تَفْوِيضُ أَمْرِهِمْ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى . وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ : اِعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يُعَذِّبُ أَحَدًا بِلَا ذَنْبٍ اهـ وَقَالَ تِلْمِيذُهُ ابْنُ أَبِي شَرِيفٍ فِي شَرْحِهِ وَقَدْ نُقِلَ الْأَمْرُ بِالْإِمْسَاكِ عَنِ الْكَلَامِ فِي حُكْمِهِمْ فِي الْآخِرَةِ مُطْلَقًا عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ وَعُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ مِنْ رُءُوسِ التَّابِعِينَ وَغَيْرِهِمَا وَقَدْ ضَعَّفَ أَبُو الْبَرَكَاتِ النَّسَفِيُّ رِوَايَةَ التَّوَقُّفِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ ، وَقَالَ : اَلرِّوَايَةُ الصَّحِيحَةُ عَنْهُ أَنَّهُمْ فِي الْمَشِيئَةِ لِظَاهِرِ الْحَدِيثِ الصَّحِيحِ « اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ » .

وَقَدْ حَكَى فِيهِمْ الْإِمَامُ النَّوَوِيُّ ثَلَاثَةَ مَذَاهِبَ ، الْأَكْثَرُ أَنَّهُمْ فِي النَّارِ . اَلثَّانِي : التَّوَقُّفُ . اَلثَّالِثُ : الَّذِي صَحَّحَهُ أَنَّهُمْ فِي الْجَنَّةِ لِحَدِيثِ « كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ » ، وَيَمِيلُ إِلَيْهِ مَا مَرَّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَسَنِ وَفِيهِمْ أَقْوَالٌ أُخَرُ ضَعِيفَةٌ . رد المحتار على الدر المختار ج ٢ ص ١٩١ مَطْلَبٌ فِي سُؤَالِ الْمَلَكَيْنِ هَلْ هُوَ عَامٌّ لِكُلِّ أَحَدٍ أَوْ لَا؟ . فتاوى فريديه ج ١ ص ٤٤١ باب ما يتعلق بالروح والبرزخ والموت .

(٣) عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ رَحِمَهُ اللَّهُ ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، أَظُنُّهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ الْجَنَّةَ سَأَلَ عَنْ أَبَوَيْهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ . فَيُقَالُ إِنَّهُمْ لَمْ يَبْلُغُوا دَرَجَتَكَ وَعَمَلَكَ فَيَقُولُ : يَا رَبِّ قَدْ عَمِلْتُ لِي وَلَهُمْ فَيُؤْمَرُ بِإِلْحَاقِهِمْ بِهِ " وَقَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ { وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ } [ الطور: ٢١] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٢٢٤٨ . هامش جلالين ج ٢ ص ٤٣٥ سورة طور . فتاوى فريديه ج ١ ص ٤٣٥ باب ما يتعلق بالروح والبرزخ والموت .

Scanned with CamScanner

دا به د جنت د حُورو سَرداره وي ، او ديته به په هغوی باندې ډير فضيلت حاصل وي ؛ ځکه دې په دُنيا کې ډير عبادات کړي او حُورو خو عبادات ندي کړي . (١)

**نوټ** : کوم سړي چې په دُنيا کې ډيرې ښځې کړي وي نو دا ټولې به دده سره په جنت کې وي . (٢)

## کومې ښځې چې په دُنيا کې ډير خاوندان کړي وي نو دا به په جنت کې د کوم خاوند سره وي ؟

که يوې ښځې په دُنيا کې ډير خاوندان کړي وي (يعنی اول خاوند يې وفات شوي وي بيا يې بل سره نکاح کړې وي ، بيا هغه هم وفات شي نو د دريم سره نکاح اوکړي) ، نو اوس چې دا ښځه جنت ته لاړه شي او ټول خاوندان يې هم جنت ته لاړ شي نو دا ښځه به چاته ملاويږي ؟

نو ددې په باره کې دوه اَقوال دي : يو قول دا دی چې دا ښځه به په جنت کې آخري خاوند

---

(١) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، قَالَتْ .... . قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ أَنِسَاءُ الدُّنْيَا أَفْضَلُ أَمِ الْحُوْرُ الْعِيْنُ ؟ ، قَالَ : « بَلْ نِسَاءُ الدُّنْيَا أَفْضَلُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ كَفَضْلِ الظِّهَارَةِ عَلَى الْبِطَانَةِ » . قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَبِمَا ذَاكَ ؟ ، قَالَ: " بِصَلَاتِهِنَّ وَصِيَامِهِنَّ وَعِبَادَتِهِنَّ اللهَ . أَلْبَسَ اللهُ وُجُوْهَهُنَّ النُّوْرَ، وَأَجْسَادَهُنَّ الْحَرِيْرَ بِيْضَ الْأَلْوَانِ خُضْرَ الثِّيَابِ صُفْرَاءَ الْحُلِيِّ مَجَامِرُهُنَّ الدُّرُّ وَأَمْشَاطُهُنَّ الذَّهَبُ يَقُلْنَ : أَلَا نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوْتُ أَبَدًا . أَلَا وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْؤُسُ أَبَدًا ، أَلَا وَنَحْنُ الْمُقِيْمَاتُ فَلَا نَظْعَنُ أَبَدًا ، أَلَا وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا طُوْبَى لِمَنْ كُنَّا لَهُ وَكَانَ لَنَا " .... المعجم الكبير للطبراني ج ٢٣ ص ٣٦٧ رقم الحديث ٨٧٠ أُمُّ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. الْحَسَنُ عَنْ أُمِّهِ. المعجم الاوسط رقم الحديث ٣١٤١ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٢٠ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١١٣٩٦ ، ورقم الحديث ١٨٧٥٤ . الزواجر ج ٢ ص ٤٣٤ . حادي الارواح لابن قيم ص ٢٢٨ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٠٤٦ .

عن حبان بن أبي جبلة قال: [ إن نساء الدنيا من دخل منهن الجنة فضلن على العين بما عملن في الدنيا ] وروى مرفوعًا: [ إن الأدميات أفضل من الحور العين بسبعين ألف ضعف . التذكرة بأحوال الموتى وأمور الآخرة للقرطبي ص ٩٨٧ باب منه في الحور العين وكلامهن وجواب نساء الآدميات وحسنهن .

(٢) فتاوى محموديه ج ٣ ص ٤٣١ احوالِ جنت و جهنم .

Scanned with CamScanner

سره وي.

او دويم قول دادى چې ديته به اِختيار ورکولې شي نو دې چې کوم خاوند خوښ کړو نو د هغه سره به وي. (١)

په احاديثو کې دا هم ذکر دي چې ديته به اختيار ورکړې شي، پس دا به هغه خاوند غوره کړي چې د چا اخلاق ښه وي، او چا چې ددې سره په دُنيا کې په خوش اخلاقۍ باندې ژوند تېر کړې وي. (٢)

## کومه مسلمانه بالغه جينۍ چې بغير د نکاح کولو نه وفات شوي وي دا به په جنت کې چاته ورکولې شي؟

کومه مسلمانه بالغه جينۍ چې بغِير د نِکاح کولو نه ( يعنى د واده نه مخکې ) وفات شوي وي نو ديته به په جنت کې اِختيار ورکړې شي "چې دا په جنتيانو کې يو کس ځانله خوښ کړي" نو چې ددې څوک خوښ شو هم هغه ته به په نکاح ورکړې شي.

(ځکه په دُنيا کې ډير هلکان هم بغير دنکاح کولو نه وفات شوي دي نو په دوى کې به يو کس ځانله خوښ کړي).

او که په جنتيانو کې يې څوک خوښ نه شو نو بيا به ددې د پاره د حُورِعِين نه يو جنتي

---

(١) واختلف الناس فى المرأة التي يكون لها زوجان فى الدنيا لِأيهما تكون فى الآخرة؟ قيل: تكون لآخرهما. وقيل: تخير فتختار أيها شاء. مجموعة الفتاوى ج ٣ ص ١٥ كتاب الجنة زن دو شوهر بجنت بكدام شوهر ميرسد. بستان العارفين ص ٢۴٧ باب اذا كان لها زوجان. فتاوى محموديه ج ٣ ص ۴٣٠ احوالِ جنت و جهنم.

(٢) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ..... قُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ! اَلْمَرْأَةُ مِنَّا تَتَزَوَّجُ الزَّوْجَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ وَالْأَرْبَعَةَ ثُمَّ تَمُوتُ فَتَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَيَدْخُلُونَ مَعَهَا مَنْ يَكُونُ زَوْجُهَا؟، قَالَ: "يَا أُمَّ سَلَمَةَ! إِنَّهَا تُخَيَّرُ فَتَخْتَارُ أَحْسَنَهُمْ خُلُقًا فَتَقُولُ: أَيْ رَبِّ إِنَّ هَذَا كَانَ أَحْسَنَهُمْ مَعِي خُلُقًا فِي دَارِ الدُّنْيَا فَزَوِّجْنِيهِ. يَا أُمَّ سَلَمَةَ ذَهَبَ حُسْنُ الْخُلُقِ بِخَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ". المعجم الكبير للطبراني ج ٢٣ ص ٣٦٧ رقم الحديث ٨٧٠ أُمُّ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. الْحَسَنُ عَنْ أُمِّهِ. المعجم الاوسط رقم الحديث ٣١۴١، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٢٠، مجمع الزوائد رقم الحديث ١١٣٩٦، و رقم الحديث ١٨٧٥۴. الزواجر ج ٢ ص ۴٣۴. حادي الارواح لابن قيم ص ٢٢٨. كنزالعمال رقم الحديث ٣٠۴٦.

سرې پیدا کړې شي او هغه ته به په نکاح ورکړې شي. (۱)

## کومه نابالغه جینۍ چې په ماشوم والي کې وفات شوي وي دا به په جنت کې چاته ورکولې شي؟

کومه نا بالغه جینۍ چې په ماشوم والي کې وفات شوي وي نو ددې حکم هم د هغه پاس مسئلې په شان دی چې (دا به جنت ته د داخلیدو په وخت بالغه جوړه کړې شي او) دیته به په جنت کې اِختیار ورکړې شي چې دا په جنتیانو کې یو کس ځانله خوښ کړي نو هغه ته به په نکاح ورکړې شي.

او که په جنتیانو کې یې څوک خوښ نه شو نو بیا به ددې د پاره د حُورِعِین نه یو جنتي سرې پیدا کړې شي او هغه ته به په نکاح ورکړې شي. (۲)

**نوټ:** کوم هلک چې د بلوغ نه مخکې وفات شوي وي نو حشر به یې په همدې حالت کې کیږي خو چې کله جنت ته داخلولې شي نو بیا به د ځوانۍ په عُمر کې وي، هلته به د دُنیا ښځې او حُورې ده ته په نکاح ورکولې شي. (۳)

---

(۱) فی الغرائب: ولو ماتتْ قبل اَنْ تتزوّجَ تخیر ایضًا اِنْ رضیتْ بآدميّ زوجت منه، واِنْ لم ترض فاللّٰه یخلق من الحور العِین فیزوجها منه. مجموعة الفتاوی ج ۳ ص ۱۵ کتاب الجنة زن دو شوهر بجنت بکدام شوهر میرسد. بستان العارفین ص ۲۴۷ باب اذا کان لها زوجان. فتاوی محمودیه ج ۳ ص ۴۳۰، و ص ۴۳۷ احوالِ جنت و جهنم. فتاوی فریدیه ج ۱ ص ۴۳۴ باب ما یتعلق بالروح والبرزخ والموت.

(۲) فی الغرائب: ولو ماتتْ قبل اَنْ تتزوّجَ تخیر ایضًا اِنْ رضیتْ بآدميّ زوجت منه، واِنْ لم ترض فاللّٰه یخلق من الحور العِین فیزوجها منه. مجموعة الفتاوی ج ۳ ص ۱۵ کتاب الجنة زن دو شوهر بجنت بکدام شوهر میرسد. بستان العارفین ص ۲۴۷ باب اذا کان لها زوجان. فتاوی محمودیه ج ۳ ص ۴۳۰، و ص ۴۳۷ احوالِ جنت و جهنم. فتاوی فریدیه ج ۱ ص ۴۴۰ باب ما یتعلق بالروح والبرزخ والموت.

(۳) وَسُئِلَ (ابن حجر الهیتمي) رَحِمَهُ اللّٰهُ: هَل یحشر الطِّفل علی صورته؟ وَهل یتزوّج من الحور العین؟ وَهل الولدَان من جنس الحور؟ فَأجَاب بقوله: اَلطِّفل یکون فِي الحَشر علی خلقته، ثمَّ عِنْد دُخُوله الجَنَّة یزدَاد فِیهَا حَتّٰی یکون کَالبَالِغ ثمَّ یتزوّج من نساء الدُّنْیَا وَمن الحور، وهنّ والولدان جنس وَاحِد. الفتاوی الحدیثیة لابن حجر الهیتمي ج ۱ ص ۱۳۰.

Scanned with CamScanner

## که مسلمان خاوند د ګناهونو د وجې جهنم ته لاړ شي او ښځه یې جنت ته لاړه شي نو دواړه به څنګه ملاویږي؟

که مسلمان خاوند ګناهګار وفات شوې وي او په قیامت کې دا جهنم ته لاړ شي او ښځه یې نېک عمله وي جنت ته لاړه شي، نو اوس سوال دادی چې دوی دواړه به څنګه ملاویږي؟

ددې جواب دادی چې مسلمان خو جهنم ته صرف د ګناهونو د صفائي د پاره ځي، دائمي خو په جهنم کې نه وي، نو د سزا خوړلو نه پس به د جهنم نه راویستلې شي او جنت ته به داخلولې شي. بیا به د خپلې بي بي سره همیشه وي.

بل دا چې دا خو یقیني خبره ده چې جنت کې غم او خفګان نشته، نو دا مسلمانه جنتي ښځه به نشي خفه کولی. (۱)

## که خاوند د دُنیا نه کافر تللې وي او ښځه یې مسلمانه وي نو دا به په جنت کې چاته ور کولې شي؟

که د یوې ښځې خاوند د دُنیا نه کافر تللې وي، خو دا ښځه یې مسلمانه وي نو چونکه

---

(۱) ... وأهل الكبائر من المؤمنين لايخلدون فى النار وإن ماتو من غير توبة . لقوله تعالى: ﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَه﴾ . شرح عقائد ص ۱۱۶ مبحث اهل الكبائر من المؤمنين ...

وَاعْلَمْ أَنَّ مَذْهَبَ أَهْلِ السُّنَّةِ وَمَا عَلَيْهِ أَهْلُ الْحَقِّ مِنَ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ أَنَّ مَنْ مَاتَ مُوَحِّدًا دَخَلَ الْجَنَّةَ قَطْعًا عَلَى كُلِّ حَالٍ فَإِنْ كَانَ سَالِمًا مِنَ الْمَعَاصِي كَالصَّغِيْرِ وَالْمَجْنُوْنِ وَالَّذِي اتَّصَلَ جُنُوْنُهُ بِالْبُلُوْغِ وَالتَّائِبِ تَوْبَةً صَحِيْحَةً مِنَ الشِّرْكِ أَوْ غَيْرِهِ مِنَ الْمَعَاصِي إِذَا لَمْ يُحْدِثْ مَعْصِيَةً بَعْدَ تَوْبَتِهِ وَالْمُوَفَّقُ الَّذِي لَمْ يُبْتَلَ بِمَعْصِيَةٍ أَصْلًا فَكُلُّ هٰذَا الصِّنْفِ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَدْخُلُوْنَ النَّارَ أَصْلًا . لٰكِنَّهُمْ يَرِدُوْنَهَا عَلَى الْخِلَافِ الْمَعْرُوْفِ فِي الْوُرُوْدِ . وَالصَّحِيْحُ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الْمُرُوْرُ عَلَى الصِّرَاطِ وَهُوَ مَنْصُوْبٌ عَلَى ظَهْرِ جَهَنَّمَ أَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْهَا وَمِنْ سَائِرِ الْمَكْرُوْهِ . وَأَمَّا مَنْ كَانَتْ لَهُ مَعْصِيَةٌ كَبِيْرَةٌ وَمَاتَ مِنْ غَيْرِ تَوْبَةٍ فَهُوَ فِي مَشِيْئَةِ اللّٰهِ تَعَالَى فَإِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَأَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ أَوَّلًا وَجَعَلَهُ كَالْقِسْمِ الْأَوَّلِ . وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ الْقَدْرَ الَّذِي يُرِيْدُهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى ثُمَّ يُدْخِلُهُ الْجَنَّةَ فَلَا يَخْلُدُ فِي النَّارِ أَحَدٌ مَاتَ عَلَى التَّوْحِيْدِ . شرح النووي على مسلم ج ۱ ص ۲۱۷ كتاب الايمان باب الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى التَّوْحِيدِ دَخَلَ الْجَنَّةَ قَطْعًا . فتاوى محموديه ج ۳ ص ۴۳۲ احوالِ جنت و جهنم .

كافر خو دائمي په جهنم کې وي ، دده د جهنم نه راوتل محال دي نو دې مسلمانې ښځې ته به اختيار ورکړې شي چې دا ځانله په جنتيانو کې يو كس خوښ کړي ، خو كه څوك يې خوښ نه شو نو بيا به ورته يو جنتي خاوند پيدا کړې شي او د هغه سره به ورله نكاح اوكړې شي . (١)

## په جنت کې به جِماع وي خو مَني خارجيدل او غسل به نه وي

په جنت کې به د خپلو بيبيانو او حُورو سره جِماع (كوروالې) وي . (٢)

خو ددې سره به مَني نه خارجيږي ؛ ځکه جنت پاک ځای دی ، هلته ناپاکي نشته . (٣)

---

(١) فتاوى فريديه ج ١ ص ٤٣٤ باب ما يتعلق بالروح والبرزخ والموت .

(٢) عَنْ أَنَسٍ ﷺ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ » ، قِيلَ : يَا رَسُولَ اللهِ أَوَ يُطِيقُ ذَلِكَ ؟ قَالَ : « يُعْطَى قُوَّةَ مِائَةٍ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٣٦ قال الالباني : حسنٌ صحيح . مشكاة المصابيح كتاب أَحوال الْقِيَامَة وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وأَهْلِهَا الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٣٦(٢٥) .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَمَسُّ أَهْلُ الْجَنَّةِ نِسَاءَهُمْ ؟ قَالَ : « نَعَمْ ، بِذَكَرٍ لَا يَمَلُّ وَفَرْجٍ لَا يَحْفَى ، وَشَهْوَةٍ لَا تَنْقَطِعُ » . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٩ . مسند البزار رقم الحديث ٩٤١٦ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٦٧٤ ، و رقم الحديث ٧٧٢١ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٦٦ ، بستان الواعظين لابن الجوزي ج ١ ص ١٣٤ رقم الحديث ٢٣١ . مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٨٤٧ بابٌ في اكل اهل الجنة وشربهم و شهواتهم رقم الحديث ١٨٧٥٠ .

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : قِيلَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَنُفْضِي إِلَى نِسَائِنَا فِي الْجَنَّةِ ؟ قَالَ : « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ الرَّجُلَ مِنْهُمْ لَيُفْضِي فِي الْغَدَاةِ الْوَاحِدَةِ إِلَى مِائَةِ عَذْرَاءَ » . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٦١ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٧١٨ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٦٥ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٣٦٠ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ١ ص ١٠٠ .

(٣) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ : هَلْ يُجَامِعُ أَهْلُ الْجَنَّةِ ؟ قَالَ : « نَعَمْ ، دِحَامًا دِحَامًا وَلَكِنْ لَا مَنِيَّ وَلَا مَنِيَّةَ » .

د حضرت ابوامامة ﷺ نه روايت دی چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه اوشوه : آيا جنتيان به جماع كوي ؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : آو ، باربار په پوره قوّت سره به يې كوي ، خو مَني به نه وي ←←←

همدارنګې په دې جِماع سره به په دوی باندې غُسل هم نه لازمیږي . (١)
د کوروالي نه پس به دا ښځې دوباره باکرې ګرځي . یعنی همیشه به باکرې وي . (٢)

## غِلمان به د خدمت د پاره وي ، د جِماع د پاره به نه وي

په جنت کې به هر جنتي ته غِلمان یعنی د خدمت د پاره د ملغلرو په شان ښائسته ځوانان هلکان ورکولې شي . (٣)

---

←←← ( یعنی اِنزال به نه کیږي ) ، او مرګ به هم نه وي .

صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ جِمَاعِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٦٠ ، ورقم الحديث ٣٦٧ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٤٧٩ . والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٦٧ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧١٤ . تفسير ابن كثير ج ٣ ص ٢٥٧ و ج ٨ ص ٢١ . مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٨٤٧ بابٌ في اكل اهل الجنة وشربهم و شهواتهم رقم الحديث ١٨٧٤٨ . الزواجر ج ٢ ص ٤٣٣ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٣٥٨ ، و رقم الحديث ٣٩٧٧٧ . الدرالمنثور فی التفسیر بالمأثور ج ١ ص ١٠٠ .

(١) وَلَيْسَتِ الْجَنَّةُ دَارَ تَكْلِيفٍ فَلَا يجب فِيهَا غُسل وَلَا غيره، بِخِلَافِ الدُّنْيَا فَلَا تقاس تِلْكَ الدَّار بِهَذِهِ الدَّار . الفتاوى الحديثية لابن حجر الهيتمي ج ١ ص ٦ . فتاوى محموديه ج ٣ ص ٤٢٠ احوالِ جنت و جهنم .

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قِيلَ لَهُ: أَنَطَأُ فِي الْجَنَّةِ ؟ قَالَ : نَعَمْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ دَحْمًا دَحْمًا فَإِذَا قَامَ عَنْهَا رَجَعَتْ مُطَهَّرَةً بِكْرًا .

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوشوه : آیا مونږ به په جنت کې کوروالي کوو ؟ نبي علیه السلام ورته اوفرمایل : آو ، قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده چې جنتیان به بار بار په ډیر قوّت سره کوروالي کوي ، چې کله جنتي ورنه راپاڅي نو بي بي به بیې واپس باکره شي .

صحيح ابن حبان محققا بَابُ وَصْفِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ذِكْرُ الْإِخْبَارِ بِأَنَّ الْمَرْءَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إذا وطيء جَارِيَتَهُ فِيهَا عَادَتْ بِكْرًا كَمَا كَانَتْ رقم الحديث ٧٤٠٢ . إسناده حسن. رجاله ثقات رجال مسلم . تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٥٣٣ . الدرالمنثور فی التفسير بالمأثور ج ١ ص ١٠١ ، و ج ٧ ص ٦٥ . العمل الصالح رقم الحديث ١٩٥٩ .

(٣) الله جل جلاله فرمايي ﴿ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴾ . الدهر آية ١٩ .

ترجمه : او ګرځي به په دې جنتیانو باندې داسې هلکان چې همیشه به ځوانان وي ، چې کله ته دوی ته اوګورې نو دا ګمان به ورباندې اوکړې چې ګني دوی خورې ورې ملغلرې دي .

بل ځای فرمایي : ﴿ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴾ . الطور آية ٢٤ . ←←← ←←←

خو دا به د جِماع د پاره نه وي ، بلکه صرف د خدمت د پاره به وي . (١)

←←← ترجمه : او د دوی ګېرچاپېره به د دوی د خدمت د پاره داسې هلکان ګرځي ګويا چې دوی (د ډېر ښائست په وجه) په پَرده (سيپۍ) کې پټې ساتلې شوې (قيمتي) ملغلرې دي .

قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا : وَمَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا يَسْعَىٰ عَلَيْهِ أَلْفُ غُلَامٍ ، وَكُلُّ غُلَامٍ عَلَىٰ عَمَلٍ مَا عَلَيْهِ صَاحِبُهُ . تفسير البغوي ج ۴ ص ۲۹۳ سورة الطور آية ۲۴ . تفسير القرطبي ج ۱۷ ص ٦۹ سورة الطور آية ۲۴ .

(١) والأشبه أن هؤلاء الولدان مخلوقون من الجنة كالحور العين خدماً لهم وغلماناً . حادي الأرواح إلى بلاد الأفراح لابن قيم الجوزي ص ٢١٦ الباب الثاني والخمسون: في ذكر خدمهم وغلمانهم . فتاوی محموديه ج ۳ ص ۴۲۰ احوال جنت و جهنم .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴾

ق آية ۳۰.

# د جهنم عذابونه

تالیف


آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربیة ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان


Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جهنم عذابونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهٗ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهٗ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ . وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهٗ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴾. (١)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴾. (٢)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : نَارُكُمْ جُزْءٌ مِّنْ سَبْعِيْنَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ . (٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو وروڼو ! څوک چې په دُنيا کې د الله تعالى د

---

(١) التحريم آية ٦ .

(٢) ق آية ٣٠ .

(٣) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « نَارُكُمْ جُزْءٌ مِّنْ سَبْعِيْنَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ » . قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً . قَالَ : « فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّيْنَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا » . صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ النَّارِ، وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٦٥ . صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي شِدَّةِ حَرِّ نَارِ جَهَنَّمَ وَبُعْدِ قَعْرِهَا وَمَا تَأْخُذُ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ رقم الحديث ٣٠ (٢٨٤٣) . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٦٦٥(١) . شعب الايمان رقم الحديث ١٤٣ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧٣٢٧ . سنن الترمذي رقم الحديث ٢٥٨٩ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٣١٨ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٧٥٣ .

Scanned with CamScanner

حکمونو نافرماني کوي که هغه کافران وي يا نور ګناهګاران وي نو د دوی د پاره په قرآن کريم او احاديثو کې د جهنم سختې سزاګانې او مختلف عذابونه ذکر شوي.

په نن موضوع کې به اِن شاء الله زه تاسو ته د جهنم عذابونه او سزاګانې ذکر کوم، دا ددې د پاره چې مسلمانان ددينه خبر شي او ددينه د بچ کيدو کوشش او کړي.

خو اول در ته د "جهنم" تعريف او ددې نومونه ذکر کوم:

## د "جهنم" تعريف

د لغت په کتابونو کې د جهنم تعريف داسې شوی:

(جَهَنَّمُ): اِسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ النَّارِ الَّتِيْ يُعَذِّبُ بِهَا اللهُ عِبَادَهُ. (١)

جهنم نوم د هغه اُور د پاره دی په کوم سره چې الله تعالى (کافرانو او ګناهګارانو) بندګانو ته (په آخرت کې) عذاب ورکوي.

## کافران به هميشه په جهنم کې وي، او مسلمانان به صرف د ګناهونو ختمولو د پاره جهنم ته داخلولې شي

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې څوک په کُفر، شِرک او اِرتداد باندې مَړ شوې وي نو دوی به هميشه په جهنم کې وي. (٢)

ځکه د جهنم اُور اصلاً د کافرانو د پاره تيار شوې دی. (٣)

---

(١) مختار الصحاح ج ١ ص ٦٣ ج٥ن م. تاج العروس ج ٣١ ص ٤٣٧ ج٥ن م.

(٢) الله تعالى د کافرانو او مشرکانو په باره کې فرمايي:

﴿ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾. البقرة آية ٣٩.

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ اُولٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴾. البينة آية ٦.

الله تعالى د مرتدينو په باره کې فرمايي: ﴿ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾. البقرة آية ٢١٧.

(٣) الله تعالى فرمايي: ﴿ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۚ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴾. البقرة آية ٢٤.

Scanned with CamScanner

او کومو مسلمانانو چې ګناهونه کړي او ددینه یې توبه نه وي ویستلي نو دوی به د مؤقت وخت د پاره جهنم ته داخلولې شي، دوی ته به د خپلو ګناهونو په مقدار سزا ورکولې شي بیا به د جهنم نه راویستلې شي او جنت ته به داخلولې شي.

## د دُوزخ مختلف نومونه

په قرآن کریم کې د دوزخ مختلف نومونه ذکر شوي:

١. جَهَنَّم. (١) ٢. اَلنَّار. (٢) ٣. سَعِيْر. (٣) ٤. سَقَرْ. (٤)

٥. جَحِيْم. (٥) ٦. دَارُ الْبَوَار. (٦) ٧. حُطَمَة. (٧)

## جهنم به د قیامت په ورځ میدانِ محشر ته راوستې شي

الله تعالی فرمایي:

﴿ كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ۝ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ۝ وَجِاىٓءَ يَوْمَئِذٍ

---

(١) الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ۝ لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴾. النبا آية ٢١، ٢٢.

(٢) الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾. البقرة آية ٣٩

(٣) الله تعالی فرمایي: ﴿ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ﴾. الشورى آية ٧.

(٤) الله تعالی فرمایي: ﴿ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴾. القمر آية ٤٨.

بل ځای فرمایي: ﴿ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ ۝ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴾. المدثر آية ٢٧، ٢٨.

(٥) الله تعالی فرمایي: ﴿ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴾. النازعات آية ٣٦.

(٦) الله تعالی فرمایي: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ۝ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴾. ابراهيم آية ٢٨، ٢٩.

(٧) الله تعالی فرمایي: ﴿ كَلَّا لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ۝ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝ نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ ۝ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ ﴾. الهمزة آية ٤ تا ٧.

ددې اکثره آیتونو ترجمه روستو ځای په ځای ذکر شوې.

Scanned with CamScanner

بِجَهَنَّمَ ۚ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّىٰ لَهُ الذِّكْرَىٰ ﴾.⁽¹⁾

ترجمه : حقه ده دا خبره ، هر كله چې زمكه اُوخوزولې شي په بار بار خوَزولو سره (او ددې د پاسه هر څه ريزه ريزه كړې شي) . او ستا رب (يعنى د هغه حُكم) به راشي ، او فرښتې به صَف صَف راشي (يعنى صفونه به جوړ كړي) . او په دغه ورځ به جهنم راوستلې شي ، نو په دغه ورځ به انسان نصيحت حاصل كړي ، او نصيحت به ده ته څه فائده وركړي ؟ (يعنى په دغه ورځ به نصيحت اخيستل ده ته هيڅ فائده نه وركوي) .⁽²⁾

---

(١) الفجر آية ٢١ تا ٢٣ .

(٢) {كَلَّا} أَيْ: حَقًّا {إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا} أَيْ: وُطِئَتْ وَمُهِّدَتْ وَسُوِّيَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ، وَقَامَ الْخَلَائِقُ مِنْ قُبُورِهِمْ لِرَبِّهِمْ. {وَجَاءَ رَبُّكَ} يَعْنِي: لِفَصْلِ الْقَضَاءِ بَيْنَ خَلْقِهِ .... وَالْمَلَائِكَةُ يَجِيئُونَ بَيْنَ يَدَيْهِ صُفُوفًا صُفُوفًا..... {يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ} أَيْ: عَمَلَهُ وَمَا كَانَ أَسْلَفَهُ فِي قَدِيمِ دَهْرِهِ وَحَدِيثِهِ، {وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى} أَيْ: وَكَيْفَ تَنْفَعُهُ الذِّكْرَى؟ . تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٣٩٩ .

{كَلَّا} رَدْعٌ لَهُمْ عَنْ ذَلِكَ {إِذَا دُكَّتِ الْأَرْض دَكًّا دَكًّا} زُلْزِلَتْ حَتَّى يَنْهَدِمَ كُلُّ بِنَاءٍ عَلَيْهَا وَيَنْعَدِم {وَجَاءَ رَبّك} أَيْ أَمْره {وَالْمَلَك} أَيْ الْمَلَائِكَة {صَفًّا صَفًّا} حَال أَيْ مُصْطَفِّينَ أَوْ ذَوِي صفوفٍ كثيرةٍ {وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّم} تُقَادُ بِسَبْعِينَ أَلْف زِمَامٍ، كُلُّ زِمَامٍ بِأَيْدِي سَبْعِينَ أَلْف مَلَكٍ، لَهَا زَفِيرٌ وَتَغَيُّظٌ {يَوْمَئِذٍ} بَدَل مِنْ إِذَا وَجَوَابهَا {يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ} أَيْ الْكَافِر مَا فَرَّطَ فِيهِ {وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى} اِسْتِفْهَام بِمَعْنَى النَّفْيِ أَيْ لَا يَنْفَعهُ تَذَكُّره ذَلِكَ. تفسير الجلالين ص ٨٠٧ .

قَوْلُهُ تَعَالَى: (وَجَاءَ رَبُّكَ) أَيْ أَمْرُهُ وَقَضَاؤُهُ. قَالَهُ الْحَسَنُ. وَهُوَ مِنْ بَابِ حَذْفِ الْمُضَافِ. وَقِيلَ: أَيْ جَاءَهُمُ الرَّبُّ بِالْآيَاتِ الْعَظِيمَةِ. وَهُوَ كَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللهُ فِي ظُلَلٍ مِنَ الْغَمامِ﴾ [ البقرة : ٢١٠]، أَيْ بِظُلَلٍ. وَقِيلَ: جَعَلَ مَجِيءَ الْآيَاتِ مَجِيئًا لَهُ. تَفْخِيمًا لِشَأْنِ تِلْكَ الْآيَاتِ . وَمِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالَى فِي الْحَدِيثِ: (يَا بْنَ آدَمَ! مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي. وَاسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي. وَاسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِي) ..... (وَالْمَلَكُ) أَيِ الْمَلَائِكَةُ. (صَفًّا صَفًّا) أي صفوفا..... (يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسانُ) أَيْ يَتَّعِظُ وَيَتُوبُ. وَهُوَ الْكَافِرُ، أَوْ مَنْ هِمَّتُهُ مُعْظَمُ الدُّنْيَا. (وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرى) أَيْ وَمِنْ أَيْنَ لَهُ الِاتِّعَاظُ وَالتَّوْبَةُ وَقَدْ فَرَّطَ فِيهَا فِي الدُّنْيَا. وَيُقَالُ: أَيْ وَمِنْ أَيْنَ لَهُ مَنْفَعَةُ الذِّكْرَى. فَلَا بُدَّ مِنْ تَقْدِيرِ حَذْفِ الْمُضَافِ، وَإِلَّا فَبَيْنَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ وَبَيْنَ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى تناف. قاله الزمخشري. تفسير القرطبي ج ٢٠ ص ٥٤ .

## د جهنم به اَويازره واګې وي ، او هره واګه به اَويازره فرښتونيولې وي

د جهنم به آويا زره (٧٠٠٠٠) واګې وي ، او هره واګه به آويا زره (٧٠٠٠٠) فرښتو نيولې وي.

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ. مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا . (١)

د قيامت په دغه ورځ به جهنم راوستې شي ، ددې به آويا زره (٧٠٠٠٠) واګې وي ، د هرې واګې سره به آويازره (٧٠٠٠٠) فرښتې وي چې دا به راکاږي.

**د حديث تشريح** : چې کله د قيامت په ورځ دا هر څه ريزه ريزه شي او زمکه هوار ميدان کړې شي نو جهنم چې الله تعالی په کوم ځای کې پيدا کړی فرښتې به يې د هغه ځای نه په رابنکلو راولي ، ددې جهنم به آويازره (٧٠٠٠٠) واګې وي ، او هره واګه به آويازره (٧٠٠٠٠) فرښتو نيولې وي چې دا مجموعه څلور آربه او نوي کروړه (٤٩٠٠٠٠٠٠٠) فرښتې شوی. (٢)

فرښتې به دا جهنم په داسې ځای کې کيږدي چې د محشر واله خلقو او جنت په مينځ کې به وي ، بيا به د جهنم د پاسه پُل صراط کيښودې شي چې دا به جنت ته د تللو لاره وي ، نېک عمله مسلمانان به په آسانه پرې تېر شي ، او کافران او ګناهګاران به ترې لاندې جهنم ته اُوغور ځيږي.

فرښتو به جهنم د واګو نه ځکه نيولې وي ځکه دا به غصه وي چې چيرته د محشر په ټولو

---

(١) صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ فِي شِدَّةِ حَرِّ نَارِ جَهَنَّمَ وَبُعْدِ قَعْرِهَا وَمَا تَأْخُذُ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ رقم الحديث ٢٩(٢٨٤٢) . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ النَّارِ رقم الحديث ٢٥٧٣ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٦٦٦(٢) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٧٥٨.

(٢) ځکه آويازره (٧٠٠٠٠) ته چې په آويازره (٧٠٠٠٠) کې ضرب ورکړې شي نو ددينه څلور آربه او نوي کروړه (٤٩٠٠٠٠٠٠٠) جوړيږي. ابوالشمس عفي عنه

خلقو باندې په یو ځل حمله اونکړي او ټول تېر نکړي .(۱)

البته جهنم به هر مُتکبّر ، سرکشه ، او مغرور فخر کوونکی د خلقو د مینځ نه راټول کړي او خپلې خېټې ته به یې داخل کړي ( لکه دا مضمون په یو اُوږد حدیث کې هم ذکر شوی ) .(۲)

## د قیامت په ورځ به جهنم ښکاره کړې شي او هر کس به یې په یقین سره اوګوري

۱. الله تعالی فرمایي : ﴿ فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَىٰ ۝ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ مَا

---

(۱) مظاهر حق ج ۹ بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا .

ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په " مرقاة " کې هم ددې حدیث تحقیق داسې کړی : ( يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ) اَلْبَاءُ لِلتَّعْدِيَةِ أَيْ يُؤْتَى بِهَا مِنَ الْمَكَانِ الَّتِيْ خَلَقَهَا اللهُ تَعَالَى فِيْهِ. وَيَدُلُّ عَلَيْهِ قَوْلُ اللهِ تَعَالَى فِيْهِ : {وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ} [ الفجر آية ۲۳ ] ( يَوْمَئِذٍ) أَيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَقْتَ النَّدَامَةِ وَالْحَسْرَةِ وَالْمَلَامَةِ ( لَهَا سَبْعُوْنَ أَلْفَ زِمَامٍ) بِكَسْرِ الزَّايِ وَهُوَ مَا يُشَدُّ بِهِ (مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّوْنَهَا) أَيْ يَسْحَبُوْنَهَا. أَيْ إِلَى أَنْ تُدَارَ بِأَرْضٍ لَا تَبْقَى لِلْجَنَّةِ طَرِيْقٌ إِلَّا الصِّرَاطُ عَلَى ظَهْرِهَا. وَفَائِدَةُ هٰذِهِ الْأَزِمَّةِ الَّتِيْ يُجَرُّ بِهَا بَعْدَ الْإِشَارَةِ إِلَى عَظَمَتِهَا مَنْعُهَا مِنَ الْخُرُوْجِ عَلَى الْمَحْشَرِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللهُ مِنْهُمْ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۹ ص ۳۶۱۳ بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا .

(۲) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : إِذَا جَمَعَ اللهُ النَّاسَ فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، أَقْبَلَتِ النَّارُ يَرْكَبُ بَعْضُهَا بَعْضًا ، وَخَزَنَتُهَا يَكُفُّوْنَهَا ، وَهِيَ تَقُوْلُ : وَعِزَّةِ رَبِّيْ لَيُخَلِّيَنَّ بَيْنِيْ وَبَيْنَ أَزْوَاجِيْ أَوْ لَأَغْشَيَنَّ النَّاسَ عُنُقًا وَاحِدًا . فَيَقُوْلُوْنَ : وَمَنْ أَزْوَاجُكِ ؟ فَتَقُوْلُ : كُلُّ مُتَكَبِّرٍ جبارٍ ، فَتُخْرِجُ لِسَانَهَا فَتَلْتَقِطُهُمْ بِهِ مِنْ بَيْنِ ظَهْرَانَيِ النَّاسِ ، فَتَقْذِفُهُمْ فِيْ جَوْفِهَا . ثُمَّ تَسْتَأْخِرُ ، ثُمَّ تُقْبِلُ يَرْكَبُ بَعْضُهَا بَعْضًا ، وَخَزَنَتُهَا يَكُفُّوْنَهَا وَهِيَ تَقُوْلُ : وَعِزَّةِ رَبِّيْ لَيُخَلِّيَنَّ بَيْنِيْ وَبَيْنَ أَزْوَاجِيْ أَوْ لَأَغْشَيَنَّ النَّاسَ عُنُقًا وَاحِدًا ، فَيَقُوْلُوْنَ : وَمَنْ أَزْوَاجُكِ ؟ فَتَقُوْلُ : كُلُّ جَبَّارٍ كَفُوْرٍ ، فَتَلْقُطُهُمْ بِلِسَانِهَا مِنْ بَيْنِ ظَهْرَانَيِ النَّاسِ فَتَقْذِفُهُمْ فِيْ جَوْفِهَا . ثُمَّ تَسْتَأْخِرُ ثُمَّ تُقْبِلُ فَيَرْكَبُ بَعْضُهَا بَعْضًا وَخَزَنَتُهَا يَكُفُّوْنَهَا وَهِيَ تَقُوْلُ : وَعِزَّةِ رَبِّيْ لَيُخَلِّيَنَّ بَيْنِيْ وَبَيْنَ أَزْوَاجِيْ أَوْ لَأَغْشَيَنَّ النَّاسَ عُنُقًا وَاحِدًا ، فَيَقُوْلُوْنَ : مَنْ أَزْوَاجُكِ ؟ فَتَقُوْلُ : كُلُّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ، فَتَلْقُطُهُمْ بِلِسَانِهَا مِنْ بَيْنِ ظَهْرَانَيِ النَّاسِ ، فَتَقْذِفُهُمْ فِيْ جَوْفِهَا ثُمَّ تَسْتَأْخِرُ ، وَيَقْضِي اللهُ بَيْنَ الْعِبَادِ . مسند ابي يعلى الموصلي مِنْ مُسْنَدِ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ ج۲ ص ۳۷۹ رقم الحديث ۱۱۴۵ . رجاله ثقات . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج۲ ص ۵۳۵ سورة النساء في تفسير آية ۳۶ . كنزالعمال رقم الحديث ۷۷۸۲ التكبر والخيلاء .

Scanned with CamScanner

سَعَىٰ ۝ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴾ . (١)

ترجمه : بیا هر کله چې ( د قیامت ) هغه لویه هنګامه راشي . په کومه ورځ چې به انسان هغه عمَلونه رایاد کړي کوم چې ده کړي وي . او جهنم به د هر لیدونکي د پاره راښکاره کړې شي .

( یعنی د جهنم نه به پَرده لرې کړې شي او هر کس به یې په خپلو سترګو اُوګوري ) . (٢)

٣ . بل ځای الله ربّ العزت فرمایي :

﴿ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ ۝ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ ﴾ . (٣)

ترجمه : تاسو به خامخا جهنم اُوګورئ . بیا تاسو به خامخا دا جهنم د یقین په سترګو اُوګورئ .

**فائده** : په دې آیت کې الله تعالی دوه پېرې په تاکید سره وویل چې " تاسو به خامخا یقیني جهنم اوګورئ " . یا دا مطلب چې په اول ځل به یې د لرې نه اوګورئ او په دویم ځل به یې د نزدې نه اوګورئ . (٤)

---

(١) النازعات آیة ٣٤ تا ٣٦ .

(٢) { فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَى } يَعْنِي النَّفْخَةَ الثَّانِيَةَ الَّتِي فِيهَا الْبَعْثُ وَقَامَتِ الْقِيَامَةُ. وَسُمِّيَتِ الْقِيَامَةُ: "طَامَّةً" لِأَنَّهَا تَطُمُّ عَلَى كُلِّ هَائِلَةٍ مِنَ الْأُمُورِ، فَتَعْلُو فَوْقَهَا وَتَغْمُرُ مَا سِوَاهَا. وَ"الطَّامَّةُ" عِنْدَ الْعَرَبِ: الدَّاهِيَةُ الَّتِي لَا تُسْتَطَاعُ. { يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ مَا سَعَى } مَا عَمِلَ فِي الدُّنْيَا مِنْ خَيْرٍ وَشَرٍّ. { وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَنْ يَرَى } قَالَ مُقَاتِلٌ يُكْشَفُ عَنْهَا الْغِطَاءُ فَيَنْظُرُ إِلَيْهَا الْخَلْقُ. تفسیر البغوي ج ٨ ص ٣٣٠ .

{ فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَى } وَهُوَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ. قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا . سُمِّيَتْ بِذَلِكَ لِأَنَّهَا تَطُمُّ عَلَى كُلِّ أَمْرٍ هَائِلٍ مُفْظِعٍ، كَمَا قَالَ تَعَالَى: { وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ } [ القمر: ٤٦ ] . { يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ مَا سَعَى } أَيْ: حِينَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ابْنُ آدَمَ جَمِيعَ عَمَلِهِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ، كَمَا قَالَ: { يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى } [الفجر : ٢٣] . { وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَنْ يَرَى } أَيْ: أُظْهِرَتْ لِلنَّاظِرِينَ فَرَآهَا النَّاسُ عِيَانًا . تفسیر ابن کثیر ج ٨ ص ٣١٧ .

(٣) التکاثر آیة ٦ ، ٧ .

(٤) { لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ } قَرَأَ ابْنُ عَامِرٍ وَالْكِسَائِيُّ : "لَتُرَوُنَّ" بِضَمِّ التَّاءِ مِنْ أَرَيْتُهُ الشَّيْءَ ، ←←← ←←←

Scanned with CamScanner

# د سختې غصې په وجه د جهنم شور او آوازونه

د قيامت په ورځ چې کله جهنم دې کافرانو او مشرکينو له ره د لرې نه اوګوري نو د ډيرې غصې په وجه به غرمبارې، شور او آوازونه کوي.

١. الله تعالى په قرآن کريم کې ددې تذکره داسې کړې:

﴿إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا﴾.(١)

ترجمه: کله چې دا جهنم دوی (کافرانو او ګناهګارانو) لره د لرې نه اوګوري نو دوی به د جهنم د غصې نه جوشيدل (غرمبارې) او آوازونه واوري.(٢)

---

←←← وَقَرَأَ الْآخَرُونَ بِفَتْحِ التَّاءِ، أَيْ: تَرَوْنَهَا بِأَبْصَارِكُمْ مِنْ بَعِيدٍ. {ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا} مُشَاهَدَةً {عَيْنَ الْيَقِينِ}. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٥١٩.

{ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا} تكرير للتأكيد. أو الأولى إذا رأيتهم من مكان بعيد والثانية إذا وردوها. أو المراد بالأولى المعرفة وبالثانية الإبصار. {عَيْنَ الْيَقِينِ} أي الرؤية التي هي نفس اليقين، فإن علم المشاهدة أعلى مراتب اليقين. تفسير البيضاوي ج ٥ ص ٣٣٤.

(١) الفرقان آية ١٢.

(٢) {إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا} غَلَيَانًا كَالْغَضْبَانِ إِذَا غَلَى صَدْرُهُ مِنَ الْغَضَبِ {وَزَفِيرًا} صَوْتًا شَدِيدًا أَوْ سَمَاعَ التَّغَيُّظِ رؤيته وعلمه. تفسير الجلالين ص ٤٧١.

(إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ) أَيْ مِنْ مَسِيرَةِ خَمْسِمِائَةِ عَامٍ. (سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا) قِيلَ: الْمَعْنَى إِذَا رَأَتْهُمْ جَهَنَّمُ سَمِعُوا لَهَا صَوْتَ التَّغَيُّظِ عَلَيْهِمْ. وَقِيلَ: الْمَعْنَى إِذَا رَأَتْهُمْ خُزَّانُهَا سَمِعُوا لَهُمْ تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا حِرْصًا عَلَى عَذَابِهِمْ. وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ .... وَقَالَ الْكَلْبِيُّ: سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا كَتَغَيُّظِ بَنِي آدَمَ وَصَوْتًا كَصَوْتِ الْحِمَارِ. وَقِيلَ: فِيهِ تَقْدِيمٌ وَتَأْخِيرٌ، سَمِعُوا لَهَا زَفِيرًا وَعَلِمُوا لَهَا تَغَيُّظًا. وَقَالَ قُطْرُبٌ: التَّغَيُّظُ لَا يُسْمَعُ، وَلَكِنْ يُرَى، وَالْمَعْنَى: رَأَوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَسَمِعُوا لَهَا زَفِيرًا. تفسير القرطبي ج ١٣ ص ٧.

وَقَوْلُهُ: {إِذَا رَأَتْهُم} أَيْ: جَهَنَّمُ {مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ} يَعْنِي: فِي مَقَامِ الْمَحْشَرِ. قَالَ السُّدِّيُّ: مِنْ مَسِيرَةِ مِائَةِ عَامٍ {سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا} أَيْ: حَنَقًا عَلَيْهِمْ. كَمَا قَالَ تَعَالَى: {إِذَا أُلْقُوا فِيهَا سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا وَهِيَ تَفُورُ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ}. تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٩٧.

Scanned with CamScanner

۲ . بل ځای الله ربّ العزت فرمایي :

﴿ إِذَآ أُلْقُوا۟ فِيهَا سَمِعُوا۟ لَهَا شَهِيقًا وَهِىَ تَفُورُ ۝ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلْغَيْظِ ﴾.(۱)

ترجمه : کله چې دا کافران په دې جهنم کې واچولې شي نو دوی به ددې جهنم د غړمباري آواز واوري او دا به جُوش وهي . (دا جهنم به کافرانو ته دومره غصه وي) قریبه ده چې د ډیرې غصې په وجه (د اُوریوه حصه د بلې حصې نه) اُوشلیږي .(۲)

۳ . حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمایي :

إِنَّ الْعَبْدَ لَيُجَرُّ إِلَى النَّارِ، فَتَشْهَقُ إِلَيْهِ شَهْقَةَ الْبَغْلَةِ إِلَى الشَّعِيرِ، ثُمَّ تَزْفِرُ زَفْرَةً لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا خَافَ. (۳)

بیشکه یو (گناهگار) بنده به جهنم طرف ته راښکلې شي نو دا جهنم به ده ته (د غصې په وجه) غرارې کوي لکه څرنګې چې قچر اُوربشو ته هنرارې کوي ، بیا به داسې (خطرناک) آواز اوکړي چې هیڅوک به بغیر د ډیرې پاتې نشي (یعنی هر کس به اُویریږي) .

---

(۱) الملک آية ۷ ، ۸ .

(۲) { إِذَا أُلْقُوا فِيهَا سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا } صَوْتًا مُنْكَرًا كَصَوْتِ الْحِمَار {وَهِيَ تَفُورُ} تَغْلِي {تَكَاد تَمَيَّزُ} وَقُرِئَ تَتَمَيَّزُ عَلَى الْأَصْل تَتَقَطَّع {مِنَ الْغَيْظِ} غَضَبًا عَلَى الْكَافِر . تفسير الجلالين ص ۷۵۵ .

{ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ } أَيْ: يَكَادُ يَنْفَصِلُ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ؛ مِنْ شِدَّةِ غَيْظِهَا عَلَى مَنْ كَفَرَ بِاللهِ. تفسير ابن كثير ج ٦ ص ۹۷ .

{سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا} وَهُوَ أَوَّلُ نَهِيقِ الْحِمَارِ وَذَلِكَ أَقْبَحُ الْأَصْوَاتِ {وَهِيَ تَفُورُ} تَغْلِي بِهِمْ كَغَلْيِ الْمِرْجَلِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: تَفُورُ بِهِمْ كَمَا يَفُورُ الْمَاءُ الْكَثِيرُ بِالْحَبِّ الْقَلِيلِ. {تَكَادُ تَمَيَّزُ} تَنْقَطِعُ {مِنَ الْغَيْظِ} مِنْ تَغَيُّظِهَا عَلَيْهِمْ. قَالَ ابْنُ قُتَيْبَةَ: تَكَادُ تَنْشَقُّ غَيْظًا عَلَى الْكُفَّارِ. تفسير البغوي ج ۸ ص ۱۷۷ .

(۳) تفسير ابن كثير ج ٦ ص ۹۷ سورة الملک في تفسير آية ۷ . تفسير القرطبي ج ۱۸ ص ۲۱۱ . الدرالمنثور في التفسير بالمأثور ج ٦ ص ۲۳۹ . صفوة التفاسير ج ۳ ص ۳۹۳ . تفسير ابن ابي حاتم ( تفسير القرآن العظيم لابن أبي حاتم ) ج ۸ ص ۲٦٦۸ . تفسير الماوردي ( النكت والعيون) ج ٦ ص ۵۳ . تفسير ابن رجب الحنبلي ( روائع التفسير) ج ۲ ص ۳۹ . تفسير العز بن عبدالسلام ج ۳ ص ۳۴۱ .

## جهنم هر سهر او ماښام خطرناک آوازونه کوي

مُغيث بن سُمَيّ رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

إِنَّ لِجَهَنَّمَ كُلَّ يَوْمٍ زَفْرَتَيْنِ مَا يَبْقَى شَيْءٌ إِلَّا سَمِعَهُمَا إِلَّا الثَّقَلَيْنِ اللَّذَيْنِ عَلَيْهِمَا الْحِسَابُ وَالْعَذَابُ .(١)

بيشکه جهنم په هره ورځ دوه (٢) پيرې آوازونه کوي ، هر شی دا آواز اوري بغير د دوه قِسمه مخلوقاتو نه ، (يعنی انسانان او پيريان يې نه اوري) په کومو باندې چې حِساب او عذاب دی .

## د جهنم آواز کولو سره د ټولو مخلوقاتو يَره

١ . د قيامت په ورځ د جهنم آواز کولو سره به په هر چا باندې سخته يَره راشي تر دې چې انبياء کرام به هم الله تعالى ته په سجده شي ، او د خپل ځان د بچ کيدو سوال به کوي ، خو صرف رسولُ الله صلى الله عليه وسلم به د خپل اُمت د بچ کيدو سوال کوي . (٢)

---

(١) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٦ ص ٦٧ مُغِيثُ بْنُ سُمَيٍّ . التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي الباب الثاني عشر في ذكر تغيظها وزفيرها ص ١٠٦ .

(٢) أخرج ابن وهب فِي الْأَهْوَال عَن العطاف بن خَالِد قَالَ: يُؤْتى بجهنم يَوْمئِذٍ يَأْكُل بَعْضهَا بَعْضًا يَقُودهَا سَبْعُونَ ألف ملك فَإِذا رَأَتْ النَّاس فَذَلِك قَوْله {إِذا رأتهم من مَكَان بعيد سمعُوا لَهَا تغيظاً وزفيراً} زفرت زفرَة لَا يبْقى نَبِي وَلَا صديق إِلَّا برك لِرُكْبَتَيْهِ وَيَقُول: يَا رَبِّ نَفسِي نَفسِي . وَيَقُولُ رَسُولُ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: أُمَّتِي . الدر المنثور ج ٦ ص ٢٣٩ . التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي الباب الثاني عشر في ذكر تغيظها وزفيرها ص ١٠٨ .

وَأخرج عبد الرَّزَّاق وَعبد بن حميد وَابْن جرير وَابْن الْمُنْذر وَابْن أبي حَاتِم عَن عبيد بن عُمَيْر فِي قَوْله {سمعُوا لَهَا تغيظاً وزفيراً} قَالَ: إِن جَهَنَّم لتزفر زفرَة لَا يبْقى مَلَكٌ مقرب وَلَا نَبِي مُرْسل إِلَّا ترْعد فرائصه حَتَّى أَن إِبْرَاهِيم عَلَيْهِ السَّلَام ليجثوا على رُكْبَتَيْهِ وَيَقُول: يَا رب لَا أَسأَلك الْيَوْم إِلَّا نَفسِي . الدر المنثور ٦ / ٢٣٩ .

عَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ : إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ جَمَعَ اللهُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَنَزَلَتِ الْمَلَائِكَةُ فَصَارُوا صُفُوفًا ، فَيَقُولُ: يَا جِبْرِيلُ ائْتِنِي بِجَهَنَّمَ . فَيَأْتِي بِهَا جِبْرِيلُ تُقَادُ بِسَبْعِينَ ← ← ← ←

Scanned with CamScanner

۲ . يو ځل كعب الاحبار رَحِمَهُ اللهُ په جُمات كې ناست وُ ، په دې وخت كې حضرت عُمر رضي الله عنه جُمات ته راداخل شو ، او كعب الاحبار رَحِمَهُ اللهُ ته يې وويل :

اې كعب ! مونږ (د الله جل جلاله د عذاب او جهنم نه) اُويَروه .

كعب الاحبار رَحِمَهُ اللهُ ورته اوفرمايل : قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه كې زما ساه ده بيشكه جهنم به د قيامت په ورځ نزدې كړې شي :

لَهَا زَفِيْرٌ وَشَهِيْقٌ . ددې د پاره به آوازونه او رَمبارې وي .

تردې چې دا به نور هم رانزدې كړې شي ، نو دا به داسې خطرناک آواز اوكړي چې الله تعالى په مخ د زمكه ټومره انبياء كرام ، صديقين او شهيدان پيدا كړي دا ټول به په ګنډو باندې اُوغورځيږي ، او دا هريو به دا وايي : اې الله زما حفاظت اوكړه .

بيا كعب الاحبار رَحِمَهُ اللهُ حضرت عُمر رضي الله عنه ته اوفرمايل :

وَلَوْ كَانَ لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ عَمَلُ سَبْعِيْنَ نَبِيًّا لَظَنَنْتَ أَنْ لَا تَنْجُوَ

اې ابن خطاب ! كه د تا سره (په دغه ورځ) د اُويا (٧٠) اَنبياء كرامو اعمال وي نو ته به (د جهنم د يَرې نه) دا ګمان اوكړې چې ګني ته به نجات اُو نه مومې .

حضرت عُمر رضي الله عنه (دې اَوريدو سره) اوفرمايل :

وَاللهِ إِنَّ الْأَمْرَ لَشَدِيْدٌ . قسَم په الله ، معامله ډيره سخته ده . (١)

---

←←← أَلْفَ زِمَامٍ حَتَّى إِذَا كَانَتْ مِنَ الْخَلَائِقِ عَلَى قَدْرِ مِائَةِ عَامٍ زَفَرَتْ زَفْرَةً طَارَتْ لَهَا أَفْئِدَةُ الْخَلَائِقِ. ثُمَّ زَفَرَتْ ثَانِيَةً فَلَا يَبْقَى مَلَكٌ مُقَرَّبٌ، وَلَا نَبِيٌّ مُرْسَلٌ إِلَّا جَثَا لِرُكْبَتَيْهِ. ثُمَّ تَزْفِرُ الثَّالِثَةَ فَتَبْلُغُ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَذْهَلُ الْعُقُولُ فَيَفْزَعُ كُلُّ امْرِئٍ إِلَى عَمَلِهِ حَتَّى أَنَّ إِبْرَاهِيْمَ الْخَلِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَقُوْلُ : بِخُلَّتِيْ لَا أَسْأَلُكَ إِلَّا نَفْسِيْ. وَيَقُوْلُ مُوْسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ: بِمُنَاجَاتِيْ لَا أَسْأَلُكَ إِلَّا نَفْسِيْ ، وَأَنَّ عِيْسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ لَيَقُوْلُ : بِمَا أَكْرَمْتَنِيْ لَا أَسْأَلُكَ إِلَّا نَفْسِيْ لَا أَسْأَلُكَ مَرْيَمَ الَّتِيْ وَلَدَتْنِيْ ، وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : أُمَّتِيْ أُمَّتِيْ. لَا أَسْأَلُكَ الْيَوْمَ نَفْسِيْ إِنَّمَا أَسْأَلُكَ أُمَّتِيْ .... حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٥ ص ٣٧٢

(١) عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَاطِبٍ، عَنْ أَبِيْهِ قَالَ: جَلَسْنَا إِلَى كَعْبِ الْأَحْبَارِ فِي الْمَسْجِدِ وَهُوَ يُحَدِّثُ، فَجَاءَ عُمَرُ رضي الله عنه فَجَلَسَ فِيْ نَاحِيَةِ الْقَوْمِ. فَنَادَاهُ. فَقَالَ : وَيْحَكَ يَا كَعْبُ، خَوِّفْنَا. قَالَ : ←←←←←

Scanned with CamScanner

**نوټ** : په قرآن کريم او احاديثو کې د جهنم د خبرو تذکره هم راغلی ، چې د الله تعالی سره به خبرې کوي . (١)

همدارنګې په احاديثو کې د جنت او جهنم په خپل مينځ کې د خبرو تذکره هم راغلی . (٢)

---

←←← وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنَّ النَّارَ لَتَقْرُبُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا زَفِيْرٌ وَشَهِيْقٌ حَتَّى إِذَا أُدْنِيَتْ وَقُرِّبَتْ زَفَرَتْ زَفْرَةً فَمَا خَلَقَ اللهُ مِنْ نَبِيٍّ وَلَا صِدِّيْقٍ وَلَا شَهِيْدٍ إِلَّا جَثَا لِرُكْبَتَيْهِ سَاقِطًا حَتَّى يَقُوْلُ كُلُّ نَبِيٍّ وَصِدِّيْقٍ وَشَهِيْدٍ : اَللّٰهُمَّ لَا أُكَلِّفُكَ الْيَوْمَ إِلَّا نَفْسِيْ، وَلَوْ كَانَ لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ عَمَلُ سَبْعِيْنَ نَبِيًّا لَظَنَنْتُ أَنْ لَا تَنْجُوَ، قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه: وَاللهِ إِنَّ الْأَمْرَ لَشَدِيْدٌ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٥ ص ٣٧١ .

وفي رواية : عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ عُمَرَ رضي الله عنه، قَالَ لِكَعْبٍ: يَا كَعْبُ ! خَوِّفْنَا ، قَالَ: نَعَمْ ، يَجْمَعُ اللهُ الْخَلَائِقَ فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ يَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ وَيُسْمِعُهُمُ الدَّاعِيْ وَيُجَاءُ بِجَهَنَّمَ ، فَلَهَا يَوْمَئِذٍ ثَلَاثُ زَفَرَاتٍ ، فَأَوَّلُ زَفْرَةٍ لَا تَبْقَى دَمْعَةٌ فِيْ عَيْنٍ إِلَّا سَالَتْ حَتَّى يَنْسَكِبَ الدَّمُ ، وَأَمَّا الثَّانِيَةُ فَلَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا جَثَا لِرُكْبَتَيْهِ يُنَادِيْ: رَبِّ نَفْسِيْ نَفْسِيْ حَتَّى خَلِيْلَهُ إِبْرَاهِيْمَ . وَأَمَّا الثَّالِثَةُ فَلَوْ كَانَ لَكَ يَا عُمَرُ عَمَلُ سَبْعِيْنَ نَبِيًّا لَأَشْفَقْتَ حَتَّى تَعْلَمَ مِنْ أَيِّ الْفَرِيْقَيْنِ تَكُوْنُ . مصنف ابن ابي شيبة ج ٧ ص ٥٤ رقم ٣٤١٦٢ كِتَابُ ذِكْرِ النَّارِ مَا ذُكِرَ فِيمَا أُعِدَّ لِأَهْلِ النَّارِ وَشِدَّتِهِ. الزهد لاحمد بن حنبل ج ١ ص ١٠٠ رقم ٦٤١ . تلبيس ابليس ج ١ ص ٣٠٢ . تفسير القرطبي ج ١٠ ص ١٩٣ سورة النحل في تفسير آية ١١١ .

(١) ﴿ يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴾ . ق آية ٣٠ .

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ: رَبِّ أَكَلَ بَعْضِيْ بَعْضًا، فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ : نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الزَّمْهَرِيْرِ" . صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ النَّارِ، وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٦٠ . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ اسْتِحْبَابِ الْإِبْرَادِ بِالظُّهْرِ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ لِمَنْ يَمْضِي إِلَى جَمَاعَةٍ، وَيَنَالُهُ الْحَرُّ فِي طَرِيقِهِ رقم الحديث ١٨٥ (٦١٧) .

(٢) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ، فَقَالَتِ النَّارُ: أُوْثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِيْنَ وَالْمُتَجَبِّرِيْنَ ..... صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ} رقم الحديث ٤٨٥٠ ، صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٣٦ (٢٨٤٦) .

Scanned with CamScanner

بلکه په احاديثو کې د جهنم د سترګو او ليدلو تذکره هم راغلې . (١)

## د جهنم اُور به بار بار تېزولې شي

د جهنم د اُور لمبې چې کله معمولي کمزورې شي نو دوباره به تېزولې شي .

١. الله تعالى فرمايي : ﴿ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴾ . (٢)

ترجمه : هر کله چې د جهنم لمبې کمې شي نو مونږ به په هغوی باندې د جهنم لمبې نورې زياتې کړو . (٣)

**نوټ** : که د جهنم لمبې کمې شي خو بيا به هم په کافرانو باندې عذاب نشي سپکولی.

---

(١) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم : "مَنْ يَقُلْ عَلَيَّ مَا لَمْ أَقُلْ، أَوِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ وَالِدَيْهِ، أَوِ انْتَمَى إِلَى غَيْرِ مَوَالِيهِ، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ" . وَفِي رِوَايَةٍ : "فَلْيَتَبَوَّأْ بَيْنَ عَيْنَيْ جَهَنَّمَ مَقْعَدًا" قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! وَهَلْ لَهَا مِنْ عَيْنَيْنِ ؟ قَالَ : " أَمَا سَمِعْتُمُ اللهَ يَقُولُ: { إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ } " الآيَةَ. تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٩٦ .

(٢) بني اسرائيل ( الاسراء ) آية ٩٧ .

(٣) { كُلَّمَا خَبَتْ } سَكَنَ لَهَبُهَا { زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا } تلهبا واشتعالا . تفسير الجلالين ٣٧٦ .

{ كُلَّمَا خَبَتْ } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: كُلَّمَا سَكَنَتْ أَيْ سَكَنَ لَهَبُهَا . وَقَالَ مُجَاهِدٌ: طُفِئَتْ . وَقَالَ قَتَادَةُ: ضَعُفَتْ . وَقِيلَ: هُوَ الْهُدُوُّ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُوجَدَ نُقْصَانٌ فِي أَلَمِ الْكُفَّارِ لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ: "لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ" ( الزخرف ٧٥) . وَقِيلَ : "كُلَّمَا خَبَتْ" أَيْ: أَرَادَتْ أَنْ تَخْبُوَ { زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا } أَيْ: وَقُودًا. وَقِيلَ: اَلْمُرَادُ مِنْ قَوْلِهِ: { كُلَّمَا خَبَتْ } أَيْ: نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ وَاحْتَرَقَتْ أُعِيدُوا فِيهَا إِلَى مَا كَانُوا عَلَيْهِ وَ زِيدَ فِي تَسْعِيرِ النَّارِ لِتَحْرِقَهُمْ. تفسير البغوي ج ٣ ص ١٦٤ .

وَأَمَّا قَوْلُهُ: { كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا } فَفِيهِ مَبَاحِثُ : اَلْبَحْثُ الْأَوَّلُ: قَالَ الْوَاحِدِيُّ الْخَبْوُ سُكُونُ النَّارِ، يُقَالُ: خَبَتِ النَّارُ تَخْبُو إِذَا سَكَنَ لَهَبُهَا ، وَمَعْنَى خَبَتْ سَكَنَتْ وَطُفِئَتْ ... ثُمَّ قَالَ: { زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا } قَالَ ابْنُ قُتَيْبَةَ : زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا أَيْ تَلَهُّبًا.

اَلْبَحْثُ الثَّانِي : لِقَائِلٍ أَنْ يَقُولَ إِنَّهُ تَعَالَى لَا يُخَفِّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابَ وَقَوْلُهُ: كُلَّمَا خَبَتْ يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْعَذَابَ يَخِفُّ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ . قُلْنَا كُلَّمَا خَبَتْ يَقْتَضِي سُكُونَ لَهَبِ النَّارِ، أَمَّا لَا يَدُلُّ هَذَا عَلَى أَنَّهُ يَخِفُّ الْعَذَابُ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ. التفسير الكبير ج ٢١ ص ٤١١ .

Scanned with CamScanner

۲. بل ځای الله جلّ جلاله فرمایي:

﴿ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴾.(۱)

ترجمه: او کله چې جهنم (د الله دُشمنانو د پاره) سُور لمبه کړې شي.(۲)

۳. الله تعالی به جهنمیانو ته د قیامت په ورځ د عذاب ورکولو په وخت اوفرمایي:

﴿ فَذُوقُوا فَلَنْ نَزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴾.(۳)

ترجمه: پس تاسو (خپله سزا) اُوڅکئ مونږ به هیڅ کله تاسو ته زیات نکړو مګر همدا عذاب به درته زیاتوو.(۴)

## د جهنم اُور ډیر ګرم دی

د جهنم اُور ډیر زیات ګرم دی.

په قرآن کریم ددې بیان شته چې منافقینو به یو بل ته ویل چې "په ګرمئ کې جهاد ته مه ځئ". نو الله تعالی ورته په جواب کې اوفرمایل:

﴿ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴾.(۵)

---

(۱) التکویر آیة ۱۲.

(۲) {وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ} أَيْ: أُوقِدَتْ لِأَعْدَاءِ اللهِ. تفسیر البغوي ج ۸ ص ۳۴۹. تفسیر الخازن ج ۴ ص ۳۹۸.

{وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ} أُوقِدَتْ إِيقَادًا شَدِيدًا، وَقُرِئَ سُعِّرَتْ بِالتَّشْدِيدِ لِلْمُبَالَغَةِ، قِيلَ: سَعَّرَهَا غَضَبُ اللهِ وَخَطَايَا بَنِي آدَمَ. التفسیر الکبیر ج ۳۱ ص ۶۷.

(۳) النبأ آیة ۳۰.

(۴) {فَذُوقُوا} أَيْ فَيُقَالُ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عِنْدَ وُقُوعِ الْعَذَابِ ذُوقُوا جَزَاءَكُمْ {فَلَنْ نَزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا} فَوْقَ عَذَابِكُمْ. تفسیر الجلالین ص ۷۸۸.

(۵) پوره آیت داسې دی: ﴿ فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَقَالُوا لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴾. التوبة آیة ۸۱.

Scanned with CamScanner

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) ته ورته اووایه چې د جهنم اور ډیر زیات ګرم دی ، کاش چې دوی پوهیدلی .

## د جهنم اور د دُنیا د اور نه اَویا ( ۷۰ ) چنده زیات ګرم دی

د جهنم اُور د دُنیا د اُور نه اَویا ( ۷۰ ) چنده زیات ګرم دی ، یعنی د دُنیا دا اُور په ګرمائش کې د جهنم د اُور په اَویائمه ( ۷۰ ) حصه دی .

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ) ته اوفرمایل :

نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ .

ستاسو ( د دُنیا ) اُور د جهنم د اُور اَویایمه ( ۷۰ ) حصه ده . ( یعنی د جهنم اُور ورنه اَویا چنده زیات ګرم دی ) .

د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً .

اې د الله رسوله ! د دُنیا دا اُور هم ( د جهنمیانو د تعذیب د پاره ) کافي وُ . ( نو بیا د دینه د تېز اُور پیدا کولو د پاره څه ضرورت وُ ؟ ) .

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ورته ( دوباره د تاکید د پاره ) اوفرمایل :

فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا .

د جهنم اُور د دُنیا د اُور نه نهه شپیته ( ٦٩ ) درجې زیات کړې شوې دی ، او د هرې درجې ګرمائش د دُنیا د اُور په شان دی . (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : « نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ » . قِيلَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً . قَالَ : « فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا » . صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ صِفَةِ النَّارِ ، وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٦٥ . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي شِدَّةِ حَرِّ نَارِ جَهَنَّمَ وَبُعْدِ قَعْرِهَا وَمَا تَأْخُذُ مِنَ المُعَذَّبِينَ رقم الحديث ٣٠ (٢٨٤٣) . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ القِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٦٦٥(١) . شعب الايمان رقم الحديث ١٣٣ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧٣٢٧ . سنن الترمذي رقم الحديث ٢٥٨٩ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٣١٨ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٧٥٣ .

**د مذکوره حدیث تشریح :** په مذکوره حدیث کې ذکر شو چې د جهنم اور د دُنیا د اور نه په ګرمائش کې اَویا چَنده زیات دی.

په دُنیا کې که مونږ اوګورو نو هم د ګرمائش په اعتبار سره د اور مختلف قِسمونه شته : مثلاً د وَنبو د اور نه د لرګي اور په ګرمائش کې زیات دی ، بیا د کوټلې اور د لرګي د اور نه ډیر ګرم دی ، بیا د بعضې بمونو نه چې کوم اور پیدا کیږي دا د کوټلې د اور نه هم ډیر ګرم دی . نو چې کله په دُنیا کې بعضې اور د بعضو نورو نه په ګرمائش کې ډیر ګرم شته نو همدغه شان د آخرت اور هم د ګرمائش په اِعتبار سره د دُنیا د اور نه اَویا چنده زیات ګرم دی.

بل احتمال دا هم شته چې په عربو کې د اَویا (۷۰) عدد د ډیروالي د پاره استعمالیږي ، نو اوس به د حدیث مطلب دا شي چې : د جهنم اور د دُنیا د اور نه ډیر زیات ګرم دی . (۱)

۲ . د جهنم د اور د ګرمائش اندازه تاسو ددینه اُولږوئ چې علامه ابن ابن المعزي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : بَلَغَنِيْ أَنَّ رَجُلًا لَوْ خَرَجَ مِنْهَا إِلَى نَارِ الدُّنْيَا لَنَامَ فِيْهَا أَلْفَيْ سَنَةٍ .

ماته دا خبره رارسیدلې ده چې که چیرته یو کس د جهنم د اور نه رااُووځي او د دُنیا اور ته راشي نو دا به (د دُنیا اور داسې یَخ محسوس کړي چې) په دې کې به دوه زره (۲۰۰۰) کاله اُوده شي . (۲)

حالانکه د دُنیا اور یَخ ندی خو دا به د جهنم د اور په نسبت ورته یَخ معلوم شي .

## د جهنم اور دومره تېز دی چې ددې یوه حصه بلې حصې لره خوري

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې د جهنم اور خپل رَب ته شکایت اوکړو او وې ویل :

رَبِّ ! أَكَلَ بَعْضِيْ بَعْضًا . اې ربه ! زما یوې حصې بلې حصې لره اُوخوړل .

نو الله تعالى دیته د دوه (۲) ساګانو ویستلو اجازه ورکړه : یوه ساه په ژمي کې ، او بله

---

(۱) معارف الحدیث ج ۱ ص ۱۷۰ .

(۲) التخویف من النار لابن رجب الحنبلي ص ۹۵ الباب العاشر في شدة حرها وزمهریرها . تفسیر ابن رجب الحنبلي ج۱ ص ۵۲۷ سورة التوبة في تفسیر آية ۸۱ .

Scanned with CamScanner

ساه په اُوړي کې. (بيا نبي عليه السلام اوفرمايل:)

فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الزَّمْهَرِيْرِ.

پس تاسو چې (په اُوړي کې) دا سخته گرمي، او (په ژمي کې دا) سخته يَخني محسوسوئ، نو دا ددې جهنم د ساگانو نتيجه ده.(١)

جهنم چې ساه دننه طرف ته راکاږي نو د ژمي سخته يَخني جوړه شي، او چې ساه بهر طرفته راأوباسي نو د اُوړي سخته گرمي جوړه شي.

## د ''طبقۀ هاويه'' اُور ډير گرم دی

د جهنم په طبقو کې يوه طبقه ''هاويه'' ده، ددې اُور ډير زيات گرم دی.

الله تعالى فرمايي:

﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهُ ۞ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ۞ وَمَا أَدْرٰكَ مَا هِيَهْ ۞ نَارٌ حَامِيَةٌ﴾.(٢)

ترجمه: او د چا چې (د نيکو اعمالو) تلې سپکې شوې نو د هغه ځای به ''هاويه'' وي. او تا ته څه پته ده چې ''هاويه'' څه شی دی؟ (او څنگه ځای دی؟)، هغه گرم اُور دی.

## د جهنم اُور به لمبې وهي

الله رب العزت فرمايي:

﴿فَأَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى ۞ لَا يَصْلٰهَا إِلَّا الْأَشْقَى ۞ الَّذِيْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى﴾.(٣)

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِشْتَكَتِ النَّارُ إِلٰى رَبِّهَا فَقَالَتْ: رَبِّ أَكَلَ بَعْضِيْ بَعْضًا، فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ: نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الزَّمْهَرِيْرِ". صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ النَّارِ، وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٦٠. صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةَ بَابُ اسْتِحْبَابِ الْإِبْرَادِ بِالظُّهْرِ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ لِمَنْ يَمْضِي إِلَى جَمَاعَةٍ، وَيَنَالُهُ الْحَرُّ فِي طَرِيقِهِ رقم الحديث ١٨٥(٦١٧). سنن الترمذي رقم الحديث ٢٥٩٢. سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٣١٩.

(٢) القارعة آية ٨ تا ١١.

(٣) الليل آية ١٤ تا ١٦.

Scanned with CamScanner

ترجمه: پس ما تاسو د هغه اور نه اُويرولي چې هغه لمبې وهي. ديته به صرف بَدبخت كس داخليږي، كوم چې (د رسول) تكذيب اوكړو او د اِيمان نه يې مخ واړول.(١)

## د جهنم د ګرمۍ اَثر ډير لرې رَسي

١. يو ځل كعب الاحبار رَحِمَهُ اللهُ حضرت عُمر رضي الله عنه ته د جهنم څه حالات بيانول، په هغې كې يې ورته دا هم اوفرمايل:

يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! لَوْ فُتِحَ مِنْ جَهَنَّمَ قَدْرُ مِنْخَرِ ثَوْرٍ بِالْمَشْرِقِ وَرَجُلٌ بِالْمَغْرِبِ لَغَلَا دِمَاغُهُ حَتَّى يَسِيلَ مِنْ حَرِّهَا.

اې اميرالمؤمنين ! كه چيرته په مشرق كې د جهنم د طرفه د غوائي د پُوزې د سُوري هومره ځاى راكلاؤ كړې شي او يو كس په مغرب كې وي نو د جهنم د ګرمۍ په وجه به دده دِماغ اُوجوشيږي تر دې چې د ګرمۍ په وجه به مكمل وِيلې شي.(٢)

---

(١) {فَأَنْذَرْتُكُمْ} يَا أَهْلَ مَكَّةَ. {نَارًا تَلَظَّى} أَيْ: تَتَلَظَّى، يَعْنِي تَتَوَقَّدُ وَتَتَوَهَّجُ. {لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى الَّذِي كَذَّبَ} الرَّسُولَ. {وَتَوَلَّى} عَنِ الْإِيمَانِ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٤٤٧.

(٢) پوره حديث د عبرت نه ډک دی نو ځکه يې درته رانقل كوم: عَنْ كَعْبٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: قَالَ لِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَوْمًا وَأَنَا عِنْدَهُ: « يَا كَعْبُ ! خَوِّفْنَا » قَالَ: فَقُلْتُ: « يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! أَوَلَيْسَ فِيكُمْ كِتَابُ اللهِ وَحِكْمَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ » قَالَ: « بَلَى، وَلَكِنْ يَا كَعْبُ خَوِّفْنَا » قَالَ: قُلْتُ: « يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اِعْمَلْ عَمَلَ رَجُلٍ لَوْ وَافَيْتَ الْقِيَامَةَ بِعَمَلِ سَبْعِينَ نَبِيًّا لَازْدَرَأْتَ عَمَلَكَ مِمَّا تَرَى » قَالَ: فَأَطْرَقَ عُمَرُ رضي الله عنه وَأَنْكَسَ وَنَكَسَ مَلِيًّا قَالَ: ثُمَّ أَفَاقَ قَالَ: « زِدْنَا يَا كَعْبُ زِدْنَا » قَالَ: قُلْتُ: « يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! لَوْ فُتِحَ مِنْ جَهَنَّمَ قَدْرُ مِنْخَرِ ثَوْرٍ بِالْمَشْرِقِ وَرَجُلٌ بِالْمَغْرِبِ لَغَلَا دِمَاغُهُ حَتَّى يَسِيلَ مِنْ حَرِّهَا » قَالَ: فَأَطْرَقَ عُمَرُ وَنُكِّسَ مَلِيًّا. قَالَ: ثُمَّ أَفَاقَ. فَقَالَ: « زِدْنَا يَا كَعْبُ » قَالَ: قُلْتُ: « يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! إِنَّ جَهَنَّمَ لَتَزْفِرُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ زَفْرَةً مَا بَقِيَ مَلَكٌ مُقَرَّبٌ وَلَا نَبِيٌّ مُصْطَفًى إِلَّا خَرَّ جَاثِيًا عَلَى رُكْبَتَيْهِ » قَالَ: " وَيَقُولُ: رَبِّ نَفْسِي نَفْسِي لَا أَسْأَلُكَ الْيَوْمَ إِلَّا نَفْسِي " قَالَ: فَأَطْرَقَ عُمَرُ رضي الله عنه مَلِيًّا. قَالَ: قُلْتُ: « يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! أَوَلَيْسَ تَجِدُونَ هَذَا فِي كِتَابِ اللهِ ؟ » قَالَ: « كَيْفَ ؟ » قَالَ: قُلْتُ: " قَوْلُ اللهِ سُبْحَانَهُ {يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَفْسِهَا وَتُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ} [ النحل: ١١١ ] ". الزهد لاحمد بن حنبل زُهْدُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ج ١ ص ١٠٠ رقم الحديث ٦٤١. الزواجر ج١ ص ٣٩. حلية الاولياء ج ٥ ص ٣٦٨. تلبيس ابليس ص ٣٠٢ ذكر تلبيس ابليس في الشطح والدعاوى. الدر المنثور فى التفسير بالمأثور ج ٥ ص ١٧٣.

Scanned with CamScanner

۲ . په یو حدیث کې راځي چې حضرت جبریل علیه السلام نبي علیه السلام ته د جهنم ځه احوال ذکر کړل ، په هغې کې حضرت جبریل علیه السلام دا هم اوفرمایل :

وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَوْ أَنَّ قَدْرَ ثُقْبِ إِبْرَةٍ فُتِحَ مِنْ جَهَنَّمَ لَمَاتَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا مِنْ حَرِّهِ .

( اې پیغمبره ! ) قسَم په ذات چې هغه تاسو لره بَرحق رسول رالیږلي یَی . که چیرته د جهنم نه د ستَنې د سُوري هومره ځای راکلاؤ کړې شي نو د هغې دګرمائش د وجې به د زمکې ټول مخلوقات مړه شي . (١)

## د جهنم اُور به همیشه بَل وي

الله ﷻ فرمایي : ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝ عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ ۝ تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴾ . (٢)

ترجمه : ځه مخونه به په دغه ورځ ( د قیامت ) باندې ذلیل وي ، زَېلي ( او ستړي ) به وي ، دوی به بَل شوي اُور ته داخلیږي .

## د جهنم اُور درې زره ( ٣٠٠٠ ) کاله بل شوی ، اوس تک تور دی

۱ . د ترمذي شریف او مشکوة شریف حدیث دی ، رسولُ الله ﷺ فرمایي :

أُوْقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ، ثُمَّ أُوْقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى ابْيَضَّتْ، ثُمَّ أُوْقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى اسْوَدَّتْ فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ .

د جهنم اُور زر ( ١٠٠٠ ) کاله بَل کړې شو تردې چې هغه سُور شو ، بیا زر ( ١٠٠٠ ) کاله نور بَل کړې شو تردې چې هغه ( د تېزوالي په وجه ) سپین شو ، بیا زر ( ١٠٠٠ ) کاله نور بَل

(١) المعجم الاوسط للطبراني ج ٣ ص ٨٩ رقم الحديث ٢٥٨٣ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٥٨٣ الترهيب من النار . الزواجر ج ٢ ص ٣١٦ الامر الثالث في ذكر النار وما يتعلق بها . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٧٨٤ النار . مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٥٧٣ .

**نوټ :** دې حدیث ته علماؤ ضعیف ویلی . ابوالشمس علي عنه

(٢) الغاشية آية ٢ تا ٣ .

Scanned with CamScanner

کړې شو تردې چې هغه تُورشو ، اوس هغه تک تور دی ، (هیڅ رڼا په کې نشته) . (١)

٢ . حضرت ابو هريرة ﷺ د جهنم اُور باره کې فرمايي :

أَتُرَوْنَهَا حَمْرَاءَ كَنَارِكُمْ هَذِهِ . لَهِيَ أَسْوَدُ مِنَ الْقَارِ .

آيا تاسو د جهنم په اُور باندې دا ګمان کوی چې ګني دا ستاسو د دُنيا د اُور په شان سُور دی حالانکه د جهنم اُور د تارکولو نه هم زيات تُور دی . (٢)

## د جهنم اُور به مخونه سوزوي ، او شکل به خرابوي

د قيامت په ورځ چې د چا د نېکو اعمالو تَله سپکه شي نو د داسې خلقو په باره کې الله تعالى فرمايي :

﴿ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ ﴾ . (٣)

ترجمه : ه جهنم اُور به د دوی مخونه سوَزوي ، او دوی به په دې جهنم کې بَدشکله وي . (٤)

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ نَارَكُمْ هَذِهِ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ رقم الحديث ٢٥٩١ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٧٣(٩) . مسندالبزار رقم الحديث ٩٠٤٣ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٢٥٨٣ . شعب الايمان رقم الحديث ٧٧٨ . و رقم الحديث ٥٠٦ . مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٥٧٣ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٤٨٣ ، و رقم الحديث ٣٩٤٩٨ ، و رقم الحديث ٣٩٧٨٤ .

(٢) موطا مالک كِتَابُ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ جَهَنَّمَ ج ٢ ص ٩٩٤ رقم الحديث ٢ .

(٣) المؤمنون آية ١٠٤ .

(٤) {تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ} تُحْرِقُهَا {وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ} شَمَّرَتْ شِفَاهُهم الْعُلْيَا وَالسُّفْلَى عَنْ أَسْنَانِهِمْ . تفسير الجلالين ص ٤٥٥ .

{تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ} تحرقُها واللَّفحُ كالنَّفخِ إِلَّا أَنَّهُ أَشدُّ تأثيرًا منه . وتخصيصُ الوجوهِ بذلك لأنَّها أشرفُ الأعضاءِ فبيانُ حالِها أزجرُ عن المعاصي المؤدِّيةِ إلى النَّارِ وهو السِرُّ في تقديمِها على الفاعلِ { وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ } من شدَّةِ الاحتراقِ . والكُلُوحُ تقلُّصُ الشَّفتينِ عن الأسنانِ وقرئ كلحون . تفسير أبي السعود ( ارشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم ) ج ٦ ص ١٥١ . ←←←←←←←

Scanned with CamScanner

نبي عليه السلام ددې مذکوره آيت په تشريح کې فرمايي :

تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا حَتَّى تَبْلُغَ وَسَطَ رَأْسِهِ، وَتَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى تَضْرِبَ سُرَّتَهُ .

اُور به کافر داسې وريت کړي چې دده پاسنۍ شونډه به پورته اُوخيجي تردې چې د سَر مينځ ته به اُورسي ، او لاندينۍ شونډه به يې ښکته رازوړنده شي تردې چې دده نامه ته به نژدې شي . (١)

## د جهنم عذاب سره د تارګولو په شان توريدل

جهنمي به د جهنم عذاب سره د تارګولو په شان تورشي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې کله جنتيان جنت ته او جهنميان جهنم ته داخل شي نو الله تعالی به ( فرښتو ته ) اوفرمايي :

مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ .

د چا په زړه کې چې د اُوري دانې هومره اِيمان وي هغه د جهنم نه رااُوباسئ .

فَيَخْرُجُونَ قَدِ امْتُحِشُوا وَعَادُوا حُمَمًا .

---

←←← ( وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ ) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : عَابِسُونَ . وَقَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ : اَلْكُلُوحُ تَكَشُّرٌ فِي عُبُوسٍ. وَالْكَالِحُ: الَّذِي قَدْ تَشَمَّرَتْ شَفَتَاهُ وَبَدَتْ أسنانه ... وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَيْضًا " وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ " يُرِيدُ كَالَّذِي كَلَحَ وَتَقَلَّصَتْ شَفَتَاهُ وَسَالَ صَدِيدُهُ. وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه : أَلَمْ تَرَ إِلَى الرَّأْسِ الْمُشَيَّطِ بِالنَّارِ، وَقَدْ بَدَتْ أَسْنَانُهُ وَقَلَصَتْ شَفَتَاهُ . تفسير القرطبي ج ١٢ ص ١٥٢ .

(١) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: { تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ} [المؤمنون: ١٠٤] قَالَ: «تَشْوِيهِ النَّارُ ...» . المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الْمُؤْمِنُونَ ج ٢ ص ٤٢٨ رقم الحديث ٣٤٩٠ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و رقم الحديث ٢٩٧١ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٨٣٦ . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ طَعَامِ أَهْلِ النَّارِ رقم الحديث ٢٥٨٧ ، و رقم الحديث ٣١٧٦ . حلية الاولياء ج ٨ ص ١٨٢ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٨٣(٢٠) . كنزالعمال رقم ٣٩٧٩٠ .

پس دوی به د جهنم نه راأوويستلې شي ، پس دوی به سوزېدلي وي او د کويلې په شان به تک تور شوي وي.

بيا به په نهرِ حيات کې واچولې شي ، نو دوی به ورنه داسې تروتازه ( خوشحال ) راأووځي لکه څنګه چې د سيلاب په غاړه باندې په خځله کې پرَته دانه زَر رازرغونه شي ، آيا ته نه ګورى چې دا دانه تکه زيړه او تازه وي.(١)

## د جهنم اُور سره به څرمن او اَندامونه د بدن نه جدا شي

د جهنم اُور دومره تېز دى چې په دې سره به څرمن ، غوښه او نور اندامونه د بدن نه جدا شي خو الله تعالى به يې دوباره صحيح کړي ، او جهنمي به مسلسل په دغه عذاب کې ګرفتار وي.

١. الله تعالى فرمايي: ﴿ كَلَّآ ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ۝ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ﴾.(٢)

ترجمه : حقه داده چې دا د جهنم اُور لمبې وهونکې اُور دى چې د سَر څرمن ( يا : د وجود اَندامونه ) لرې کوي.(٣)

---

(١) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، يَقُولُ اللهُ : مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ . فَيَخْرُجُونَ قَدِ امْتُحِشُوا وَعَادُوا حُمَمًا . فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَاةِ ، فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ . أَوْ قَالَ: حَمِيَّةِ السَّيْلِ " وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَلَمْ تَرَوْا أَنَّهَا تَنْبُتُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً » . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٦٠ ، ورقم الحديث ٢٢ كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ: تَفَاضُلِ أَهْلِ الإِيمَانِ فِي الأَعْمَالِ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانَ بَابُ إِثْبَاتِ الشَّفَاعَةِ وَإِخْرَاجِ الْمُوَحِّدِينَ مِنَ النَّارِ رقم الحديث ٣٠٤ (١٨٤) . مشكاة المصابيح كتاب أحوال القِيَامَة وبدء الخلق بَابُ الحَوْض والشفاعة الفَصْلُ الأول رقم الحديث ٥٥٨٠(١٥) .

(٢) المعارج آية ١١ تا ١٦ .

(٣) {كَلَّا} لَا يُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ اللهِ شَيْءٌ ، ثُمَّ ابْتَدَأَ فَقَالَ: {إِنَّهَا لَظَى} وَهِيَ اسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ جَهَنَّمَ . وقيل: هِيَ الدَّرَكَةُ الثَّانِيَةُ سُمِّيَتْ بِذَلِكَ لِأَنَّهَا تَتَلَظَّى أَيْ: تَتَلَهَّبُ . {نَزَّاعَةً لِلشَّوَى} قَرَأَ حَفْصٌ عَنْ عَاصِمٍ "نَزَّاعَةً" نَصَبَ عَلَى الحَالِ وَالقَطْعِ ، وَقَرَأَ الآخَرُونَ بِالرَّفْعِ أَيْ هِيَ نَزَّاعَةٌ لِلشَّوَى ، وَهِيَ الأَطْرَافُ الْيَدَانِ وَالرِّجْلَانِ وَسَائِرُ الأَطْرَافِ . قَالَ مُجَاهِدٌ: لِجُلُودِ الرَّأْسِ . وَرَوَى إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُهَاجِرٍ عَنْهُ : تَنْزِعُ اللَّحْمَ دُونَ الْعِظَامِ . ←←←

Scanned with CamScanner

٢. بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سَقَرُ ۝ لَا تُبۡقِي وَلَا تَذَرُ ۝ لَوَّاحَةٞ لِّلۡبَشَرِ ﴾.(١)

ترجمه: او تاته څه پته ده چې " سَقَر " (يعنى جهنم) څه شی دی؟ دا جهنم به نه د بدن غوښه پرېږدي او نه به هډوکي پرېږدي ( بلکه ټول هر څه به سوزوي ) ، بدلوونکې (او سوزوونکې) د څرمن دی.

مفسّرينو ليکلي چې د جهنم اور به د انسان څرمن په سوزولو سره د شپې نه هم زياته توره کړي.(٢)

←←← قَالَ مُقَاتِلٌ: تَنْزِعُ النَّارُ الْأَطْرَافَ فَلَا تَتْرُكُ لَحْمًا وَلَا جِلْدًا. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: تَنْزِعُ الْجِلْدَ وَاللَّحْمَ عَنِ الْعَظْمِ. وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: اَلْعَصَبُ وَالْعَقِبُ. وَقَالَ الْكَلْبِيُّ: لِأُمِّ الرَّأْسِ تَأْكُلُ الدِّمَاغَ كُلَّهُ ثُمَّ يَعُودُ كَمَا كَانَ، ثُمَّ تَعُودُ لِأَكْلِهِ فَذَلِكَ دَأْبُهَا. وَقَالَ قَتَادَةُ: لِمَكَارِمِ خَلْقِهِ وَأَطْرَافِهِ. قَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ: لِمَحَاسِنِ وَجْهِهِ. وَقَالَ ابْنُ جَرِيرٍ "الشَّوَى" جَوَارِحُ الْإِنْسَانِ مَا لَمْ يَكُنْ مَقْتَلًا، يُقَالُ: رَمَى فَأَشْوَى إِذَا أَصَابَ الْأَطْرَافَ وَلَمْ يصب المقتل. تفسير البغوي ج ٨ ص ٢٢٤.

(١) المدثر آية ٢٧ تا ٢٩.

(٢) {وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ} أَيْ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ فِيهَا شَيْئًا إِلَّا أَكَلَتْهُ وَأَهْلَكَتْهُ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: لَا تُمِيتُ وَلَا تُحْيِي يَعْنِي لَا تُبْقِي مَنْ فِيهَا حَيًّا وَلَا تَذَرُ مَنْ فِيهَا مَيِّتًا كُلَّمَا احْتَرَقُوا جُدِّدُوا. وَقَالَ السُّدِّيُّ: لَا تُبْقِي لَهُمْ لَحْمًا وَلَا تَذَرُ لَهُمْ عَظْمًا. وَقَالَ الضحاك: إِذَا أَخَذَتْ فِيهِمْ لَمْ تُبْقِ مِنْهُمْ شَيْئًا وَإِذَا أُعِيدُوا لَمْ تَذَرْهُمْ حَتَّى تُفْنِيَهُمْ وَلِكُلِّ شَيْءٍ مَلَالَةٌ وَفَتْرَةٌ إِلَّا لِجَهَنَّمَ. {لَوَّاحَةٌ لِلْبَشَرِ} مُغَيِّرَةٌ لِلْجِلْدِ حَتَّى تَجْعَلَهُ أَسْوَدَ، يُقَالُ: لَاحَهُ السُّقْمُ وَالْحُزْنُ إِذَا غَيَّرَهُ، وَقَالَ مُجَاهِدٌ: تَلْفَحُ الْجِلْدَ حَتَّى تَدَعَهُ أَشَدَّ سَوَادًا مِنَ اللَّيْلِ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَزَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: مُحْرِقَةٌ لِلْجِلْدِ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٢٧٠.

(وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ) هَذِهِ مُبَالَغَةٌ فِي وَصْفِهَا، أَيْ وَمَا أَعْلَمَكَ أَيُّ شَيْءٍ هِيَ؟ وَهِيَ كَلِمَةُ تَعْظِيمٍ، ثُمَّ فَسَّرَ حَالَهَا فَقَالَ: لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ أَيْ لَا تَتْرُكُ لَهُمْ عَظْمًا وَلَا لَحْمًا وَلَا دَمًا إِلَّا أَحْرَقَتْهُ. وَكَرَّرَ اللَّفْظَ تَأْكِيدًا. وَقِيلَ: لَا تُبْقِي مِنْهُمْ شَيْئًا ثُمَّ يُعَادُونَ خَلْقًا جَدِيدًا، فَلَا تَذَرُ أَنْ تُعَاوِدَ إِحْرَاقَهُمْ هَكَذَا أَبَدًا. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: لَا تُبْقِي مَنْ فِيهَا حَيًّا وَلَا تَذَرُهُ مَيِّتًا، تُحْرِقُهُمْ كُلَّمَا جُدِّدُوا. وَقَالَ السُّدِّيُّ: لَا تُبْقِي لَهُمْ لَحْمًا وَلَا تَذَرُ لَهُمْ عَظْمًا (لَوَّاحَةٌ لِلْبَشَرِ) أَيْ مُغَيِّرَةٌ، مِنْ لَاحَهُ إِذَا غَيَّرَهُ. تفسير القرطبي ج ١٩ ص ٧٧.

Scanned with CamScanner

## د جهنم اُور سره د کافرانو څرمن سوَزیدل او بیا نوې کیدل

الله تعالی د کافرانو په باره کې فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا ۖ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾.(۱)

ترجمه : بیشکه کومو خلقو چې زمونږ د آیتونو نه انکار اوکړو نو ډیر زَر به مونږ دوی د جهنم اُور ته داخل کړو ، هر کله چې د دوی څرمنې اُوسوَزي نو مونږ به د دوی د سوَزیدلو څرمنو نه علاوه نورې څرمنې وربدلې کړو ددې د پاره چې دوی ( نوې نوې ) عذاب اُوڅکي ، بیشکه الله تعالی غالِب (او) د حِکمت خاوند دی .

## د جهنم اُور سره په لږ ساعت کې سل (۱۰۰) پیرې څرمن سوَزیدل او دوباره جوړیدل

د حضرت عُمر رضي الله عنه د وړاندې چا دا آیت تلاوت کړو :

﴿ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا ﴾

نو حضرت عُمر رضي الله عنه ورته اوفرمایل : دا آیت دوباره تلاوت کړه . نو هغه په دویمه پیره تلاوت کړو . په دې مجلس کې حضرت مُعاذ بن جبل رضي الله عنه هم ناست وُ هغه اوفرمایل :

ما سره ددې آیت تفسیر شته ، هغه دا چې : تُبَدَّلُ فِي سَاعَةٍ مِائَةَ مَرَّةٍ .

په لږ ساعت کې به سل (۱۰۰) پیرې ده ته دا څرمن بدلولې شي .

حضرت عُمر رضي الله عنه اوفرمایل : هَكَذَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

همدغه شان ما هم د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي . (۲)

(۱) النساء آية ٥٦ .

(۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : قُرِئَ عِنْدَ عُمَرَ رضي الله عنه : {كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا} [النساء آية ٥٦] . فَقَالَ عُمَرُ رضي الله عنه : أَعِدْهَا ، فَأَعَادَهَا ، فَقَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رضي الله عنه : عِنْدِي تَفْسِيرُهَا : ←←←←←←←←

## د هرو دوه څرمنو په مينځ کې جدا قسم عذاب

د يحيى بن يزيد رَحِمَهُ اللهُ نه د مذکوره آيت په تفسير کې نقل دي :

يُجْعَلُ لِلْكَافِرِ مِائَةُ جِلْدٍ ، بَيْنَ كُلِّ جِلْدَيْنِ لَوْنٌ مِنَ الْعَذَابِ .

کافر ته به سل (١٠٠) څرمنې وَر واغوستلې شي ، د هرو دوه (٢) څرمنو په مينځ کې به جدا قسم عذاب وي . (١)

## په هره ورځ اَويازره (٧٠٠٠٠) پېرې په اور څرمن سوزيدل او بيا جوړيدل

د حضرت حسن رَحِمَهُ اللهُ نه د دې آيت ( كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ ) په تفسير کې نقل شوی :

تَأْكُلُهُمُ النَّارُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعِيْنَ أَلْفَ مَرَّةٍ .

د جهنم اُور به په هره ورځ اَويازره (٧٠٠٠٠) پېرې کافرانو لره خُوري . (يعنی څرمن او غوښه به يې سوَزوي) .

خو کله چې د جهنم اُور دوی لره اُوسوزوي نو د الله ﷻ د طرفه به دوی ته وويلې شي :

عُوْدُوْا . تاسو واپس صحيح شئ . نو د مخکې په شان به دوباره صحيح شي .

(کافران به مسلسل په همدې عذاب کې گرفتاروي) . (٢)

---

←←← « تُبَدَّلُ فِيْ سَاعَةٍ مِائَةَ مَرَّةٍ » . فَقَالَ عُمَرُ : « هٰكَذَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » .
المعجم الاوسط للطبراني ج ٥ ص ٧ رقم الحديث ٤٥١٧ . مجمع الزوائد رقم الحديث ١٠٩٣٣ . كنزالعمال رقم الحديث ٤٣١٣ . تفسير البغوي ج٢ ص٢٣٧ . تفسير ابن كثير ج ٢ ص ٣٣٧ سورة النساء في تفسير آية ٥٦ .

(١) قَالَ يَحْيَى بْنُ يَزِيْدَ الْحَضْرَمِيُّ إِنَّهُ بَلَغَهُ فِيْ قَوْلِ اللهِ : { كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ } قَالَ : يُجْعَلُ لِلْكَافِرِ مِائَةُ جِلْدٍ ، بَيْنَ كُلِّ جِلْدَيْنِ لَوْنٌ مِنَ الْعَذَابِ . رَوَاهُ ابْنُ أَبِيْ حَاتِمٍ . تفسير ابن كثير ج٢ ص٢٣٧ سورة النساء في تفسير آية ٥٦ .

(٢) قَالَ الْحَسَنُ رَحِمَهُ اللهُ : تَأْكُلُهُمُ النَّارُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعِيْنَ أَلْفَ مَرَّةٍ . كُلَّمَا أَكَلَتْهُمْ قِيْلَ لَهُمْ : عُوْدُوْا . فَيَعُوْدُوْنَ كَمَا كَانُوْا . تفسير ابن كثير ج٢ ص٢٣٧ سورة النساء في تفسير آية ٥٦ .

عَنِ الْحَسَنِ قَوْلَهُ : { كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا } الآيَةَ . قَالَ : تُنْضِجُهُمْ ←←←←

Scanned with CamScanner

## د مجرمانو مخونه به د اور په لمبو کې پټ وي

الله تعالی فرمايي :

﴿ وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ ۝ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ النَّارُ ﴾.(١)

ترجمه : او ته به کوری مُجرمان په دغه ورځ باندې چې په زنځیرونو کې به تړلې شوي وي، د دوی قمیصونه به د ګوګړو (رانځړو) وي (ددې د پاره چې اُور زر واخلي)، او اُور به د دوی مخونه پټ کړي وي.

## د جهنم اُور به په کافرانو او مجرمانو باندې اِحاطه کړې وي

د جهنم اُور به د کافرانو نه ګېرچاپېره تاوْ وي، او دوی به د هر طرف نه عذاب راګېر کړي وي.

١. الله تعالی فرمايي :

﴿ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ۝ يَوْمَ يَغْشَاهُمُ الْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾.(٢)

ترجمه : او بیشکه جهنم به خامخا کافرانو لره راګیرُونکې وي، په کومه ورځ به چې دوی لره عذاب د دوی د پاسه نه، او د دوی د لاندې خپو طرف نه پټ کړي (یعنی د هر طرف نه به يې عذاب راګېر کړي)، او الله تعالی به ورته اوفرمايل: تاسو اُوڅکئ مزه د هغه اعمالو کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.

---

←←← فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ أَلْفَ مَرَّةٍ . تفسیر ابن کثیر ج ٢ ص ٦٤٧ سورة النساء في تفسير آية ٥٦ . مصنف ابن ابي شيبة ج ٧ ص ٥٢ مَا ذُكِرَ فِيمَا أُعِدَّ لِأَهْلِ النَّارِ وَشِدَّتِهِ رقم الحديث ٣٤١٥١ .

(١) ابراهيم آية ٤٩، ٥٠ .

(٢) العنكبوت آية ٥٤، ٥٥ .

په سورة التوبة کې هم دا مضمون شته : ﴿ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴾. التوبة آية ٤٩ .

۲ . بل ځای الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾.(١)

ترجمه : د دوی د پاره به د دوی د پاسه د اُور وریځې (لمبې) وي، او د دوی لاندې به هم د اُور وریځې وي. (٢)

٣ . بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ﴾، (٣)

ترجمه : ددې مجرمانو د پاره به د جهنم بِسترې (فرشونه) وي، او د دوی د پاسه به د اُور برَستنې وي. (٤)

٤ . بل ځای الله ﷻ د کافرانو په باره کې فرمايي :

﴿ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴾. (٥)

ترجمه : په دوی باندې به اُور بند کړې شوې وي.

---

(١) الزمر آية ١٦ .

(٢) { لَهُم مِن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ } أَطْبَاقُ سُرَادِقَاتٍ مِنَ النَّارِ وَدُخَانِهَا. {وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ} فِرَاشٌ وَمِهَادٌ مِنْ نَارٍ إِلَى أَنْ يَنْتَهِيَ إِلَى الْقَعْرِ. وَسَمَّى الْأَسْفَلَ ظُلَلًا لِأَنَّهَا ظُلَلٌ لِمَنْ تَحْتَهُمْ نَظِيرُهَا قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿لَهُم مِن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ﴾ .( الأعراف آية ٤١) . تفسير البغوي ج٧ ص ١١٢ سورة الزمر في تفسير آية ١٦ .

(٣) الاعراف آية ٤١ .

(٤) {لَهُم مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ} أَيْ: فِرَاشٌ، {وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ} أَيْ: لُحُفٌ، وَهِيَ جَمْعُ غَاشِيَةٍ. يَعْنِي مَا غَشَّاهُمْ وَغَطَّاهُمْ. يُرِيدُ إِحَاطَةَ النَّارِ بِهِمْ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ، كَمَا قَالَ اللهُ. " لَهُم مِن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ" ( الزمر، ١٦) . تفسير البغوي ج٣ ص ٢٢٩ .

"المهاد" الفِرَاشُ. وَ"غَوَاشٍ" جَمْعُ غَاشِيَةٍ، أَيْ نِيرَانٌ تَغْشَاهُمْ. تفسير القرطبي ج ٧ ص ٢٠٧ .

(٥) البلد آية ٢٠ .

Scanned with CamScanner

(يعنى د جهنم دروازې به په دوى باندې بندې وي، ددې د پاره چې ددې اُور په گرمائش کې کمې رانشي). (١)

## په ظالمانو باندې به د اُور دِيوالونو اِحاطه کړې وي

١. الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَا ﴾. (٢)

ترجمه: بيشکه مونږ د ظالمانو د پاره اُور تيار کړې دى چې په دوى باندې به د اُور ديوالونو (پَردو) اِحاطه کړې وي.

(يعنى د هر طرف نه به اُور او لوگو دوى لره راگېر کړې وي، ددينه د وتلو به يې هيڅ لار نه وي). (٣)

٢. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَسُرَادِقُ النَّارِ أَرْبَعَةُ جُدُرٍ، كُلُّ جِدَارٍ مِنْهَا مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ سَنَةً.

د جهنم اِحاطه په څلورو دِيوالونو مشتمل ده، ددې هر ديوال پلن والې د

---

(١) {عَلَيۡهِمۡ نَارٞ مُّؤۡصَدَةٞ} أَيْ: مُطْبَقَةٌ عَلَيْهِمْ، فَلَا مَحِيدَ لَهُمْ عَنْهَا، وَلَا خُرُوجَ لَهُمْ مِنْهَا. قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ، وَابْنُ عَبَّاسٍ، وَعِكْرِمَةُ، وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ، وَمُجَاهِدٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ الْقُرَظِيُّ، وَعَطِيَّةُ الْعَوْفِيُّ، وَالْحَسَنُ، وَقَتَادَةُ، وَالسُّدِّيُّ: {مُؤْصَدَةٌ} أَيْ: مُطْبَقَةٌ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: مُغْلَقَةُ الْأَبْوَابِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: أَصَدَ الْبَابَ بِلُغَةِ قُرَيْشٍ: أَيْ أَغْلَقَهُ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: {مُؤْصَدَةٌ} حَيْطٌ لَا بَابَ لَهُ. وَقَالَ قَتَادَةُ: {مُؤْصَدَةٌ} مُطْبِقَةٌ فَلَا ضَوْءَ فِيهَا وَلَا فُرَجَ، وَلَا خُرُوجَ مِنْهَا آخِرَ الْأَبَدِ. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٤٠٩ سورة البلد في تفسير آية ٢٠

(٢) الكهف آية ٢٩.

(٣) ﴿أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا﴾ وَالسُّرَادِقُ هو الحجرة الَّتِي تَكُونُ حَوْلَ الْفُسْطَاطِ فَأَثْبَتَ لِلنَّارِ شَيْئًا شَبِيهًا بِذَلِكَ يُحِيطُ بِهِمْ مِنْ جَمِيعِ الْجِهَاتِ، وَالْمُرَادُ أَنَّهُ لَا مُخَلِّصَ لَهُمْ مِنْهَا وَلَا فُرْجَةَ يَتَفَرَّجُونَ بِالنَّظَرِ إِلَى مَا وَرَاءَهَا مِنْ غَيْرِ النَّارِ بَلْ هِيَ مُحِيطَةٌ بِهِمْ مِنْ كُلِّ الْجَوَانِبِ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: الْمُرَادُ مِنْ هَذَا السُّرَادِقِ الدُّخَانُ الَّذِي وَصَفَهُ اللَّهُ فِي قَوْلِهِ: ( انْطَلِقُوا إِلَى ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ ) [الْمُرْسَلَاتِ: ٣٠] وَقَالُوا: هَذِهِ الْإِحَاطَةُ بِهِمْ إِنَّمَا تَكُونُ قَبْلَ دُخُولِهِمُ النَّارَ فَيَغْشَاهُمْ هَذَا الدُّخَانُ وَيُحِيطُ بِهِمْ كَالسُّرَادِقِ حَوْلَ الْفُسْطَاطِ. التفسير الكبير ج ٢١ ص ٤٥٩.

Scanned with CamScanner

څلويښت (٤٠) کاله مسافت په اندازه برابر دی. (١)

نوټ: دا ديوالونه به ددې د پاره وي چې د جهنم په ګرمائش کې کمې رانشي، او د جهنميانو په عذاب کې نوره اضافه هم اوشي.

## د جهنم اُور به په مجرمانو باندې د خپلو ګناهونو په مقدار احاطه کړې وي

د جهنم اُور به په مجرمانو باندې يو شان نه وي بلکه په هر ګناهګار باندې به يې د خپلو ګناهونو په مقدار احاطه کړې وي.

د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ.

بعضې جهنميان به هغه وي چې هغه لره به اُور تر دواړو ځنګرو (ګيټو) پورې نيولي وي، بعضې به هغه وي چې هغه لره به اُور تر دواړو زنګونانو پورې نيولي وي، بعضې به هغه وي چې هغه لره به اُور تر د ملا پورې نيولي وي، او بعضې به هغه وي چې هغه لره به اُور تر د مرۍ پورې نيولي وي. (٢)

## د جهنم اُور به زړه ته رسيږي

د جهنم د اُور يو نوم "حُطَمَة" دی. (٣)

---

(١) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْأَهْوَالِ رقم الحديث ٨٧٧٥ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَرَابِ أَهْلِ النَّارِ. مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٨١(١٧). شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٤٤٠٧. كنز العمال رقم الحديث ٣٩٤٧٢ ذكر النار وصفتها.

(٢) صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي شِدَّةِ حَرِّ نَارِ جَهَنَّمَ وَبُعْدِ قَعْرِهَا وَمَا تَأْخُذُ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ رقم الحديث ٣٣(٢٨٤٥). مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم ٥٦٧١(٧). مسند احمد مخرجا رقم ٢٠١٠٣، ورقم الحديث ٢٠١٠٨. المعجم الكبير للطبراني رقم ٦٩٧٠.

(٣) وَالْحُطَمَةُ مِنْ أَسْمَاءِ النَّارِ مِثْلُ سَقَرَ وَلَظَى سُمِّيَتْ حُطَمَةً لِأَنَّهَا تَحْطِمُ الْعِظَامَ وَتَكْسِرُهَا. تفسير البغوي ٥٣٠/٨

الله ربّ العزت پخپله ددې په باره کې فرمايي :

﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ۝٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ۝٦ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ۝٧ إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ۝٨ فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ﴾ . (١)

ترجمه : او تا ته څه معلومه ده چې "حُطَمه" څه شی دی ؟ دا د الله تعالى هغه اُور دی کوم چې ( دده په حُکم ) بَل شوې دی ، کوم اُور چې زړونو ته رسيږي . بيشکه دا اُور به په دوی باندې ( د هر طرف نه ) بند کړې شي ( ددې د پاره چې ددې گرمائش کم نشي ) ، په اُوږدو اُوږدو ستّنو کې به ( تړل شوي ) وي .

## کافران به د خپلو مخونو او شاگانو نه اُور نشي دفع کولی

چونکه کافران او مجرمان به د اُور په لمبو کې مکمل پټ وي دوی به کوشش کوي چې د خپلو مخونو او شاگانو نه اُور دفع کړي خو لرې کولې به يې نشي .

١ . نبي عليه السلام به چې کله کافران د الله تعالى د عذاب نه يرول نو بعضې کافرانو به ويل چې : " دا عذاب به کله راځي ؟ " نو الله تعالى ورته او فرمايل :

﴿ لَوۡ يَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمۡ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : که چيرته کافرانو ته هغه وخت معلوم شي کوم وخت چې به دوی د خپلو مخونو او خپلو شاگانو نه د جهنم اُور نشي لرې کولی ، او نه به د دوی مدد کولې شي . ( نو دوی به هيڅ کله په جَلتی باندې عذاب نه وُ غوښتلی ) . (٣)

---

(١) الهمزة آية ٥ تا ٩ .

(٢) الانبياء آية ٣٩ .

(٣) {وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فَقَالَ تَعَالَى: {لَوْ يَعْلَمُ الَّذِينَ كَفَرُوا حِينَ لَا يَكُفُّونَ} لَا يَدْفَعُونَ {عَنْ وُجُوهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُورِهِمْ} قِيلَ: وَلَا عَنْ ظُهُورِهِمُ السِّيَاطَ. {وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ} يُمْنَعُونَ مِنَ الْعَذَابِ، وَجَوَابُ لَوْ فِي قَوْلِهِ: {لَوْ يَعْلَمُ الَّذِينَ} مَحْذُوفٌ . مَعْنَاهُ: وَلَوْ عَلِمُوا لَمَا أَقَامُوا عَلَى كُفْرِهِمْ، وَلَمَا اسْتَعْجَلُوا، وَلَا قَالُوا: مَتَى هَذَا الْوَعْدُ ؟ . تفسير البغوي ج ٥ ص ٣١٩ .

Scanned with CamScanner

۲ . د قيامت په ورځ به د ظالمانو لاسونه شاته تړلي شوي وي جهنم ته به اَلته وَرا وغورځولې شي نو دوی به د خپل مخ په ذريعه ځان د جهنم د عذاب نه بچ کوي خو نه به يې شي بچ کولی .

الله تعالی فرماي: ﴿ أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظَّٰلِمِينَ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : پس آيا هغه څوک چې هغه د قيامت په ورځ د خپل مخ په ذريعه ځان د بَدترين عذاب نه بچ کوي ( خو نه به يې شي بچ کولی ، نو آيا داسې کس د هغه چا سره برابر دی چې هغه ددې عذاب نه په اَمن وي ؟ هيڅ کله نه ) . او ظالمانو ته به ( د قيامت په ورځ ) وويلې شي : تاسو د هغه عمَل سزا اُوڅکئ کوم چې تاسو ( په دُنيا کې ) کول .(۲)

۳ . بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِى ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا ٱللَّهَ وَأَطَعْنَا ٱلرَّسُولَا۠ ﴾ .(۳)

ترجمه : په کومه ورځ چې به د کافرانو مخونه په اُور کې اَړولې راړولې شي ، دوی به وايي : اې کاش ، چې مونږ ( په دُنيا کې ) د الله او رسول اِطاعت کړې وی .

۴ . بل ځای فرمايي :

﴿ يَوْمَ هُمْ عَلَى ٱلنَّارِ يُفْتَنُونَ ۝ ذُوقُوا۟ فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ .(۴)

---

(۱) الزمر آية ۲۴ .

(۲) { أَفَمَنْ يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ } أَيْ: شِدَّتَهُ، { يَوْمَ الْقِيَامَةِ } قَالَ مُجَاهِدٌ: يُجَرُّ عَلَى وَجْهِهِ فِي النَّارِ. وَقَالَ عَطَاءٌ: يُرْمَى بِهِ فِي النَّارِ مَنْكُوسًا، فَأَوَّلُ شَيْءٍ مِنْهُ تَمَسُّهُ النَّارُ وَجْهُهُ. قَالَ مُقَاتِلٌ: هُوَ أَنَّ الْكَافِرَ يُرْمَى بِهِ فِي النَّارِ مَغْلُولَةً يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ، وَفِي عُنُقِهِ صَخْرَةٌ مِثْلُ جَبَلٍ عَظِيمٍ مِنَ الْكِبْرِيتِ، فَتَشْتَعِلُ النَّارُ فِي الْحَجَرِ، وَهُوَ مُعَلَّقٌ فِي عُنُقِهِ فَحَرُّ وَوَهَجُهَا عَلَى وَجْهِهِ لَا يُطِيقُ دَفْعَهَا عَنْ وَجْهِهِ، لِلْأَغْلَالِ الَّتِي فِي عُنُقِهِ وَيَدِهِ . وَمَجَازُ الْآيَةِ: أَفَمَنْ يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ كَمَنْ هُوَ آمِنٌ مِنَ الْعَذَابِ؟ . تفسير البغوي ج ۷ ص ۱۱۷ .

(۳) الاحزاب آيه ٦٦ .

(۴) الذاريات آية ۱۳ ، ۱۴ .

Scanned with CamScanner

ترجمه : په کومه ورځ چې به ګناهګاران په اور باندې سوزول کېږي ( دوی ته به ويل کېږي : ) تاسو د خپل عذاب مزه اوڅکئ ، همدا هغه عذاب دی چې تاسو به په جلتی باندې غوښتلو .

۵. بل ځای فرمايي : ﴿ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴾.(١)

ترجمه : ( اې انسانانو او پيريانو ! ) په تاسو دواړو به ( د قيامت په ورځ ) د اور شُعلې او لوګي راليږلې شي خو تاسو به يې مقابله نشی کولی .

## د جهنميانو مخونه به تک تور وي

١. الله تعالی فرمايي :

﴿ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ تَرَى الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى اللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ ﴾.(٢)

ترجمه : او په ورځ د قيامت به ته هغه خلق اوګوری چې په الله باندې يې دروغ تړل چې د هغوی مخونه به تَک تور وي .

٢. بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ جَزَاءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَّا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ اللَّيْلِ مُظْلِمًا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾.(٣)

ترجمه : او څوک چې بَدکارونه ( شِرک وغيره ) اوکړي نو د بَدی سزا به د همغې په شان ( بَدي ) وي ، او په دوی باندې به ذِلّت راخور شي ، او د دوی د پاره به د الله تعالی ( د عذاب ) نه څوک بچ کوونکی نه وي ، ( مخونه به يې داسې تَک تور وي ) ګويا چې د دوی مخونو ته به د تورې شپې توټې وَر اَغوستل شوي وي ، همدا خلق جهنميان دي ، دوی به په دې کې هميشه وي .

(١) الرحمن آية ٣٥ .

(٢) الزمر آية ٦٠ .

(٣) يونس آية ٢٧ .

# جهنمیان به پړمخې جهنم ته راښکلې شي

**١.** مجرمان او مشرکان به پړمخ جهنم ته غورځولې شي ، الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ۝ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴾.(١)

ترجمه : بیشکه مجرمان به په ګمراهۍ او بَل شوي اُور کې وي . په کومه ورځ چې به دوی په مخونو باندې (پړمخې) په اُور کې راښکلې شي ، (او دا به ورته ویلې شي : ) اوس د جهنم خوَند اُوشکئ . (٢)

---

(١) القمر آية ٤٧ ، ٤٨ .

(٢) {إِنَّ الْمُجْرِمِينَ} الْمُشْرِكِينَ {فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ} قِيلَ : "فِي ضَلَالٍ" بُعْدٍ عَنِ الْحَقِّ. قَالَ الضَّحَّاكُ: "وَسُعُرٍ" أَيْ: نَارٍ تُسَعَّرُ عَلَيْهِمْ. وَقِيلَ : "ضَلَالٌ" ذَهَابٌ عَنْ طَرِيقِ الْجَنَّةِ فِي الْآخِرَةِ، "وَسُعُرٍ" : نَارٍ مُسَعَّرَةٍ. قَالَ الْحُسَيْنُ بْنُ الْفَضْلِ: إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ فِي الدُّنْيَا وَنَارٍ فِي الْآخِرَةِ . وَقَالَ قَتَادَةُ : فِي عَنَاءٍ وَعَذَابٍ . ثُمَّ بَيَّنَ عَذَابَهُمْ فَقَالَ: {يَوْمَ يُسْحَبُونَ} يُجَرُّونَ {فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ} وَيُقَالُ لَهُمْ {ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ} . تفسير البغوي ج ٤ ص ٣٢٧ .

اَلْمَسْأَلَةُ الثَّانِيَةُ: اَلْمُجْرِمُونَ هُمُ الْمُشْرِكُونَ هَاهُنَا كَمَا فِي قَوْلِهِ تعالى: ﴿ وَلَوْ تَرَى إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُؤُسِهِمْ ﴾ [ السجدة: ١٢] وَقَوْلِهِ: ﴿ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي ﴾ [ المعارج : ١١] وَفِي قَوْلِهِ: ﴿ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ [ الرحمن: ٤١] فَالْآيَةُ عَامَّةٌ. وَإِنْ نَزَلَتْ فِي قَوْمٍ خَاصٍّ. وَجُرْمُهُمْ تَكْذِيبُ الرُّسُلِ وَالنُّذُرِ بِالْإِشْرَاكِ وَ إِنْكَارِ الْحَشْرِ وَإِنْكَارِ قُدْرَةِ اللهِ تَعَالَى عَلَى الْإِحْيَاءِ بَعْدَ الْإِمَاتَةِ، وَعَلَى غَيْرِهِ مِنَ الْحَوَادِثِ .

اَلْمَسْأَلَةُ الثَّالِثَةُ : فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ يَحْتَمِلُ وُجُوهًا ثَلَاثَةً أَحَدُهَا : اَلْجَمْعُ بَيْنَ الْأَمْرَيْنِ فِي الدُّنْيَا أَيْ هُمْ فِي الدُّنْيَا فِي ضَلَالٍ وَجُنُونٍ لَا يَعْقِلُونَ وَلَا يَهْتَدُونَ، وَعَلَى هَذَا فَقَوْلُهُ: يُسْحَبُونَ بَيَانُ حَالِهِمْ فِي تِلْكَ الصُّورَةِ وَهُوَ أَقْرَبُ . ثَانِيهَا: اَلْجَمْعُ فِي الْآخِرَةِ أَيْ هُمْ فِي ضَلَالِ الْآخِرَةِ وَسُعُرٍ أَيْضًا. أَمَّا السُّعُرُ فَكَوْنُهُمْ فِيهَا ظَاهِرٌ، وَأَمَّا الضَّلَالُ فَلَا يَجِدُونَ إِلَى مَقْصِدِهِمْ أَوْ إِلَى مَا يَصْلُحُ مَقْصِدًا وَهُمْ مُتَحَيِّرُونَ سَبِيلًا .... التفسير الكبير ج ٢٩ ص ٣٢٤ .

Scanned with CamScanner

۲. بل ځای الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: او څوک چې د بَدۍ (شِرک) سره راشي نو دوی به پړمخ په مخونو باندې په جهنم کې غورځولې شي، (او دوی ته به وويلې شي:) تاسو ته صرف د هغه عملونو سزا درکولې شي کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.(۲)

## رِياکار به پړمخې جهنم ته غورځولې شي

څوک چې په دُنيا کې د رِيا او شهرت د پاره نېک عمل کوي نو د قيامت په ورځ به داسې رِياکار د ټولو نه مخکې پړمخې جهنم ته غورځولې شي.

د مسلم شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې چې د کومو خلقو خلاف جهنم ته د تللو فيصله کولې شي په هغې کې به اولنې هغه کس وي چې (په ميدانِ جنګ کې) شهيد شوې وي.

دا شهيد به د الله جَلَّ جَلَالُهُ د وړاندې راوستې شي، الله تعالى به ده ته د هر هر نعمت اِظهار اوفرمايي (چې ما تاته دا دا نعمتونه درکړي وو)، هغه به هر نعمت اوپېژني (او ددې اِقرار به اوکړي). بيا به الله تعالى ورته اوفرمايي:

فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ تا په دې نعمتونو کې څه څه کړي وو؟ (او د کومو مقاصدو د پاره دې اِستعمال کړي وو؟)

دا به ورته ووايي: (ما آخري عمل دا کړې وُ چې) ما ستاد رَضا د پاره جهاد اوکړو تر دې پورې چې زه شهيد شوم (او خپل قيمتي رُوح مې ستا په لاره کې قُرباني کړو).

---

(۱) النمل آية ۹۰.

(۲) {وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ} يَعْنِي الشِّرْكَ. {فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ} يَعْنِي أُلْقُوا عَلَى وُجُوهِهِمْ. يُقَالُ: كَبَبْتُ الرَّجُلَ: إِذَا أَلْقَيْتَهُ عَلَى وَجْهِهِ. فَانْكَبَّ وَأَكَبَّ. وَتَقُولُ لَهُمْ خَزَنَةُ جَهَنَّمَ: {هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ} فِي الدُّنْيَا مِنَ الشِّرْكِ. تفسير البغوي ج ٦ ص ۱۸۳.

Scanned with CamScanner

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيْءٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، تا خو ددې د پاره جهاد کړې وُ چې تاته بَهادر وويلې شي ، او دا تاته په دُنيا کې ويل شوي وو ( لهذا ستا مقصد حاصل شوې دی ) .

بيا به د الله ﷻ د طرفه دده په باره کې حکم اوکړې شي نو دا به پَرمخې راښکلې شي او جهنم ته به اُوغورځولې شي .

دويم به هغه کس وي چې هغه عِلم حاصل کړې وي ، بيا يې بَل ته خودلې وي ، او قرآن کريم يې هم لوستلې وي . دا به هم د الله ﷻ د وړاندې پيش کړې شي ، الله تعالى به ده ته هم خپل ورکړي نعمتونه وریاد کړي ، دا به هم د هغې اِقرار اوکړي ، بيا به ورنه پوښتنه اوکړي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نِعمتونو کې څه څه کارونه کړي وو ؟ ( او څنګه دې استعمال کړي وو ؟ )

دا به ورته اووايي : تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ .

ما عِلم حاصل کړې وُ ، بيا مې نورو ته اُوخود ، او خالِصه ستا د رَضا د پاره مې قرآن مجيد لوستلې وُ .

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، تا خو عِلم ددې د پاره زده کړې وُ چې خلق درته عالِم اووايي ، او قرآن کريم دې ددې د پاره لوستلې وُ چې خلق درته قاري اووايي ، او دا تاته (په دُنيا کې) ويل شوي (لهذا ستا مقصد حاصل شوې دی) .

بيا به د الله ﷻ د طرفه دده په باره کې هم حکم اوشي ، دا به هم پَرمخې راښکلې جهنم ته اوغورځولې شي .

دريم به هغه کس وي چې په هغه باندې الله ﷻ په دُنيا کې فراخي راوستې وه ، او هر قِسم مال يې ورکړې وُ ، دا به هم د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي ، الله ﷻ به ده ته هم خپل نِعمتونه وَرياد کړي (چې ما تاته دا دا نِعمتونه درکړي وو) ، دا به د ټولو اِقرار اوکړي ، بيا

به الله ﷻ ورته اوفرمايي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نعمتونو کې څه کړي وو ؟ ( او څنګه دې استعمال کړي وو ؟ )

دا به ورته اووايي : مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيْهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ .

اې الله ! په کومو ځايونو کې چې مال خرچ کول تاته خوښ وو په هغه ټولو ځايونو کې ما خپل مال صرف ستا د رضا د پاره خرچ کړې وُ .

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، دا کارونه خو تا ددې د پاره کړي وو چې خلق درته سخي اووايي ، او دا (په دُنيا کې) تاته ويل شوي ( لهذا ستا مقصد هم حاصل شوې دی ) .

بيا به دده په باره کې حکم اوشي ، دا به هم پړمخې راښکلې شي، او جهنم ته به اوغورځولې شي . (١)

---

(١) عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ ، قَالَ : تَفَرَّقَ النَّاسُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه . فَقَالَ لَهُ نَاتِلُ أَهْلِ الشَّامِ : أَيُّهَا الشَّيْخُ ! حَدِّثْنَا حَدِيْثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : نَعَمْ . سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اُسْتُشْهِدَ . فَأُتِيَ بِهِ ، فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا . قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ قَالَ : قَاتَلْتُ فِيْكَ حَتّٰى اسْتُشْهِدْتُ . قَالَ : كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيْءٌ . فَقَدْ قِيْلَ ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ . فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ . فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ . فَعَرَفَهَا . قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ قَالَ : تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ . قَالَ : كَذَبْتَ . وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ . فَقَدْ قِيْلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ ، وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ . فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ . فَعَرَفَهَا . قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ قَالَ : مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيْهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ . قَالَ : كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ . فَقَدْ قِيْلَ ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ ، ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ رقم الحديث ١٥٢ (١٩٠٥) ، و رواه احمد في مسنده ، والنسائي رقم الحديث ٣١٣٧ مَنْ قَاتَلَ لِيُقَالَ فلانٌ جَرِيْءٌ ، كنز العمال رقم الحديث ٧٤٧١ .

# ګمراهان به د قیامت په ورځ پړمخ په مخونو باندې راپاڅولې شي

۱. الله رب العزت فرمايي:

﴿ وَمَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِهِ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا ﴾.(۱)

ترجمه: او چاته چې الله تعالی سمه لاره اوښائي نو هم هغه هدایت موندونکی دی، او څوک چې ګمراه کړي نو ته به د الله نه علاوه بل هیڅوک د هغوی د پاره مددګار او نه ګوری او مونږ به دوی د قیامت په ورځ په خپلو مخونو باندې (پړمخې) رانده، ګونګیان، او کانړه راپاڅوو، د دوی ځای جهنم دی، کله چې د جهنم لمبې په کمیدو شي نو مونږ به په هغوی باندې د اور لمبې نورې هم زیاتې کړو.

**فائده**: په مذکوره آیت کې ذکر شو چې کله کافران د قیامت په ورځ په مخونو باندې راپاڅولې شي نو دوی به رانده، ګونګیان او کانړه وي، او په سر باندې به ځي.

**د یو سوال جواب**: اوس که ستاسو ذهن ته دا سوال راځي چې په سر باندې انسان څنګه تللې شي؟

نو ددې جواب دادی چې کوم رب انسان لره په خپو باندې بوتللې شي نو هغه په دې باندې قادر دی چې د قیامت په ورځ یې په سر باندې بوځي. او دا خبره په احادیثو کې هم ذکر ده.

۲. د مسلم شریف حدیث دی، چې یو سړي د نبي علیه السلام نه پوښتنه اوکړه:

يَا رَسُولَ اللَّهِ! كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟

اې د الله رسوله! د قیامت په ورځ به کافر څنګه په مخ باندې (الټه) راپاڅولې شي؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

---

(۱) بني اسرائیل (الاسراء) آیة ۹۷.

Scanned with CamScanner

أَلَيْسَ الَّذِيْ أَمْشَاهُ عَلَى رِجْلَيْهِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟

کوم رَب چې انسان په دُنيا کې په خپو باندې بُوځي نو آيا هغه رَب په دې باندې قادِر ندی چې د قيامت په ورځ يې په مخ باندې بُوځي؟

حضرت قتادة ﷺ چې دا خبره واوريده نو وې فرمايل:

بَلَى، وَعِزَّةِ رَبِّنَا. آو، زما دې قسَم وي په عزت د رَب زمونږ باندې چې هغه په دې باندې (يقيني) قادِر دی.(١)

## د جهنم خَشاک به انسانان او کانړي وي

د جهنم اُور دومره خطرناک دی چې ددې خَشاک به کافران، گناهگاران او کانړي وي.

١. الله تعالى فرمايي:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾.(٢)

ترجمه: اې مؤمنانو! تاسو خپل ځانونه او خپل کورواله د هغه اُور نه اُوساتئ چې د هغې خشاک خلق او کانړي دي.

٢. بل ځای الله ربّ العزت فرمايي:

﴿ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴾.(٣)

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ: «أَلَيْسَ الَّذِيْ أَمْشَاهُ عَلَى رِجْلَيْهِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟» قَالَ قَتَادَةُ ﷺ: بَلَى، وَعِزَّةِ رَبِّنَا. صحيح مسلم كتاب صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابُ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ رقم الحديث ٥۴ (٢٨٠٦). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٣٣٩٢، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٣٢٣. شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴٣١٥، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٧٩٨.

(٢) پوره آيت داسې دی: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴾. التحريم آية ٦.

(٣) البقرة آية ٢۴.

Scanned with CamScanner

ترجمه : تاسو د هغه اُور نه اُويرېږئ چې د هغې خشاک خلق او کاڼي دي ، کوم اُور چې د کافرانو د پاره تيار کړې شوې دی .

**تشريح** : د " النَّاس " نه مراد کافران او ګناهګاران دي ، چې په دوی سره به د جهنم اُور ګرمولې شي . او د " الحجارة " نه مراد کاڼي دي .

اوس دا خبره چې د دينه کوم کاڼي مراد دي ؟ نو د دې په باره کې مختلف اقوال دي :

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما او اکثر مُفسّرين فرمايي چې په مذکوره آيت کې د " الحجارة " نه مراد د " کِبريت (ګوګړ) تُور کاڼي " دي ؛ ځکه د دې لمبه ډيره زياته وي .

بل دا چې د کِبريت دا کاڼې د نورو کاڼو نه په عذاب ورکولو کې زيات سخت دی ؛ ځکه دا ډير زَر اُور اخلي ، ډير بَدبُويه دی ، ډير لوګي کوي ، په بدن پورې ډير زر نَخلي ، او چې ګرم شي نو ګرمائش يې زيات وي .

بل قول دادی چې د دينه " هر قِسم کاڼي " مراد دي ، بيا دا آيت غټ دليل دی په دې باندې چې د جهنم اُور دومره خطرناک دی چې د دې خشاک کاڼي دي .

بل قول دادی چې د دينه مراد " بُتان " دي ؛ ځکه اکثر بُتان د کاڼو نه جوړولې شي .

(په تفاسيرو کې د دې آيت بهترين تحقيق ذکر شوی) .(١)

---

(١) { وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما وَأَكْثَرُ الْمُفَسِّرِينَ يَعْنِي حِجَارَةَ الْكِبْرِيتِ لِأَنَّهَا أَكْثَرُ الْتِهَابًا، وَقِيلَ : جَمِيعُ الْحِجَارَةِ وَهُوَ دَلِيلٌ عَلَى عَظَمَةِ تِلْكَ النَّارِ . وَقِيلَ: أَرَادَ بِهَا الْأَصْنَامَ لِأَنَّ أَكْثَرَ أَصْنَامِهِمْ كَانَتْ مَنْحُوتَةً مِنَ الْحِجَارَةِ كَمَا قَالَ "إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ" . تفسير البغوي ج ١ ص ٧٣ .

والوقود ( بالفتح ) : الحطب. وبالضم: التوقد. و" النَّاسُ" عُمُومٌ، وَمَعْنَاهُ الْخُصُوصُ فِيمَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ أَنَّهُ يَكُونُ حَطَبًا لَهَا. أَجَارَنَا اللهُ مِنْهَا. " وَالْحِجَارَةُ " هِيَ حِجَارَةُ الْكِبْرِيتِ الْأَسْوَدِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَالْفَرَّاءِ وَخُصَّتْ بِذَلِكَ لِأَنَّهَا تَزِيدُ عَلَى جَمِيعِ الْأَحْجَارِ بِخَمْسَةِ أَنْوَاعٍ مِنَ الْعَذَابِ : سُرْعَةِ الِاتِّقَادِ، نَتْنِ الرَّائِحَةِ، كَثْرَةِ الدُّخَانِ، شِدَّةِ الِالْتِصَاقِ بِالْأَبْدَانِ، قُوَّةِ حَرِّهَا إِذَا حَمِيَتْ. تفسير القرطبي ج ١ ص ٢٣٥ .

قوله تعالى: {فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ } أَمَّا الْوَقُود، بِفَتْحِ الْوَاوِ، فَهُوَ مَا يُلْقَى فِي النَّارِ لِإِضْرَامِهَا كَالْحَطَبِ وَنَحْوِهِ، كَمَا قَالَ: {وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا} [الجن: ١٥] ←←←←←←

Scanned with CamScanner

کافرانو به چونکه د بُتانو عبادت کولو او دا يې عقيده وه "چې دا به د قيامت په ورځ زمونږ شفاعت کوي" نو الله تعالى به د کافرانو د ذليله کولو د پاره د دوی د وړاندې دا بُتان جهنم ته اُوغورځوي چې د دوی اَفسوس نورهم زيات شي.(١)

٣. الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ۝ لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا وَرَدُوهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾.(٢)

ترجمه: بيشکه تاسو (مشرکان) او تاسو چې د الله تعالى نه علاوه د کومو بُتانو عبادت کوئ، دا ټول به د جهنم خَشاک وي، (اې مشرکانو!) تاسو (اوستاسو بُتان) به دې جهنم ته داخليږئ. که چيرته دا بُتان (په ريښتيا) معبودان وی نو جهنم ته به نه تلل، او دوی ټول به په دې جهنم کې هميشه وي.

**ضروري وضاحت**: ددې آيت نه معلومه شوه چې کافران او دوی چې د کومو بُتانو

---

←←← وَقَالَ تَعَالَى: {إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ} [الأنبياء: ٩٨].

وَالْمُرَادُ بِالْحِجَارَةِ هَاهُنَا: هِيَ حِجَارَةُ الْكِبْرِيتِ الْعَظِيمَةُ السَّوْدَاءُ الصَّلْبَةُ الْمُنْتِنَةُ، وَهِيَ أَشَدُّ الْأَحْجَارِ حَرًّا إِذَا حَمِيَتْ، أَجَارَنَا اللهُ مِنْهَا .... عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ، فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ} قَالَ: هِيَ حِجَارَةٌ مِنْ كِبْرِيتٍ، خَلَقَهَا اللهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا، يُعِدُّهَا لِلْكَافِرِينَ ....

وعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَعَنْ نَاسٍ مِنَ الصَّحَابَةِ: {فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ} أَمَّا الْحِجَارَةُ فَهِيَ حِجَارَةٌ فِي النَّارِ مِنْ كِبْرِيتٍ أَسْوَدَ، يُعَذَّبُونَ بِهِ مَعَ النَّارِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: حِجَارَةٌ مِنْ كِبْرِيتٍ أَنْتَنُ مِنَ الْجِيفَةِ.
تفسير ابن كثير ج ١ ص ٢٠١ ,صفوة التفاسير ج ١ ص ٣٦.

(١) وقد قيل: إنّ المعنى في ذلك أن الكفار، لما عبدوا الآلهة من دون الله، واعتقدوا أنها تشفع لهم عند الله وتقربهم إليه، عوقبوا بأن جعلت معهم في النار إهانة لها وإذلالاً، ونكاية لهم، وإبلاغاً في حسرتهم وندامتهم. فإن الإنسان إذا قرن في العذاب بمن كان سبب عذابه كان أشد في ألمه وحسرته. التخويف من النار لابن رجب الحنبلي ص ١٣٣ الباب السادس عشر في ذكر حجارتها

(٢) الانبياء آية ٩٨، ٩٩.

Scanned with CamScanner

عبادت کولو دوی به ټول جهنم ته داخلولې شي.

البته کومو کافرانو چې دحضرت عیسیٰ علیه السلام عبادت کړی ، یا یې د حضرت عُزیر علیه السلام عبادت کړی ، او یا یې د ملائکو عبادت کړی نو دا کافران خو به جهنم ته داخلیږي خو دا پیغمبران او ملائکې به جهنم ته نه داخلیږي ؛ ځکه دوی خو دې کافرانو ته د خپل ځان د عبادت حکم نهٔ وُ کړی بلکه دوی خو ورته دا حکم کړې وُ " چې تاسو خاص د الله تعالی عبادت کوئ " نو اوس چې کومو کافرانو د پیغمبرانو یا ملائکو عبادت کړی نو په دې کې خو ددې پیغمبرانو او ملائکو هیڅ ګناه نشته.

کله چې مذکوره آیت ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ﴾ نازل شو نو کافرانو نبي علیه السلام ته وویل :

نصارٰی خو د حضرت عُزیر علیه السلام عبادت کوي ، یهود د حضرت عُزیر علیه السلام عبادت کوي ، او دا بنوأمیه (یعنی د مکې مشرکان) خو د ملائکو عبادت کوي . نو آیا دا پیغمبران او فرښتې به هم جهنم ته ځي ؟ نو ددې په جواب کې د قرآن کریم دا آیت نازل شو :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴾.(١)

ترجمه : بیشکه د کومو خلقو د پاره چې زمونږ د طرفه د مخکې نه نیکي (جنت) مقرر شوی (چې هغه دا انبیاء کرام او فرښتې دي) دوی به ددې جهنم نه لرې ساتلې شي.(٢)

---

(١) الانبیاء آیة ١٠١.

(٢) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ: { إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ} [الأنبياء: ٩٨] . قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الزِّبَعْرَى : أَنَا أَخْصِمُ لَكُمْ مُحَمَّدًا، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ ! أَلَيْسَ فِيمَا أَنْزَلَ اللهُ عَلَيْكَ: {إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ} [الأنبياء: ٩٨] قَالَ: « نَعَمْ » قَالَ: فَهَذِهِ النَّصَارَى تَعْبُدُ عِيسَى عليه السلام، وَهَذِهِ الْيَهُودُ تَعْبُدُ عُزَيْرًا عليه السلام، وَهَذِهِ بَنُو تَمِيمٍ تَعْبُدُ الْمَلَائِكَةَ، فَهَؤُلَاءِ فِي النَّارِ؟ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: { إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنَى أُولَئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ} [الأنبياء: ١٠١] . المعجم الكبير ج ١٢ ص ١٥٣ أَبُو رَزِينٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ . للطبراني رقم الحديث ١٢٧٣٩ . مجمع الزوائد رقم الحديث ١١١٧٨ ، و رقم ١١١٧٧ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣١٨٨٢ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الْأَنْبِيَاءِ رقم الحديث ٣٤٤٩ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و وافقه الذهبي.

Scanned with CamScanner

نو ددې آيت نه واضحه شوه چې کافرانو د کومو پيغمبرانو يا فرښتو عبادت کړی نو اګر چې دا کافران به جهنم ته ځي خو دا انبياء کرام او فرښتې به جهنم ته نه ځي ؛ ځکه دوی خو دې کافرانو ته د خپل ځان د عبادت حکم نه وُ کړی.

## د جهنم ډوبوالې او غټوالې

جهنم ډير زيات ډُوب او غټ دی ، د قيامت په ورځ چې کله کافران او ګناهګاران ديته اُوغورځولې شي نو دا به نه ډکيږي بلکه د نورو خلقو مطالبه به کوي.

١ . الله تعالى ددې بيان داسې کړی :

﴿ يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴾.(١)

ترجمه : په کومه ورځ چې به مونږ جهنم ته اووايو : آيا ته ډک شوی ؟ او هغه به اووايي: آيا نور زيات څه شته ؟

**الله تعالى د جهنم ډکولو فيصله کړې :** چونکه الله ربّ العزت د مخکې نه دا فيصله کړې چې جهنم به د کافرانو او ګناهګارانو جِنّاتو او انسانانو نه ډکوم. فرمايي :

﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ ﴾.(٢)

ترجمه : او ستا د رَب دا خبره پوره شوی ده " چې زه به خامخا جهنم د ( کافرو او ګناهګارو ) پيريانو او انسانانو نه ډکوم.

نو چې کله د قيامت په ورځ دا کافران او ګناهګاران جهنم ته اُوغورځولې شي نو جهنم به

---

(١) ق آية ٣٠.

(٢) هود آية ١١٩.

همداسې مضمون په سورة السجدة کې هم ذکر دی ، الله تعالى فرمايي : ﴿وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا وَلَكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّي لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ﴾ . السجدة آية ١٣ .

ترجمه : که چيرته مونږ غوښتلې نو هر کس ته به مو دده هدايت ( جبرًا ) ورکړې وُ ( خو داسې ځکه نه کوو چې بيا خو امتحان نه پاتې کيږي ) ، ليکن زما د طرفه دا خبره ثابته شوی چې زه به خامخا جهنم د ( ګناهګارو ) پيريانو او ( ګناهګارو ) انسانانو نه ډکوم.

Scanned with CamScanner

بیا هم ډک نشي او بار بار به د نورو خلقو مطالبه کوي ، بیا به الله تعالی خپل قدم په دې کې کېږدي ( كَمَا يَلِيْقُ بِشَانِهٖ . څنګه چې د الله ﷻ د شان سره مناسب وي ) نو بیا به ډک شي .

**۲ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :**

لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقَى فِيْهَا وَتَقُوْلُ : هَلْ مِنْ مَزِيْدٍ ؟ حَتّٰى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيْهَا قَدَمَهُ . فَيَنْزَوِيْ بَعْضُهَا إِلٰى بَعْضٍ وَتَقُوْلُ : قَطْ قَطْ بِعِزَّتِكَ وَكَرَمِكَ .

په جهنم کې به مسلسل کافران او ګناهګاران وَر اچولې شي خو جهنم به همداسې وايي:

هَلْ مِنْ مَزِيْدٍ ؟ آیا نور شته ؟

تر دې چې الله ربّ العزت به په دې کې خپل قدم کېږدي ( كَمَا يَلِيْقُ بِشَانِهٖ ) نو د جهنم بعضې حصې به بعضو نورو ته رانږدې شي ، او جهنم به داووايي : بَس بَس ( اې ربه ! ) زما دې ستا په عزت او کرَم باندې قسَم وي ( چې زه ډک شوم ) . (١)

همداسې مضمون په نورو احاديثو کې هم تفصيلاً ذکر شوی . (٢)

---

(١) صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٣٨(٢٨٤٨) . صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ رقم الحديث . مشكاة المصابيح بَابُ خلق الْجَنَّة وَالنَّارِ الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٥٦٩٥(٢) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٢٣٨٠ ، ورقم الحديث ١٢٤٤٠ . ورقم الحديث ١٣٤٥٧

(٢) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ ، فَقَالَتِ النَّارُ : أُوْثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِيْنَ وَالْمُتَجَبِّرِيْنَ . وَقَالَتِ الْجَنَّةُ : مَا لِيْ لَا يَدْخُلُنِيْ إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى لِلْجَنَّةِ : أَنْتِ رَحْمَتِيْ أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ ، وَقَالَ لِلنَّارِ : إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِيْ أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ ، وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مِلْؤُهَا ، فَأَمَّا النَّارُ : فَلَا تَمْتَلِئُ حَتّٰى يَضَعَ رِجْلَهُ فَتَقُوْلُ : قَطْ قَطْ ، فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ وَيُزْوٰى بَعْضُهَا إِلٰى بَعْضٍ ، وَلَا يَظْلِمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا ، وَأَمَّا الْجَنَّةُ : فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا . صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ : {وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ} رقم الحديث ٤٨٥٠ ، صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٣٦(٢٨٤٦) ، مسند احمد رقم الحديث ٨١٦٣ ، مشكوة المصابيح باب خلق الجنّة والنار الفصل الاول رقم الحديث ٧٤٤٧ .

# په جهنم کې غور ځیدونکې کاڼړې اَویا (٧٠) کاله پس د جهنم بېخ ته اُورسید

١. د جهنم د ډُوبوالي اندازه تاسو د مسلم شریف ددې حدیث نه اُولړوئ :

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه فرمایي چې یو ځل مونږ (صحابه کرام) د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره (په مجلس کې) ناست وو چې ناڅاپه یې (د دَهماکې په شان) تېز آواز واورید.

پیغمبر علیه السلام د صحابه کرامو نه پوښتنه اوکړه :

تَدْرُوْنَ مَا هَذَا؟ آیا تاسو پوهیږئ چې دا آواز د څه شي وُ ؟

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه فرمایي چې مونږ ورته وویل :

اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . الله او د هغه رسول (ددې په حقیقت باندې) ښه پوهیږي.

نبي علیه السلام اوفرمایل :

هَذَا حَجَرٌ رُمِيَ بِهِ فِي النَّارِ مُنْذُ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا، فَهُوَ يَهْوِيْ فِي النَّارِ الْآنَ، حَتَّى انْتَهَى إِلَى قَعْرِهَا .

دا یو کاڼړې وُ چې د نن نه اَویا (٧٠) کاله مخکې جهنم ته غور ځول شوې وُ هغه په جهنم کې مسلسل ښکته روان وُ تردې چې هغه اوس د جهنم بېخ ته اُورسید .

(نو دا تېز آواز د هغه کاڼړي وُ چې د جهنم بېخ ته اُورسید). (١)

٢. په مسلم شریف کې دا روایت هم ذکر دی : چې یو ځل عُتبَه بن غزوان رضي الله عنه خلقو ته تقریر کولو په هغې کې یې دا هم اوفرمایل :

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ سَمِعَ وَجْبَةً . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « تَدْرُوْنَ مَا هَذَا ؟ » قَالَ : قُلْنَا : اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ: « هَذَا حَجَرٌ رُمِيَ بِهِ فِي النَّارِ مُنْذُ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا، فَهُوَ يَهْوِيْ فِي النَّارِ الْآنَ، حَتَّى انْتَهَى إِلَى قَعْرِهَا » . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيْمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي شِدَّةِ حَرِّ نَارِ جَهَنَّمَ وَبُعْدِ قَعْرِهَا وَمَا تَأْخُذُ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ رقم الحديث ٣١ (٢٨٤٤) . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٤٨٢ . الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ١٠٢٥ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٤٧٨ .

.... فَإِنَّهُ قَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الحَجَرَ يُلْقَىٰ مِنْ شَفَةِ جَهَنَّمَ . فَيَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ عَامًا . لَا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا .

بيشكه مونږ ته دا خبره ذكر شوى (يعنى د نبي عليه السلام نه دا حديث رانقل شوى چې هغوى فرمايل :) كه چيرته د جهنم د غاړې نه يو كانړې اُوغورځول شي او دا اُويا (٧٠) كاله لاندې په جهنم كې روان وي خو بيا به هم دا كانړې د جهنم بيخ ته اُو نه رسي .(١)

## صرف د جهنم په پُل باندې به دا ټول انسانان ځائيږي

د جهنم د غټ والي اندازه تاسو د دينه اُولږوئ چې حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي :
ما د نبي عليه السلام نه د قرآن كريم د دې آيت متعلق پوښتنه اوكړه :

﴿ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ ﴾.(٢)

ترجمه : او دا ټوله زمكه به د قيامت په ورځ د الله تعالى په موټي (قبضه) كې وي ، او ټول آسمانونه به د ده په خي لاس كې رانغښتل شوي وي . (كَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ)

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما نبي عليه السلام ته اوفرمايل :

فَأَيْنَ النَّاسُ يَا رَسُولَ اللهِ يَوْمَئِذٍ ؟

اې د الله رسوله ! (چې كله د قيامت په ورځ زمكه د الله تعالى په موټي كې وي او آسمانونه د هغه په لاس كې وي نو) په دې ورځ به بيا دا خلق چيرته وي ؟

نبي عليه السلام اوفرمايل :

عَلَىٰ جِسْرِ جَهَنَّمَ .

---

(١) عَنْ خَالِدِ بْنِ عُمَيْرٍ العَدَوِيِّ ، قَالَ: خَطَبَنَا عُتْبَةُ بْنُ غَزْوَانَ، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ، ثُمَّ قَالَ : أَمَّا بَعْدُ ، « فَإِنَّ الدُّنْيَا قَدْ آذَنَتْ بِصَرْمٍ وَوَلَّتْ حَذَّاءَ، وَلَمْ يَبْقَ مِنْهَا إِلَّا صُبَابَةٌ كَصُبَابَةِ الإِنَاءِ. يَتَصَابُّهَا صَاحِبُهَا، وَ إِنَّكُمْ مُنْتَقِلُونَ مِنْهَا إِلَى دَارٍ لَا زَوَالَ لَهَا، فَانْتَقِلُوا بِخَيْرِ مَا بِحَضْرَتِكُمْ، فَإِنَّهُ قَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الحَجَرَ يُلْقَى... صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ رقم ١٤(٢٩٦٧) . مشكاة المصابيح بَاب صفة الجنة وَأَهْلهَا الفصل الأول رقم ٥٦٢٩(١٨) . شرح السنّة للبغوي ج ١٤ ص ٢٨١ رقم ٤٠٨٦ .

(٢) الزمر آية ٦٧ .

Scanned with CamScanner

دا ټول خلق به د جهنم په پُل باندې وي.(١)

سبحان الله ، چې کله د جهنم په پُل باندې دا ټول انسانان او پيريان راځي نو پخپله جهنم به څومره غټ وي.

## په جهنم کې به د اوښانو هومره ماران او د قچرو هومره لړمان وي

١ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ فِي النَّارِ حَيَّاتٍ كَأَمْثَالِ أَعْنَاقِ الْبُخْتِ ، تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ خَرِيفًا. وَ إِنَّ فِي النَّارِ عَقَارِبَ كَأَمْثَالِ الْبِغَالِ الْمُوْكَفَةِ، تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ . فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ سَنَةً .

بيشکه په جهنم کې به ماران وي چې د بُختي اُوښ په شان به غټ غټ وي ( هغه به دومره زَهريله وي ) که چيرته په هغې کې يو مار دوزخي اُوچيچي نو د هغې زهرو اثر (او دَرد ) به څلويښت (٤٠) کاله محسوسوي. او (همدغه شان) په جهنم کې لړمان دي چې په غټ والي کې د هغه قچرو هومره دي په کومو باندې چې کټه ( پالان) اچولې شوې وي (هغه به دومره زهريله وي چې) که په هغې کې يو لړم دوزخي اُوچيچي نو د هغې زهرو آثر به

---

(١) پوره حديث داسې دى : عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ ، قَالَ : قَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا : أَتَدْرِي مَا سَعَةُ جَهَنَّمَ ؟ قُلْتُ: لَا. قَالَ : أَجَلْ وَاللهِ مَا تَدْرِي أَنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ وَبَيْنَ عَاتِقِهِ مَسِيرَةَ سَبْعِينَ خَرِيفًا. تَجْرِي فِيهِ أَوْدِيَةُ الْقَيْحِ وَالدَّمِ . قُلْتُ لَهُ : أَنْهَارٌ ؟ قَالَ : لَا، بَلْ أَوْدِيَةٌ . ثُمَّ قَالَ : أَتَدْرِي مَا سَعَةُ جَهَنَّمَ ؟ قَالَ: لَا. قَالَ : أَجَلْ وَاللهِ مَا تَدْرِي، حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ} . قُلْتُ: فَأَيْنَ النَّاسُ يَا رَسُولَ اللهِ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ : « عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ » . البعث والنشور للبيهقي ج ١ ص ٣١٧ رقم الحديث ٥٧٣ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الزُّمَرِ رقم الحديث ٣٦٣٠ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ بِهَذِهِ السِّيَاقَةِ . ووافقه الذهبي . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٤٨٥٦ . الزهد والرقائق لابن المبارک ج ٢ ص ٨٥ . حلية الاولياء ج ٨ ص ١٨٣ . شرح السنّة للبغوي ج ١٥ ص ٢٥١ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٠١ .

Scanned with CamScanner

څلوېښت (۴٠) کاله محسوسوي .

(یعنی په یو ځل چیچلو سره به څلوېښت کاله د دې زهرو نه په تکلیف کې وي) . (١)

٢. حضرت عبدالله بن عَمرو ﷺ فرمايي :

إِنَّ لِجَهَنَّمَ سَوَاحِلَ فِيهَا حَيَّاتٌ وَعَقَارِبُ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ .

بیشکه د جهنم د پاره ساحِل ( غاړه ) شته ، په هغې کې ماران او لړمان دي د هغوی څټونه د بُختي اُوښ په شان غټ دي . (٢)

## د لړمانو غټې غټې لشې

الله تعالى د کافرانو په باره کې فرمايي :

﴿ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ ﴾ . (٣)

ترجمه : مونږ به دوی ته د عذاب د پاسه عذاب زیات کړو .

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ د مذکوره آیت په تفسیر کې فرمايي :

زِيدُوا عَقَارِبَ أَنْيَابُهَا كَالنَّخْلِ الطِّوَالِ .

دوی ته به په عذاب کې داسې لړمان وَر زیات کړې شي چې د هغې لشې به د قجورو اُوږدو اُونو په اندازه وي . (۴)

---

(١) مسند احمد مخرجا ج ٢٩ ص ٢٥١ رقم الحديث ١٧٧١٢ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ٥٦٩١(٢٧) ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٦١ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٥٩٣ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٥٠٣ . صحيح الترغيب والترهيب فصل في ذكر حيّاتها وعقاربها رقم الحديث ٣٦٧٦(١) .

(٢) تفسير الطبري ج ١٤ ص ٣٣٢ سورة النحل في تفسير آية ٨٨ . الدرالمنثور في التفسير بالمأثور ج ٥ ص ١٥٧ . التخويف من النار لابن رجب الحنبلي الباب السابع عشر في ذكر حياتها وعقاربها ص ١٤٠ .

(٣) پوره آیت داسې دی : ﴿ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ ﴾ . النحل آية ٨٨ .

(۴) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ فِيْ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: { زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ } [النحل: ٨٨] قَالَ ←←←

Scanned with CamScanner

# څوک چې په دُنيا کې مؤمنانو ته ضرَر رسوي نو په جهنم کې به وربانديِ ماران او لړَمان مسلط کيږي

يزيد بن شجره رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي ... د جهنم د پاره داسې ساحِل شته لکه څرنګې چې د سمندر د پاره ساحِل وي، په دې کې به د قچورو اُونو هومره غټ غټ حشرات او ماران وي، او د قچرو په شان به غټ غټ لړمان وي، کله چې جهنميان د عذاب سپَک والي درخواست اوکړي نو دوی ته به وويلې شي:

أُخْرُجُوْا إِلَى السَّاحِلِ. تاسو د جهنم ساحل ته اُووځئ.

پس جهنميان به ساحل ته لاړ شي نو هلته به يې دغه حشرات د شونډو، مخونو او کوم ځايونو چې الله تعالى اُوغواړي د هغه ځايونو نه به يې اُونيسي (اُو به يې چيچي)، او آنداموته به ورنه جدا کړي.

پس دا جهنميان به د هغه ځای نه اُوتختي، د جهنم اُور طرف ته به لاړ شي، او په دوی باندې به د خارښ بيماري مسلّط کړي. په دوی کې به يو کس خپل ځان دومره اُوګروي چې هډوکي به يې راښکاره شي.

(د جهنم په نِګرانانو کې) يو کس به د دوی نه پوښتنه اوکړي:

يَا فُلَانُ! هَلْ يُؤْذِيْكَ هَذَا؟ اې فلانکيه! آيا تاته دا عذاب ضرَر دررسوي؟

دا به ورته اووايي چې: آو (ضرر رارسوي).

هغه به ورته اووايي: ذَلِكَ بِمَا كُنْتَ تُؤْذِي الْمُؤْمِنِيْنَ.

---

←←← زِيْدُوْا عَقَارِبَ أَنْيَابُهَا كَالنَّخْلِ الطُّوَالِ. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ج ۱۰ ص ۳۹۰ كِتَابُ صِفَةِ النَّارِ بَابُ زِيَادَةِ أَهْلِ النَّارِ مِنَ الْعَذَابِ رقم الحديث ۱۸۶۰۰ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ. المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۸۷۵۵ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ". و وافقه الذهبي. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۱۰۳، و رقم الحديث ۹۱۰۴. مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۴۱۳۸. صحيح الترغيب والترهيب فصل في ذكر حيّاتها وعقاربها رقم الحديث ۳۶۷۸(۳). البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۵۶۰.

دا سزا ددې په وجه ده چې تا به په دُنيا کې مؤمنانو ته ضرر رسول . (١)

## په جهنم کې زَهرجَن گنجې مار

څوک چې د خپل مال نه زکوة نه ورکوي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ په ده باندې زَهرجَن گنجې مار مُسلّط کړي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا ، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ ، لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ ـ يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ ـ ثُمَّ يَقُولُ " أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ " ثُمَّ تَلَا ( وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ ... ) الآيَةَ.

چاته چې الله تعالى مال ورکړې وي ، او دا ددې مال نه زکوة اداء نه کړي نو دده ددې مال نه به د قيامت په ورځ يو زهرجَن گنجې مار جوړ کړې شي ( چې د ډيرو زهرو د وجې به يې په سَر ويښتان هم نه وي ) ، ددې مار په سترگو کې به دوه تور ټاکي وي ( لکه څرنگې چې دا د زهرجنو مارانو په سترگو کې وي (٢) ) ، او دا مار به دده په غاړه کې د طوق په طور وَرواچولې شي ، بيا به دا مار ددې سړي دواړه وَښکي اُونيسي ( چيچي به يې ) او ورته

---

(١) عَنْ يَزِيدَ بْنِ شَجَرَةَ الرَّهَاوِيِّ ﷺ ، وَكَانَ مِنْ أُمَرَاءِ الشَّامِ ، وَكَانَ مُعَاوِيَةُ يَسْتَعْمِلُهُ عَلَى الْجُيُوشِ ، فَخَطَبَنَا ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ .... وَإِنَّ لِجَهَنَّمَ سَاحِلًا كَسَاحِلِ الْبَحْرِ ، فِيهِ هَوَامٌّ وَحَيَّاتٌ كَالنَّخْلِ وَعَقَارِبُ كَالْبِغَالِ ، فَإِذَا اسْتَغَاثَ أَهْلُ جَهَنَّمَ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمْ قِيلَ : اُخْرُجُوا إِلَى السَّاحِلِ . فَيَخْرُجُونَ ، فَيَأْخُذُ الْهَوَامُّ بِشِفَاهِهِمْ وَوُجُوهِهِمْ ، وَمَا شَاءَ اللهُ فَيَكْشِفُهُمْ فَيَسْتَغِيثُونَ فِرَارًا مِنْهَا إِلَى النَّارِ ، وَيُسَلِّطُ عَلَيْهِمُ الْجَرَبَ فَيَحُكُّ وَاحِدٌ جِلْدَهُ حَتَّى يَبْدُوَ الْعَظْمُ فَيَقُولُ أَحَدُهُمْ : يَا فُلَانُ ! هَلْ يُؤْذِيكَ هَذَا ؟ فَيَقُولُ : نَعَمْ . فَيَقُولُ : ذَلِكَ بِمَا كُنْتَ تُؤْذِي الْمُؤْمِنِينَ . المستدرک على الصحيحين للحاكم ذِكْرُ مَنَاقِبِ يَزِيدَ بْنِ شَجَرَةَ الرَّهَاوِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ج ٣ ص ٥٦٤ رقم ٦٠٨٧ . الزهد والرقائق لابن المبارک والزهد لنعيم بن حماد ج ٢ ص ٩٥ . التخويف من النار الباب السابع عشري في ذکر حياتها وعقاربها . صحيح الترغيب والترهيب فصل في ذکر حياتها وعقاربها رقم ٣٦٧٧(٢) .

(٢) (زبيبتان) نابان يخرجان من فمه أو نقطتان سوداوان فوق عينيه وهو أوحش ما يكون من الحيات وأخبثه. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري

وايي به : ''زه ستا خزانه يم (د كومې نه به چې تا زكوة نه وركولو)''. ددې نه پس نبي عليه السلام (ددې په تائيد كې) دا آيت اولوست :

﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ﴾ . (١)

ترجمه : او كومو خلقو ته چې الله تعالى په خپل فضل سره مال وركړې وي او په هغې كې بُخل كوي (يعنى زكوة ترې نه اُوباسي) نو هغوى دې دا گمان نه كوي چې گني دا بُخل د دوى د پاره ښه دى ، بلكه دا بُخل د دوى په حق كې ډير بد دى ، ډير زر به د قيامت په ورځ دغه مال په كوم كې چې دوى بخل كړى دوى ته طوق واچولې شي . (٢)

## جهنم د كافرانو د پاره قيدخانه ده

١. جهنم د كافرانو د پاره قيدخانه او جېل دى. الله تعالى فرمايي :

﴿ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ﴾ . (٣)

ترجمه : او مونږ جهنم د كافرانو د پاره قيد خانه گرځولى . (۴)

٢. دغه وجه ده چې كافران به په جهنم كې په ډير تنگ ځاى كې اچولې شي . (٥)

---

(١) آل عمران آية ١٨٠ .

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ إِثْمِ مَانِعِ الزَّكَاةِ رقم الحديث ١۴٠٣ .

(٣) بني اسرائيل (الاسراء) آية ٨ .

(۴) (وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا) أَيْ مَحْبِسًا وَسِجْنًا، مِنَ الْحَصْرِ وَهُوَ الْحَبْسُ. قَالَ الْجَوْهَرِيُّ: يُقَالُ حَصَرَهُ يَحْصُرُهُ حَصْرًا ضَيَّقَ عَلَيْهِ وَأَحَاطَ بِهِ. تفسير القرطبي ج ٥ ص ٢٢۴ .

{وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا} أَيْ: مُسْتَقَرًّا وَمَحْصَرًا وَسِجْنًا لَا مَحِيدَ لَهُمْ عَنْهُ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا {حَصِيرًا} أَيْ: سِجْنًا. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: يُحْصَرُونَ فِيهَا. وَكَذَا قَالَ غَيْرُهُ. تفسير ابن كثير ج ٥ ص ۴٨ .

(٥) الله تعالى فرمايي : ﴿ وَإِذَآ أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ﴾ . الفرقان آية ١٣ ، ١۴ .

←←←←

Scanned with CamScanner

بلکه دوی به د اُور په تابوتونو کې واچولې شي ، بيا به دا تابوتونه د اُور په نورو تابوتونو کې بند کړې شي ، د پاسه به پرې د اُور ميخونه ټک وهلې شي ، او جهنم ته به اوغورځولې شي .(١)

# د قيامت په ورځ د جهنم نه "عُنق" راوتل . او درې کسانو ته عذاب ورکول

د قيامت په ورځ به د جهنم نه يو عُنق راأووځي ( يعنی د اُورد څټ په شان د اُور يوه حصه به وي ، يا د عُنق نه قوي کس مراد دی ، او يا ورنه يوه ډله مراد ده ) ، دا عُنق به درې کسانو ته د رَسوايۍ عذاب ورکړي او جهنم ته به يې داخل کړي .

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

تَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ، يَقُولُ: إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ: بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ، وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ، وَبِالْمُصَوِّرِيْنَ .

د قيامت په ورځ به د جهنم نه يو عُنُق راأووځي ، ددې به دوه (٢) سترګې وي چې ليدل به کوي ، دوه (٢) غوږونه به يې وي چې اُوريدل به کوي ، او ژبه به يې وي چې خبرې به

---

←←← ترجمه : او هر کله چې دوی د جهنم په تَنګ ځای کې اُوغورځولې شي چې لاسونه به يې د څټونو سره په زنځيرونو باندې تړل شوي وي نو هلته به دوی د مرګ دُعاګانې غواړي (يعنی دا به وايي چې "وای هلاک شو") .

(١) عَنْ يُونُسَ بْنِ خَبَّابٍ، قَالَ : قَرَأَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هَذِهِ الْآيَةَ: { لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ } [ الأنبياء : ١٠٠] قَالَ : " إِذَا أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَنْ يُخَلَّدُ فِيهَا جُعِلُوا فِي تَوَابِيتَ مِنْ نَارٍ ، ثُمَّ جُعِلَتْ تِلْكَ التَّوَابِيتُ فِي تَوَابِيتَ أُخْرَى ، ثُمَّ جُعِلَتِ التَّوَابِيتُ فِي تَوَابِيتَ أُخْرَى ، فِيهَا مَسَامِيرُ مِنْ نَارٍ، فَلَا يَرَى أَحَدٌ مِنْهُمْ أَنَّ فِي النَّارِ أَحَدًا يُعَذَّبُ غَيْرَهُ. ثُمَّ قَرَأَ: { لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ } [الأنبياء: ١٠٠] ". تفسير الطبري ج ١٦ ص ٤١٤ سورة الانبياء في تفسير آية ١٠٠ . تفسير مجاهد ص ٤٧٥ ، تفسير البغوي ج ٣ ص ٣١٨ ، تفسير القرطبي ج ١١ ص ٣٤٥ ، البحر المحيط فى التفسير ج ٧ ص ٤٦٩ ، تفسير ابن كثير ج ٥ ص ٣٧٧ سورة الانبياء آية ١٠٠ ، ، التفسير الطبري ج ٦ ص ٢٣٩ ، صفوة التفاسير ج ٢ ص ٢٥٢ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٩٠٨٧ ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٩٧ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١١١٧٩ .

Scanned with CamScanner

کوي، او دا به وايي:

زه په درې (۳) کسانو باندې مقرر شوې یم (چې دوی جهنم ته داخل کړم او د خلقو د وړاندې د رسوايئ عذاب ورکړم): ۱. په هر ظالم متکبّر سرکشه باندې. ۲. چا چې د الله تعالی سره بل کس په عبادت کې شریک کړې وي. ۳. او (د جاندار) تصویر جوړونکو باندې. (۱)

(ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په مرقاة کې او نورو شارحینو ددې حدیث بهترینه تشریح هم نقل کړی). (۲)

بیا به دا عُنُق دا مجرمین په خپل گرفت کې راولي او د جهنم په عذابونو او سختیو کې

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ النَّارِ رقم الحديث ۲۵۷۴ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وقال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح بَابُ التصاوير الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۴۵۰۲(۱۴). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۴۳۰. شعب الايمان رقم الحديث ۵۹۰۴. البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۵۲۴. شرح السنّة للبغوي ج ۱۲ ص ۱۳۲. كنزالعمال رقم الحديث ۹۳۷۱.

(۲) (يَخْرُجُ عُنُقٌ): بِجُمَتَيْنِ أَيْ شَخْصٌ قَوِيٌّ، وَقِيلَ هُوَ طَائِفَةٌ. ذَكَرَهُ بَعْضُ الشُّرَّاحِ. وَفِي الْقَامُوسِ: الْعُنُقُ بِالضَّمِّ وَبِضَمَّتَيْنِ وَكَصَرْدِ الْجِيدِ مُؤَنَّثٌ. وَالْجَمَاعَةُ مِنَ النَّاسِ وَقَالَ الطِّيبِيُّ: أَيْ طَائِفَةٌ (مِنَ النَّارِ): وَمِنْ بَيَانِيَّةٌ. وَالْأَظْهَرُ أَنَّهَا تَتَعَلَّقُ بِقَوْلِهِ يَخْرُجُ كَمَا أَنَّ قَوْلَهُ: (يَوْمَ الْقِيَامَةِ): ظَرْفٌ لَهُ. ثُمَّ الضَّمِيرُ فِي قَوْلِهِ: (لَهَا): رَاجِعٌ إِلَى مَعْنَى عُنُقٍ قَالَهُ الطِّيبِيُّ. وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْمُرَادَ بِالْعُنُقِ الْجِيدُ عَلَى مَا هُوَ الْمَعْرُوفُ فِي اللُّغَةِ إِذْ لَا صَارِفَ عَنْ ظَاهِرِهِ فَهُوَ مُؤَنَّثٌ. وَالْمَعْنَى أَنَّهُ تَخْرُجُ قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ عَلَى هَيْئَةِ الرَّقَبَةِ الطَّوِيلَةِ، لَهَا (عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ، وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ، وَلِسَانٌ يَنْطِقُ): كَمَا وَرَدَ مِثْلُ هَذِهِ الْأَوْصَافِ فِي الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ الْأَسْعَدِ يَشْهَدُ لِمَنْ وَافَاهُ بِالْعَهْدِ الْمِيثَاقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (يَقُولُ): بِصِيغَةِ التَّذْكِيرِ، وَهُوَ بَدَلٌ مِنْ يَنْطِقُ أَوْ حَالٌ. وَالْمَعْنَى يَقُولُ لِسَانُهَا حَالًا أَوْ مَآلًا (إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ): أَيْ وَكَّلَنِي اللَّهُ بِأَنْ أُدْخِلَ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةَ النَّارَ، وَأُعَذِّبَهُمْ بِالْفَضِيحَةِ عَلَى رُؤُوسِ الْأَشْهَادِ (بِكُلِّ جَبَّارٍ): أَيْ ظَالِمٍ (عَنِيدٍ): أَيْ مُعَانِدٍ مُتَكَبِّرٍ عَنِ الْحَقِّ مُلَازِمٍ عَلَى الْبَاطِلِ. وَفِي النِّهَايَةِ: الْجَبَّارُ هُوَ الْمُتَمَرِّدُ الْعَاتِي وَالْعَنِيدُ الْجَائِرُ عَنِ الْقَصْدِ الْبَاغِي الَّذِي يَرُدُّ الْحَقَّ مَعَ الْعِلْمِ بِهِ. (وَكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ، وَبِالْمُصَوِّرِينَ): وَفِي هَذَا تَهْدِيدٌ شَدِيدٌ وَوَعِيدٌ أَكِيدٌ. مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۲۸۵۵ رقم الحديث ۴۵۰۲.

عنق بِضَمِّ الْعين وَالنُّون أَي طَائِفَة وجانب من النَّار. الترغيب والترهيب للمنذري ج ۴ ص ۲۳ في تشريح حديث ۴۶۳۵.

به يې اُوغور ځوي . (١)

بلکه د نورو خلقو نه به يې پنځه سوه کاله مخکې جهنم ته اُوغور ځوي . (٢)

په بعضې احاديثو کې په دې درې کسانو يو هغه کس ذکر شوی چې په ناحقه قتل اوکړي . (٣)

لکه څرنګې چې پلار ځوي پيژني ، او ځوي پلار پيژني نو ددينه زيات به دا عُنُق دغه مجرمان پيژني . (۴)

## د جهنم د سختې يَخنۍ عذاب

د جهنم په عذابونو کې يو عذاب د سختې يَخنۍ هم دی . ځکه هلته په "طبقه زمهرير" کې به د سختې يَخنۍ په وجه د کافرانو آندامونه ټوټې ټوټې کيږي .

---

(١) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ فَيَقُولُ : إِنِّي وُكِّلْتُ بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ، وَبِمَنْ جَعَلَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ " قَالَ : « فَيَنْطَوِي عَلَيْهِمْ فَيَطْرَحُهُمْ فِي غَمَرَاتِ جَهَنَّمَ » . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٢٥ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٦٩٢ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٠٤٠ .

(٢) وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، فَتَكَلَّمُ بِلِسَانٍ طَلِقٍ ذَلِقٍ ، لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرُ بِهِمَا ، وَلَهَا لِسَانٌ تَكَلَّمُ بِهِ ، فَتَقُولُ : إِنِّي أُمِرْتُ بِمَنْ جَعَلَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ ، وَبِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ، وَبِمَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ ، فَتَنْطَلِقُ بِهِمْ قَبْلَ سَائِرِ النَّاسِ بِخَمْسِ مِائَةِ عَامٍ » . مجمع الزوائد كِتَابُ صِفَةِ النَّارِ بَابٌ فِي أَهْلِ النَّارِ ، وَعَلَامَتِهَا ، وَأَوَّلِ مَنْ يُكْسَى حُلَلَهَا رقم الحديث ١٨٦١٣ .

(٣) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه ، عَنْ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : " يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَتَكَلَّمُ يَقُولُ : وُكِّلْتُ الْيَوْمَ بِثَلَاثَةٍ : بِكُلِّ جَبَّارٍ ، وَبِمَنْ جَعَلَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ ، وَبِمَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ ، فَيَنْطَوِي عَلَيْهِمْ فَيَقْذِفُهُمْ فِي غَمَرَاتِ جَهَنَّمَ " . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٣٥٤ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٣١٨ ، و رقم الحديث ٣٩٨١ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٢٦ .

(۴) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ، وَكَعْبٍ ، قَالَا ... يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ ، فَيَقُولُ : أُمِرْتُ بِثَلَاثَةٍ : بِمَنْ جَعَلَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ ، وَبِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ، وَبِكُلِّ مُعْتَدٍ ، لَأَنَا أَعْرَفُ بِالرَّجُلِ مِنَ الْوَالِدِ بِوَلَدِهِ وَالْمَوْلُودِ بِوَالِدِهِ ... الزهد لاحمد بن حنبل زُهْدُ عُمَيْرِ بْنِ حَبِيبِ بْنِ حَمَاشَةَ رَحِمَهُ اللهُ ج ١ ص ١٥٣ .

Scanned with CamScanner

۱ . د بخاري شریف حدیث مخکې ذکر شو چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

... فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الزَّمْهَرِيْرِ .

پس تاسو چې ( په اُوړي کې ) دا سخته ګرمي ، او ( په ژمي کې دا ) سخته يَخني محسوسوئ نو دا ددې جهنم د ساګانو نتیجه ده . (۱)

جهنم چې ساه دننه طرف ته راکاږي نو د ژمي سخته يَخني جوړه شي ، او چې ساه بهر طرفته رااُوباسي نو د اُوړي سخته ګرمي جوړه شي .

۲ . په يو حدیث کې داسې الفاظ هم ذکر دي ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْبَرْدِ مِنْ زَمْهَرِيْرِ جَهَنَّمَ .

تاسو چې دا سخته يَخني محسوسوئ نو دا د جهنم د يَخنۍ آثر دی . (۲)

۳ . د جهنم په دې يَخه طبقه کې به دومره زياته يَخني وي چې د ډېرې يَخنۍ په وجه به د جهنميانو هډوکي مات شي ، او د هډوکو ماتيدو آواز به يې هم آوريدلې شي . (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ: رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا، فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ : نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الزَّمْهَرِيْرِ" . صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ النَّارِ، وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ۳۲۶۰ . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ اسْتِحْبَابِ الْإِبْرَادِ بِالظُّهْرِ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ لِمَنْ يَمْضِي إِلَى جَمَاعَةٍ، وَيَنَالُهُ الْحَرُّ فِي طَرِيقِهِ رقم الحديث ۱۸۵(۶۱۷) . سنن الترمذي رقم الحديث ۲۵۹۲ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۳۱۹ .

(۲) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : اِشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا، فَقَالَتْ: رَبِّ! أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا فَنَفِّسْنِي، فَأَذِنَ لَهَا فِي كُلِّ عَامٍ بِنَفَسَيْنِ، فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْبَرْدِ، مِنْ زَمْهَرِيْرِ جَهَنَّمَ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ مِنْ حَرِّ جَهَنَّمَ . مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ج ۱۳ ص ۱۵۶ رقم الحديث ۷۷۲۲ . السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۵۷۶ . تفسير الطبري ج ۲۳ ص ۵۵۲ . لطائف المعارف لابن رجب ج ۱ ص ۳۱۸ المجلس الثاني في ذكر فصل الصيف .

(۳) عَنْ مُجَاهِدٍ : إِنَّ فِي النَّارِ لَزَمْهَرِيْرًا يُعَذَّبُوْنَ بِهِ، فَيَهْرُبُوْنَ مِنْهَا إِلَى ذَاكَ الزَّمْهَرِيْرِ، فَإِذَا وَقَعُوْا حَطَّمَ عِظَامَهُمْ حَتَّى تُسْمَعَ لَهَا نَقِيْضًا . صفة النار لابن ابي الدنيا الْحَيَّاتُ وَالْعَقَارِبُ ص ۷۶ رقم ۱۰۲ .

Scanned with CamScanner

٤. کله چې جهنميان د ګرمۍ نه تنګ شي نو د جهنم داروغه ته به فرياد اوکړي "چې مونږ د جهنم نه يو طرف ته اُوباسه" ، کله يې چې هلته اُوباسي نو هلته به د ډيرې يَخنۍ د وجې د مرګ شي ، واپس به د هغه ځای نه راشي او جهنم ته به داخل شي. (١)

# د جهنم وَادياني

په جهنم کې ډيرې خطرناکې واديانې دي ، په احاديثو او تفاسيرو کې ددې ذکر شته ، د يو څو واديانو تذکره درته کوم :

## د جهنم په يوې وادۍ کې "هَبهَب" کوهي / ( يا : هَبهب وادي )

١. د جهنم په يوې وادۍ کې "هَبهَب" کوهي دی چې په هغې کې به متکبرين اُوسيږي . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ فِيْ جَهَنَّمَ وَادِيًا ، فِي الْوَادِيْ بِئْرٌ يُقَالُ لَهُ " هَبْهَبُ " حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُسْكِنَهُ كُلَّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ. (٢)

---

(١) وعن عبد الملك بن عمير ، قال بلغني أن أهل النار يسألون خازنها أن يخرجهم إلى جانبها ، فيخرجهم ، فيقتلهم البرد والزمهرير ، حتى يرجعوا إليها فيد خلوها ، مما وجدوا من البرد .
وروى أبو نعيم بإسناده عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أن كعبًا قال في جهنم بردًا هو الزمهرير يسقط اللحم حتى يستغيثوا بحر جهنم . وروي عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: الزمهرير لون من العذاب . وعن عكرمة قال: هو البرد الشديد . التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي ص ٩٦ الباب العاشر في شدة حرها وزمهريرها فصل في زمهرير جهنم بيت يتميز فيه الكافر من برده .

(٢) مجمع الزوائد كِتَابُ الْخِلَافَةِ بَابٌ فِي الْعَدْلِ وَالْجَوْرِ رقم الحديث ٩٠٠٥ وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٣٥٤٧ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٤١٥٩ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٧٦٥ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٤٧٩ . حلية الاولياء ج ٢ ص ٣٥٥ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٣٢٥ وقال المنذري : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ بِإِسْنَاد حسن وَأَبُو يعلى وَالْحَاكِم وَقَالَ صَحِيح الْإِسْنَاد . ورقم الحديث ٣٣٢٩ . الزواجر ج ٢ ص ١٨٧ . كنز العمال رقم الحديث ٧٦٤٥ .

Scanned with CamScanner

بيشکه په جهنم کې يوه وادي ده ، په دې وادۍ کې يو کوهي دی چې هغې ته "هَبْهَب" ويلې شي ، په الله تعالى باندې لازم دي ( يعنى هغه په ځان باندې دا لازم کړي ) چې په دې کې به متکبّر سرکشه اُوسَوي (او پاتې کوي).

۲. په يو روايت کې ذکر دي چې پخپله ددې وادۍ نوم "هَبهَب" دی.(۱)

## په جهنم کې "وَيل" وادي

۱. په جهنم کې "وَيْل" وادي ډيره ژوره ده ، په دې کې به کافران غورځولې شي.
رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:
وَيْلٌ وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ يَهْوِيْ فِيْهِ الْكَافِرُ أَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ قَعْرَهُ.
"وَيل" په جهنم کې (ډيره ژوبه) وادي ده ، چې کله کافران په دې کې اُوغورځولې شي نو بېخ ته د رسيدلو نه مخکې به په دې کې څلويښت (۴۰) کاله ښکته روان وي.(۲)

۲. ددې وادۍ په باره کې دا هم نقل دي چې په دې کې به د جهنميانو د زخمونو وينه

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ فِيْ جَهَنَّمَ وَادِيًا يُقَالُ لَهُ هَبْهَب، يَسْكُنُهُ كُلُّ جَبَّارٍ». سنن الدارمي بَابُ: فِيْ أَوْدِيَةِ جَهَنَّمَ ج ۲ ص ۱۸۵۸ رقم الحديث ۲۸۵۸ . مشكاة المصابيح كتَابُ أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۶۸۹(۲۵) . الزواجر ج ۱ ص ۱۱۷ .
بيشکه په جهنم کې يوه وادي ده چې هغې ته هبهب ويلې شي په هغې کې به هر متکبّر اُوسيږي.

(۲) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « وَيْلٌ وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ يَهْوِيْ فِيْهِ الْكَافِرُ أَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ قَعْرَهُ ، وَالصَّعُوْدُ جَبَلٌ فِي النَّارِ يَتَصَعَّدُ فِيْهِ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا يَهْوِيْ مِنْهُ كَذٰلِكَ أَبَدًا » . المستدرك على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْأَهْوَالِ ج ۴ ص ۶۳۹ رقم الحديث ۸۷۶۴ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ"، ووافقه الذهبي. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۷۶۴ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۴۶۷ ذكر الاخبار عن وصف الويل .... المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۱۱۴ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۴۶۷ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۵۵۵ . الزواجر ج ۲ ص ۴۱۸ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۹۳۷ .

Scanned with CamScanner

او پیپ جمع کیږي. (١)

## په جهنم کې ''جُبّ الحُزن'' وادي

په جهنم کې ''جُبُّ الحُزن'' وادي د عذاب په اعتبار سره ډیره سخته ده، په دې کې به رِیاکار قاریان اچولې شي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم (صحابه کرامو) ته اوفرمایل: تَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنْ جُبِّ الحُزْنِ.

تاسو په الله تعالی سره د ''جُبُّ الحُزن'' نه پناه غواړئ.

صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو: اې د الله رسوله! ''جُبُّ الْحُزن'' څه شی دی؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ تَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ.

دا په جهنم کې داسې یوه وادي ده چې د دینه جهنم په هره ورځ سل (١٠٠) ځیلې پناه غواړي.

صحابه کرام رضي الله عنهم فرمایي چې مونږ د پیغمبر علیه السلام نه پوښتنه اوکړه:

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَنْ يَدْخُلُهُ؟ اې د الله رسوله! دې وادۍ ته به څوک داخلیږي؟

نبي علیه السلام اوفرمایل: اَلْقُرَّاءُوْنَ الْمُرَاءُوْنَ بِأَعْمَالِهِمْ.

هغه قاریان به دیته داخلیږي چې په خپلو اعمالو کې رِیا کوي. (٢)

---

(١) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه، قَالَ: «وَيْلٌ وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ يَسِيْلُ فِيْهِ صَدِيْدُ أَهْلِ النَّارِ جُعِلَ لِلْمُكَذِّبِيْنَ». البعث والنشور للبیهقي ج ١ ص ٢٧٢ رقم الحدیث ٣٦٧. المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ٩١١٤. مجمع الزوائد رقم الحدیث ١١٣٧٥.

(٢) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنْ جُبِّ الْحَزَنِ». قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! وَمَا جُبُّ الْحَزَنِ؟ قَالَ: «وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ تَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ». قُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَنْ يَدْخُلُهُ؟ قَالَ: «اَلْقُرَّاءُوْنَ الْمُرَاءُوْنَ بِأَعْمَالِهِمْ». سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ ←←←←←←←←←←←←←←←←←←←←

Scanned with CamScanner

( دا "جُبُّ الحُزْن" او "جُبُّ الحَزَن" دواړو طريقو سره ويل صحيح دي ) .

دا وادي هم د کوهي په شان ډيره ژوبه ده ، په دې کې به صرف او صرف غمونه او عذابونه وي .(١)

## په جهنم کې "غيّ" وادي

د جهنم په واديانو کې يوه وادي "غَيّ" ده ، دا هم ډيره ژوبه او ډيره ګرمه ده ، د جهنم نورې واديانې ددې د ګرمائش نه پناه غواړي .

په دې وادي غَيّ کې به بې لمازه ، زناکار ، شرابي ، سُود خُور ، د مور او پلار نافرمان ، او په دروغه ګواهي ورکوونکي ګناهګاران داخليږي .(٢)

←←← بَابُ مَا جَاءَ فِي الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ رقم الحديث ٢٣٨٣ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ . سنن ابن ماجة بَابُ الِانْتِفَاعِ بِالْعِلْمِ وَالْعَمَلِ بِهِ رقم الحديث ٢٥٦ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٣٠٩٠ ، و رقم الحديث ٦١٨٩ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٤٨١ . شعب الايمان رقم الحديث ٦٤٣٥ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٣ . مشكاة المصابيح كتاب العلم الْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ٢٧٥(٧٨) . الزواجر ج ٢ ص ٤١٧ ، و ج ١ ص ٦٥ . مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٥٨٥ . كنز العمال رقم الحديث ٧٤٨٠ .

نوټ : دې حديث ته علماؤ ضعيف ويلي . ابوالشمس عفي عنه

(١) ( تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ جُبِّ الْحَزَنِ ) : بِضَمِّ الْحَاءِ وَسُكُونِ الزَّايِ وَبِفَتْحِهَا أَيْ مِنْ بِئْرٍ فِيهَا الْحُزْنُ لَا غَيْرُ : قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : جُبُّ الْحَزَنِ عَلَمٌ وَالْإِضَافَةُ فِيهِ كَمَا هِيَ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ أَيْ : دَارٌ فِيهَا السَّلَامَةُ مِنْ كُلِّ حَزَنٍ وَآفَةٍ ( قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ ! وَمَا جُبُّ الْحَزَنِ؟ قَالَ : وَادٍ ) : أَيْ : هُوَ وَادٍ عَمِيقٌ مِنْ كَمَالِ عُمْقِهِ يُشْبِهُ الْبِئْرَ .... مرقاة المفاتيح ج ١ ص ٣٣٧ كتاب العلم .

(٢) { فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا } هُوَ وَادٍ فِي جَهَنَّم أَيْ يقعون فيه . تفسير الجلالين ص ٤٠٢ سورة مريم في تفسير آية ٥٩ .

( فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ) قَالَ ابْنُ زَيْدٍ : شَرًّا أَوْ ضَلَالًا أَوْ خَيْبَةً . وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ ﷺ : هُوَ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ . وَالتَّقْدِيرُ عِنْدَ أَهْلِ اللُّغَةِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ هَذَا الْغَيَّ ، كَمَا قَالَ جَلَّ ذِكْرُهُ : " وَمَنْ يَفْعَلْ ذلِكَ يَلْقَ أَثاماً " [ الفرقان : ٦٨ ] وَالْأَظْهَرُ أَنَّ الْغَيَّ اسْمٌ لِلْوَادِي سُمِّيَ بِهِ لِأَنَّ الْغَاوِينَ يَصِيرُونَ إِلَيْهِ . قَالَ كَعْبٌ : يَظْهَرُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ بِأَيْدِيهِمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ البقر ، ثم قرأ : " فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا " أَيْ هَلَاكًا وَضَلَالًا فِي جَهَنَّمَ . وَعَنْهُ : غَيٌّ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ أَبْعَدُهَا قَعْرًا وَأَشَدُّهَا حَرًّا ، فِيهِ بِئْرٌ يُسَمَّى الْبَهِيمَ كُلَّمَا خَبَتْ جَهَنَّمُ ←←←←←←

# په جهنم کې " اَثام " وادي

د جهنم په وادیانو کې یوه وادي " آثامر " هم ده ، په دې کې به زِناکارو ته عذاب ورکولې شي .

یو قول دا هم دی چې : " غَيّ " او " آثامر " د جهنم په بیخ کې دوه کوهیان دي . (١)

# په جهنم کې " مَوبِق " وادي

د جهنم په وادیانو کې یوه وادي " مَوْبِق " هم ده .

دا هم نقل دي چې " مَوْبِق " په جهنم کې د اُور یو نهر دی ، او غاړو ته یې غټ غټ

---

←←← فَتَحَ اللهُ تَعَالَى تِلْكَ الْبِئْرَ فَتُسْعَرُ بِهَا جَهَنَّمُ . وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : غَيٌّ وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ وَأَنَّ أَوْدِيَةَ جَهَنَّمَ لَتَسْتَعِيْذُ مِنْ حَرِّهِ ، أَعَدَّ اللهُ تَعَالَى ذَلِكَ الوادي للزاني المصر على الزنى، وَلِشَارِبِ الْخَمْرِ الْمُدْمِنِ عَلَيْهِ وَلِآكِلِ الرِّبَا الَّذِيْ لَا يَنْزِعُ عَنْهُ وَلِأَهْلِ الْعُقُوْقِ وَلِشَاهِدِ الزُّوْرِ وَلِامْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلَى زَوْجِهَا وَلَدًا لَيْسَ مِنْهُ . تفسير القرطبي ج ١١ ص ١٢٥ .

قَوْلُهُ: {فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا} قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَلْحَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : {فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا} أَيْ: خُسْرَانًا . وَقَالَ قَتَادَةُ: شَرًّا . وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : {فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا} قَالَ: وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ، بَعِيْدُ الْقَعْرِ، خَبِيْثُ الطَّعْمِ. وَعَنْ أَبِيْ عِيَاضٍ فِيْ قَوْلِهِ: {فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا} قَالَ: وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ مِنْ قَيْحٍ وَدَمٍ. تفسير ابن كثير ج ٥ ص ٢٤٥ .

(١) قَوْلُهُ: {وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا} . رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: {أَثَامًا} وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ: {يَلْقَ أَثَامًا} أَوْدِيَةٌ فِيْ جَهَنَّمَ يُعَذَّبُ فِيْهَا الزُّنَاةُ . وَكَذَا رُوِيَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَمُجَاهِدٍ. وَقَالَ قَتَادَةُ: {يَلْقَ أَثَامًا} نَكَالًا كُنَّا نُحَدِّثُ أَنَّهُ وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ....

وَقَدْ وَرَدَ فِي الْحَدِيْثِ الَّذِيْ رَوَاهُ ابْنُ جَرِيْرٍ وَغَيْرُهُ ، عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ _ مَوْقُوْفًا وَمَرْفُوْعًا _ أَنَّ " غَيًّا " وَ " أَثَامًا " بِئْرَانِ فِيْ قَعْرِ جَهَنَّمَ أَجَارَنَا اللهُ مِنْهَا بِمَنِّهِ وَكَرَمِهِ. وَقَالَ السُّدِّيُّ : {يَلْقَ أَثَامًا} : جَزَاءً. وَهَذَا أَشْبَهُ بِظَاهِرِ الْآيَةِ ، وَلِهَذَا فَسَّرَهُ بِمَا بَعْدَهُ مُبْدَلًا مِنْهُ، وَهُوَ قَوْلُهُ: {يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ} . تفسير ابن كثير ج ٦ ص ١٢٦ سورة الفرقان في تفسير آية ٦٨ .

Scanned with CamScanner

ماران دي . (١)

بل قول دا هم دى چې " مَوْبِق " په جهنم كې د وينو او زوو يوه وادي ده . (٢)

## په جهنم كې اَويا زره (٧٠٠٠٠) خطرناكې واديانې دي

په جهنم كې اَويا زره (٧٠٠٠٠) داسې خطرناكې واديانې دي چې په هغې كې په لكونو مقدار ماران او لړمان دي ، كافران او منافقين چې څنګه دې واديانو ته وَرأورسيږي نو دا ټول ماران او لړمان به وربانديې سمدست حمله اوكړي . (٣)

---

(١) ﴿ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَوْبِقًا ﴾ مَهْلِكًا قَالَهُ عَطَاءٌ وَالضَّحَاكُ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: هُوَ وَادٍ فِي النَّارِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ رَحِمَهُ اللهُ: وَادٍ فِي جَهَنَّمَ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ: هُوَ نَهْرٌ فِي النَّارِ يَسِيلُ نَارًا عَلَى حَافَّتِهِ حَيَّاتٌ مِثْلُ الْبِغَالِ الدُّهْمِ. قَالَ ابْنُ الْأَعْرَابِيِّ: وَكُلُّ حَاجِزٍ بَيْنَ شَيْئَيْنِ فَهُوَ مَوْبِقٌ وَأَصْلُهُ الْهَلَاكُ، يُقَالُ: أَوْبَقَهُ أَيْ: أَهْلَكَهُ. تفسير البغوي ج ٥ ص ١٨١ سورة الكهف في تفسير آية ٥٢ .

(٢) ﴿وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَوْبِقًا﴾ قَالَ أَنَسُ ابن مَالِكٍ رضي الله عنه : هُوَ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ مِنْ قَيْحٍ وَدَمٍ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : أَيْ وَجَعَلْنَا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْكَافِرِينَ حَاجِزًا. تفسير القرطبي ج ١١ ص ٢ سورة الكهف في تفسير آية ٥٢ .

(٣) عَنْ أَبِي سَلَامٍ، حَدَّثَنِي الْحَجَّاجُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الثُّمَالِيُّ رضي الله عنه وَكَانَ قَدْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَجَّ مَعَهُ حَجَّةَ الْوَدَاعِ، أَنَّ نُفَيْرًا حَدَّثَهُ ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: إِنَّ فِي جَهَنَّمَ سَبْعِينَ أَلْفَ وَادٍ، فِي كُلِّ وَادٍ سَبْعِينَ أَلْفَ شِعْبٍ ، فِي كُلِّ شِعْبٍ سَبْعُونَ أَلْفَ ثُعْبَانٍ ، وَسَبْعُونَ أَلْفَ عَقْرَبٍ ، لَا يَنْتَهِي الْكَافِرُ وَالْمُنَافِقُ حَتَّى يُوَاقِعَ ذَلِكَ كُلَّهُ .

كَذَا وَجَدْتُهُ فِي كِتَابِي وَذَكَرَهُ الْبُخَارِيُّ رَحِمَهُ اللهُ فِي التَّارِيخِ الْكَبِيرِ فَقَالَ: قَالَ إِسْحَاقُ بْنُ يَزِيدَ، ثنا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ، غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ نُفَيْرَ بْنَ مُجِيبٍ حَدَّثَهُ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قُدَمَائِهِمْ. قَالَ: إِنَّ فِي جَهَنَّمَ سَبْعِينَ أَلْفَ وَادٍ، فِي كُلِّ وَادٍ سَبْعُونَ أَلْفَ شِعْبٍ، فِي كُلِّ شِعْبٍ سَبْعُونَ أَلْفَ بَيْتٍ ، فِي كُلِّ بَيْتٍ سَبْعُونَ أَلْفَ بِئْرٍ ، فِي كُلِّ بِئْرٍ سَبْعُونَ أَلْفَ ثُعْبَانٍ، فِي شِدْقِ كُلِّ ثُعْبَانٍ سَبْعُونَ أَلْفَ عَقْرَبٍ، لَا يَنْتَهِي الْكَافِرُ أَوِ الْمُنَافِقُ حَتَّى يُوَاقِعَ ذَلِكَ كُلَّهُ. البعث والنشور للبيهقي بَابُ مَا جَاءَ فِي أَوْدِيَةِ جَهَنَّمَ ج ١ ص ٢٧٥ رقم الحديث ٤٧٨ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٥٦٣ . الزواجر ج ٢ ص ٤١٨ . التخويف من النار لابن رجب الحنبلي الباب الرابع عشر . احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٣١ .

نوټ : دا حديث اګر چې امام بخاري رحمه الله په " التاريخ الكبير " كې هم نقل كړى خو بيا هم بعضي علماء ورته ضعيف وايي . ابوالشمس عفي عنه

Scanned with CamScanner

# د جهنم اُووه (۷) دَروازې دي ، هر قِسم جهنميانو له ځانله ځانله دروازه مخصوص ده

د جهنم اُووه (۷) دَروازې دي ، هر قِسم جهنميانو له ځانله ځانله دروازه مخصوص ده .

۱. الله تعالی فرمايي :

﴿وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ﴾.(۱)

ترجمه : او بيشکه جهنم ددې ټولو د وَعدې ځای دی ( کوم چې د شيطان پيروي کوي ). ددې جهنم اُووه ( ۷ ) دَروازې دي ، د هرې دَروازې د پاره په دوی کې جداجدا حصه مقرر ده .

يعنی د هر قِسمه ګناهګارانو د پاره ځانله ځانله دَروازه مقرر ده ، چې په هغې باندې به جهنم ته داخلیږي . (۲)

ابن جُرَيج رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د اولې دروازې نوم "جهنم" دی ، د دويمې دروازې نوم "لظی" دی ، د دريمې نوم "حُطمه" دی ، د څلورمې نوم "سَعير" دی ، د پنځمې

---

(۱) الحجر آية ۴۳ ، ۴۴ .

(۲) قَوْلُهُ : { وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ } أَيْ: جَهَنَّمُ مَوْعِدُ جَمِيعِ مَنِ اتَّبَعَ إِبْلِيسَ ، كَمَا قَالَ عَنِ الْقُرْآنِ: {وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ مِنَ الأَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ} [هود : ۱۷] . ثُمَّ أَخْبَرَ أَنَّ لِجَهَنَّمَ سَبْعَةَ أَبْوَابٍ: { لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ } أَيْ: قَدْ كَتَبَ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهَا جُزْءٌ مِنْ أَتْبَاعِ إِبْلِيسَ يَدْخُلُونَهُ ، لَا مَحِيدَ لَهُمْ عَنْهُ _أَجَارَنَا اللهُ مِنْهَا_ وَكُلٌّ يَدْخُلُ مِنْ بَابٍ بِحَسَبِ عَمَلِهِ ، وَيَسْتَقِرُّ فِي دَرك بقدر فعله . عَنْ حِطَّانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ يَخْطُبُ قَالَ: إِنَّ أَبْوَابَ جَهَنَّمَ هَكَذَا ،قَالَ أَبُو هَارُونَ: أَطْبَاقًا بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ . وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ايضا. قَالَ: أَبْوَابُ جَهَنَّمَ سَبْعَةٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ، فَيَمْتَلِئُ الأَوَّلُ، ثُمَّ الثَّانِي ، ثُمَّ الثَّالِثُ، حَتَّى تَمْتَلِئَ كُلُّهَا . وَقَالَ عِكْرِمة: {سَبْعَةُ أَبْوَابٍ} سَبْعَةُ أَطْبَاقٍ.... وَقَالَ قَتَادَةُ: {لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ} وَهِيَ وَاللهِ مَنَازِلُ بِأَعْمَالِهِمْ. رَوَاهُنَّ ابْنُ جَرِيرٍ. تفسير ابن كثير ج ۴ ص ۵۳۶ سورة الحجر في تفسير آية ۴۳ ، ۴۴ .

Scanned with CamScanner

نوم ''سَقر'' دی، د شپږمې نوم ''جحيم ''دی، او د اوومې نوم ''هاويه'' دی.(١)

د جهنم دروازې به د يو بل د پاسه قط په قط وي، هره لاندينۍ دروازه به د پاسنۍ په نسبت گرمه وي.

بيا په جهنم کې مختلف درجې (او طبقې) دي: په پورتنۍ حصه کې به گناهگاران مسلمانان وي، بيا ورپسې درجه د لظی ده په دې کې به نصارٰی وي، بيا ورپسې حُطمه ده په دې کې به يهود وي، بيا ورپسې سعير دی په دې کې به صابئين وي، بيا ورپسې سقر دی په دې کې به مجوس وي، بيا ورپسې جحيم دی په دې کې به د عربو مشرکين وي، بيا ورپسې هاويه دی په دې کې به منافقين، فرعون، او دده ملگري وي.(٢)

---

(١) وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: {سَبْعَةُ أَبْوَابٍ} أَوَّلُهَا جَهَنَّمُ، ثُمَّ لَظَى، ثُمَّ الْحُطَمَةُ، ثُمَّ سَعِيرٌ، ثُمَّ سَقَرٌ، ثُمَّ الْجَحِيمُ، ثُمَّ الْهَاوِيَةُ. وَرَوَى الضَّحَّاكُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نَحْوَهُ. وَكَذَا رُوِيَ عَنِ الْأَعْمَشِ بِنَحْوِهِ أَيْضًا. تفسير ابن كثير ج ٤ ص ٥٣٦ سورة الحجر في تفسير آية ٤٣، ٤٤.

(٢) عَنْ حِطَّانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الرَّقَاشِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: هَلْ تَدْرُونَ كَيْفَ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ؟ قُلْنَا: هِيَ مِثْلُ أَبْوَابِنَا. قَالَ لَا، هِيَ هَكَذَا بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ـ زَادَ الثَّعْلَبِيُّ: وَوَضَعَ إِحْدَى يَدَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى ـ وَأَنَّ اللهَ وَضَعَ الْجِنَانَ عَلَى الْأَرْضِ، وَالنِّيرَانَ بَعْضَهَا فَوْقَ بَعْضٍ، فَأَسْفَلُهَا جَهَنَّمُ، وَفَوْقَهَا الْحُطَمَةُ، وَفَوْقَهَا سَقَرُ، وَفَوْقَهَا الْجَحِيمُ، وَفَوْقَهَا لَظَى، وَفَوْقَهَا السَّعِيرُ، وَفَوْقَهَا الْهَاوِيَةُ، وَكُلُّ بَابٍ أَشَدُّ حَرًّا مِنَ الَّذِي يَلِيهِ سَبْعِينَ مَرَّةً. قُلْتُ: كَذَا وَقَعَ هَذَا التَّفْسِيرُ. وَالَّذِي عَلَيْهِ الْأَكْثَرُ مِنَ الْعُلَمَاءِ أَنَّ جَهَنَّمَ أَعْلَى الدَّرَكَاتِ، وَهِيَ مُخْتَصَّةٌ بِالْعُصَاةِ مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهِيَ الَّتِي تُخْلَى مِنْ أَهْلِهَا فَتَصْفِقُ الرِّيَاحُ أَبْوَابَهَا. ثُمَّ لَظَى، ثُمَّ الْحُطَمَةُ، ثُمَّ سَعِيرٌ، ثُمَّ سَقَرُ، ثُمَّ الْجَحِيمُ، ثُمَّ الْهَاوِيَةُ. قَالَ الضَّحَّاكُ: فِي الدَّرْكِ الْأَعْلَى الْمُحَمَّدِيُّونَ، وَفِي الثَّانِي النَّصَارَى، وَفِي الثَّالِثِ الْيَهُودُ، وَفِي الرَّابِعِ الصَّابِئُونَ، وَفِي الْخَامِسِ الْمَجُوسُ، وَفِي السَّادِسِ مُشْرِكُو الْعَرَبِ، وَفِي السَّابِعِ الْمُنَافِقُونَ وَآلُ فِرْعَوْنَ وَمَنْ كَفَرَ مِنْ أَهْلِ الْمَائِدَةِ. قَالَ اللهُ تَعَالَى: "إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ" ـ وَقَدْ تَقَدَّمَ فِي النِّسَاءِ ـ وَقَالَ: "أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ". وقال: "فَمَنْ يَكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ". وَقَسَّمَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الْعُلَمَاءَ السُّوءَ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ تَقْسِيمًا عَلَى تِلْكَ الْأَبْوَابِ، ذَكَرْنَاهُ فِي كِتَابِ (التَّذْكِرَةِ). تفسير القرطبي ج ١٠ ص ٣٠ سورة الحجر في تفسير آية ٤٣، ٤٤. ←←←←←←←

Scanned with CamScanner

وهب بن مُنَبِّه رَحِمَهُ اللهُ لیکلي چې د هرو دوه (٢) دروازو په مینځ کې به د اویا (٧٠) کاله مسافت په اندازه باندې مزل وي. (١)

## جهنم د مخکې نه تیار کړې شوی ، او اوس هم موجود دی

د اهلُ السّنّة والجماعة دا عقیده ده چې جهنم د مخکې نه تیار کړې شوی دی.

١. الله تعالی د جهنم په باره کې فرمایي:

﴿ أُعِدَّتْ لِلْكَٰفِرِينَ ﴾. (٢)

ترجمه: د جهنم اور د کافرانو د پاره تیار کړې شوې دی.

٢. همدارنګې ډیر صحیح احادیث هم په دې باندې دلالت کوي چې جهنم د مخکې نه تیار کړې شوې دی. نبي علیه السلام پخپله د معراج په شپه د جنت او جهنم مشاهده کړې. همدارنګې مفسرینو هم همدا خبره په تفصیل سره ذکر کړې. (٣)

---

←←← وَقَالَ جُوَيْبِرٌ، عَنِ الضَّحَّاكِ: {لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ} قَالَ: بَابٌ لليهود، وَبَابٌ لِلنَّصَارَى، وَبَابٌ لِلصَّابِئِينَ، وَبَابٌ لِلْمَجُوسِ، وَبَابٌ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا — وَهُمْ كُفَّارُ الْعَرَبِ — وَبَابٌ لِلْمُنَافِقِينَ، وَبَابٌ لِأَهْلِ التَّوْحِيدِ، فَأَهْلُ التَّوْحِيدِ يُرْجَى لَهُمْ وَلَا يُرْجَى لِأُولَئِكَ أَبَدًا. تفسیر ابن کثیر ج ٤ ص ٥٣٦ سورة الحجر في تفسیر آیة ٤٣، ٤٤.

وَقَالَ الضَّحَّاكُ: فِي الدَّرَكَةِ الْأُولَى أهلُ التوحيد الذين أُدْخِلُوا النَّارَ، يُعَذَّبُونَ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ ثُمَّ يَخْرُجُونَ. وَفِي الثَّانِيَةِ النَّصَارَى، وَفِي الثَّالِثَةِ الْيَهُودُ، وَفِي الرَّابِعَةِ الصَّابِئُونَ، وَفِي الْخَامِسَةِ الْمَجُوسُ، وَفِي السَّادِسَةِ أَهْلُ الشِّرْكِ، وَفِي السَّابِعَةِ الْمُنَافِقُونَ، فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: {إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ} (النساء ١٤٥). تفسیر البغوي ج ٤ ص ٣٨٣. وهکذا في تفسیر النسفي ج ٢ ص ١٩١.

(١) وَقَالَ وَهْبُ بْنُ مُنَبِّهٍ: بَيْنَ كُلِّ بابين مسيرة سبعين سَنَةً، كُلُّ بَابٍ أَشَدُّ حَرًّا مِنَ الَّذِي فَوْقَهُ بِسَبْعِينَ ضِعْفًا. تفسیر القرطبي ج ١٠ ص ٣٠ سورة الحجر في تفسیر آیة ٤٤. التذکرة بأحوال الموتی وأمور الآخرة للقرطبي ص ٨٤٥.

(٢) البقرة آیة ٢٤.

(٣) {أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ}... وَقَدِ اسْتَدَلَّ كَثِيرٌ مِنْ أَئِمَّةِ السُّنَّةِ بِهَذِهِ الْآيَةِ عَلَى أَنَّ النَّارَ مَوْجُودَةٌ الْآنَ لِقَوْلِهِ: {أُعِدَّتْ} أَيْ: أُرْصِدَتْ وَهُيِّئَتْ وَقَدْ وَرَدَتْ أَحَادِيثُ كَثِيرَةٌ فِي ذَلِكَ: ←←←←←←←←←

Scanned with CamScanner

بلكه نبي عليه السلام ته په دُنيا كې هم د مانځه په حالت كې د جُمات په مخامخ ديوال كې جنت او جهنم خودل شوي وو .

لكه دا خبره په بخاري شريف او مسلم شريف كې هم ذكره ده . (١)

---

←←← مِنْهَا: "تَحَاجَتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ" ، وَمِنْهَا: " إِسْتَأْذَنَتِ النَّارُ رَبَّهَا فَقَالَتْ: رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٌ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٌ فِي الصَّيْفِ". وَحَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ سَمِعْنَا وَجْبَةً فَقُلْنَا مَا هَذِهِ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَذَا حَجَرٌ أُلْقِيَ بِهِ مِنْ شَفِيرِ جَهَنَّمَ مُنْذُ سَبْعِينَ سَنَةً الْآنَ وَصَلَ إِلَى قَعْرِهَا" وَهُوَ عِنْدَ مُسْلِمٍ وَحَدِيثُ صَلَاةِ الْكُسُوفِ وَلَيْلَةِ الْإِسْرَاءِ وَغَيْرِ ذَلِكَ مِنَ الْأَحَادِيثِ الْمُتَوَاتِرَةِ فِي هَذَا الْمَعْنَى . وَقَدْ خَالَفَتِ الْمُعْتَزِلَةُ بِجَهْلِهِمْ فِي هَذَا . تفسير ابن كثير ج ١ ص ٢٠٢ سورة البقرة في تفسير آية ٢٤ .

اَلْمَسْأَلَةُ الثَّانِيَةُ : هَذِهِ الْآيَاتُ صَرِيحَةٌ فِي كَوْنِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ مَخْلُوقَتَيْنِ . أَمَّا النَّارُ فَلِأَنَّهُ تَعَالَى قَالَ فِي صِفَتِهَا: ﴿ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴾ فهذا صريحة فِي أَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ ، وَأَمَّا الْجَنَّةُ فَلِأَنَّهُ تَعَالَى قَالَ فِي آيَةٍ أُخْرَى: ﴿ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ [آل عمران : ١٣٣] التفسير الكبير ج ٢ ص ٣٥٦ .

اَلسُّؤَالُ الثَّالِثُ: هَلْ تَدُلُّ الْآيَةُ عَلَى أَنَّ النَّارَ مَخْلُوقَةٌ الْآنَ أَمْ لَا ؟ اَلْجَوَابُ : نَعَمْ لِأَنَّ قَوْلَهُ: "أُعِدَّتْ" إِخْبَارٌ عَنِ الْمَاضِي فَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ قَدْ دَخَلَ ذَلِكَ الشَّيْءُ فِي الْوُجُودِ. التفسير الكبير ج ٩ ص ٣٦٤ .

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى لَنَا يَوْمًا الصَّلَاةَ ، ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ، فَأَشَارَ بِيَدِهِ قِبَلَ قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: « قَدْ أُرِيتُ الْآنَ مُنْذُ صَلَّيْتُ لَكُمُ الصَّلَاةَ، الْجَنَّةَ وَالنَّارَ، مُمَثَّلَتَيْنِ فِي قُبُلِ هَذَا الْجِدَارِ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ » . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الْقَصْدِ وَالْمُدَاوَمَةِ عَلَى الْعَمَلِ رقم الحديث ٦٤٦٨ .

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﷺ ، قَالَ : كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَوْمٍ شَدِيدِ الْحَرِّ، فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصْحَابِهِ، فَأَطَالَ الْقِيَامَ، حَتَّى جَعَلُوا يَخِرُّونَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ قَامَ فَصَنَعَ نَحْوًا مِنْ ذَاكَ، فَكَانَتْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ، ثُمَّ قَالَ : "إِنَّهُ عُرِضَ عَلَيَّ كُلُّ شَيْءٍ تُولَجُونَهُ، فَعُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ، حَتَّى لَوْ تَنَاوَلْتُ مِنْهَا قِطْفًا أَخَذْتُهُ أَوْ قَالَ: تَنَاوَلْتُ مِنْهَا قِطْفًا فَقَصُرَتْ يَدِي عَنْهُ، وَعُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ، فَرَأَيْتُ فِيهَا امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا، رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا، وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ ... صحيح مسلم كِتَابُ الْكُسُوفِ بَابُ مَا عُرِضَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ مِنْ أَمْرِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٩(٩٠٤) .

Scanned with CamScanner

همدا رنګې جهنم به هيڅ کله نه فناء کيږي ، بلکه هميشه به وي ؛ ځکه په قرآن کريم او احاديثو کې ځای په ځای دا خبره ذکر ده چې کافران به هميشه په جهنم کې وي .

## په جهنم باندې سخت خُويه او قوي فرښتې مقرر دي

په جهنم باندې ډيرې سخت خُويه او قوي فرښتې مقرر دي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾.(١)

ترجمه : په دې جهنم باندې داسې فرښتې مقرر دي چې سخت خُويه او قوي دي ، دوی د الله تعالى نافرماني نه کوي په هغه کار کې چې د کوم ورته حکم اوکړي ، او هغه کار کوي چې د کوم دوی ته حکم اوکړې شي .

## په جهنم باندې د مقرر شوو فرښتو سختي او قوّت

په جهنم باندې چې کومې فرښتې مقرر شوي دا به د جهنم خَزَنه ( داروغه ) وي ، همدا زَبانيه فرښتې دي ، دا به په جهنميانو باندې ډيره سختي کوي ، او دومره قوي دي چې په يو ځل به آويا زره ( ٧٠٠٠٠ ) کافران او ګناهګاران جهنم ته غورځوي ، الله تعالى په دوی کې هيڅ رحمت او نرمي نده پيدا کړې . (٢)

ددې فرښتو زړونه دومره سخت دي چې په جهنميانو باندې به يې هيڅ رَحم نه راځي ، بلکه دوی د غضب نه پيدا شوي . جهنميانو ته عذاب ورکول به داسې خوَښوي لکه څرنګې چې انسان خوراک او څکاک خوَښوي .

دا فرښتې به د جسم نه دومره غټې او قوي وي چې د هرې فرښتې د دواړو اُوګو ( اُولو ) په مينځ کې به د يو کال مسافت په اندازه فاصله وي ، يا به د مشرق او مغرب په اندازه فاصله وي .

د قوّت اندازه يې تاسو ددينه اُولږوئ چې د دوی سره به په لاس کې د اُوسپنې ډَنډه وي

---

(١) التحريم آية ٦ .

(٢) ٠ {عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ} يَعْنِي خَزَنَةَ النَّارِ {غِلَاظٌ} فِظَاظٌ عَلَى أَهْلِ النَّارِ {شِدَادٌ} أَقْوِيَاءُ يَدْفَعُ الْوَاحِدُ مِنْهُمْ بِالدَّفْعَةِ الْوَاحِدَةِ سَبْعِينَ أَلْفًا فِي النَّارِ وَهُمُ الزَّبَانِيَةُ، لَمْ يَخْلُقِ اللَّهُ فِيهِمُ الرَّحْمَةَ . تفسير البغوي ج ٨ ص ١٦٩

Scanned with CamScanner

جلد 6 13

چې په يو ګوزار سره به آويا زره (٧٠٠٠٠) انسانان د جهنم مينځ ته غورځوي. (١)

ددې "زَبَانِيه" فرښتو تذکره الله تعالى په سورة العلق کې هم کړی، فرمايي:

﴿فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ۝ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴾. (٢)

ترجمه: پس دا کافر دې د خپل مجلس ملګري (د مدد د پاره) رااوغواړي، مونږ به هم (دده د هلاکت د پاره) زَبانيه فرښتې رااوغواړو.

په جهنم باندې مقرر شوو فرښتو ته "زَبانيه" ځکه وايي چې ددې معنى ده "دفع کول" دا فرښتې به هم جهنميان جهنم طرف ته ديکه کوي. (١)

---

(١) (عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ) يَعْنِي الْمَلَائِكَةَ الزَّبَانِيَةَ غِلَاظَ الْقُلُوبِ لَا يَرْحَمُونَ إِذَا اسْتُرْحِمُوا، خُلِقُوا مِنَ الْغَضَبِ، وَحُبِّبَ إِلَيْهِمْ عَذَابُ الْخَلْقِ كَمَا حُبِّبَ لِبَنِي آدَمَ أَكْلُ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ. شِدَادٌ أَيْ شِدَادُ الْأَبْدَانِ. وَقِيلَ: غِلَاظُ الْأَقْوَالِ شِدَادُ الْأَفْعَالِ. وَقِيلَ غِلَاظٌ فِي أَخْذِهِمْ أَهْلَ النَّارِ شِدَادٌ عَلَيْهِمْ. يُقَالُ: فُلَانٌ شَدِيدٌ عَلَى فُلَانٍ، أَيْ قَوِيٌّ عَلَيْهِ يُعَذِّبُهُ بِأَنْوَاعِ الْعَذَابِ. وَقِيلَ: أَرَادَ بِالْغِلَاظِ ضَخَامَةَ أَجْسَامِهِمْ، وَبِالشِّدَّةِ الْقُوَّةَ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الْوَاحِدِ مِنْهُمْ مسيرة سنة، وقوة الواحد منهم أن يضرب بالمقمع فيدفع بتلك الضربة سبعين ألف إنسان فِي قَعْرِ جَهَنَّمَ. وَذَكَرَ ابْنُ وَهْبٍ قَالَ: وَحَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم فِي خَزَنَةِ جَهَنَّمَ: "مَا بَيْنَ مَنْكِبَيْ أَحَدِهِمْ كَمَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. تفسير القرطبي ج ١٨ ص ١٩٦.

وَقَوْلُهُ: {عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ} أَيْ: طِبَاعُهُمْ غَلِيظَةٌ، قَدْ نُزِعَتْ مِنْ قُلُوبِهِمُ الرَّحْمَةُ بِالْكَافِرِينَ بِاللهِ، {شِدَادٌ} أَيْ: تَرْكِيبُهُمْ فِي غَايَةِ الشِّدَّةِ وَالْكَثَافَةِ وَالْمَنْظَرِ الْمُزْعِجِ. عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّهُ قَالَ: إِذَا وَصَلَ أَوَّلُ أَهْلِ النَّارِ إِلَى النَّارِ وَجَدُوا عَلَى الْبَابِ أَرْبَعَمِائَةِ أَلْفٍ مِنْ خَزَنَة جَهَنَّمَ، سُودٌ وُجُوهُهُمْ، كَالِحَةٌ أَنْيَابُهُمْ، قَدْ نَزَعَ اللهُ مِنْ قُلُوبِهِمُ الرَّحْمَةَ، لَيْسَ فِي قَلْبِ وَاحِدٍ مِنْهُمْ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنَ الرَّحْمَةِ، لَوْ طُيِّرَ الطَّيْرُ مِنْ مَنْكِبِ أَحَدِهِمْ لَطَارَ شَهْرَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ مَنْكِبَهُ الْآخَرَ، ثُمَّ يَجِدُونَ عَلَى الْبَابِ التِّسْعَةَ عَشَرَ، عَرْضُ صَدْرِ أَحَدِهِمْ سَبْعُونَ خَرِيفًا، ثُمَّ يَهْوُونَ مِنْ بَابٍ إِلَى بَابٍ خَمْسَمِائَةِ سَنَةٍ، ثُمَّ يَجِدُونَ عَلَى كُلِّ بَابٍ مِنْهَا مِثْلَ مَا وَجَدُوا عَلَى الْبَابِ الْأَوَّلِ، حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى آخِرِهَا. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ١٦٨.

(٢) العلق آية ١٧، ١٨.

Scanned with CamScanner

# په جهنم باندې نورلس (١٩) فرښتې مقرر دي

الله تعالى فرمايي:

﴿ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ۝ وَمَا جَعَلْنَا أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا مَلٰٓئِكَةً ﴾.(٢)

ترجمه: په دې جهنم باندې نورلس (١٩) فرښتې مقرر دي. او مونږ د جهنم داروغه گان صرف فرښتې جوړې کړې.

**تشريح**: په دې نورلس (١٩) فرښتو کې يو د جهنم د فرښتو مشر دی چې نوم يې "مالک" دی، او اتلس (١٨) ورسره نورې فرښتې دي، دا ډيرې سختې فرښتې دي، د ډير خراب شکل واله دي، د خُلو نه يې د اُور لمبې راوځي.(٣)

دا نورلس (١٩) فرښتې د جهنم اَفسرانې دي، د جهنم په عذابونو باندې مقرر دي، او دوی ته الله تعالى ډير قوّت ورکړی.

په دُنيا کې يو حضرت عزرائيل عليه السلام د ټولو مخلوقاتو رُوحونه قبض کولې شي نو نورلس فرښتې خو به د بعضې خلقو د عذاب د پاره په طريقِ اولى کافي کيدې شي.(٤)

(١) {فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ} أَيْ قَوْمَهُ وَعَشِيْرَتَهُ، أَيْ فَلْيَسْتَنْصِرْ بِهِمْ. {سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ} جَمْعُ زِبْنِيٍّ مَأْخُوْذٌ مِنَ الزَّبْنِ وَهُوَ الدَّفْعُ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: يُرِيْدُ زَبَانِيَةَ جَهَنَّمَ سُمُّوْا بِهَا لِأَنَّهُمْ يَدْفَعُوْنَ أَهْلَ النَّارِ إِلَيْهَا، قَالَ الزَّجَّاجُ: هُمُ الْمَلَائِكَةُ الْغِلَاظُ الشِّدَادُ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: لَوْ دَعَا نَادِيَهُ لَأَخَذَتْهُ زَبَانِيَةُ اللهِ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٤٨١. وتفسير القرطبي ج ٢٠ ص ١٢٦.

(٢) المدثر آية ٣٠، ٣١.

(٣) {عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ} أَيْ: عَلَى النَّارِ تِسْعَةَ عَشَرَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ، وَهُمْ خَزَنَتُهَا: مَالِكٌ وَمَعَهُ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ. وَجَاءَ فِي الْأَثَرِ: أَعْيُنُهُمْ كَالْبَرْقِ الْخَاطِفِ، وَأَنْيَابُهُمْ كَالصَّيَاصِيِّ، يَخْرُجُ لَهَبُ النَّارِ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ. مَا بَيْنَ مَنْكِبَيْ أَحَدِهِمْ مَسِيْرَةُ سَنَةٍ. نُزِعَتْ مِنْهُمُ الرَّحْمَةُ. يَرْفَعُ أحدهم سبعين ألف فَيَرْمِيهِمْ حَيْثُ أَرَادَ مِنْ جَهَنَّمَ. قَالَ عَمْرُو بْنُ دِيْنَارٍ رَحِمَهُ اللهُ: إِنَّ وَاحِدًا مِنْهُمْ يَدْفَعُ بِالدَّفْعَةِ الْوَاحِدَةِ فِي جَهَنَّمَ أَكْثَرَ مِنْ رَبِيْعَةَ وَمُضَرَ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٢٧٠.

(٤) قَوْلُهُ تَعَالَى: (عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ) أَيْ عَلَى سَقَرَ تِسْعَةَ عَشَرَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ يَلْقَوْنَ فِيْهَا أَهْلَهَا. ←←←←

Scanned with CamScanner

د جهنم د فرښتو سردار " مالک " تذکره الله تعالى په قرآن کريم کې هم کړې :

﴿ وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴾ .(۱)

ترجمه : او کافران به آواز اوکړي : اې مالِک ( د جهنم د فرښتو سرداره ) ! ستا رب دې په مونږ باندې ( د مرګ ) فيصله اوکړي . ( يعنى مونږ له دې مرګ راولي چې ددې عذاب نه خلاص شو ) . هغه به ورته ( څه ډير وخت پس ) جواب ورکړي : بيشکه تاسو به هميشه دلته ( په عذاب کې ) پراته يئ .

## د جهنم داروغه ( مالِک ) ډير بَدشکله دى ، دا به د جهنم اُور تېزوي

د جهنم د نِګهبانو فرښتو سردار " مالِک " ډير بَدشکله دى ، او دا به د جهنم اُور تېزوي په بخاري شريف کې اُوږد حديث ذکر دى ، زه ورنه مخصوص حصه رانقل کوم :

حضرت سَمُره بن جُندُب ﷺ فرمايي چې نبي عليه السلام به اکثر ( د سهر مانځه نه پس ) صحابه کرامو ته فرمايل :

هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا ؟ آيا په تاسو کې چا ( بېګاه شپه ) خُوب ليدلى ؟

چا به چې خُوب ليدلې وُ نو پيغمبر عليه السلام ته به يې بيان کړو ، ( دوى به ورته تعبير ورکړو ) .

يو سهر نبي عليه السلام اوفرمايل چې بېګاه شپه ماته ( په خُوب کې ) دوه کسان راغلل ( دا دواړه حضرت جبريل عليه السلام او حضرت ميکائيل عليه السلام وو ) ، دوى زه راپاڅولم او راته

←←← ثُمَّ قِيْلَ: عَلَى جُمْلَةِ النَّارِ تِسْعَةَ عَشَرَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ هُمْ خَزَنَتُهَا ، مَالِكٌ وَثَمَانِيَةَ عَشَرَ مَلَكًا. وَيَحْتَمِلُ أَنْ تَكُوْنَ التِّسْعَةَ عَشَرَ نَقِيْبًا ، وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ تِسْعَةَ عَشَرَ مَلَكًا بِأَعْيَانِهِمْ. وَعَلَى هٰذَا أَكْثَرُ الْمُفَسِّرِيْنَ. الثَّعْلَبِيُّ: وَلَا يُنْكَرُ هٰذَا. فَإِذَا كَانَ مَلَكٌ وَاحِدٌ يَقْبِضُ أَرْوَاحَ جَمِيْعِ الْخَلَائِقِ كَانَ أَحْرَى أَنْ يَكُوْنَ تِسْعَةَ عَشَرَ عَلَى عَذَابِ بَعْضِ الْخَلَائِقِ . وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ رَحِمَهُ اللهُ : نَعَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَزَنَةَ جَهَنَّمَ فَقَالَ: [فَكَأَنَّ أَعْيُنَهُمُ الْبَرْقُ، وَكَأَنَّ أَفْوَاهَهُمُ الصَّيَاصِيْ، يَجُرُّوْنَ أَشْعَارَهُمْ، لِأَحَدِهِمْ مِنَ الْقُوَّةِ مِثْلُ قُوَّةِ الثَّقَلَيْنِ، يَسُوْقُ أَحَدُهُمُ الْأُمَّةَ وَعَلَى رَقَبَتِهِ جَبَلٌ، فَيَرْمِيْهِمْ فِي النَّارِ، وَيَرْمِيْ فَوْقَهُمُ الْجَبَلَ] . تفسير القرطبي ج ۱۹ ص ۷۹ .

(۱) الزخرف آية ۷۷ .

وې ويل: مونږ سره راځه. پس زه د دوی سره روان شوم.

.... ( نبي عليه السلام په دې سفر کې ډير عجائبات اُوليدل ، او ډير ګناهګاران يې اُوليدل چې مختلف قِسمه سزاګانې ورکولې شوی ) ...

نبي عليه السلام فرمايي :

فَانْطَلَقْنَا، فَأَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ كَرِيْهِ الْمَرْآةِ ، كَأَكْرَهِ مَا أَنْتَ رَاءٍ رَجُلًا مَرْآةً ، وَ إِذَا عِنْدَهُ نَارٌ يَحُشُّهَا وَيَسْعَى حَوْلَهَا .

مونږ مخکې لاړو ، پس مونږ داسې يو کس ته راغلو چې هغه زيات بَدصورته وُ ، څومره بَدصورته خلق چې تاسو ليدلي د هغې نه ډير بَدرنګه وُ ، دې کس سره اُور وُ چې هغه يې بلول ، او د هغې اُور ګېرچاپيره يې منډې وهلې .

نبي عليه السلام فرمايي چې ما د دې دوه ملګرو نه پوښتنه اوکړه :

مَا هَذَا ؟ دا څوک دی ؟

دوی راته وويل : اِنْطَلِقْ اِنْطَلِقْ . مخکې لاړ شه ، مخکې لاړ شه .

( څکه تر اوسه ډير عجائبات پاتې دي چې کله دا ټول اُوګوری نو بيا به درته حقيقت بيانوو . بيا پيغمبر عليه السلام مخکې لاړ او نور ډير عجائبات يې هم اُوليدل ) .....

په آخر کې نبي عليه السلام فرمايي چې ما دې دواړو ملګروته وويل :

فَإِنِّيْ قَدْ رَأَيْتُ مُنْذُ اللَّيْلَةِ عَجَبًا . فَمَا هَذَا الَّذِيْ رَأَيْتُ ؟

يقينًا نن شپه خو ما ډير عجيب و غريب څيزونه ( او خلق ) اُوليدل ، دا څه شی وُ کوم چې ما اُوليدل ؟

نو هغوی راته وويل : أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ .

اوس به مونږ تاته د دې خبر درکړو .

.... ( نو بيا دوی نبي عليه السلام ته د هغه ټولو څيزونو او خلقو متعلق خبر ورکړو کوم چې دوی ليدلي وو . او د هغه بَدشکله کس په باره کې يې ورته وويل : )

وَأَمَّا الرَّجُلُ الْكَرِيْهُ الْمَرْآةِ الَّذِيْ عِنْدَ النَّارِ يَحُشُّهَا وَيَسْعَى حَوْلَهَا فَإِنَّهُ مَالِكٌ خَازِنُ جَهَنَّمَ

او کوم بَدشکله کس چې تا اُوليد د کوم سره چې اُور وُ ، بَلول يې ، او د هغې ګېرچاپيره

يې منډې وهلی نو هغه "مالِک" د جهنم داروغه ( مشر ) وُ .(١)

## د جهنم د پاسه پُل صراط دی ، هر کس به پدې باندې تېرېږي

د جهنم د پاسه پُل صراط دی ، هر کس به پدې باندې تېرېږي ، مُتقيانو ته به الله تعالی نِجات ورکړي آخوا به پورې اُوځي ، او کافران ظالمان به ښکته جهنم ته اُوغورځيږي .
الله تعالی فرمايي :

﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴾.(٢)

ترجمه : او په تاسو کې به هر کس په دې جهنم باندې تېرېږي ، دا ( د هر کس په جهنم باندې تېرېدل ) ستا په رَب باندې لازمه مقرر شوې فيصله ده . بيا به مونږ متقيانو ته نِجات ورکړو ، او ظالمان به په دې کې په گونډو باندې غورځيدلي پرېږدو .
( يعنی کافران او گناهگاران به ښکته جهنم ته اُوغورځوو ) .

**تشريح** : مُفسّرينو د "وُرُوْد" مختلفي معناگانې ذکر کړي :
په پل صراط باندې تېرېدل . جهنم ته داخليدل . جهنم ته حاضرول .

---

(١) قَالَ سَمُرَةُ بْنُ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ لِأَصْحَابِهِ : « هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا ؟ » قَالَ: فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُصَّ، وَإِنَّهُ قَالَ ذَاتَ غَدَاةٍ : « إِنَّهُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ، وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِي، وَإِنَّهُمَا قَالَا لِي : انْطَلِقْ، وَإِنِّي انْطَلَقْتُ مَعَهُمَا ..... قَالَ: « فَانْطَلَقْنَا، فَأَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ كَرِيهِ الْمَرْآةِ، كَأَكْرَهِ مَا أَنْتَ رَاءٍ رَجُلًا مَرْآةً ، وَإِذَا عِنْدَهُ نَارٌ يَحُشُّهَا وَيَسْعَى حَوْلَهَا » قَالَ : قُلْتُ لَهُمَا : مَا هَذَا؟ قَالَ: قَالَا لِي: انْطَلِقْ انْطَلِقْ..... قَالَ : قُلْتُ لَهُمَا: فَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ مُنْذُ اللَّيْلَةِ عَجَبًا، فَمَا هَذَا الَّذِي رَأَيْتُ؟ قَالَ: قَالَا لِي : أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ ..... وَأَمَّا الرَّجُلُ الْكَرِيهُ الْمَرْآةِ، الَّذِي عِنْدَ النَّارِ يَحُشُّهَا وَيَسْعَى حَوْلَهَا فَإِنَّهُ مَالِكٌ خَازِنُ جَهَنَّمَ ... صحيح البخاري كِتَابُ التَّعْبِيرِ بَابُ تَعْبِيرِ الرُّؤْيَا بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ رقم الحديث ٧٠٤٧ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٠٠٩٤ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٠٤٨٦ . السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٨٦١١ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٩٨٤ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٧٩٥ .

(٢) مريم آية ٧١ ، ٧٢ .

Scanned with CamScanner

دا ټولې معناګانې په خپل ځای صحیح دي. خو که متقیان جهنم ته داخل هم شي نو اُور به پرې هیڅ اَثر نه کوي لکه په حضرت ابراهیم علیه السلام باندې چې اُور اَثر نه کولو. (١)

---

(١) {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} وَهُوَ الْجَوَازُ عَلَى الصِّرَاطِ أَوِ الرُّؤْيَةُ أَوِ الدُّخُولُ دُخُولُ سَلَامَةٍ ... تفسير القرطبي ج ١١ ص ١٣٩.

عَنْ قَتَادَةَ قَوْلُهُ: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} قَالَ: هُوَ الْمَمَرُّ عَلَيْهَا. وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ فِي قَوْلِهِ: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا}، قَالَ: وُرُودُ الْمُسْلِمِينَ الْمُرُورُ عَلَى الْجِسْرِ بَيْنَ ظَهْرَيْهَا، وَوُرُودُ الْمُشْرِكِينَ: أَنْ يَدْخُلُوهَا. تفسير ابن كثير ج ٥ ص ٢٥٦.

قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} وَمَا مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا. وَقِيلَ: اَلْقَسَمُ فِيهِ مُضْمَرٌ، أَيْ: وَاللَّهِ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَارِدُهَا، وَالْوُرُودُ هُوَ مُوَافَاةُ الْمَكَانِ. وَاخْتَلَفُوا فِي مَعْنَى الْوُرُودِ هَاهُنَا، وَفِيمَا تَنْصَرِفُ إِلَيْهِ الْكِنَايَةُ فِي قَوْلِهِ: {وَارِدُهَا}. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَهُوَ قَوْلُ الْأَكْثَرِينَ: مَعْنَى الْوُرُودِ هَاهُنَا هُوَ الدُّخُولُ، وَالْكِنَايَةُ رَاجِعَةٌ إِلَى النَّارِ، وَقَالُوا: اَلنَّارُ يَدْخُلُهَا الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ ثُمَّ يُنَجِّي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ فَيُخْرِجُهُمْ مِنْهَا. وَالدَّلِيلُ عَلَى أَنَّ الْوُرُودَ هُوَ الدُّخُولُ: قَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ حِكَايَةً عَنْ فِرْعَوْنَ: "يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ" (هود:٩٨). وَرَوَى ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ أَنَّ نَافِعَ بْنَ الْأَزْرَقِ مَارَى (خاصم) ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فِي الْوُرُودِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: هُوَ الدُّخُولُ. وَقَالَ نَافِعٌ: لَيْسَ الْوُرُودُ الدُّخُولَ. فَتَلَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَوْلَهُ تَعَالَى: "إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ" (الأنبياء: ٩٨) أَدَخَلَهَا هَؤُلَاءِ أَمْ لَا؟ ثُمَّ قَالَ: يَا نَافِعُ! أَمَا وَاللَّهِ أَنْتَ وَأَنَا سَنَرِدُهَا وَأَنَا أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَنِيَ اللَّهُ مِنْهَا وَمَا أَرَى اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يُخْرِجَكَ مِنْهَا بِتَكْذِيبِكَ. وَقَالَ قَوْمٌ: لَيْسَ الْمُرَادُ مِنَ الْوُرُودِ الدُّخُولَ، وَقَالُوا: اَلنَّارُ لَا يَدْخُلُهَا مُؤْمِنٌ أَبَدًا لِقَوْلِهِ تَعَالَى: "إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنَى أُولَئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا" (الأنبياء: ١٠١، ١٠٢) وَقَالُوا: كُلُّ مَنْ دَخَلَهَا لَا يَخْرُجُ مِنْهَا. وَالْمُرَادُ مِنْ قَوْلِهِ: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} الْحُضُورُ وَالرُّؤْيَةُ، لَا الدُّخُولُ كَمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: "وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ" (القصص: ٢٣) أَرَادَ بِهِ الْحُضُورَ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ: اَلْآيَةُ فِي الْكُفَّارِ فَإِنَّهُمْ يَدْخُلُونَهَا وَلَا يَخْرُجُونَ مِنْهَا. وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} يَعْنِي: الْقِيَامَةَ وَالْكِنَايَةُ رَاجِعَةٌ إِلَيْهَا. وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ وَعَلَيْهِ أَهْلُ السُّنَّةِ أَنَّهُمْ جَمِيعًا يَدْخُلُونَ النَّارَ ثُمَّ يُخْرِجُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنْهَا أَهْلَ الْإِيمَانِ بِدَلِيلِ قَوْلِهِ تَعَالَى: {ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا}. تفسير البغوي ج ٥ ص ٢٤٦.

Scanned with CamScanner

صحابه کرامو رضي الله عنهم چې د قرآن کریم دا آیت واورید نو ډیرو سره به دا یَره وه چې :
" آیا مونږ به په پُل صراط باندې سلامت تېر شو او که نه ؟ " .(۱)

## په پُل صراط باندې به هر کس د خپلو اعمالو په اعتبار سره تیریږي

په پُل صراط باندې به هر کس د خپلو اعمالو په اِعتبار سره تیریږي .

**۱ .** د ترمذي شریف او مشکوة شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

يَرِدُ النَّاسُ النَّارَ ثُمَّ يَصْدُرُونَ مِنْهَا بِأَعْمَالِهِمْ ، فَأَوَّلُهُمْ كَلَمْحِ الْبَرْقِ ، ثُمَّ كَالرِّيحِ ، ثُمَّ كَحُضْرِ الْفَرَسِ ، ثُمَّ كَالرَّاكِبِ فِي رَحْلِهِ ، ثُمَّ كَشَدِّ الرَّجُلِ ، ثُمَّ كَمَشْيِهِ . (۲)

خلق به په پُل صراط باندې د تیریدلو د پاره حاضر شي ، بیا به د خپلو ( نېکو ) اعمالو مطابق د دینه اُووځي ( یعنی آخوا به پورې اُوځي ) ، په دې کې به اول ( او اَفضل ) هغه خلق وي چې په پُل صراط باندې به د بجلی د پرَق په شان تېر شي ، بیا به هغه خلق وي چې د

---

(۱) وقال رجل من الصحابة لآخر : أيقنتَ بالورود ؟ قال : نعم . قال : وأيقنت بالصدر ؟ قال : لا . قال : ففيم الضحك وفيم التثاقل ؟ تفسير النسفي ج ۲ ص ۳۴۷ .

عَنْ قَيْسٍ ، قَالَ : بَكَى عَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ رضي الله عنه فِي مَرَضِهِ ، فَبَكَتِ امْرَأَتُهُ ، فَقَالَ : مَا يُبْكِيكِ ؟ قَالَتْ : رَأَيْتُكَ تَبْكِي فَبَكَيْتُ ، قَالَ ابْنُ رَوَاحَةَ رضي الله عنه : إِنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنِّي وَارِدُ النَّارِ ، فَمَا أَدْرِي أَنَاجٍ مِنْهَا أَنَا أَمْ لَا ؟ .

عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ ، قَالَ : كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنِ رَوَاحَةَ رضي الله عنه وَاضِعٌ رَأْسَهُ فِي حِجْرِ امْرَأَتِهِ ، فَبَكَى ، فَبَكَتِ امْرَأَتُهُ ، قَالَ : مَا يُبْكِيكِ ؟ قَالَتْ : رَأَيْتُكَ تَبْكِي فَبَكَيْتُ ، قَالَ : إِنِّي ذَكَرْتُ قَوْلَ اللهِ {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} [مريم: ۷۱] فَلَا أَدْرِي أَنْجُو مِنْهَا ، أَمْ لَا ؟ تفسير الطبري ج ۱۵ ص ۵۹۴ .

عَنِ الْحَسَنِ ، قَالَ : قَالَ رَجُلٌ لِأَخِيهِ : هَلْ أَتَاكَ بِأَنَّكَ وَارِدُ النَّارِ ؟ قَالَ : نَعَمْ ، قَالَ : فَهَلْ أَتَاكَ أَنَّكَ صَادِرٌ عَنْهَا ؟ قَالَ : لَا ، قَالَ : فَفِيمَ الضَّحِكُ ؟ قَالَ : فَمَا رُئِيَ ضَاحِكًا حَتَّى لَحِقَ بِاللهِ . تفسير الطبري ج ۱۵ ص ۶۰۰ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابٌ : وَمِنْ سُورَةِ مَرْيَمَ رقم الحديث ۳۱۵۹ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ . وقال الالباني : صحيح . مشكاة المصابيح بَابُ الْحَوْضِ والشفاعة الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۶۰۶(۴۱) . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْعِلْمِ رقم الحديث ۸۷۴۱ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و وافقه الذهبي . سنن الدارمي رقم الحديث ۲۸۵۲ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۹۹۲ .

Scanned with CamScanner

هوا د چپې په شان به تېر شي ، بيا به هغه خلق وي چې د آس د منډې په شان به پرې تېر شي ، بيا به هغه خلق وي چې د اوښ د سورلۍ په شان به پرې تېر شي ، بيا به هغه وي چې د سړي د منډې په شان به پرې تېر شي ، او بيا به هغه وي چې د سړي د پياده تللو په شان به پرې تېر شي .

(ملا علي قاري رَحِمَهُ‌اللهُ په مرقاة کې ددې حديث پوره تشريح هم رانقل کړې) . (۱)

**۲ .** په مسلم شريف او مشكوة شريف کې اوږد حديث ذکر دی، په هغې کې دا هم دي :

چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل : فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ .

په تاسو کې به اولني (افضل) کس (په پُل صراط باندې) د بجلۍ د بړق په شان تېرېږي.

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو : اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې د تاسو نه قربان شي په پُل صراط باندې به د بجلۍ بړق په شان تيريدو کيفيت څنګه وي ؟ (او په دُنيا کې ددې مثال څه شی دی ؟ ) .

نبي عليه السلام اوفرمايل :

أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ؟

---

(۱) ( يَرِدُ النَّاسُ النَّارَ ) : يَرِدُ عَلَى وَزْنِ يَعِدُ مُضَارِعٌ مِنَ الْوُرُودِ بِمَعْنَى الْحُضُورِ. يُقَالُ: وَرَدْتُ مَاءَ كَذَا أَيْ حَضَرْتُهُ. وَإِنَّمَا سَمَّاهُ وُرُودًا لِأَنَّ الْمَارَّةَ عَلَى الصِّرَاطِ يُشَاهِدُونَ النَّارَ وَيَحْضُرُونَهَا ؛ وَعَلَى هَذَا يُئَوَّلُ قَوْلُهُ تَعَالَى: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} [ مريم : ۷۱] وَفِيهِ إِيمَاءٌ إِلَى أَنَّهُمْ حِينَئِذٍ فِي الْعَطَشِ الشَّدِيدِ. وَإِنَّمَا مَرُّوا عَلَى الصِّرَاطِ لِلْوُصُولِ إِلَى الْحَوْضِ الْمَوْرُودِ. قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلْوُرُودُ لُغَةً قَصْدُ الْمَاءِ ، ثُمَّ يُسْتَعْمَلُ فِي غَيْرِهِ. وَالْمُرَادُ مِنْهُ هَاهُنَا الْجَوَازُ عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ...... (ثُمَّ يَصْدُرُونَ مِنْهَا بِأَعْمَالِهِمْ ) أَيْ: بِحَسَبِ مَرَاتِبِ أَعْمَالِهِمُ الصَّالِحَةِ. ( فَأَوَّلُهُمْ ) أَيْ: أَسْبَقُهُمْ ( كَلَمْحِ الْبَرْقِ ) أَيِ: الْخَاطِفِ. ( ثُمَّ كَالرِّيحِ ) أَيِ: الْعَاصِفِ. ( ثُمَّ كَحُضْرِ الْفَرَسِ ) أَيْ: جَرْيِهِ وَهُوَ بِضَمِّ الْحَاءِ وَسُكُونِ الضَّادِ الْعَدْوُ الشَّدِيدُ. ( ثُمَّ كَالرَّاكِبِ فِي رَحْلِهِ ) أَيْ: عَلَى رَاحِلَتِهِ. وَعَدَّاهُ بِفِي لِتَمَكُّنِهِ مِنَ السَّيْرِ. كَذَا قَالَهُ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ . وَقِيلَ : أَرَادَ الرَّاكِبَ فِي مَنْزِلِهِ وَمَأْوَاهُ ؛ فَإِنَّهُ يَكُونُ حِينَئِذٍ السَّيْرُ وَالسُّرْعَةُ أَشَدَّ ( ثُمَّ كَشَدِّ الرَّجُلِ ) أَيْ: عَدْوِهِ وَجَرْيِهِ. ( ثُمَّ كَمَشْيِهِ) أَيْ: كَمَشْيِ الرَّجُلِ عَلَى هِينَتِهِ

. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۸ ص ۳۵۷۱ بَابُ الْحَوْضِ وَالشَّفَاعَةِ.

Scanned with CamScanner

آيا تاسو د بجلۍ پړق ته نه ګورئ چې څومره زر تير شي او د سترګو په رپ کې راواپس شي ؟

ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ، وَشَدِّ الرِّجَالِ، تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ ، وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ : رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ . حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ ، حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا .

بيا به څه خلق د مارغانو په شان ، څه خلق به د سړو د منډې په شان ( يا پياده تلونکو په شان ) تېر شي ، دوی به خپل اعمال په دې پل صراط باندې پورې باسي ( يعنې چې د چا نېک اعمال څومره ښه وي همدومره به دا په پل صراط باندې تېز تيريږي ) ، په دې وخت کې به ستاسو پيغمبر د پل صراط سره ولاړ وي او دا به وايي : رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ .

اې ربه ! دوی ( په پل صراط باندې ) په سلامتيا سره تېر کړه ، دوی په سلامتيا سره تېر کړه ( دوی جهنم ته د غورځيدو نه محفوظ کړه ) . تردې چې د څه بندګانو اعمال به کمزوري وي ( چې دوی ته به په پُل صراط باندې تېريدو کې پريشاني وي ) تر دې چې يو سړی به ( د خپلو بَدو اعمالو په وجه ) په دې باندې د تيريدلو طاقت نه لري صرف په ګندو ( ګونډو باندې خُوييدلو ) سره به پرې روان وي . (١)

## د پل صراط دواړو غاړو ته به د ازغو په شان خطرناکې د اُور ګنډې وي چې خلق به د خپلو ګناهونو په مقدار رانيسي

**١ . د مسلم شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :**

---

(١) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ...... فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ . قَالَ : قُلْتُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ ؟ قَالَ : " أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ ؟ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ، ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ، وَشَدِّ الرِّجَالِ، تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ ، وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ : رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ. حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ، حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا " . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً فِيهَا رقم الحديث ٣٢٩(١٩٥) . مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٦٠٨ . كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٠٥٤ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٢٩٣ . مسند البزار رقم الحديث ٢٨٤٠ .

Scanned with CamScanner

وَفِي حَافَتَيِ الصِّرَاطِ كَلَالِيبُ مُعَلَّقَةٌ مَأْمُورَةٌ بِأَخْذِ مَنْ أُمِرَتْ بِهِ . فَمَخْدُوشٌ نَاجٍ، وَمَكْدُوسٌ فِي النَّارِ .

د پل صراط دواړو طرف غاړو باندې به آزغي زوړند وي ، دوی ته به د الله تعالى د طرفه دا حکم شوې وي چې هغه کس اُونيسي د کوم دنيولو حکم چې شوې وي ، ځني کسان به په دې آزغو باندې زخمي کيدو سره د جهنم نه نجات اُومومي ( يعنى د پُل صراط نه به پورې اُوځي ) ، او ځنې به داسې وي چې د هغوی لاس او خپې به تړل شوي وي او پړمخ به جهنم ته اُوغورځولې شي .

د حديث په آخر کې حضرت ابوهريرة رضي الله عنه اوفرمايل :

وَالَّذِيْ نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ إِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعُوْنَ خَرِيْفًا .

قسَم په هغه ذات چې د ابوهريره ساه د هغه په قبضهٔ قدرت کې ده بيشکه د جهنم ژوروالې د اُويا ( ٧٠ ) کاله مسافت په اندازه دُوب دی . (١)

٣ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : بيا به د جهنم د پاسه پُل صراط کيښودلې شي ( هر پيغمبر به د خپل اُمت سره په دې باندې تيرېږي ) پس زه به په رسولانو کې اول هغه کس يم چې د خپل اُمت سره به په دې پُل باندې تيرېږم ، په دغه ورځ باندې به د رسولانو نه بغير بل هيڅوک خبرې نه کوي ( يعنى چاته به د خبرو کولو جرأت نه وي ) ، او رسولان به هم په دغه ورځ باندې دا وايي : اَللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ .

اې الله ! سلامتيا سره مو اُوساته ، اې الله ! سلامتيا سره مو اُوساته .

بيا نبي عليه السلام اوفرمايل :

وَفِيْ جَهَنَّمَ كَلَالِيْبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ .

او په جهنم کې ( يعنى د پل صراط دواړه طرف ته ) به د سعدان آزغو په شان ( د اُور ) ګنډې وي .

---

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً فِيهَا رقم الحديث ٣٢٩(١٩٥) . مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٦٠٨ .

بيا نبي عليه السلام د صحابه كرامو نه پوښتنه اوكړه :

هَلْ رَأَيْتُمْ شَوْكَ السَّعْدَانِ؟ آيا تاسو سعدان آزغي ليدلي ؟

هغوى ورته ووېل : آو (مونږ ليدلي دي) . پيغمبر عليه السلام ورته او فرمايل :

فَإِنَّهَا مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلَّا اللهُ ، تَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ ،

فَمِنْهُمْ مَنْ يُوبَقُ بِعَمَلِهِ ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُخَرْدَلُ ثُمَّ يَنْجُو .

د جهنم دا آزغي به هم د سعدان د آزغو په شان وي خو صرف دومره د غټ والي (او اُوږدوالي) اندازه د الله تعالى نه علاوه بل هيچا ته پته نه لږي . (يعنى د جهنم آزغي به ډير غټ او ډير اُوږده وي) . دغه ازغي به خلقو له د خپلو (بَدو) اعمالو په مقدار په تېزۍ سره رانيسي ، په دې خلقو کې به بعضې هغه خلق وي چې د خپل (بَد) عمل په وجه به هلاک شي ، او بعضې به هغه وي چې د اُوري د دانې په اندازه به په دې آزغو سره توټې توټې کړې شي خو بيا به نجات اُومومي . (١)

په پل صراط باندې به د عامو مسلمانانو نخه هم دا وي چې هر کس به رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ وايي .

د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

شِعَارُ الْمُؤْمِنِ عَلَى الصِّرَاطِ : رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ .

---

(١) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ...... فَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ ، فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ ، وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ إِلَّا الرُّسُلُ ، وَكَلَامُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ : اَللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ . وَفِي جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ ، هَلْ رَأَيْتُمْ شَوْكَ السَّعْدَانِ ؟ " قَالُوا : نَعَمْ ، قَالَ : " فَإِنَّهَا مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلَّا اللهُ ، تَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ ، فَمِنْهُمْ مَنْ يُوبَقُ بِعَمَلِهِ ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُخَرْدَلُ ثُمَّ يَنْجُو ....
صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ فَضْلِ السُّجُودِ رقم الحديث ٨٠٦ ، و رقم الحديث ٦٥٧٣ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الصِّرَاطُ جَسْرُ جَهَنَّمَ . و رقم الحديث ٧٤٣٧ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَعْرِفَةِ طَرِيقِ الرُّؤْيَةِ رقم الحديث ٢٩٩(١٨٢) . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ الْحَوْضِ والشفاعة الْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٥٨١(١٦) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧٧١٧ ، و رقم الحديث ٧٩٢٧ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩١٩٧ .

په پل صراط باندې به د مؤمن نخه دا وي چې دوی به وایي :

رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ . اې ربه ! سالم مو اُوساته ، سالِم مو اُوساته .

( جهنم ته د غورځیدلو نه مو بچ کړه ) . (١)

## پُل صراط به د تورې نه تېره ، او د ویښته نه نرۍ وي

پُل صراط به د جهنم د پاسه ایخودلې شي ، دا به د تورې نه زیات تېره وي ، او د ویښته نه به زیات نرۍ وي ، او ټول مخلوقات به په دې باندې تېرېږي .

**١** . نبي علیه السلام فرمایي :

.... وَلِجَهَنَّمَ جِسْرٌ أَدَقُّ مِنَ الشَّعْرِ ، وَأَحَدُّ مِنَ السَّيْفِ ، عَلَيْهِ كَلَالِيبُ وَحَسَكٌ يَأْخُذُونَ مَنْ شَاءَ اللَّهُ .

او دجهنم د پاسه به پل صراط وي چې د ویښته نه به ډیر نرۍ وي ، او د تورې نه به ډیر تېره وي ، په دې باندې به د اُوسپنې ګنډې او اَزغي وي ، چې الله تعالی څوک نیول اوغواړي هغه به رانیسي . (٢)

**٢** . رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

.... فَيَمُرُّونَ عَلَى الصِّرَاطِ ، وَالصِّرَاطُ كَحَدِّ السَّيْفِ ... (٣)

دا خلق به په پل صراط باندې تیرېږي ، او پل صراط د تورې په شان تېره دی .

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ بَابُ مَا جَاءَ فِي شَأْنِ الصِّرَاطِ رقم الحديث ٢٤٣٢ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ الْحَوْضِ والشفاعة الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٥٩٧(٣٢) . شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤٣٢٩ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٠٣٠ .

(٢) مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ الصِّدِّيقَةِ عَائِشَةَ بِنْتِ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ج ٤١ ص ٣٠٢ رقم الحديث ٢٤٧٩٣ . شعب الايمان رقم الحديث ٣٦١ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٠٤٠ .

(٣) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْأَهْوَالِ ج ٤ ص ٦٣٢ رقم الحديث ٨٧٥١ وقال الحاكم : وَالْحَدِيثُ صَحِيحٌ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ . و رقم الحديث ٣٤٢٤ تَفْسِيرُ سُورَةِ مَرْيَمَ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٤١٩٨ ، حلية الاولياء ج ٣ ص ٢٧٣ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٤٩٣ . العمل الصالح رقم الحديث ١٩٢٥ .

Scanned with CamScanner

## په جهنم باندې د پل صراط ایخودو سره د فرښتو الله ﷻ ته عرض ، او یَره

۱ . حضرت سلمان فارسي ﷺ د نبي علیه السلام دا حدیث نقل کوي .... چې کله د قیامت په ورځ د څړې په شان تېره پل صراط د جهنم په شا کیښودلې شي نو فرښتې به الله تعالی ته عرض اوکړي :

مَنْ تُجِيزُ عَلَى هَذَا؟ (اې الله !) ته به پدې باندې څوک تېروی ؟

الله تعالی به ورته اوفرمايي : مَنْ شِئْتُ مِنْ خَلْقِيْ .
په مخلوقاتو کې زما څوک خوَښ شي (هغه به وریاندې تېروم او هغه ته به نِجات ورکوم)

فرښتې به اووايي : سُبْحَانَكَ مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ .
(اې ربه !) تا لره پاکي ده ، مونږ ستا هغه شان عبادت اونکړو څنګه چې ستا د عبادت حق وُ . (۱)

۲ . حضرت مُعاذ بن جبل ﷺ فرمايي :

إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَسْكُنُ رَوْعُهُ حَتَّى يَتْرُكَ جِسْرَ جَهَنَّمَ وَرَاءَهُ . (۲)
بیشکه د مؤمن یَره به تر هغې وخته پورې نه ختمیږي تر دې چې پل صراط شاته پرېږدي (یعنی چې کله وریاندې تېر شي نو بیا به یې یَره ختمه شي) .

---

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنْ سَلْمَانَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : يُوضَعُ الْمِيزَانُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَوْ وُزِنَ فِيهِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ لَوَسِعَتْ ، فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ: يَا رَبِّ لِمَنْ يَزِنُ هَذَا ؟ فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: لِمَنْ شِئْتُ مِنْ خَلْقِيْ ، فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ: سُبْحَانَكَ مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ . وَيُوضَعُ الصِّرَاطُ مِثْلَ حَدِّ الْمُوسَى ، فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ : مَنْ تُجِيزُ عَلَى هَذَا ؟ فَيَقُولُ : مَنْ شِئْتُ مِنْ خَلْقِيْ ، فَيَقُولُ: سُبْحَانَكَ مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ .
المستدرک علی الصحیحین للحاکم کِتَابُ الْأَهْوَالِ ج ۴ ص ۶۲۹ رقم الحدیث ۸۷۳۹ وقال الحاکم : « هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ » . ووافقه الذهبي . کنز العمال کتاب القیامة البعث والحشر المیزان رقم الحدیث ۳۹۰۲۲ . الزواجر ج ۲ ص ۲۰۸ .

(۲) احیاء علوم الدین ج ۴ ص ۱۸۸ بیان أحوال الأنبیاء والملائکة علیهم الصلاة والسلام في الخوف .

# پُل صراط دومره اُوږد دی چې د قیامت په ورځ به دا ټول خلق ددې د پاسه وي

پُل صراط دومره اُوږد دی چې د قیامت په ورځ به دا ټول خلق ددې د پاسه وي.

د مسلم شریف او ترمذي شریف حدیث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د الله تعالی ددې قول متعلق پوښتنه اوکړه:

﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ ﴾.(۱)

(د آیت ترجمه داده: هغه ورځ ورته وَریاده کړه) په کومه ورځ چې به (دا) زمکه په بله زمکه باندې بَدَله کړې شي، او آسمانونه به په نورو آسمانونو باندې بدل کړې شي.(۲)

(یعنی ددې موجوده زمکې او آسمان په ځای په بله زمکه او بل آسمان پیدا کړې شي).

(حضرت عائشة رضي الله عنها فرمایي چې ما د نبي علیه السلام نه پوښتنه اوکړه چې کله دا موجوده زمکه او آسمان بدل کړې شي نو):

فَأَيْنَ يَكُوْنُ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟

اې د الله رسوله! په دغه ورځ به دا خلق چیرته وي؟

نبي علیه السلام اوفرمایل: عَلَى الصِّرَاطِ. په پل صراط باندې به وي.(۳)

---

(۱) ابراهيم آية ۴۸.

(۲) ددې موجوده زمکې او آسمانونو بَدلیدو کیفیت کې د علماؤ مختلف اَقوال شته هغه ټول په خپل ځای باندې صحیح دي. په تفسیر قرطبي ج ۹ ص ۳۸۲ کې د صحابه کرامو مختلف اَقوال ذکر دي.

(۳) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ} [إبراهيم: ۴۸] فَأَيْنَ يَكُوْنُ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ فَقَالَ: «عَلَى الصِّرَاطِ». صحيح مسلم كتاب صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابٌ فِي الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ وَصِفَةِ الْأَرْضِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رقم الحديث ۲۹ (۲۷۹۱). سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابٌ: وَمِنْ سُورَةِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ رقم الحديث ۳۱۲۱. سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۲۷۹. صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۳۱. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب النفخ في الصُّور الفصل الأول رقم الحديث ۵۵۲۵(۵).

Scanned with CamScanner

(دا حدیث په نورو طریقو سره هم نقل دی). (۱)

## په پل صراط باندې درې زره (۳۰۰۰) کاله مسافت مزل دی

۱. محمد بن سمار رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې ما د بصرې په بزرګانو کې د یو کس نه دا خبره واوریده چې هغوی فرمایل:

الصراط ثلاثة ألف سنة: ألف سنة يصعدون فيه، وألف سنة يستوي بهم، وألف سنة يهبطون منه.

په پل صراط باندې درې زره (۳۰۰۰) کاله مزل دی: زر (۱۰۰۰) کاله پورته ختل دي، بیا زر (۱۰۰۰) نیغ مزل کول دي، او بیا زر (۱۰۰۰) کاله ښکته کوزیدل دي. (۲)

۲. د فُضیل بن عیاض رَحِمَهُ اللهُ نه نقل دي چې په پل صراط باندې پنځلس زره (۱۵۰۰۰) فرسخه مزل دی.

بل قول ورنه دا هم نقل دی چې په پل صراط باندې څلویښت زره (۴۰۰۰۰) فرسخه مزل دی. (۳)

---

(۱) ..... عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ}، قُلْتُ: فَأَيْنَ النَّاسُ يَا رَسُولَ اللهِ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: « عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ ». البعث والنشور للبيهقي ج ۱ ص ۳۱۷ رقم الحديث ۵۷۳. المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الزُّمَرِ رقم الحديث ۳۶۳۰ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ بِهَذِهِ السِّيَاقَةِ. ووافقه الذهبي. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۴۸۵۶. الزهد والرقائق لابن المبارک ج ۲ ص ۸۵.

(۲) قال محمد بن السماك: سمعت رجلًا من زهاد أهل البصرة يقولون: الصراط ثلاثة ألف سنة، ألف سنة يصعدون فيه، وألف سنة يستوي بهم، وألف سنة يهبطون منه. التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي ص ۲۴۲ الباب السادس والعشرون في ضرب الصراط على متن جهنم.

(۳) و روي عن بشر بن الحارث، قال: قال لي فُضيل بن عياض: يا بشر! مسيرة الصراط خمسة عشر ألف فرسخ، فأنظر كيف تكون على الصراط .... و روى فضيل بن إسحاق، عن الفضيل، قال: الصراط أربعون ألف فرسخ. التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي ص ۲۴۲ الباب السادس والعشرون في ضرب الصراط على متن جهنم.

Scanned with CamScanner

خو مخکې ذکر شو چې نېکان بندګان به په دې باندې د بجلۍ د پړق په شان تيرېږي .

## که چيرته دا خلق په دُنيا کې د جهنم د احوالو نه خبر شي نو بيا به لږ اوخاندي او ډير به اوژاړي

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا .

که چيرته تاسو په هغه څه پوهيدی په کوم چې زه پوهيږم (چې هغه د زنکدن په وخت ، قبر ، قيامت ، او جهنم کې عذابونه دي) نو تاسو به لږ خندلي وو او ډير به مو ژړلي وو .(۱)

۲ . په بخاري شريف کې ددې حديث سره نوره اضافه هم شته : حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم (مونږته) داسې خطبه اولوسته چې ما د هغې په شان خطبه نه وه آوريدلې ، وې فرمايل :

لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا .

که چيرته تاسو په هغه څه پوهيدی په کوم چې زه پوهيږم نو تاسو به لږ خندلي وو او ډير به مو ژړلي وو .

د رسول الله ﷺ صحابه کرامو خپل مخونه پټ کړل او په اوچت آواز سره يې

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا» رقم الحديث ٦٤٨٥ و رقم الحديث ٦٤٨٦ . صحيح مسلم كتاب الفَضَائِلِ بَابُ تَوْقِيرِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَتَرْكِ إِكْثَارِ سُؤَالِهِ عَمَّا لَا ضَرُورَةَ إِلَيْهِ... رقم الحديث ١٣٤ (٢٣٥٩) .

وفي رواية : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه ، قَالَ : صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ ، فَقَالَ : « أَيُّهَا النَّاسُ ! إِنِّي إِمَامُكُمْ ، فَلَا تَسْبِقُوْنِي بِالرُّكُوْعِ وَلَا بِالسُّجُوْدِ ، وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالِانْصِرَافِ ، فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِي وَمِنْ خَلْفِي » ثُمَّ قَالَ : « وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ رَأَيْتُمْ مَا رَأَيْتُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا » قَالُوْا : وَمَا رَأَيْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « رَأَيْتُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ » . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ النَّهْيِ عَنْ سَبْقِ الْإِمَامِ بِرُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ وَنَحْوِهِمَا رقم الحديث ١١٢ (٤٢٦) .

ژړل .(١)

په مسلم شريف کې ورسره دا هم شته :

فَمَا أَتَى عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمٌ أَشَدُّ مِنْهُ .

د رسول الله ﷺ په صحابه وُ باندې د دينه سخته ورځ چيرته نه وه راغلې .(٢)

په يو روايت کې ورسره دا هم شته :

... وَلَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشَاتِ، وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللهِ ...

... او تاسو به د خپلو ښځو نه په بسترو باندې خوندونه نه وو اخيستي، او تاسو به يقيناً دَشتو (صحراګانو) طرف ته وتلي وې الله ﷻ ته به مو زارۍ (ژړاګانې) کولې .(٣)

---

(١) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَةً مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قَطُّ، قَالَ: « لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا »، قَالَ: فَغَطَّى أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُجُوهَهُمْ لَهُمْ خَنِينٌ. فَقَالَ رَجُلٌ: مَنْ أَبِي؟ قَالَ: فُلَانٌ، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: { لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ } . صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ} رقم الحديث ٤٦٢١ ، و رقم الحديث ٦٤٨٦ .

(٢) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، قَالَ : بَلَغَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَصْحَابِهِ شَيْءٌ ، فَخَطَبَ فَقَالَ : « عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا » قَالَ : فَمَا أَتَى عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمٌ أَشَدُّ مِنْهُ . قَالَ : غَطَّوْا رُءُوسَهُمْ وَلَهُمْ خَنِينٌ، قَالَ: فَقَامَ عُمَرُ رضي الله عنه فَقَالَ: رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا. قَالَ : فَقَامَ ذَاكَ الرَّجُلُ فَقَالَ: مَنْ أَبِي ؟ قَالَ : « أَبُوكَ فُلَانٌ ». فَنَزَلَتْ: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ} [المائدة آية ١٠١]. صحيح مسلم كتاب الْفَضَائِلِ بَابُ تَوْقِيرِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَرْكِ إِكْثَارِ سُؤَالِهِ عَمَّا لَا ضَرُورَةَ إِلَيْهِ رقم الحديث ١٣٤(٢٣٥٩) .

(٣) حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ اوفرمايل : إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ، وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ، أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحَقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ، مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ إِلَّا عَلَيْهِ مَلَكٌ سَاجِدٌ . لَوْ عَلِمْتُمْ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا، وَلَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشَاتِ ، وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللهِ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢١٥١٦ ، مشكاة المصابيح باب البكاء والخوف الفصل الثاني ←←←←

Scanned with CamScanner

۳. حضرت یحیٰی بن زکریا علیه السلام ته الله تعالی وَحي اوکړه:

... لَوِ اطَّلَعْتَ إِلَى جَهَنَّمَ اِطِّلَاعَةً لَبَكَيْتَ الصَّدِيْدَ بَعْدَ الدُّمُوْعِ ...

(اې یحیٰی!) که چیرته ته یو ځل جهنم ته سَر ورښکاره کړې (او د هغې نه ځان خبر کړې) نو د ډیرې ژړا په وجه به دې د اوښکو نه پس د سترګو نه وینې رااووځي.(۱)

## د جهنم سزاګانې د انسان د سوچ نه بهر دي

حقیقت دادی چې لکه څرنګې د جنت نعمتونه او خوشحالۍ دومره زیاتې دي چې د هغې پوره تفصیلي بیان د انسان د سوچ نه بهر دی.

نو همدغه شان د جهنم سزاګانې او تکلیفونه هم دومره سخت دي چې د هغې پوره تفصیلي بیان د انسان د سوچ نه بهر دی.

دا کومې سزاګانې چې په قرآن کریم او احادیثو کې ذکر شوي ددې مقصد صرف دادی چې انسان د جهنم د اُور نه اُویرېږي، او د هغه اعمالو نه ځان اُوساتي چې د هغې په وجه د جهنم مستحق ګرځي.(۲)

## اوس دې انسان سوچ اوکړي چې جنهم ښه دی او که جنت؟

په قرآن کریم کې الله تعالی ځای په ځای د جنت د نعمتونو او د جهنم د عذابونو تذکره

←←← رقم الحديث ۵۳۴۷(۹)، سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابٌ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا رقم الحديث ۲۳۱۲، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۱۹۰، المستدرك على الصحيحين للحاكم تَفْسِيرُ سُورَةِ هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ رقم الحديث ۳۸۸۳ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه

(۱) پوره روایت داسې دی: عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي الْحُرِّ قَالَ: شَبِعَ يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا لَيْلَةً شَبْعَةً مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ. فَنَامَ عَنْ جُزْئِهِ حَتَّى أَصْبَحَ. فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ: يَا يَحْيَى! وَجَدْتَ دَارًا خَيْرًا لَكَ مِنْ دَارِيْ؟ وَجِوَارًا خَيْرًا لَكَ مِنْ جِوَارِيْ؟ وَعِزَّتِيْ يَا يَحْيَى لَوِ اطَّلَعْتَ إِلَى الْفِرْدَوْسِ اطِّلَاعَةً لَذَابَ جِسْمُكَ وَ زَهَقَتْ نَفْسُكَ اشْتِيَاقًا. وَلَوِ اطَّلَعْتَ إِلَى جَهَنَّمَ اطِّلَاعَةً لَبَكَيْتَ الصَّدِيْدَ بَعْدَ الدُّمُوْعِ. وَلَلَبِسْتَ الْحَدِيْدَ بَعْدَ الْمُسُوْحِ. الزهد والبكاء لابن ابي الدنيا بُكَاءُ يَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّا صَلَّى اللهُ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَيْهِ وَسَلَّمَ ص ۲۶۴ رقم ۴۰۴. حلية الاولياء ج ۸ ص ۲۳۸.

(۲) معارف الحديث ج ۱ ص ۱۶۸ مع الاختصار والتغير.

Scanned with CamScanner

کړی ، او بيا يې انسانانو ته ترغيب هم ورکړی چې :

" اوس تاسو سوچ اوکړئ چې په دې دواړو کې کوم يو ښه دی ؟ جنت ښه دی او که جهنم ؟ همدارنګې جنتي کس ښه دی او که جهنمي ؟ "

نو لازمي خبره ده چې جنت ښه دی او جهنم ډير بَد ځای دی .

١ . په سورة الفرقان کې الله تعالی د جهنم د سختو سزاګانو تذکره کړی (١)، بيا ورپسې متصل فرمايي :

﴿ قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ﴾ .(٢)

ترجمه : ته ورته اووايه چې آيا دا جهنم بهتر دی يا د هميشه اُوسيدلو جنت بهتر دی د کوم چې د متقيانو سره وعده کړې شوی ؟

٢ . بل ځای الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِي النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ﴾ .(٣)

ترجمه : آيا هغه کس چې په جهنم کې واچولې شي هغه ښه دی او که هاغه کس ښه دی چې د قيامت په ورځ د الله تعالی د عذاب نه په اَمن راشي ؟

٣ . بل ځای الله ﷻ د جنت د نِعمتونو تذکره کړی ، بيا فرمايي :

﴿ اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴾ .(٤)

ترجمه : آيا دا ( د جنت ) مذکوره نِعمتونه د مېلمَستيا په طور بهتر دي او که د جهنم

---

(١) په کومو آيتونو کې چې الله تعالی د جهنم د سختو سزاګانو تذکره کړی هغه دادي : ﴿ بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ۝ اِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ۝ وَاِذَآ اُلْقُوْا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ۝ لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا ﴾ . الفرقان آية ١١ تا ١٤ .

(٢) الفرقان آية ١٥ .

(٣) حم السجدة ( فصلت ) آية ٤٠ .

(٤) الصافات آية ٦٢ .

Scanned with CamScanner

[illegible]

Scanned with CamScanner

شهوتونو پسې ځي نو جهنم ته به داخليږي. او دا مضمون په احاديثو کې هم ذکر دی:

**١. د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:**

**حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ، وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ. (١)**

پټ کړې شوې دی جهنم په شهوتونو باندې (يعنی شهوتونو وربانديې إحاطه کړی)، او پټ کړې شوې دی جنت په مشقتونو باندې. (يعنی د عباداتو مشقتونو وربانديې إحاطه کړی). (٢)

يعنی جهنم د حرامو کارونو (لکه زِنا، غلا، غيبت ...) په شهوتونو کې ګېر دی، ځوک چې دې خلافِ شرع شهوتونو پسې ځي نو جهنم ته به داخليږي. (٣)

**٢. د ابوداؤد شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:**

چې کله الله تعالی جنت پيدا کړو نو حضرت جبريل عليه السلام ته يې او فرمايل:

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ رقم الحديث ٦٤٨٧. مشكاة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الأول رقم الحديث ٥١٦٠(٦).

په مسلم شريف کې دا حديث داسې ذکر دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ، وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ. راګېر کړې شوې دی جنت په مشقتونو سره، او راګېر کړې شوې دی جهنم په شهوتونو سره.

صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا رقم الحديث ١(٢٨٢٢). سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ رقم الحديث ٢٥٥٩. سنن الدارمي رقم الحديث ٢٨٨٥. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٨٩٤٤، و رقم الحديث ١٢٥٥٩، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧١٦، و رقم الحديث ٧١٨، شعب الايمان رقم الحديث ٩٣٣٨.

(٢) (حُجِبَتِ النَّارُ) أَيْ: أُحِيطَتْ (بِالشَّهَوَاتِ) كَالْخَمْرِ وَالزِّنَا، (وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ) كَالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ. مرقاة المفاتيح ج ٨ ص ٣٢٢٨ بَابٌ: حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

(٣) قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: ... وَأَمَّا الشَّهَوَاتُ الَّتِي النَّارُ مَحْفُوفَةٌ بِهَا فَالظَّاهِرُ أَنَّهَا الشَّهَوَاتُ الْمُحَرَّمَةُ كَالْخَمْرِ وَالزِّنَا وَالْغِيبَةِ وَنَحْوِ ذَلِكَ، وَأَمَّا الشَّهَوَاتُ الْمُبَاحَةُ فَلَا تَدْخُلُ فِي هَذَا. مرقاة المفاتيح ج ٨ ص ٣٢٢٨ بَابٌ: حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

اِذْهَبْ فَانْظُرْ اِلَيْهَا.

ته لاړ شه او هغې ته اوګوره. (يعنی په هغې کې موجود نعمتونه اوګوره).

حضرت جبريل عليه السلام ورغی، هغې ته (او په هغې کې چې الله تعالی د جنتيانو د پاره کوم نعمتونه تيار کړي وو هغې ته) يې اُوکتل.

بيا واپس راغی او الله ﷻ ته يې عرض اوکړو:

أَيْ رَبِّ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا.

اې ربه! زما دې ستا په عزت باندې قسَم وي (په دې کې خو داسې بهترين نعمتونه دي) څوک چې د دې حال واوري نو ضرور به دېته د داخليدو کوشش کوي.

بيا الله تعالی جنت لره په مشقتونو کې راګېر کړو (يعنی ګېر چاپېره يې ورنه د عباداتو کولو مشقتونه مقرر کړل)، بيا يې حضرت جبريل عليه السلام ته اوفرمايل:

يَا جِبْرِيْلُ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ اِلَيْهَا.

اې جبريل! ته (دوباره) ورشه او جنت اُوګوره.

نو حضرت جبريل عليه السلام ورغی، وې کتلو، واپس راغی او عرض يې اوکړو:

أَيْ رَبِّ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ.

اې ربه! زما دې ستا په ذات عزت باندې قسَم وي ما سره دا يَره ده چې هيڅوک به دېته داخل نشي. (ځکه د دينه ګېرچاپېره د عباداتو کولو مشقتونه دي کوم چې نفس ته ګران دي)

نبي عليه السلام اوفرمايل: همدغه شان چې کله الله تعالی جهنم پيدا کړو نو حضرت جبريل عليه السلام ته يې اوفرمايل:

يَا جِبْرِيْلُ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ اِلَيْهَا. اې جبريل! لاړ شه، او جهنم اُوګوره.

حضرت جبريل عليه السلام ورغی، او هغې ته يې اُوکتل (چې ډير سخت عذابونه په کې مقرر شوي وو).

حضرت جبريل عليه السلام واپس راغی او الله ﷻ ته يې عرض اوکړو:

أَيْ رَبِّ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا.

Scanned with CamScanner

اې ربه ! زما دې ستا په عزت باندې قسَم وي هر څوک چې د دې جهنم حالت واوري نو ديته د داخليدو نه به ځان ساتي .

پس الله تعالى جهنم لره په شهوتونو سره راګېر کړو . بيا يې حضرت جبريل عليه السلام ته اوفرمايل : يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا .

اې جبريل ! ته (دوباره) لاړ شه او اوس يې اوګوره .

حضرت جبريل عليه السلام ورغی ، هغې ته يې اُوکتل (چې ګېر چاپېره ورنه ناجائزو شهوتونو اِحاطه کړې وه) ، نو واپس راغی او الله ﷻ ته يې عرض اوکړو :

أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَبْقَىٰ أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا .

اې ربه ! زما دې ستا په عزت باندې قسَم وي چې اوس د ما سره دا يَره ده چې هيڅوک به بچ پاتې نشي مګر هر کس به ديته داخل شي ( ځکه د دينه ګېرچاپېره دُنيوي ناجائز شهوتونه دي او نفس دې طرف ته ميلان کوي ) .(١)

## مجموعي لحاظ سره په جهنم کې به زيات مقدار د ياجوج و ماجوج وي

په جهنم کې به زيات خلق ياجوج و ماجوج وي ، تر دې چې که د انسانانو نه يو کس جهنم ته ځي نو د ياجوج و ماجوج نه به سل (١٠٠) کسان جهنم ته داخليږي .

---

(١) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْجَنَّةَ قَالَ لِجِبْرِيْلَ : اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا ، فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ، ثُمَّ جَاءَ ، فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا . ثُمَّ حَفَّهَا بِالْمَكَارِهِ ، ثُمَّ قَالَ : يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا . فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ . قَالَ : فَلَمَّا خَلَقَ اللهُ النَّارَ قَالَ : يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا . فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا . فَحَفَّهَا بِالشَّهَوَاتِ . ثُمَّ قَالَ : يَا جِبْرِيْلُ اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا . فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَبْقَىٰ أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا . سنن ابي داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابٌ فِي خَلْقِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٤٧٤٤ قال الالباني: حسن صحيح . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٨٦٤٨ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧٢ . مشكاة المصابيح باب خلق الجنة والنار الفصل الثاني رقم الحديث ٥٦٩٦(٣) ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ١٦٧ ، كنزالعمال رقم الحديث ٣٩٥٦٣ .

Scanned with CamScanner

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، حضرت ابوسعید خُدري ﷺ فرمایي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم (صحابه کرامو رضي الله عنهم ته) اوفرمایل :

الله جل جلاله به (د قیامت په ورځ حضرت آدم علیه السلام ته) اوفرمایي : يَا آدَمُ ! اې آدم !
حضرت آدم علیه السلام به جواب ورکړي :
اې ربه ! زه حاضریم ، ستا په اِطاعت کې یم ، ټول خیر ستا په قدرت کې دي .
الله تعالی به ورته اوفرمایل :

أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ . د جهنم واله ډَله رااُوباسه .
حضرت آدم علیه السلام به ورته عرض اوکړي : د جهنم ډَله څومره خلق دي ؟

الله جل جلاله به ورته اوفرمایي : مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ .
په هرو زرو (١٠٠٠) کې نهه سوه او نهه نوي (٩٩٩) خلق .
نبي علیه السلام اوفرمایل :

فَذَاكَ حِيْنَ يَشِيْبُ الصَّغِيْرُ (وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيْدٌ) .

(کله چې خلق دا خبره واوري) نو دا به هغه وخت وي چې (د ډیر خفګان د وجې) ماشوم به بُوډا شي ، او هره حامله ښځه به خپل ماشوم (د خېټې نه) اُوغورځوي ، او ته به دا ټول خلق ګورې چې نَشه به ښکاري ، حالانکه دا به نَشه نه وي ليکن د الله تعالی عذاب به ډیر سخت وي .

کله چې صحابه کرامو داخبره واوریده نو (خفه شو او) دا خبره ورته ډیره ګرانه تمامه شوه . نبي علیه السلام ته یې اوفرمایل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَيُّنَا ذٰلِكَ الرَّجُلُ ؟

اې د الله رسوله ! په مونږ کې به دا (خُوش نصیبه) کس څوک وي ؟ (چې جنت ته به داخلیږي) .

نبي علیه السلام ورته (د تسلّی د پاره) اوفرمایل :

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

أَبْشِرُوْا، فَإِنَّ مِنْ يَأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ أَلْفًا وَمِنْكُمْ رَجُلٌ.

تاسو زيري قبول کړئ ځکه د ياجوج و ماجوج نه به زر (١٠٠٠) کسان جهنم ته داخليږي او د تاسو (يعنى زما اُمت) نه به يو کس جهنم ته داخليږي... (١)

## په جهنم کې به د سړو په نسبت ښځې زياتې وي

په جهنم کې به د سړو په نسبت ښځې زياتې وي، او دا خبره په صحيح احاديثو کې ذکر ده

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

.... قُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ.

زه (د معراج په شپه، يا خوب کې، او يا په حالت د کشف کې) د جهنم په دَروازه باندې اُودريدم نو (ما اُوليدل چې) جهنم ته اکثر داخليدونکې ښځې وى. (٢)

---

(١) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُوْلُ اللهُ: يَا آدَمُ! فَيَقُوْلُ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِيْ يَدَيْكَ، قَالَ: يَقُوْلُ: أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ. قَالَ: وَمَا بَعْثُ النَّارِ؟ قَالَ: مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ. فَذَاكَ حِيْنَ يَشِيْبُ الصَّغِيْرُ (وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكْرَى وَمَا هُمْ بِسُكْرَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيْدٌ) " فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ فَقَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَيُّنَا ذَلِكَ الرَّجُلُ؟ قَالَ: « أَبْشِرُوْا، فَإِنَّ مِنْ يَأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ أَلْفًا وَمِنْكُمْ رَجُلٌ» ثُمَّ قَالَ: « وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ، إِنِّيْ لَأَطْمَعُ أَنْ تَكُوْنُوْا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ » قَالَ: فَحَمِدْنَا اللهَ وَكَبَّرْنَا، ثُمَّ قَالَ: « وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ، إِنِّيْ لَأَطْمَعُ أَنْ تَكُوْنُوْا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، إِنَّ مَثَلَكُمْ فِي الْأُمَمِ كَمَثَلِ الشَّعَرَةِ الْبَيْضَاءِ فِيْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ، أَوِ الرَّقْمَةِ فِيْ ذِرَاعِ الْحِمَارِ». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ} رقم الحديث ٦٥٣٠. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ قَوْلِهِ يَقُوْلُ اللهُ لِآدَمَ أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ رقم الحديث ٣٧٩ (٢٢٢).

(٢) عَنْ أُسَامَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِيْنَ، وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوْسُوْنَ، غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ، وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٤٧. و رقم الحديث ٥١٩٦ كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ لَا تَأْذَنِ الْمَرْأَةُ فِيْ بَيْتِ زَوْجِهَا لِأَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِهِ. صحيح مسلم كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ أَكْثَرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْفُقَرَاءُ وَأَكْثَرُ أَهْلِ النَّارِ النِّسَاءُ وَبَيَانِ الْفِتْنَةِ بِالنِّسَاءِ رقم الحديث ٩٣ (٢٧٣٦).

(قُمْتُ) أَيْ: لَيْلَةَ الْمِعْرَاجِ، أَوْ فِي الْمَنَامِ، أَوْ حَالَةَ كَشْفِ الْمَقَامِ، أَوْ بِطَرِيْقِ دَلَالَةِ الْمَرَامِ ... ←←←←

Scanned with CamScanner

# جهنم ته د زياتو ښځو داخليدو وجه "د خپل خاوند ناشکري، او ډير لعنت ويل" دي

ښځې چې د سړو په نسبت زياتې جهنم ته داخليږي نو ددې وجه هم داده چې دوی د خپل خاوند ناشکري کوي، او لعنت ډير وايي.

۱. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په غټ اختر يا وړوکي اختر کې عيدګاه طرف ته اُووت، په لاره کې په ښځو باندې تېر شو، نو هغوی ته يې اوفرمايل:

يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ.

اې د ښځو ډلې! تاسو صدقه کوئ؛ ځکه ماته دا (د کشف يا وَحي په ذريعه) اُوخودلې شوه چې تاسو په جهنم کې زياتې يَی.

زَنانهؤ پوښتنه اوکړه: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟

اې د الله رسوله! دا د څه په وجه په جهنم کې زمونږ تعداد زيات دی؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ

تاسو ډير لعنت وايَی، او د (خپلو) خاوندانو ناشکري کوی. (۱)

---

←←← (عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا) أَيْ أَكْثَرُ مَنْ دَخَلَهَا مَعَ الْكُفَّارِ (النِّسَاءُ) لِكَثْرَةِ مَيْلِهِمْ إِلَى الدُّنْيَا وَلِمَنْعِهِنَّ الرِّجَالَ عَنْ طَرِيقِ الْعُقْبَى. مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۲۷۵ بَابُ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ وَمَا كَانَ مِنْ عَيْشِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

وفي رواية: عَنْ عِمْرَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اِطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ، وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٤٦. ورقم الحديث ٦٤٤٩. ورقم الحديث ٥١٩٨. صحيح مسلم كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ أَكْثَرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْفُقَرَاءُ وَأَكْثَرُ أَهْلِ النَّارِ النِّسَاءُ وَبَيَانُ الْفِتْنَةِ بِالنِّسَاءِ رقم الحديث ٩٤ (٢٧٣٧).

(۱) پوره حديث داسې دی: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحَى أَوْ فِطْرٍ إِلَى الْمُصَلَّى، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» ←←←

Scanned with CamScanner

۲ . د مسلم شريف په يو روايت کې دي چې نبي عليه السلام هغه زنانهٔ ته په جواب کې اوفرمايل :

لِأَنَّكُنَّ تُكْثِرْنَ الشَّكَاةَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ .

تاسو به په جهنم کې ځکه زياتې يئ چې شکوې شکايتونه زيات کوئ ، او د خاوند ناشکري کوئ . (۱)

۳ . په بخاري شريف او مسلم شريف کې اُوږد حديث دی ، د هغې په آخر کې ذکر دي چې نبي عليه السلام صحابه کرامو ته اوفرمايل :

وَرَأَيْتُ النَّارَ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ، وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ .

او ما جهنم اُوليد ، د نن ورځې نه زيات هيبت ناک منظر ما کله هم نهٔ ليدلی، او ما دا هم اُوليدل چې په جهنم کې ښځې زياتې دي .

---

←←← فَقُلْنَ : وَبِمَ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ » ، قُلْنَ: وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ » قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: « فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا، أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ » قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: « فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا » . صحيح البخاري كِتَابُ الحَيْضِ بَابُ تَرْكِ الحَائِضِ الصَّوْمَ رقم الحديث ۳۰۴ . و رقم الحديث ۱۴۶۲ كتاب الزكاة بَابُ الزَّكَاةِ عَلَى الأَقَارِبِ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ بَيَانِ نُقْصَانِ الْإِيمَانِ بِنَقْصِ الطَّاعَاتِ، وَبَيَانِ إِطْلَاقِ لَفْظِ الْكُفْرِ عَلَى غَيْرِ الْكُفْرِ بِاللهِ، كَكُفْرِ النِّعْمَةِ وَالْحُقُوقِ رقم الحديث ۱۳۲ (۷۹) .

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنهما قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ يَوْمَ الْعِيدِ، فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ، ثُمَّ قَامَ مُتَوَكِّئًا عَلَى بِلَالٍ، فَأَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ، وَحَثَّ عَلَى طَاعَتِهِ، وَوَعَظَ النَّاسَ وَذَكَّرَهُمْ، ثُمَّ مَضَى حَتَّى أَتَى النِّسَاءَ، فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ، فَقَالَ: « تَصَدَّقْنَ، فَإِنَّ أَكْثَرَكُنَّ حَطَبُ جَهَنَّمَ » ، فَقَامَتِ امْرَأَةٌ مِنْ سِطَةِ النِّسَاءِ سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ، فَقَالَتْ: لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « لِأَنَّكُنَّ تُكْثِرْنَ الشَّكَاةَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ » ، قَالَ: فَجَعَلْنَ يَتَصَدَّقْنَ مِنْ حُلِيِّهِنَّ، يُلْقِينَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ مِنْ أَقْرِطَتِهِنَّ وَخَوَاتِمِهِنَّ . صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ رقم الحديث ۴ (۸۸۵) . سنن النسائي كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ قِيَامُ الْإِمَامِ فِي الْخُطْبَةِ مُتَوَكِّئًا عَلَى إِنْسَانٍ رقم الحديث ۱۵۷۵ .

Scanned with CamScanner

صحابه كرامو عرض اوكړو : اې د الله رسوله ! دا ولې (په جهنم كې ښځې زياتې دي) ؟ پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

بِكُفْرِهِنَّ . دا د دوى د ناشكرۍ په وجه .

د نبي ﷺ نه پوښتنه اوشوه : يَكْفُرْنَ بِاللهِ ؟ آيا دوى د الله تعالى ناشكري كوي ؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، وَيَكْفُرْنَ الإِحْسَانَ . لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ .

(نه . دوى د الله تعالى ناشكري نه كوي بلكه) دوى د خاوند ناشكري كوي ، او د هغه د اِحسان نه اِنكار كوي ، كه چيرته ته په دوى كې يوې ښځې سره ټول عُمر احسان اوكړې بيا دا د تانه (د هغې د مرضۍ خلاف) يوڅيز اوګوري نو هغه به (تاته) وايي : ما خو د تانه هيڅ كله خير ندې ليدلى .(١) .

## ددې اُمت په درې اَويا (٧٣) فِرقو كې به يوه فِرقه جنت ته ځي ، او دا نورې دوه اَويا (٧٢) فِرقې به جهنم ته ځي

١ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم صحابه كرامو ته اوفرمايل :

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، أَنَّهُ قَالَ : خَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ ....... قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ ! رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ هَذَا، ثُمَّ رَأَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ ؟ فَقَالَ: « إِنِّي رَأَيْتُ الْجَنَّةَ، ـ أَوْ أُرِيتُ الْجَنَّةَ ـ فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُودًا، وَلَوْ أَخَذْتُهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا، وَرَأَيْتُ النَّارَ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ، وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ » قَالُوا: لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: « بِكُفْرِهِنَّ » . قِيلَ: يَكْفُرْنَ بِاللهِ؟ قَالَ : " يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، وَيَكْفُرْنَ الإِحْسَانَ، لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ، ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا، قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ " . صحيح البخاري كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ كُفْرَانِ الْعَشِيرِ وَهُوَ الزَّوْجُ، وَهُوَ الْخَلِيطُ، مِنَ الْمُعَاشَرَةِ رقم الحديث ٥١٩٧ . و رقم الحديث ١٠٥٢ أَبْوَابُ الْكُسُوفِ بَابُ صَلاَةِ الْكُسُوفِ جَمَاعَةً . و رقم الحديث ٢٩ كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ كُفْرَانِ الْعَشِيرِ، وَكُفْرٍ دُونَ كُفْرٍ . صحيح مسلم كِتَابُ الْكُسُوفِ بَابُ مَا عُرِضَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ مِنْ أَمْرِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ١٧(٩٠٧) . مشكاة المصابيح باب صلوة الخسوف الفصل الاول رقم الحديث ١٤٨٢(٣) .

Scanned with CamScanner

وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَتَفْتَرِقَنَّ أُمَّتِيْ عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً ، وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ، وَثِنْتَانِ وَسَبْعُوْنَ فِي النَّارِ .

قَسَم په هغه ذات چې د محمد (يعنی زما) ساه د هغه په قبضهٔ قدرت کې ده زما اُمت به خامخا په درې اَويا (٧٣) فِرقو باندې تقسيمېږي، (په دې کې) يوه فِرقه به په جنت کې وي او دوه اَويا (٧٢) به په جهنم کې وي.

د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَنْ هُمْ ؟

اې د الله رسوله ! دا يوه فِرقه به څوک وي ؟

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

اَلْجَمَاعَةُ . دا به هغه مسلمانان وي چې د صحابه کرامو د جَماعت سره په عقائدو کې برابر وي. (١)

**٢ .** په يو حديث کې دي چې کله د نبي عليه السلام نه صحابه کرامو پوښتنه اوکړه :

وَمَا تِلْكَ الْفِرْقَةُ ؟ دا يوه (نجات مُوندونکې) ډَله به څوک وي ؟

نو دوی ورته اوفرمايل : مَا أَنَا عَلَيْهِ الْيَوْمَ وَأَصْحَابِيْ .

دا به هغه ډَله وي چې په کومه باندې نن زه يم او زما صحابه دي.

---

(١) عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اِفْتَرَقَتِ الْيَهُوْدُ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً، فَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَسَبْعُوْنَ فِي النَّارِ، وَافْتَرَقَتِ النَّصَارَى عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً . فَإِحْدَى وَسَبْعُوْنَ فِي النَّارِ، وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ . وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَتَفْتَرِقَنَّ أُمَّتِيْ عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً ، وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ، وَثِنْتَانِ وَسَبْعُوْنَ فِي النَّارِ» . قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَنْ هُمْ ؟ قَالَ: « اَلْجَمَاعَةُ » . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْفِتَنِ بَابُ افْتِرَاقِ الْأُمَمِ رقم الحديث ٣٩٩٢، و رقم الحديث ٣٩٩٣ . مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ١٨٦٧٥ . سنن ابي داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابُ شَرْحِ السُّنَّةِ رقم الحديث قال الالباني: حسن صحيح. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيْمَانِ مَا جَاءَ فِي افْتِرَاقِ هَذِهِ الْأُمَّةِ رقم الحديث ٢٦٤٠ .

(اَلْجَمَاعَةُ ) أي الموافقون لجماعة الصحابة الآخذون بعقائدهم المتمسكون برأيهم. تعليق محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة .

Scanned with CamScanner

(یعنی کوم خلق چې زما او د صحابه کرامو په نقشِ قدم باندې راروان وي). (١)

**نوټ** : دا حدیث په نورو مختلفو طریقو سره هم نقل شوی. (٢)

په بعضو احادیثو کې ذکر دي چې دا اُمت به په دوه اَویا (٧٢) ډلو تقسیمیږي، دا یواَویا (٧١) ډلې به هلاکیږي او صرف یوه ډله به خلاصې مُومي. (٣)

## د غونډ تقریر خلاصه:

د غونډ تقریر خلاصه دا رااووته چې د جهنم ډیرې سختې سزاګانې او مختلف قِسمه عذابونه دي:

کله چې جهنم د قیامت په ورځ میدانِ محشر ته راوستې شي نو ددې به اَویا زره (٧٠٠٠٠) واګې وي، او هره واګه به اَویا زره (٧٠٠٠٠) فرښتو نیولې وي، جهنم به د سختې غصې

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « تَفْتَرِقُ هَذِهِ الْأُمَّةُ عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً، كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا وَاحِدَةً » . قَالُوْا: وَمَا تِلْكَ الْفِرْقَةُ؟ قَالَ: « مَا أَنَا عَلَيْهِ الْيَوْمَ وَأَصْحَابِيْ » . المعجم الاوسط ج ٥ ص ١٣٧ رقم الحديث ٤٨٨٦ مَنِ اسْمُهُ: عِيسَى . و ج ٨ ص ٢٢ رقم الحديث ٧٨٤٠ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٢ . الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ٩٦٥ . كنز العمال رقم ١٠٥٧ .

(٢) عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ ﵁ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: « تَفَرَّقَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً . وَتَفَرَّقَتِ النَّصَارَى عَلَى اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً . وَأُمَّتِيْ تَزِيْدُ عَلَيْهِمْ فِرْقَةً . كُلُّهَا فِي النَّارِ إِلَّا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ » . المعجم الاوسط ج ٧ ص ١٧٥ رقم الحديث ٧٢٠٢ بَابُ الْمِيمِ مَنِ اسْمُهُ: مُحَمَّدٌ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٨٠٣٥ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٦٧٨٣ .

(٣) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﵁ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « إِنَّ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ تَفَرَّقَتْ إِحْدَى وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً، فَهَلَكَتْ سَبْعُوْنَ فِرْقَةً، وَخَلَصَتْ فِرْقَةٌ وَاحِدَةٌ . وَإِنَّ أُمَّتِيْ سَتَفْتَرِقُ عَلَى اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً، تَهْلِكُ إِحْدَى وَسَبْعُوْنَ فِرْقَةً، وَتَخْلُصُ فِرْقَةٌ » . قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ تِلْكَ الْفِرْقَةُ؟ قَالَ: « الْجَمَاعَةُ الْجَمَاعَةُ » . مسند احمد مخرجا ج ١٩ ص ٣٦٢ رقم الحديث ١٢٤٧٩ .

وفي رواية: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ افْتَرَقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً، وَأَنْتُمْ تَفْتَرِقُوْنَ عَلَى مِثْلِهَا، كُلُّهَا فِي النَّارِ إِلَّا فِرْقَةً » . احمد مخرجا ج ١٩ ص ٢٤١ رقم الحديث ١٢٢٠٨ .

Scanned with CamScanner

په وجه غرَمبارې او آوازونه کوي، چې په دې سره به په ټولو مخلوقاتو باندې يَره شي.
د جهنم اُور ډير زيات ګرم دی، دا د دُنيا د اُور نه آويا (٧٠) چنده زيات ګرم دی، ددې د ګرمائش اثر به تر ډيرې لرې پورې رَسي.
د جهنم اُور درې زره (٣٠٠٠) کاله بل شوی اوس تَک تور دی، دا به بار بار تېزولې شي، دومره تېز دی چې ددې يوه حصه بلې حصې لره خُوري، او دا به مسلسل لمبې وهي.
د جهنم اُور به مخونه سوزوي، شکل به خرابوي، په دې سره به څرمن او آندامونه د بدن نه جدا شي، څرمنې به بار بار سوَزي او بيا به صحيح کيږي ددې د پاره چې جهنميان نوې نوې عذاب اُوڅکي.
د مجرمانو مخونه به د اُور په لمبو کې پټ وي، اُور به وريانديې احاطه کړي وي، ګېرچاپېره به ورته د اُور ديوالونه وي، تر دې چې دا اُور به زړه ته رسيږي، خو څوک به يې د ځان نه نشي دفع کولی، مخونه به يې د اُور په وجه تَک تور وي.
د جهنم اُور دومره خطرناک دی چې ددې خَشاک به کافران، ګناهګاران او کاڼړي وي.
جهنم دومره ډُوب اوغټ دی چې د قيامت په ورځ کله کافران او ګناهګاران ديته اُوغورځولې شي نو دا به نه ډکيږي بلکه د نورو خلقو مطالبه به کوي.
د ډُوبوالي اندازه يې تاسو ددينه اُولږوئ چې کله دې جهنم ته يو کاڼړې اُوغورځولې شي او مسلسل ښکته روان وي نو آويا (٧٠) کاله پس به ددې بېخ ته رسي.
په جهنم کې به د اُوښانو هومره ماران او د قچرو هومره لړمان وي، د لړَمانو به غټې غټې لشې وي، همدارنګې په جهنم کې به زَهرجَن ګنجي ماران هم وي.
جهنم د کافرانو د پاره قيد خانه ده، په دې کې به د نورو عذابونو سره سره د سختې يَخنۍ عذاب هم وي.
ګمراهان به د قيامت په ورځ پَړمخ په مخونو باندې راپاڅولې شي، او پَړمخې به جهنم ته راښکلې شي.
په جهنم کې به مختلفې واديانې وي چې په دې کې به خطرناک عذابونه وي.
د جهنم اُووه (٧) دَروازې دي، هر قِسم جهنميانو له ځانله ځانله دروازه مخصوص ده.

په جهنم باندې نورلس (١٩) اَفسرانې فرښتې مقرر دي ، دا فرښتې ډيرې سخت خُويه ، بَدشکله او قوي دي ، دوی به جهنميانو ته سخت ترين عذابونه ورکوي .

د جهنم د پاسه پُل صراط دی چې د تورې نه تېره ، او د ويښته نه نرۍ دی ، هر کس به پدې باندې د خپلو اعمالو په اِعتبار سره تېرېږي ، مؤمنان به ورباندې د بجلۍ د پرَق په شان تېر شي ، او کافران او ګناهګاران به ښکته جهنم ته او غورځيږي .

د پل صراط دوارو غاړو ته به د آزغو په شان خطرناکې د اُور ګنډې وي چې خلق به د خپلو ګناهونو په مقدار رانيسي .

د جهنم سزاګانې د انسان د سوچ نه بهر دي ، که چيرته دا خلق په دُنيا کې د جهنم د اَحوالو نه خبر شي نو بيا به لړ اُوخاندي او ډير به اُوژاړي . لهذا همدا اوس دې انسان سوچ اوکړي چې آيا جنهم ښه دی او که جنت ؟ دا يقيني خبره ده چې د جنت نعمتونه بهتر دي او جهنم ډير بَدځای دی ، نو بيا پکار ده چې انسان د جنت ګټلو د پاره نېک اعمال اوکړي او د جهنم نه بچ کيدو د پاره ځان د ګناهونو او ناجائزو خواهشاتو نه اُوساتي ؛ ځکه جهنم په شهوتونو او خواهشاتو باندې پټ شوی ، اوس چې څوک د ناجائزو شهوتونو پسې ځي نو خامخا به جهنم ته غورځيږي .

دغه وجه ده چې ددې اُمت په درې اَويا (٧٣) فِرقو کې به يوه فِرقه جنت ته ځي کومه چې د نبي عليه السلام او صحابه کرامو په نقشِ قدم باندې روانه وي ، او دا نورې دوه اَويا (٧٢) فِرقې به جهنم ته ځي .

## دُعا

الله تعالی دې مونږ او تاسو ټول د جهنم د عذابونو نه اُوساتي .

ربِّ کريم دې مونږ ټول د هغه ګناهونو نه اُوساتي چې د هغې په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي .

الله ربّ العزت دې مونږ په هغه ډَله کې شمار کړي چې هغه جنت ته ځي ، او د هغه ډَلو نه مو دې اُوساتي چې هغوی به جهنم ته ځي .

رب ذوالجلال دې مونږ او تاسو ټولو ته په اِيمان باندې اِستقامت رانصيب کړي ، او د

Scanned with CamScanner

زنكدن په وخت دې زمونږ په ژبه باندې دا كلِمه نصيب كړي چې :

" لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) "

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ﴾ الدخان آية ٥٤ .

# د جهنمیانو د پاره سختې سزاګانې او مختلف عذابونه

تالیف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُالعلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربية ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان


Scanned with CamScanner

# نوټ

## ’’ د جهنمیانو د پاره سختې سزاګانې او مختلف عذابونه ‘‘

دا موضوع اګر چې څه اندازه اُوږده ده ، ځکه په دې کې د جهنمیانو مختلف قِسمه عذابونه بیان شوي ، خو بیا هم دا موضوع په ګڼو عنواناتو باندې تقسیم شوی ، که مُقرِّر په هر ځای کې تقریر اُودروي نو آئنده جُمعه یې د هغې نه آخوا په آسانه شروع کولې شي .

لهذا مُقرِّرینو ته په کار دي چې دا موضوع په دوه جُمعو کې بیان کړي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جهنميانو د پاره سختې سزاګانې او مختلف عذابونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ﴾. (١)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗ أَحَدٌ ۝ وَلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗ أَحَدٌ ﴾. (٢)

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ عَلٰى أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهٗ كَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ وَالْقُمْقُمُ . (٣)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا . (٤)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

---

(١) البروج آية ١٢ .

(٢) الفجر آية ٢٥ ، ٢٦ .

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٦٢ ، و رقم الحديث ٦٥٦١ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِيْمَانِ بَابُ أَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا رقم الحديث ٣٢٣ (٢١٣) ، سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٦٠٤ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٨٣٩٠ ، و رقم الحديث ١٨٣١٣ .

(٤) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا» رقم الحديث ٦٤٨٥ ، و رقم الحديث ٦٤٨٦ . صحيح مسلم كتاب الْفَضَائِلِ بَابُ تَوْقِيْرِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَتَرْكِ إِكْثَارِ سُؤَالِهٖ عَمَّا لَا ضَرُوْرَةَ إِلَيْهِ... رقم الحديث ١٣٤ (٢٣٥٩) .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ... «وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوْ رَأَيْتُمْ مَا رَأَيْتُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا» قَالُوْا : وَمَا رَأَيْتَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ: « رَأَيْتُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ » . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ النَّهْيِ عَنْ سَبْقِ الْإِمَامِ بِرُكُوْعٍ أَوْ سُجُوْدٍ وَنَحْوِهِمَا ١١٢ (٤٢٦) .

Scanned with CamScanner

## '' د جهنم سزاګانې '' ذکر کولو وجه

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! لکه څرنګې چې په قرآن کريم او احاديثو کې د نېک عمَله کس د پاره د جنتِ نعمتونه او خوشحالي په پوره تفصيل سره ذکر شوي نو همدغه شان د کافرانو او ګناهګارانو د پاره د جهنم سختې سزاګانې او مختلف عذابونه هم ذکر شوي .

او ددې سزاګانو ذکر کولو مقصد دادی چې کله خلق ددينه خبر شي نو ددينه د بچ کيدو کوشش به کوي ؛ ځکه چې کله يو کس د جهنم د سخت اُور ، د جهنم د کندو ، د جهنم د غټو غټو مارانو او لړمانو ، د جهنم د قِسما قِسم عذابونو ، د جهنميانو د خوراک او څکاک ، د جهنميانو د چغو او ژړاګانو ، د جهنميانو د هَتکړو او زنځيرونو ، د جهنميانو د اُور کپړو او بِسترو ، د جهنميانو د اُولړو او تَندو نه خبر شي نو بيا به هيڅ کله ګناهونو ته نه ورنزدې کيږي ، بلکه هميشه به د الله تعالى د رضا کارونه کوي چې په دې سره به دا کس پخپله د جهنم نه محفوظ شي او د جنت مستحق به او ګرځي .

## جهنميانو ته به مختلف قِسمه عذابونه ورکولې شي

جهنميانو ته به په جهنم کې مختلف قِسمه عذابونه ورکولې شي .

اِن شَاء الله نن به زه تاسو ته '' د جهنميانو د پاره د سختو سزاګانو او عذابونو '' تذکره کوم ، الله تعالى دې مونږ او تاسو ټول ددينه محفوظ اُوساتي . آمين

## د کافرانو او ګناهګارانو په سَر به ګرمې اُوبه اړولې شي

د کافرانو او ګناهګارانو په سَر به ګرمې اُوبه اړولې شي چې په دې سره به د دوی د بدن څرمن او په خېټه کې دننه کولمې هرڅه اُوسوزي .

١ . الله تعالى فرمايي : ﴿ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ۭ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ۝ يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ وَالْجُلُوْدُ ۝ ﴾ .(١)

---

(١) الحج آية ١٩ ، ٢٠ .

Scanned with CamScanner

ترجمه: پس څوک چې کافران دي نو د دوی د پاره به د اُور نه کپړې پرېکړې شي (یعنی د اُور کپړې به ورله جوړې کړې شي، او دوی ته به وَر واغوستولې شي)، د دوی د سرونو د پاسه به ګرمې (ځوټکیدلې) اُوبه اچولې شي چې په دې سره به د دوی په خېټو کې کولمې او څرمن ویلې شي.

۲. په سورة الدّخان کې ذکر دي: چې الله تعالی به د قیامت په ورځ د ګناهګار په باره کې زَبانیه فرښتو ته اوفرمایي:

﴿ خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَاءِ الْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِ تَمْتَرُونَ ﴾.(١)

ترجمه: تاسو دا ګناهګار اُونیسئ، بیا یې د جهنم مینځ ته راکاږئ، بیا دده د سَر د پاسه د ګرمو اُوبو عذاب وَر واړوئ (یعنی په سَر ورله ځوټکیدلې اُوبه واچوئ. بیا به دې ګنار ته اُوویلې شي:) دا عذاب اُوڅکه، بیشکه ته (په دُنیا کې په خپل ګمان باندې) عزت مَند (او) قدَرمن سړی وې (یعنی تا به ځان ته په خپل قوم کې معزّز سړی ویل)، بیشکه دا هغه عذاب دی چې تاسو به (په دُنیا کې) ددې په باره کې شک کولو.(٢)

(١) الدخان آية ٤٧ تا ٥٠.

(٢) قَوْلُهُ تَعَالَى: {خُذُوهُ} أَيْ يُقَالُ لِلزَّبَانِيَةِ: خُذُوهُ، يَعْنِي الْأَثِيمَ. {فَاعْتِلُوهُ} قَرَأَ أَهْلُ الْكُوفَةِ، وَأَبُو جَعْفَرٍ، وَأَبُوعَمْرٍو: بِكَسْرِ التَّاءِ، وَقَرَأَ الْبَاقُونَ بِضَمِّهَا، وَهُمَا لُغَتَانِ، أَيِ ادْفَعُوهُ وَسُوقُوهُ، يُقَالُ: عَتَلَهُ يَعْتِلُهُ عَتْلًا إِذَا سَاقَهُ بِالْعُنْفِ وَالدَّفْعِ وَالْجَذْبِ. {إِلَى سَوَاءِ الْجَحِيمِ} وَسَطِهِ. {ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ} قَالَ مُقَاتِلٌ: إِنَّ خَازِنَ النَّارِ يَضْرِبُهُ عَلَى رَأْسِهِ فَيَنْقُبُ رَأْسَهُ عَنْ دِمَاغِهِ، ثُمَّ يَصُبُّ فِيهِ مَاءً حَمِيمًا قَدِ انْتَهَى حَرُّهُ. ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: {ذُقْ} هَذَا الْعَذَابَ، {إِنَّكَ} قَرَأَ الْكِسَائِيُّ "أَنَّكَ" بِفَتْحِ الْأَلِفِ، أَيْ لِأَنَّكَ كُنْتَ تَقُولُ: أَنَا الْعَزِيزُ، وَقَرَأَ الْآخَرُونَ بِكَسْرِهَا عَلَى الِابْتِدَاءِ، {إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ} عِنْدَ قَوْمِكَ بِزَعْمِكَ، وَذَلِكَ أَنَّ أَبَا جَهْلٍ كَانَ يَقُولُ: أَنَا أَعَزُّ أَهْلِ الْوَادِي وَأَكْرَمُهُمْ، فَيَقُولُ لَهُ هَذَا خَزَنَةُ النَّارِ، عَلَى طَرِيقِ الِاسْتِحْقَارِ وَالتَّوْبِيخِ. {إِنَّ هَذَا مَا كُنْتُمْ بِهِ تَمْتَرُونَ} تَشُكُّونَ فِيهِ وَلَا تُؤْمِنُونَ بِهِ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٤ ص ١٨٢ سورة الدخان.

Scanned with CamScanner

۳. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِنَّ الْحَمِيمَ لَيُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ، فَيَنْفُذُ الْجُمْجُمَةَ حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ فَيَسْلُتَ مَا فِي جَوْفِهِ حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ. (۱)

بیشکه ګرمې اُوبه به د جهنمیانو په سَر باندې اړولې شي پس دا اُوبه به د دِماغو کوپړۍ ته اُورسيږي، تر دې چې دده خِېټې ته به اُورسي، دده په خِېټه کې چې هر څه وي هغه ټول به ټوټې ټوټې کړي، تر دې چې دا ګرمې اُوبه به دده په قدمونو باندې اُوځي.

٤. امام ضحاک رَحِمَهُ اللهُ (د جهنم د اُوبو ګرمائش بیانوي) فرمايي:

اَلْحَمِيمُ يَغْلِي مُنْذُ خَلَقَ اللهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ إِلَى يَوْمِ يُسْقَوْنَهُ وَيُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ. (۲)

دا ګرمې اُوبه د هغه وخت نه جُوش وهي د کوم وخت نه چې الله تعالی آسمانونه او زمکه پیدا کړي، او تر هغې وخته پورې به جوش وهي تر دې چې کله په جهنمیانو باندې دا اُوڅکلې شي، او د دوی په سرونو باندې به اَړولې شي.

## د جهنمیانو د ټولو نه سپَک عذاب هم ډیر خطرناک دی

د جهنمیانو د ټولو نه سپَک عذاب هم ډیر زیات خطرناک دی.

۱. د مسلم شریف او مشکوة شریف حدیث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

(۱) مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ج ۱۴ ص ۴۵۲ رقم الحديث ۸۸۶۴. المستدرک على الصحيحين للحاكم تَفْسِيرُ سُورَةِ الْحَجِّ رقم الحديث ۳۴۵۸ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَرَابِ أَهْلِ النَّارِ رقم الحديث ۲۵۸۲ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۵۲۷، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۴۰۶، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۶۷۹(۱۵). الزواجر ج ۲ ص ۴۲۰، صحيح الترغيب والترهيب فصل في شراب اهل النار رقم الحديث ۳۶۷۹(۱).

(۲) الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۲ ص ۴۲۰ خَاتِمَةٌ فِي ذِكْرِ أُمُورٍ أَرْبَعَةٍ اَلْأَمْرُ الثَّالِثُ فِي ذِكْرِ النَّارِ وَمَا يَتَعَلَّقُ بِهَا. صحيح الترغيب والترهيب فصل في شراب اهل النار رقم الحديث ۳۶۷۹(۱).

Scanned with CamScanner

إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِ الْمِرْجَلُ. مَا يَرَى أَنَّ أَحَدًا أَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا وَ إِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا. (١)

بيشکه په جهنميانو کې به د ټولو نه سپک عذاب د هغه چا وي چې د هغه په خپو کې به دوه (٢) د اُور پَنړې وي ، د پَنړو د پاسه به د اُور دوه تَسمې وي ، ددې دوارو (د ګرمائش) په وجه به دده دِماغ داسې جوش وهي لکه څنګه چې کټوی (ديګچې) جُوش وهي ، دا کس به دا ګمان نه کوي چې ګني بل کس دده نه په سخت عذاب کې مبتلاء دی (يعنی خپل ځان به د ټولو نه په سخت عذاب کې ګرفتار ګڼړي) حالانکه دا به په جهنميانو کې د ټولو نه په سپک عذاب کې مبتلاء وي .

**٣ .** دا حديث په بخاري شريف او مسلم شريف داسې هم ذکر دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ عَلَى أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ وَالْقُمْقُمُ . (٢)

بيشکه د قيامت په ورځ به د ټولو نه سپک عذاب د هغه چا وي چې د هغه د دوارو قدمونو تَلو لاندې به د اُور دوه (٢) سکروټې وي چې ددې په وجه به دده دِماغ داسې جوشيږي لکه څرنګې چې کټوی او د اُوبو ګوزه جوش وهي .

---

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ أَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا رقم الحديث ٣٦٤(٢١٣) . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الأَوَّلُ رقم الحديث ٥٦٦٧(٣) .

وفي رِوايةٍ : عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَنْتَعِلُ بِنَعْلَيْنِ مِنْ نَارٍ يَغْلِيْ دِمَاغُهُ مِنْ حَرَارَةِ نَعْلَيْهِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ أَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا رقم الحديث ٣٦١ (٢١١) . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٤١٣٤ .

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٦٢ ، ورقم الحديث ٦٥٦١ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ أَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا رقم الحديث ٣٢٣(٢١٣) ، سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٦٠٤ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٨٣٩٠ ، ورقم الحديث ١٨٣١٣ .

Scanned with CamScanner

# جهنميان به د اُور په زَنځيرونو او هَتكړو كې تړلي شي

جهنميانو ته به په خپو كې د اُور زنځيرونه ، په لاسونو كې د اُور هَتكړې ، او مَرى كې د اُور طوقونه اچولي شي .

**١** . په قرآن كريم كې ذكر دي چې چاته عمَلنامه په چَپ (گس) لاس كې وركړې شي دا به بيا افسوسونه كوي (١) نو الله تعالى به دداسې كس په باره كې فرښتو ته حكم اوكړي :

﴿ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ۝ ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ ۝ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ ۝ إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ ۝ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ۝ ﴾ .(٢)

ترجمه : دا اُونيسئ ، په غاړه كې ورته طوق (زنځير) واچوئ ، بيا يې جهنم ته داخل كړئ ، بيا يې په داسې زنځير كې داخل كړئ (ټينګ يې اُوتړئ ) چې د هغې اُوږدوالې آويا (٧٠) گزه دى، بيشكه ده (په دُنيا كې) په لوي الله باندې اِيمان نه لرلو ، او نه به يې (خپل كور والدته) د مسكين په خوراک باندې ترغيب وركولو . (٣)

---

(١) الله تعالى ددې بيان داسې كړى : ﴿ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ ۝ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ۝ يَا لَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ۝ مَا أَغْنَىٰ عَنِّي مَالِيَهْ ۝ هَلَكَ عَنِّي سُلْطَانِيَهْ ﴾ الحاقة آية ٢٥ تا ٢٩ .
ترجمه : او چاته چې د هغه عمَلنامه په چَپ لاس كې وركړې شي نو هغه به وايي : اې كاش ، چې ماته خپله عمَلنامه نه وې راكړې شوى ، او زه نه پوهيدلى چې زما حساب څه شى دى ؟ اې كاش چې دې مرگ زما فيصله كړې وى (زه ختم شوې وى) ، زما مال خو زما (هيڅ) په كار رانغى ، زما حكومت هم د ما نه هلاک (ختم) شو .

(٢) الحاقة آية ٣٠ تا ٣٤ .

(٣) {خُذُوهُ فَغُلُّوهُ} اِجْمَعُوا يَدَهُ إِلَى عُنُقِهِ. {ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ} أَيْ: أَدْخِلُوهُ الْجَحِيمَ. {ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ} فَأَدْخِلُوهُ فِيهَا. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا : سَبْعُونَ ذِرَاعًا بِذِرَاعِ الْمَلَكِ، فَتَدْخُلُ فِي دُبُرِهِ وَتَخْرُجُ مِنْ مَنْخَرِهِ . وَقِيلَ: تَدْخُلُ فِي فِيهِ وَتَخْرُجُ مِنْ دُبُرِهِ . وَقَالَ نَوْفٌ الْبَكَالِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : سَبْعُونَ ذِرَاعًا كُلُّ ذِرَاعٍ سَبْعُونَ بَاعًا كُلُّ بَاعٍ أَبْعَدُ مِمَّا بَيْنَكَ وَبَيْنَ مَكَّةَ، وَكَانَ فِي رَحْبَةِ الْكُوفَةِ . وَقَالَ سُفْيَانُ رَحِمَهُ اللَّهُ : كُلُّ ذِرَاعٍ سَبْعُونَ ذِرَاعًا . قَالَ الْحَسَنُ رَحِمَهُ اللَّهُ : اَللَّهُ أَعْلَمُ أَيُّ ذِرَاعٍ هُوَ . تفسير البغوي ج ٨ ص ٢١٢ سورة الحاقة في تفسير آية ٣٠ . وهكذا في تفسير القرطبي ج ١٨ ص ٢٧٢ .

۲ . بل ځاى الله تعالى د کافرانو په باره کې فرمايي :

﴿ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟ وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ﴾ .(۱)

ترجمه : بيشکه مونږ تيار کړي دي د کافرانو د پاره د خپو زنځيرونه ، د غاړې طوقونه ، او د جهنم بليدونکې سُور اُور .(۲)

۳ . بل ځاى الله ﷻ فرمايي : ﴿ إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴾ .(۳)

ترجمه : بيشکه مونږ سره ( په آخرت کې ) غټې غټې درنې بيړۍ ( يعنى د خپو زنځيرونه ) دي ، او د جهنم اُور دى .(۴)

---

(۱) الدهر آية ۴ .

(۲) { إِنَّآ أَعْتَدْنَا } هيأنا { لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟ } يسحبون بها في النار { وَأَغْلَٰلًا } في أعناقهم تشد فيها السلاسل { وَسَعِيرًا } نارا مسعرة أي مهيجة يعذبون بها . تفسير الجلالين سورة الدهر آية ۴ .

{إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ سَلَاسِلَ} يَعْنِي : فِي جَهَنَّمَ {وَأَغْلَالًا} يَعْنِي : فِي أَيْدِيهِمْ، تُغَلُّ إِلَى أَعْنَاقِهِمْ {وَسَعِيرًا} وَقُودًا شَدِيدًا . تفسير البغوي ج ۸ ص ۲۹۳ سورة الدهر آية ۴ .

(۳) المزمل آية ۱۲ .

(۴) { إِنَّ لَدَيْنَا} عِنْدَنَا فِي الْآخِرَةِ { أَنْكَالًا } قُيُودًا عِظَامًا لَا تَنْفَكُّ أَبَدًا . وَاحِدُهَا نَكْلٌ . قَالَ الْكَلْبِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : أَغْلَالًا مِنْ حَدِيدٍ . تفسير البغوي ج ۸ ص ۲۵۵ المزمل آية ۱۲ .

{إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا} قُيُودًا ثِقَالًا جَمْعُ نِكْل بِكَسْرِ النُّون {وَجَحِيمًا} نَارًا مُحْرِقَة . تفسير الجلالين سورة المزمل آية ۱۲ .

قَوْلُهُ تَعَالَى: ( إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا وَجَحِيمًا ) الْأَنْكَالُ: الْقُيُودُ. عَنِ الْحَسَنِ وَمُجَاهِدٍ وَغَيْرِهِمَا. وَاحِدُهَا نِكْلٌ، وَهُوَ مَا مَنَعَ الْإِنْسَانَ مِنَ الْحَرَكَةِ. وَقِيلَ: سُمِّيَ نِكْلًا، لِأَنَّهُ يُنَكَّلُ بِهِ. قَالَ الشَّعْبِيُّ: أَتَرَوْنَ أَنَّ اللهَ تَعَالَى جَعَلَ الْأَنْكَالَ فِي أَرْجُلِ أَهْلِ النَّارِ خَشْيَةَ أَنْ يَهْرُبُوا ؟ لَا وَاللهِ! وَلَكِنَّهُمْ إِذَا أَرَادُوا أَنْ يَرْتَفِعُوا اسْتَفَلَتْ بِهِمْ. وَقَالَ الْكَلْبِيُّ: الْأَنْكَالُ: الْأَغْلَالُ، وَالْأَوَّلُ أَعْرَفُ فِي اللُّغَةِ ... وَقِيلَ: إِنَّهُ أَنْوَاعُ الْعَذَابِ الشَّدِيدِ، قَالَهُ مُقَاتِلٌ. وَقَدْ جَاءَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (إِنَّ اللهَ يُحِبُّ النَّكَلَ عَلَى النَّكَلِ) بِالتَّحْرِيكِ. قَالَهُ الْجَوْهَرِيُّ. ←←←←←←

Scanned with CamScanner

## کافران به په زنځيرونو کې ذتړلو نه پس په ګرمو اُوبو کې راښکلې شي او جهنم ته به غورځولې شي

الله تعالى فرمايي:

﴿ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَاۤ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۛ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْۤ اَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلٰسِلُ ۭ يُسْحَبُوْنَ ۝ فِي الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ﴾.(١)

ترجمه: کومو خلقو چې د کتاب ( قرآن کريم ) تکذيب اوکړو ، او د هغه کتابونو ( او حکمونو) تکذيب يې اوکړو په کومو سره چې مونږ نور رسولان رالېږلي دي ( يعنى دا ټول يې دروغ اُوګڼړل) نو ډير زَر به دوی پوهه شي چې هر کله د دوی په څټونو کې طوقونه او (خپو کې) زنځيرونه وي ، دوی به (د جهنم) په ګرمو اُوبو کې راښکلې شي ، بيا به په اُور کې سوزولې شي.

## مُجرمان به په جهنم کې په زنځيرونو کې تړل شوي وي او د دوی قميصونه به د ګوګړو وي

مُجرمان به په جهنم کې په زنځيرونو کې تړل شوي وي او د دوی قميصونه به د ګوګړو وي. الله تعالى فرمايي:

﴿ وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَىِٕذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ۝ سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ﴾.(٢)

←←← قِيْلَ: وَمَا النَّكَلُ؟ قَالَ: (اَلرَّجُلُ الْقَوِيُّ الْمُجَرَّبُ، عَلَى الْفَرَسِ الْقَوِيِّ الْمُجَرَّبِ) ذَكَرَهُ الْمَاوَرْدِيُّ. قَالَ: وَمِنْ ذَلِكَ سُمِّيَ الْقَيْدُ نِكْلًا لِقُوَّتِهِ، وَكَذَلِكَ الْغُلُّ، وَكُلُّ عَذَابٍ قَوِيٍّ فَاشْتَدَّ. وَالْجَحِيْمُ النَّارُ الْمُؤَجَّجَةُ. تفسير القرطبي ج ١٩ ص ٤٦ سورة المزمل آية ١٢.

(١) المؤمن (غافر) آية ٧٠ تا ٧٢.

(٢) ابراهيم آية ٤٩، ٥٠.

ترجمه: او ته به ګورې مُجرمان په دغه ورځ باندې چې په زنځيرونو کې به تړلې شوي وي، د دوی قميصونه به د ګوګړو (رانځرو) وي (ددې د پاره چې اُور زر واخلي)، او اُور به د دوی مخونه پټ کړي وي.

## د جهنم زنځيرونه به ډير اُوږده وي

جهنميان چې په کوم زنځير کې تړلې شي نو هغه به ډير زيات اُوږد وي، په قرآن کريم کې ددې زنځير اُوږدوالې آويا (٧٠) ګزه ذکر شوی.(١)

خو ددينه د آخرت ګزونه مراد دي، چې د هغې مقدار صرف الله تعالى ته معلوم دی، يا ددې آويا ګزونه مراد کثرت دی، يعنی دا زنځيرونه به ډير اُوږده وي.(٢)

ددې زنځير اُوږدوالې په يو حديث کې ذکر شوی، رسول الله ﷺ فرمايي:

لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً مِثْلَ هٰذِهِ ـ وَأَشَارَ إِلَى مِثْلِ الْجُمْجُمَةِ ـ أُرْسِلَتْ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، وَهِيَ مَسِيْرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ لَبَلَغَتِ الْأَرْضَ قَبْلَ اللَّيْلِ، وَلَوْ أَنَّهَا أُرْسِلَتْ مِنْ رَأْسِ السِّلْسِلَةِ لَسَارَتْ أَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ أَنْ تَبْلُغَ أَصْلَهَا أَوْ قَعْرَهَا.(٣)

---

(١) الله تعالى فرمايي: ﴿ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ ﴾. الحاقة آية ٣٢.

ترجمه: بيا يې په داسې زنځير کې داخل کړئ (تينګ يې اُوتړئ) چې د هغې اُوږدوالې آويا (٧٠) ګزه دی.

(٢) (ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا) اَللّٰهُ أَعْلَمُ بِأَيِّ ذِرَاعٍ، قَالَهُ الْحَسَنُ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: سَبْعُونَ ذِرَاعًا بِذِرَاعِ الْمَلَكِ. وَقَالَ نَوْفٌ: كُلُّ ذِرَاعٍ سَبْعُونَ بَاعًا، وَكُلُّ بَاعٍ أَبْعَدُ مَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ مَكَّةَ. وَكَانَ فِي رَحْبَةِ الْكُوفَةِ. تفسير القرطبي ج ١٨ ص ٢٧٢. تفسير البغوي ج ٨ ص ٢١٢ سورة الحاقة في تفسير آية ٣٢.

{ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا} طولها {سَبْعُونَ ذِرَاعًا} بذراع الملك عن ابن جريج وقيل لا يعرف قدرها إلّا الله. تفسير النسفي (مدارک التنزيل وحقائق التأويل) ج ٣ ص ٥٣٢

(٣) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٥٨٨ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ حَسَنٌ. مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رقم الحديث ٦٨٥٦، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٦٢، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الثَّانِي. رقم الحديث ٥٦٨٨(٢٤). الزهد والرقائق لابن المبارک ج ٢ ص ٨٤، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٤٧٣.

Scanned with CamScanner

که چيرته د سِيکې يوه حصه ددې په شان (په دې وخت کې نبي عليه السلام د سَر کوپړې په شان څيز ته اِشاره اوکړه. يعنى د سَر په شان ګول او درَنه سِيکه) د آسمان نه زمکې طرف ته راأوغورځولې شي حالانکه د آسمان نه تر زمکې پورې د پنځه سوه (۵۰۰) کاله مسافت په اندازه مزل دی خو بيا به هم دا سيکه د شپې تيريدو نه مخکې مخکې (په مختصر وخت کې) زمکې ته راأورسي، خو که همدغه د سِيکې ګوله د هغه زنځير د سَر نه راأوغورځولې شي (په کوم زنځير باندې چې جهنميان تړلې شي) او دا سِيکه څلويښت (۴۰) کاله شپه او ورځ په ښکته راروانه وي خو بيا به هم ددې زنځير بيخ ته را أو نه رسي.

سبحان الله. د آسمان نه تر زمکې پورې پنځه سوه (۵۰۰) کاله مزل دی خو بيا هم نبي عليه السلام فرمايي چې دا سِيکه به په ډير لږ وخت کې زمکې ته راأورسي ليکن د جهنم هغه زنځير به دومره أوږد وي چې هغه سيکه به مسلسل څلويښت (۴۰) کاله مزل اوکړي خو بيا به هم د زنځير بيخ ته راأو نه رسي.

## د جهنم زنځيرونه به ډير درَانه وي

جهنميان چې په کوم زنځير تړلې شي هغه به دومره درُوند وي که چيرته د هغې يوه کړۍ د غر په سَر باندې کيښودلې شي نو مکمل غر به د تانبې په شان ويلي کړي، او ددې زنځير يوه کړۍ د ټولې دُنيا د أوسپنو نه ډيره درَنه ده. (۱)

## د جهنم په زنځيرونو کې د کافرانو تړلو کيفيت

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا فرمايي چې دا زنځير به د کافر په دُبره کې داخل کړې شي او ده په خُله به راأويستلې شي، بيا به داسې په دې زنځيرونو کې واچولې شي لکه ملخان چې د وريتولو د پاره په سيخ کې ټومبلې شي.

د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا نه دا هم نقل دي چې دا زنځير به د کافر په دُبره کې داخل کړې شي او ده د پُوزو په دواړو سُورو به راأويستلې شي چې بيا به په خپو باندې د أودريدو قوت هم نه

---

(۱) وَقَالَ مُقَاتِلٌ: لَوْ أَنَّ حَلَقَةً مِنهَا وُضِعَتْ عَلَى ذِرْوَةِ جَبَلٍ لَذَابَ كَمَا يَذُوبُ الرَّصَاصُ. وَقَالَ كَعْبٌ: إِنَّ حَلَقَةً مِنَ السِّلْسِلَةِ الَّتِي قَالَ اللهُ تَعَالَى ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا أَنَّ حَلَقَةً مِنهَا مِثْلُ جَمِيعِ حَدِيدِ الدُّنْيَا. تفسير القرطبي ج ۱۸ ص ۲۷۲. وهكذا في تفسير البغوي ج۸ ص ۲۱۲ سورة الحاقة في تفسير آية ۳۲.

Scanned with CamScanner

لري. (١)

# کافران به د اوسپنو په ګرزونو باندې وهلې شي

الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَهُم مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ ۞ كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ﴾. (٢)

ترجمه: او ددوى (كافرانو د وهلو) د پاره به د اوسپنې ګرزونه وي، هر كله چې دوى د (ډير) غَم په وجه د جهنم نه د وتلو اِراده اوكړي نو (د ګرزونو په وهلو سره) دوباره به دې جهنم ته واپس كولې شي، (او دا به ورته ويلې شي:) تاسو سوزوونكې عذاب اُوڅكئ.

مُفسرينو ليكلي چې د جهنم لمبې به دا كافران دومره لرې اُوغورځوي چې دوى به د جهنم نه د وتلو اِراده اوكړي نو زَبانيه فرښتې به دوباره دوى په ګرزونو باندې اُووهي او جهنم ته به يې اُوغورځوي. (٣)

---

(١) قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ رَحِمَهُ اللَّهُ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: (فَاسْلُكُوهُ) تَدْخُلُ فِي إِسْتِهِ ثُمَّ تَخْرُجُ مِنْ فِيهِ ثُمَّ يُنْظَمُونَ فِيهَا كَمَا يُنْظَمُ الْجَرَادُ فِي الْعُودِ حِينَ يُشْوَى. وَقَالَ الْعَوْفِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: يُسْلَكُ فِي دُبُرِهِ حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ مَنْخِرَيْهِ حَتَّى لَا يَقُومَ عَلَى رِجْلَيْهِ. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٢٣٢ سورة الحاقة في تفسير آية ٣٢.

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: ... فَتَدْخُلُ فِي دُبُرِهِ وَتَخْرُجُ مِنْ مَنْخَرِهِ. وَقِيلَ: تَدْخُلُ فِي فِيهِ وَتَخْرُجُ مِنْ دُبُرِهِ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٢١٢ سورة الحاقة في تفسير آية ٣٠. وهكذا في تفسير القرطبي ج ١٨ ص ٢٧٢.

(٢) الحج آية ٢١، ٢٢.

(٣) {كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ} أَيْ: كُلَّمَا حَاوَلُوا الْخُرُوجَ مِنَ النَّارِ لِمَا يَلْحَقُهُمْ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ الَّذِي يَأْخُذُ بِأَنْفَاسِهِمْ {أُعِيدُوا فِيهَا} أَيْ: رُدُّوا إِلَيْهَا بِالْمَقَامِعِ. وَفِي التَّفْسِيرِ: إِنَّ جَهَنَّمَ لَتَجِيشُ بِهِمْ فَتُلْقِيهِمْ إِلَى أَعْلَاهَا فَيُرِيدُونَ الْخُرُوجَ مِنْهَا فَتَضْرِبُهُمُ الزَّبَانِيَةُ بِمَقَامِعَ مِنَ الْحَدِيدِ فَيَهْوُونَ فِيهَا سَبْعِينَ خَرِيفًا. {وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ} أَيْ: تَقُولُ لَهُمُ الْمَلَائِكَةُ: ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ، أَيِ: الْمُحْرِقِ، مِثْلُ الْأَلِيمِ وَالْوَجِيعِ. تفسير البغوي ج ٥ ص ٣٧٥.

أَمَّا قَوْلُهُ: (كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا) فَاعْلَمْ أَنَّ الْإِعَادَةَ لَا تَكُونُ إِلَّا بَعْدَ ←←←

Scanned with CamScanner

## د جهنم د ګرزونو درُوندوالې

د جهنم ګرزونه به دومره درانه وي چې ټول انسانان او پيريان به يې نشي اُوچتولی.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

لَوْ أَنَّ مِقْمَعًا مِنْ حَدِيْدٍ وُضِعَ فِي الْأَرْضِ فَاجْتَمَعَ لَهُ الثَّقَلَانِ مَا أَقَلُّوْهُ مِنَ الْأَرْضِ. (١)

که چيرته د اُوسپنې يو ګرز (په کوم باندې چې جهنميان وهلې شي، دا) په زمکه باندې کيښودلې شي بيا ټول انسانان او جِنّات ددې (د اُوچتولو) د پاره راجمع شي خو بيا به يې هم د زمکې نه اُوچت نکړي.

## د جهنم په ګرز باندې وهلو سره ټول اندامونه جدا جدا کيدل

سعيد بن جُبير رَحِمَهُ الله فرمايي: ... په دې ګرز باندې چې کله جهنمي اُووهلې شي نو ټول اندامونه به يې د بدن نه اُوغورځيږي او چغې سُورې به وهي.

(اندامونه به يې بيا روغ شي او په دې عذاب کې به ګرفتار وي). (٢)

←←← الْخُرُوْجِ. وَالْمَعْنَى كُلَّمَا أَرَادُوْا أَنْ يَخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ فَخَرَجُوْا أُعِيْدُوْا فِيْهَا. وَمَعْنَى الْخُرُوْجِ مَا يُرْوَى عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ النَّارَ تَضْرِبُهُمْ بِلَهَبِهَا فَتَرْفَعُهُمْ حَتَّى إِذَا كَانُوْا فِيْ أَعْلَاهَا ضربوا بالمقاطع فَهَوَوْا فِيْهَا سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا. وَقِيْلَ لَهُمْ (ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ) وَالْحَرِيْقُ الْغَلِيْظُ مِنَ النَّارِ الْعَظِيْمُ الْإِهْلَاكِ. التفسير الكبير ج ٢٣ ص ٢١٥.

(١) المستدرک علی الصحيحين للحاکم ج ٤ ص ٦٤٢ كِتَابُ الْأَهْوَالِ رقم الحديث ٨٧٧٣ وقال الحاکم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٢٣٣، الترغيب والترهيب للمنذري فصل في سلاسلها وغير ذلک رقم الحديث ٥٥٧٤، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٥٨٣، کنزالعمال رقم الحديث ٣٩٤٩٠، الزواجر ج ٢ ص ٤١٩، تفسير ابن کثير ج ٥ ص ٤٠٧ سورة الحج في تفسير آية ٢١. الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٦ ص ٢٢.

(٢) عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ رَحِمَهُ الله قَالَ ... ثُمَّ يُضْرَبُوْنَ بِمَقَامِعَ مِنْ حَدِيْدٍ، فَيَسْقُطُ كُلُّ عُضْوٍ عَلَى حِيَالِهِ، يَدْعُوْنَ بِالثُّبُوْرِ. تفسير ابن کثير ج ٧ ص ٢١ سورة الصافات في تفسير آية ٦٧. تفسير الطبري ج ١٦ ص ٤٩٧، حلية الاولياء ج ٤ ص ٢٨٥، الدرالمنثور ج ٦ ص ٢١.

Scanned with CamScanner

## جهنمي به په ګرز باندې لړیدو سره ځان د جهنم په تالاب کې غوپه کړي

مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ فرمايي:

إِذَا أَحَسَّ أَهْلُ النَّارِ فِي النَّارِ بِضَرْبِ الْمَقَامِعِ انْغَمَسُوا فِي حِيَاضِ الْجَحِيمِ فَيَذْهَبُونَ سِفَالًا سِفَالًا كَمَا يَغْرَقُ الرَّجُلُ فِي الْمَاءِ فِي الدُّنْيَا يَذْهَبُ سِفَالًا سِفَالًا. (١)

چې کله جهنمیان په اور کې د اوسپنې په ګرزونو باندې وهلو سره دَردمند شي نو د (ځان خلاصولو د پاره د) جهنم د ګرمو اوبو په تالاب کې به غوپه اووهي، په دې کې به مسلسل همداسې ښکته روان وي لکه څرنګې چې په دُنیا کې څوک په اوبو کې غرق شي او همداسې ښکته په اوبو کې روان وي.

## کافرانو ته به په جهنم کې د اور په غر باندې د ختلو سزا ورکولې شي

" صَعُوْد " په جهنم کې د اور غردی چې کافران به په زوره په دې غر باندې خیجولې شي او دوی به واپس ورنه راغورځیږي. دوی به مسلسل په دې عذاب کې ګرفتار وي.

١. الله تعالی فرمايي: ﴿ سَأُرْهِقُهُ صَعُوْدًا ﴾.(٢)

ترجمه: ډیر زر به زه دې کافر له د جهنم په غر باندې په زور اوخیجوم. (٣)

٢. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

اَلصَّعُوْدُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يَتَصَعَّدُ فِيهِ الْكَافِرُ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا وَيَهْوِيْ فِيهِ كَذٰلِكَ مِنْهُ أَبَدًا.

" صَعُوْد " په جهنم کې (د اور) یو غردی چې په دې باندې به کافر اویا (٧٠) کاله بَره (په ډیر مشقت سره) خیجي او د هغې نه به بیا ښکته راغورځي، دا به مسلسل په همدې

---

(١) الزهد لاحمد بن حنبل ج ١ ص ٢٥٨ رقم ١٨٦٠ . الزهد والرقائق لابن المبارک والزهد لنعیم بن حماد ج ٢ ص ٩ ، التخويف من النار لابن رجب الحنبلي الباب الخامس عشر فصل في تفسير قوله تعالى: "ولهم مقامع من حديد" ص ١٣٠ .

(٢) المدثر آية ١٧ .

(٣) قَوْلُهُ تَعَالَى: ( سَأُرْهِقُهُ ) أَيْ سَأُكَلِّفُهُ. وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ: سَأُلْجِئُهُ. وَالْإِرْهَاقُ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ: أَنْ يُحْمَلَ الْإِنْسَانُ عَلَى الشَّيْءِ. تفسير القرطبي ج ١٩ ص ٧٣ .

Scanned with CamScanner

عذاب کې گرفتار وي. (١)

٣ . مُفسرينو ليکلي چې په صَعود غر باندې کله کافر لاس يا خپې کيږدي نو دومره به گرم وي چې سمدست به دده لاس او خپې ويلې شي ، خو الله تعالى به يې ورته واپس جوړ کړي چې باربار دا عذاب اُوڅکي. (٢)

امام کلبي رَحِمَهُ اللّٰه فرمايي چې صَعود په جهنم کې ځويه کانړې دی ، کافر به مجبور کولې شي چې په دې باندې بَره اُوخيجي ، تر دې چې دا کافر به ساه ويستلو ته هم نشي پريخودلى بلکه د مخکې طرف نه به د اُوسپنې په زنځيرونو باندې راښکلې شي او شاته نه به د اُوسپنې په گرزونو باندې وهلې شي ، دا کافر به په ډيرو تکليفونو سره په څلويښت (٤٠) کاله کې ددې غرسَر ته اُوخيجي نو د هغه ځای نه به بيا ښکته رااُوخويولې شي تر دې چې د جهنم بېخ ته به رااُورسولې شي ، بيا به دوباره په همدې طريقې سره مجبور کړې شي چې پاس اُوخيجي ، پس دا کافر به مسلسل په همدې عذاب کې گرفتار وي. (٣)

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ قَعْرِ جَهَنَّمَ رقم الحديث ٢٥٧٦ ، ورقم الحديث ٣٣٢٦ أَبْوَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابٌ وَمِنْ سُورَةِ الْمُدَّثِّرِ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٧٦٤ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ" ووافقه الذهبي. تفسير الطبري ج ٢٣ ص ٤٢٧ ، تفسير البغوي ج ٥ ص ١٧٥ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٥٥٦ ، تفسير القرطبي ج ١٩ ص ٧٣ ، تفسير البيضاوي ج ٥ ص ٢٦٠ ، تفسير النسفي ج ٣ ص ٥٦٤ سورة المدثر في تفسير آية ١٧ . صفوة التفاسير ج ٣ ص ٤٥٢ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم ٥٦٧٧(١٣) ، كنز العمال رقم ٢٩٣٥ .

(٢) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: "سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا" قَالَ: هُوَ جَبَلٌ فِي النَّارِ مِنْ نَارٍ يُكَلَّفُ أَنْ يَصْعَدَهُ فَإِذَا وَضَعَ يَدَهُ ذَابَتْ . فَإِذَا رَفَعَهَا عَادَتْ فَإِذَا وَضَعَ رِجْلَهُ ذَابَتْ وَإِذَا رَفَعَهَا عَادَتْ . تفسير البغوي ج ٨ ص ٢٦٨ سورة المدثر في تفسير آية ١٧ .

وَرَوَى عَطِيَّةُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه قَالَ: " اَلصَّعُوْدُ " صَخْرَةٌ فِي جَهَنَّمَ إِذَا وَضَعُوا عَلَيْهَا أَيْدِيَهُمْ ذَابَتْ فَإِذَا رَفَعُوهَا عَادَتْ . تفسير القرطبي ج ١٩ ص ٧٣ .

(٣) وَقَالَ الْكَلْبِيُّ رَحِمَهُ اللّٰه : " اَلصَّعُوْدُ " صَخْرَةٌ مَلْسَاءُ فِي النَّارِ يُكَلَّفُ أَنْ يَصْعَدَهَا لَا يُتْرَكُ أَنْ يَتَنَفَّسَ فِي صُعُودِهِ، وَيُجْذَبُ مِنْ أَمَامِهِ بِسَلَاسِلَ مِنْ حَدِيدٍ، وَيُضْرَبُ مِنْ خَلْفِهِ بِمَقَامِعَ مِنْ حَدِيدٍ. فَيَصْعَدُهَا فِي أَرْبَعِينَ عَامًا فَإِذَا بَلَغَ ذِرْوَتَهَا أُحْدِرَ إِلَى أَسْفَلِهَا . ثُمَّ يُكَلَّفُ أَنْ يَصْعَدَهَا وَيُجْذَبُ مِنْ أَمَامِهِ وَيُضْرَبُ مِنْ خَلْفِهِ فَذَلِكَ دَأْبُهُ أَبَدًا أَبَدًا . تفسير البغوي ج ٨ ص ٢٦٨ سورة المدثر في تفسير آية ١٧ . تفسير القرطبي ج ١٩ ص ٧٣ .

Scanned with CamScanner

# د جهنمیانو خوراک

په جهنم کې به جهنمیانو ته څلور (۴) قِسمه خوراک ورکولې شي :

۱. زَقُوم اُونه.   ۲. غِسْلِیْن (یعنی د جهنمیانو د زخمونو پیپ او نَوُونه)

۳. ذَا غُصَّه (یعنی په مَری کې نَختونکې خوراک).

٤. ضَرِیْع (یعنی اَزغي دار بوټې).

دا څلور قِسمه خوراکونه دومره خطرناک دي چې ددې خوړل به د جهنمي د پاره لوی عذاب وي.

چونکه د جهنم مختلف حصې دي په دې هر حصه کې به جهنمیانو ته مختلف قِسمه خراب خوراکونه او خرابې اُوبه ورکولې شي. (۱)

د قرآن کریم او احادیثو نه درته ددې هر یو خوراک څه تفصیل بیانوم :

## ۱. د زقوم د اُونې نه خوراک

## د زقوم اُونه به د وِیلې شوې تانبې په شان په خېټه کې داسې جوش وهي لکه ګرمې اُوبه

الله تعالی فرمایي :

﴿إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ۝ طَعَامُ الْأَثِيْمِ ۝ كَالْمُهْلِ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ۝ كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ ﴾.(۲)

ترجمه : بیشکه د زقوم اُونه به د ګناهګارانو (کافرانو) خوراک وي، د تېلو د خِیري په شان (یا د وِیلې شوې تانبې په شان) به وي، دا به (دومره ګرم وي چې) په خېټه کې د

(۱) وَوَجْهُ الْجَمْعِ أَنَّ النَّارَ دَرَكَاتٌ. فَمِنْهُمْ مَنْ طَعَامُهُ الزَّقُّوْمُ، وَمِنْهُمْ مَنْ طَعَامُهُ الْغِسْلِيْنُ. وَمِنْهُمْ مَنْ طَعَامُهُ الضَّرِيْعُ، وَمِنْهُمْ مَنْ شَرَابُهُ الْحَمِيْمُ، وَمِنْهُمْ مَنْ شَرَابُهُ الصَّدِيْدُ. قَالَ الْكَلْبِيُّ: اَلضَّرِيْعُ فِيْ دَرَجَةٍ لَيْسَ فِيْهَا غَيْرُهُ. وَالزَّقُّوْمُ فِيْ دَرَجَةٍ أُخْرَى. تفسير القرطبي ج ۲۰ ص ۳۱ سورة الغاشية في تفسير آية ۴.

(۲) الدخان آية ۴۳ تا ۴٦.

ګرمو څوټکيدلو اُوبو په شان جوش وهي.

**تشريح**: د زقوم اُونه ډيره ترخه ده، خوَند او بُوئ يې ډير خراب دی، دا به په جهنميانو باندې په زُوره خوړلې شي، او ددې خوراک به د دوی د پاره غټ عذاب وي. (١)

د زقوم اونې ته " اَلشَّجَرَةُ الْمَلْعُوْنَةَ " هم وايي، کله چې جهنميان اُوږي شي او ددينه خوراک اوکړي نو دا به د دوی په خېټو کې داسې جوش وهي لکه څنګه چې ګرمې اُوبه څوټکيږي. (٢)

## دزقوم اُونه د جهنم په مينځ کې ده، په جهنميانو به ددې د خوراک نه پس ګرمې اُوبه څکلې شي

**١.** الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيٓ أَصْلِ الْجَحِيمِ ۝ طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ الشَّيَٰطِينِ ۝ فَإِنَّهُمْ لَءَاكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ۝ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ۝ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴾. (٣)

---

(١) قَالَ الشَّارِحُ: اَلزَّقُّوْمُ شَجَرَةٌ خَبِيْثَةٌ مُرَّةٌ كَرِيْهَةُ الطَّعْمِ وَالرَّائِحَةِ، يُكْرَهُ أَهْلُ النَّارِ عَلَى تَنَاوُلِهِ. مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٦٢٠.

(٢) وشَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ: اَلشَّجَرَةُ الَّتِيْ خَلَقَهَا اللهُ فِيْ جَهَنَّمَ وَسَمَّاهَا الشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ. فَإِذَا جَاعَ أَهْلُ النَّارِ الْتَجَئُوْا إِلَيْهَا فَأَكَلُوْا مِنْهَا، فَغَلَيَتْ فِيْ بُطُوْنِهِمْ كَمَا يَغْلِي الْمَاءُ الْحَارُّ. وَشَبَّهَ مَا يَصِيْرُ مِنْهَا إِلَى بُطُوْنِهِمْ بِالْمُهْلِ، وَهُوَ النُّحَاسُ الْمُذَابُ. تفسير القرطبي ج ١٦ ص ١٤٩ سورة الدخان في تفسير آية ٤٣.

په قرآن کريم کې هم د زقوم اُونې ته "الشجرة المعلونة" ويل شوی، الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْءَانِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴾. الاسراء آية ٦٠.

(٣) الصافات آية ٦٤ تر ٦٨.

Scanned with CamScanner

ترجمه : بيشکه زقوم داسې اُونه ده چې د جهنم په مينځ کې به رااُوځي ، ددې غونچې به داسې (بَدرنګه) وي لکه د شيطانانو سرونه (يا د مارانو سرونه) ، پس بيشکه جهنميان به ددينه ضرور خوراک کوي او ددينه به خېټې ډکوي ، بيا به د دوی د پاره ددې د پاسه ګډون د ګرمو اُوبو وي (يعنی د زقوم خوړلو نه پس به ورله خوټکيدلې ګرمې اُوبه ورکولې شي چې دا به د هغه خوراک سره خلط شي) ، بيا به د دوی جهنم طرف ته واپس ګرځيدل وي.

**تشريح** : الله تعالى د زقوم اُونې د غُونچکو تَشبِيه د شيطانانو د سَرونو سره ورکړه اګر چې د شيطانانو سَرونه چا ليدلي ندي خو د هر چا په ذهن کې دا خبره شته چې د شيطانانو سرونه ډير قبيح او بَدرنګ دي.

يا ددينه مراد " د مارانو سرونه " دي ، يا ددينه مراد "يو قِسم اُونه ده چې د هغې غونچکې ډيرې بَدرنګې دي". (مفسّرينو ددې آيت ډير ښه تحقيق هم کړی) .(١)

---

(١) وَقَوْلُهُ: { إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْ أَصْلِ الْجَحِيْمِ } أَيْ: أَصْلُ مَنْبَتِهَا فِيْ قَرَارِ النَّارِ. {طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوْسُ الشَّيَاطِيْنِ} تَبْشِيْعٌ لَهَا وَتَكْرِيْهٌ لِذِكْرِهَا. قَالَ وَهْبُ بْنُ مُنَبِّهٍ: شُعُوْرُ الشَّيَاطِيْنِ قَائِمَةٌ إِلَى السَّمَاءِ. وَإِنَّمَا شَبَّهَهَا بِرُءُوْسِ الشَّيَاطِيْنِ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ مَعْرُوْفَةً عِنْدَ الْمُخَاطَبِيْنَ؛ لِأَنَّهُ قَدِ اسْتَقَرَّ فِي النُّفُوْسِ أَنَّ الشَّيَاطِيْنَ قَبِيْحَةُ الْمَنْظَرِ. وَقِيْلَ: اَلْمُرَادُ بِذَلِكَ ضَرْبٌ مِنَ الْحَيَّاتِ رُءُوْسُهَا بَشِعَةُ الْمَنْظَرِ. وَقِيْلَ: جِنْسٌ مِنَ النَّبَاتِ طَلْعُهُ فِيْ غَايَةِ الْفَحَاشَةِ. وَفِيْ هَذَيْنِ الْإِحْتِمَالَيْنِ نَظَرٌ، وَقَدْ ذَكَرَهُمَا ابْنُ جَرِيْرٍ. وَالْأَوَّلُ أَقْوَى وَأَوْلَى. وَاللهُ أَعْلَمُ.
وَقَوْلُهُ: {فَإِنَّهُمْ لَآكِلُوْنَ مِنْهَا فَمَالِئُوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ} ، ذَكَرَ تَعَالَى أَنَّهُمْ يَأْكُلُوْنَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ الَّتِيْ لَا أَبْشَعَ مِنْهَا، وَلَا أَقْبَحَ مِنْ مَنْظَرِهَا، مَعَ مَا هِيَ عَلَيْهِ مِنْ سُوْءِ الطَّعْمِ وَالرِّيْحِ وَالطَّبْعِ، فَإِنَّهُمْ لَيَضْطَرُّوْنَ إِلَى الْأَكْلِ مِنْهَا، لِأَنَّهُمْ لَا يَجِدُوْنَ إِلَّا إِيَّاهَا، وَمَا فِيْ مَعْنَاهَا، كَمَا قَالَ تَعَالَى {لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ. لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ} [الْغَاشِيَة: ٦، ٧]. تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٢٠ سورة الصافات آية ٦٤ .

قوله تعالى: (تَخْرُجُ فِيْ أَصْلِ الْجَحِيْمِ) أي: في قَعْر النّار. قال الحسن: أُصلُها في قَعْر النّار، وأغصانها ترتفع إلى دَرَكاتها. (طَلْعُهَا) أي: ثمرها، وسُمِّي طَلْعًا لطلوعه (كَأَنَّهُ رُؤُسُ الشَّيَاطِيْنِ) فإن قيل: كيف شبَّهها بشيءٍ لم يُشاهَد؟ فعنه ثلاثة أجوبة: أحدها: أنه قد استقرّ في النفوس قُبح الشياطين وإن لم تُشاهَد فجاز تشبيهها بما قد عُلِمَ قُبحه .... والثاني: أنّ بين مكّة واليمن شجرا يسمى رؤوس الشياطين ←←←←←←

٢. بل ځاى الله تعالى فرمايي :

﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَآكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٥٣﴾ فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ﴿٥٤﴾ فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّينِ ﴾.(١)

ترجمه : اې ګمراهانو دروغ ګڼرونكو ! بيا به تاسو خامخا د زقوم د ونې نه خوراک كوئ ، بيا به د دينه خېټې ډكوئ ، بيا به ( د خوراک نه پس ) ددې د پاسه ګرمې ځوټكيدلې اوبه څكئ ، پس دوى به دا د سخت تږي اوښ د اوبو څكلو په شان څكئ ، دا به د قيامت په ورځ د دوى ميلمستيا وي.

**تشريح** : "هِيم" تږي اوښ ته وايي ، يا دا په اوښانو كې يو بيماري ده چې د تندې په وجه مسلسل اوبه څكي خو تنده يې نه ماتيږي ، دومره ډيرې اوبه اوڅكي چې آخر مړ شي.

نو جهنميان به هم د زقوم اونې خوړلو نه پس د تږي اوښ په شان ګرمې اوبه مسلسل څكي خو تنده به يې نه ختميږي .(٢)

---

←←← فشبّهها بها. قاله ابن السائب. والثالث: أنه أراد بالشياطين: حيّات لها رؤوس ولها أعراف، فشبه طلعها برءوس الحيّات. ذكره الزجاج. قال الفراء: والعرب تسمّي بعض الحيّات شيطاناً، وهو حيّة ذو عُرْف قبيحُ الوجه. زاد المسير في علم التفسير ج ٣ ص ٥٤٣ .

{ إِنَّهَا شَجَرَة تَخْرُج فِي أَصْلِ الْجَحِيم } أَيْ قَعْر جَهَنَّم وَأَغْصَانهَا تَرْتَفِع إِلَى دَرَكَاتهَا . { طَلْعُهَا } المشبه بطلع النخل { كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِين } الْحَيَّات الْقَبِيحَة الْمَنْظَر. تفسير الجلالين ص ٥٩١ .

(١) الواقعة آية ٥١ تا ٥٦ .

(٢) وَ "الْهِيمُ" الْإِبِلُ الْعِطَاش. قَالَ عِكْرِمَةُ وَقَتَادَةُ : الْهُيَامُ: دَاءٌ يُصِيبُ الْإِبِلَ لَا تُرْوَى مَعَهُ ، وَلَا تَزَالُ تَشْرَبُ حَتَّى تَهْلَكَ ... وَقَالَ الضَّحَّاكُ وَابْنُ عُيَيْنَةَ: " الْهِيمُ " الْأَرْضُ السَّهْلَةُ ذَاتُ الرَّمْلِ. تفسير البغوي ج ٨ ص ١٩ .

وَالْهِيمُ : الْإِبِلُ العطاش التي لا تروى لِدَاءٍ يُصِيبُهَا، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَعِكْرِمَةَ وَقَتَادَةَ وَالسُّدِّيِّ وَغَيْرِهِمْ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ أَيْضًا: هِيَ الْإِبِلُ الْمِرَاضُ. الضَّحَّاكُ: الْهِيمُ الْإِبِلُ يُصِيبُهَا دَاءٌ تَعْطَشُ مِنْهُ عَطَشًا شَدِيدًا ... وَقَالَ الضَّحَّاكُ وَالْأَخْفَشُ وَابْنُ عُيَيْنَةَ وَابْنُ كَيْسَانَ: الْهِيمُ : الْأَرْضُ السَّهْلَةُ ذَاتُ الرَّمْلِ. وَ رُوِيَ أَيْضًا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : فَيَشْرَبُونَ شُرْبَ الرِّمَالِ الَّتِي لَا تُرْوَى بِالْمَاءِ . تفسر القرطبي ج ١٧ ص ٢١٤ .

Scanned with CamScanner

سعيد بن جُبير رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : چې کله جهنميان د اُولږې نه فرياد اوکړي :

فَأُغِيثُوا بِشَجَرَةِ الزَّقُّومِ .

نو د دوی فريادرَسي به د زقوم په اُونې سره اوکړې شي ( يعنی د خوراک د پاره به ورته زقوم ورکړې شي ) .

کله چې دوی دا اُوخوري نو ( د ډير ګرمائش په وجه ) د دوی د مخ څرمن به رااُوغورځيږي ، که چيرته يو تيريدونکې کس په دوی باندې تېر شي نو دوی به د مخ د څرمن په وجه اُوپيژني ( چې دوی زقوم خوړلی ) ، بيا به په دې جهنميانو باندې سخته تَنده اُولږې او د تَندې نه به فرياد اوکړي .نو د دوی فرياد رَسي به په داسې اُوبو سره اوکړې شي چې د ويلې شوې تانبې ( يا د تېلو د خِيري ) په شان به وي چې د هغې ګرمائش به آخري دِګرې ته رسيدلې وي ، کله چې دوی دا اُوبه خپلو مخونو ته نزدې کړي نو ددې د ګرمائش په وجه به د دوی د مخونو غوښې وريتې شي د کوموُ نه چې څرمن ( د مخکې نه ) غورځيدلې وي . (١)

## که د زقوم اُونې يو څاڅکې دُنياته رااُوڅاڅي نو د ټولې دُنيا خلقو ژوند به تباه کړي

١ . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّوْمِ قُطِرَتْ فِي الْأَرْضِ لَأَفْسَدَتْ عَلَىٰ أَهْلِ الدُّنْيَا مَعَائِشَهُمْ ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُوْنُ طَعَامُهُ ؟

قَسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې د محمد ( يعنی زما ) ساه ده که چيرته د زقوم د اُونې يو څاڅکې زمکې ته رااُوڅڅولې شي نو ( د سختې بَدبُوئی ، تريخوالي او

---

(١) قَالَ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ رَحِمَهُ اللهُ : إِذَا جَاءَ أَهْلُ النَّارِ اسْتَغَاثُوْا. فَأُغِيثُوْا بِشَجَرَةِ الزَّقُّوْمِ فَيَأْكُلُوْنَ مِنْهَا. فَاخْتَلَسَتْ جُلُوْدَ وُجُوْهِهِمْ. فَلَوْ أَنَّ مَارًّا مَرَّ بِهِمْ يَعْرِفُهُمْ لَعَرَفَ جُلُوْدَ وُجُوْهِهِمْ فِيْهَا. ثُمَّ يَصُبُّ عَلَيْهِمُ الْعَطَشَ فَيَسْتَغِيْثُوْنَ. فَيُغَاثُوْنَ بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ وَهُوَ الَّذِيْ قَدِ انْتَهَىٰ حَرُّهُ . فَإِذَا أَدْنَوْهُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ اشْتَوَىٰ مِنْ حَرِّهِ لُحُوْمُ وُجُوْهِهِمُ الَّتِيْ قَدْ سَقَطَتْ عَنْهَا الْجُلُوْدُ. تفسير ابن كثير ج ٥ ص ١٤٠ سورة الكهف في تفسير آية ٢٩ .

Scanned with CamScanner

حرارت په وجه ) د ټولې دُنیا په خلقو باندې به ژوند برباد کړي ، نو د هغه جهنمیانو به څه حال وي چې د هغوی خوراک همدا زقوم وي ؟ (۱)

۲ . په یو بل حدیث کې الفاظ داسې ذکر دي ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّوْمِ قُطِرَتْ فِيْ بِحَارِ الْأَرْضِ لَفَسَدَتْ . (۲)

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قدرت کې زما ساه ده که چیرته د زقوم د اُونې یو څاڅکې د دُنیا په سمندرونو کې راا‌وڅڅولې شي نو دا ټول سمندرونه به خراب (بَدبویه) کړي .

## ۲ . جهنمیانو ته به د خوراک د پاره غِسلین (وِینې او زوې) ورکولې شي

د جهنمیانو بل خوراک به هغه وِینې زَوې او نَوُونه وي کوم چې د دوی د زخمونو نه راا‌وتي وي .

چاته چې عمَل نامه په چَپ لاس کې ورکړې شي د هغوی په باره کې الله تعالی فرمایي :

---

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هٰذِهِ الْآيَةَ {اِتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ ، وَلَا تَمُوْتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ} [ آل عمران: ۱۰۲] وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّوْمِ قُطِرَتْ فِي الْأَرْضِ لَأَفْسَدَتْ عَلٰى أَهْلِ الدُّنْيَا مَعَايِشَهُمْ ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُوْنُ طَعَامُهُ؟ . المستدرک على الصحیحین للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيْرِ تَفْسِيْرُ سُوْرَةِ حم الدُّخَانِ رقم الحدیث ۳۷۸٦ وقال الحاكم : وَهُوَ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۳۱۳٦ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ صِفَةِ شَرَابِ أَهْلِ النَّارِ رقم الحدیث ۲۵۸۵ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ . السنن الكبرى للنسائي رقم الحدیث ۱۱۰۰۴ ، الترغیب والترهیب للمنذري رقم الحدیث ۵۵۸۸ فصل في طعام اهل النار ، مشكاة المصابیح رقم الحدیث ۵٦۸۳ .

(۲) پوره حدیث داسې دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ {يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ} [آل عمران: ۱۰۲] قَالَ: « وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّوْمِ قُطِرَتْ فِيْ بِحَارِ الْأَرْضِ لَفَسَدَتْ » . المستدرک على الصحیحین للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيْرِ وَمِنْ سُوْرَةِ آلِ عِمْرَانَ رقم الحدیث ۳۱۵۸ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ" . ووافقه الذهبي . المعجم الاوسط رقم الحدیث ۷۵۲۵ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحدیث ۱۱۰٦۸ ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحدیث ۵۴۳ ، الترغیب والترهیب للمنذري ۵۵۸۸ فصل في طعام اهل النار .

Scanned with CamScanner

﴿ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ۝ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ۝ لَا يَأْكُلُهُ إِلَّا الْخَاطِئُوْنَ ﴾ (١)

ترجمه : پس نن ورځ دده د پاره دلته هیڅوک قریب دوست نشته ، او نه دده د پاره بل خوراک شته بغیر د وینو او زَوُو نه ، دا خوراک به بل هیڅوک نه خوري بلکه صرف ګناهګاران به یې خُوري.

**د غسلین تشریح** : " غِسْلِیْن " هغه وِینو ، زَوُو ، نَوُونو او زیړو اُوبو ته وایي کومې چې د جهنمیانو د زخمونو نه رااُوځي ، دا به د جهنمیانو خوراک وي.

بل قول دا هم دی چې غِسلین د جهنم یوه اُونه ده . (٢)

## " غِسلین " به ډیر زیات ګرم وي

د کعب الاحبار رَحِمَهُ اللهُ نه نقل دي :

وَاللهِ لَوْ دُلِّيَ مِنْ غِسْلِيْنَ دَلْوٌ وَاحِدَةٌ فِيْ مَطْلَعِ الشَّمْسِ لَغَلَتْ مِنْهَا جَمَاجِمُ قَوْمٍ فِيْ مَغْرِبِهَا . (٣)

---

(١) الحاقة آية ٣٥ تا ٣٧ .

(٢) ( وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: اَلْغِسْلِيْنُ: الدَّمُ وَالْمَاءُ يَسِيْلُ مِنْ لُحُوْمِهِمْ. وَقَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَلْحَةَ عَنْهُ: اَلْغِسْلِيْنُ: صَدِيْدُ أَهْلِ النَّارِ. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٢١٧ .

{وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ} صَدِيْدُ أَهْلِ النَّارِ أَوْ شَجَرٍ فِيْهَا . تفسير الجلالين .

وَالْغِسْلِيْنُ فِعْلِيْنٌ مِنَ الْغَسْلِ. فَكَأَنَّهُ يَنْغَسِلُ مِنْ أَبْدَانِهِمْ. وَهُوَ صَدِيْدُ أَهْلِ النَّارِ السَّائِلِ مِنْ جُرُوْحِهِمْ وَفُرُوْجِهِمْ. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ وَالرَّبِيْعُ بْنُ أَنَسٍ: هُوَ شَجَرٌ يَأْكُلُهُ أَهْلُ النَّارِ. تفسير القرطبي ج ١٨ ص ٢٧٣ ، وهكذا في تفسير البغوي ج ٥ ص ١٤٩ سورة الحاقة في تفسير آية ٣٦ .

(٣) قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لِكَعْبٍ: خَوِّفْنَا يَا كَعْبُ، قَالَ: وَاللهِ إِنَّ لِلّٰهِ لَمَلَائِكَةً قِيَامًا مُنْذُ يَوْمِ خَلَقَهُمْ مَا ثَنَوْا أَصْلَابَهُمْ، وَآخَرِيْنَ رُكُوْعًا مَا رَفَعُوْا أَصْلَابَهُمْ، وَآخَرِيْنَ سُجُوْدًا مَا رَفَعُوْا رُءُوْسَهُمْ، حَتّٰى يَنْفُخَ فِي الصُّوْرِ النَّفْخَةَ الْآخِرَةَ. فَيَقُوْلُوْنَ جَمِيْعًا: سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ، مَا عَبَدْنَاكَ كَمَا يَنْبَغِيْ لَكَ أَنْ تُعْبَدَ. ثُمَّ قَالَ: وَاللهِ لَوْ أَنَّ لِرَجُلٍ يَوْمَئِذٍ كَعَمَلِ سَبْعِيْنَ نَبِيًّا لَاسْتَقَلَّ عَمَلَهُ مِنْ شِدَّةِ مَا يَرَى يَوْمَئِذٍ، وَاللهِ لَوْ دُلِّيَ مِنْ غِسْلِيْنَ دَلْوٌ وَاحِدَةٌ فِيْ مَطْلَعِ الشَّمْسِ لَغَلَتْ مِنْهَا جَمَاجِمُ قَوْمٍ فِيْ مَغْرِبِهَا .... حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٥ ص ٣٦٨ . الزهد والرقائق لابن المبارك ج ١ ص ٧٥ رقم ٢٢٥ ، التخويف من النار لابن رجب الحنبلي الباب الثامن عشر في ذكر طعام أهل النار وشرابهم فيها

Scanned with CamScanner

قسَم په الله، که چيرته د غِسلين يوه بُوقه په مشرق کې راتوی کړې شي نو ددې (د ګرمائش) په وجه به په مغرب کې د خلقو د دِماغو ګوپړۍ جوش اوکړي.

## ۳. جهنميانو ته به د خوراک د پاره ذا غصّه (په مَرۍ کې نختونکې خوراک) ورکولې شي

الله‌تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ۝ وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴾.(۱)

ترجمه: بيشکه مونږ سره (په آخرت کې) غټې غټې درَنې بيړۍ (يعنی د خپو زنځيرونه) دي، او د جهنم اُور دی. او په مرۍ کې نَختونکې خوراک او دَردناک عذاب دی.

د ''ذَا غُصّه'' **تشريح**: حضرت عبدالله‌بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د ''ذا غصه'' نه هغه نه تيريدونکې خوراک مراد دی چې په مَرۍ کې به اُونخلي نو نه به بيا ښکته ځي او نه به پورته راځي، او ددينه همدا د زقوم اُونه، د جهنميانو وِينې زَوې، او اَزغي دار بُوټې مراد دی.

د ابن عباس رضي الله عنهما نه بل قول دا هم نقل دی چې ددينه د اُور هغه اَزغي مراد دي چې په حَلق کې به اُونخلي بيا به نه ښکته ځي او نه به پورته راځي.

(په دې کې نور اَقوال هم شته).(۲)

---

(۱) المزمل آية ۱۲، ۱۳.

(۲) (وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ) أَيْ غَيْرُ سَائِغٍ، يَأْخُذُ بِالْحَلْقِ، لَا هُوَ نَازِلٌ وَلَا هُوَ خَارِجٌ، وَهُوَ الْغِسْلِيْنُ وَالزَّقُّوْمُ وَالضَّرِيْعُ قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ. وَعَنْهُ أَيْضًا: أَنَّهُ شَوْكٌ يَدْخُلُ الْحَلْقَ، فَلَا يَنْزِلُ وَلَا يَخْرُجُ. تفسر القرطبي ۱۹/۴۶.

(وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: شَوْكٌ مِنْ نَارٍ يَعْتَرِضُ فِيْ حُلُوْقِهِمْ، لَا يَخْرُجُ وَلَا يَنْزِلُ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَغَيْرُهُ: شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ. وَقِيْلَ: الضَّرِيْعُ وَشَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ. البحر المحيط في التفسير ج۱۰ ص ۳۱۷.

{وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ} يَغَصُّ بِهِ فِي الْحَلْقِ وَهُوَ الزَّقُّوْمُ أَوِ الضَّرِيْعُ أَوِ الْغِسْلِيْنُ أَوْ شَوْكٌ مِنْ نَارٍ لَا يَخْرُجُ وَلَا يَنْزِلُ. تفسير الجلالين ص ۷۷۴، وهكذا في تفسير النسفي ج۳ ص ۵۵۷، و تفسير البغوي ج ۵ ص ۱۷۰.

Scanned with CamScanner

# ۴. جهنمياتو ته به د خوراک د پاره ''ضَرِيع'' (اَزغي دار بُوټي) ورکولې شي

الله تعالی فرمايي:

﴿ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ۝ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ﴾.(١)

ترجمه: د جهنميانو د پاره به بل هيڅ خوراک نه وي صرف اَزغي دار بُوټي به وي، چې نه به يې څربوي او نه به يې اُولږه لرې کوي.

**د ''ضريع'' تشريح**: ضريع يو اَزغي دار بُوټي دی چې دلته په دُنيا کې هم شته، بُوى يې ډير بې کاره دی، ځاروي يې هم نه خُوري.

خو په آيت کې ورنه د جهنم ضريع مراد دی، يعنی د دُوزخيانو خوراک به د جهنم هغه اَزغي وي چې هغه به ډير زيات تَرخه وي، د مرداري نه زياته بَدبُوئي به کوي، او ډير به ګرم وي. (٢)

---

(١) الغاشية آية ٦، ٧.

(٢) {لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ} قَالَ مُجَاهِدٌ وَعِكْرِمَةُ وَقَتَادَةُ: هُوَ نَبْتٌ ذُو شَوْكٍ لَاطِئٍ بِالْأَرْضِ، تُسَمِّيهِ قُرَيْشٌ الشِّبْرِقَ فَإِذَا هَاجَ سَمَّوْهَا الضَّرِيعَ، وَهُوَ أَخْبَثُ طَعَامٍ وَأَبْشَعُهُ. وَهُوَ رِوَايَةُ الْعَوْفِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ الْكَلْبِيُّ: لَا تَقْرَبُهُ دَابَّةٌ إِذَا يَبِسَ. قَالَ ابْنُ زَيْدٍ: أَمَّا فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ "الضَّرِيعَ" الشَّوْكُ الْيَابِسُ الَّذِي يَبِسَ لَهُ وَرَقٌ، وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ شَوْكٌ مِنْ نَارٍ. وَجَاءَ فِي الْحَدِيثِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: "الضَّرِيعُ: شَيْءٌ فِي النَّارِ شِبْهُ الشَّوْكِ أَمَرُّ مِنَ الصَّبْرِ، وَأَنْتَنُ مِنَ الْجِيفَةِ، وَأَشَدُّ حَرًّا مِنَ النَّارِ". وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ، وَالْحَسَنُ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُرْسِلُ عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوعَ حَتَّى يَعْدِلَ عِنْدَهُمْ مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الْعَذَابِ، فَيَسْتَغِيثُونَ فَيُغَاثُونَ بِالضَّرِيعِ، ثُمَّ يَسْتَغِيثُونَ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ ذِي غُصَّةٍ، فَيَذْكُرُونَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجِيزُونَ الْغُصَصَ فِي الدُّنْيَا بِالْمَاءِ، فَيَسْتَسْقُونَ، فَيُعْطِشُهُمْ أَلْفَ سَنَةٍ، ثُمَّ يُسْقَوْنَ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ شَرْبَةً لَا هَنِيئَةً وَلَا مَرِيئَةً، فَلَمَّا أَدْنَوْهُ مِنْ وُجُوهِهِمْ سَلَخَ جُلُودَ وُجُوهِهِمْ وَشَوَاهَا، فَإِذَا وَصَلَ إِلَى بُطُونِهِمْ قَطَعَهَا فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ جَلَّ: "وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ". تفسير البغوي ج ٨ ص ٤٠٨. وهكذا في تفسير القرطبي ج ٢٠ ص ٢٩. ←←←←←

Scanned with CamScanner

# د جهنميانو د څکلو اُوبه

جهنميانو ته به په څلور (۴) قِسمه خطرناکې، بَدبُويه او بَدمزه اُوبه د څکلو د پاره ورکولې شي:

۱. مَآءٌ حَمِيۡم (ګرمې اُوبه).

۲. مَآءٌ صَدِيۡد / غَسَّاق (د زخمونو نه بهيدونکې وِينې زَوې او نَوُونه).

۳. مَآءٌ كَالۡمُهۡل (د تېلو د خِيري يا ويلې شوې تانبې په شان ګرمې اُوبه).

۴. طِيۡنَةُ الۡخَبَال (د جهنميانو د بدن خوَله).

ددې ټولو بيان په قرآن کريم او احاديثو کې شوی، څه تفصيل يې درته بيانوم:

## ۱. په جهنميانو به ګرمې جُوشيدلې اُوبه څکلې شي

په جهنميانو به ګرمې جُوشيدلې اُوبه څکلې شي چې په دې سره به د دوی کولمې ټوټې ټوټې شي.

۱. الله تعالی فرمايي: ﴿... وَسُقُوۡا مَآءً حَمِيۡمًا فَقَطَّعَ اَمۡعَآءَهُمۡ﴾.(۱)

ترجمه: او په جهنميانو باندې ګرمې جُوشيدلې اُوبه څکلې شي چې دا به د دوی کولمې ټوټې ټوټې کړي.

۲. بل ځای الله تعالی فرمايي:

---

←←← {لَيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ اِلَّا مِنۡ ضَرِيۡعٍ} يبيس الشبرق وهو شوك ترعاه الإبل ما دام رطبًا، وقيل شجرة نارية تشبه الضريع، ولعله طعام هؤلاء، والزقوم والغسلين طعام غيرهم. أو المراد طعامهم ما تتحاماه الإبل وتعافه لضره وعدم نفعه. تفسير البيضاوي ج ۵ ص ۳۰۷.

(۱) پوره آيت داسې دی: ﴿ مَثَلُ الۡجَنَّةِ الَّتِيۡ وُعِدَ الۡمُتَّقُوۡنَ ؕ فِيۡهَاۤ اَنۡهٰرٌ مِّنۡ مَّآءٍ غَيۡرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنۡهٰرٌ مِّنۡ لَّبَنٍ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهٗ ۚ وَاَنۡهٰرٌ مِّنۡ خَمۡرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيۡنَ ۚ وَاَنۡهٰرٌ مِّنۡ عَسَلٍ مُّصَفًّى ؕ وَلَهُمۡ فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغۡفِرَةٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ ؕ كَمَنۡ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوۡا مَآءً حَمِيۡمًا فَقَطَّعَ اَمۡعَآءَهُمۡ ﴾. سورة محمد آية ۱۵.

Scanned with CamScanner

﴿ فَشَٰرِبُونَ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡحَمِيمِ ۝ فَشَٰرِبُونَ شُرۡبَ ٱلۡهِيمِ ﴾.(١)

ترجمه : بیا به ( د زقوم خوړلو نه پس ) ددې د پاسه ګرمې خوټکیدلې اُوبه څکې ، پس دوی به دا د سخت تږي اُوښ د اُوبو څکلو په شان څکې .

٣ . بل ځای الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٖ ﴾.(٢)

ترجمه : په دوی باندې به د خوټکیدونکې ګرمې چينې نه اُوبه څکلې شي . (٣)

حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې کله د يو څيز ګرمائش آخري ډګرې ته اورسيږي تر دې چې دده نه پورته بل څيز په ګرمائش کې نه وي نو عرب بيا ددې په باره کې وايي :

قَدْ أَنَىٰ حَرُّهُ . دا ډير ګرم شو .

دا جهنم هم چې د کله نه الله تعالى پيدا کړی مسلسل بليږي تر دې چې ددې چينې د اُوبو ګرمائش آخري حد ته رسيدلی ، دا اُوبه به په جهنميانو باندې څکلې شي . (٤)

---

(١) الواقعة آية ٥٤ ، ٥٥ .

(٢) الغاشية آية ٥ .

(٣) {تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ} مُتَنَاهِيَةٍ فِي الْحَرَارَةِ قَدْ أُوقِدَتْ عَلَيْهَا جَهَنَّمُ مُنْذُ خُلِقَتْ، فَدُفِعُوا إِلَيْهَا وِرْدًا عِطَاشًا. قَالَ الْمُفَسِّرُونَ: لَوْ وَقَعَتْ مِنْهَا قَطْرَةٌ عَلَى جِبَالِ الدُّنْيَا لَذَابَتْ. هَذَا شَرَابُهُمْ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٤٠٨ .

{ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ } الْآنِي: الَّذِي قَدِ انْتَهَى حَرُّهُ، مِنَ الْإِينَاءِ بِمَعْنَى التَّأْخِيرِ. تفسير القرطبي ج ٢٠ ص ٢٩ .

{تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ} شَدِيدَةِ الْحَرَارَةِ. تفسير الجلالين ص ٨٠٥ .

{ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ } أي تسقى من عين متناهية الحرارة، وصل حرها وغليانها درجة النهاية . صفوة التفاسير ج ٣ ص ٥٢٥ .

(٤) {تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ} يَقُولُ: «قَدْ بَلَغَتْ إِنَاهَا، وَحَانَ شُرْبُهَا» . عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: «كَانَتِ الْعَرَبُ تَقُولُ لِلشَّيْءِ إِذَا انْتَهَى حَرُّهُ حَتَّى لَا يَكُونَ شَيْءٌ أَحَرَّ مِنْهُ، قَدْ أَنَى حَرُّهُ» . فَقَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: {مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ} يَقُولُ: «أَوْقَدَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ جَهَنَّمَ مُنْذُ خُلِقَتْ فَأَنَى حَرُّهَا» . تفسير مجاهد ص ٧٢٤ ، تفسير الطبري ج ٢٤ ص ٣٢٩ .

Scanned with CamScanner

٤. بل ځاى الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ ﴾. (١)

ترجمه : دوى به د جهنم او د ډېرو ګرمو اُوبو په مينځ كې ګرځي. (٢)

## ٢. په جهنميانو باندې به د زخمونو وِينې ،زَوې ، او نُووِنه څكلې شي

١. الله تعالى فرمايي :

﴿ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴾. (٣)

ترجمه : دوى به په دې جهنم كې نه خوَند د يَخنى څكي او نه به خوَند د ښه اُوبو څكي (يعنى نه به راحت اُوګوري او نه به داسې اُوبه اُوڅكي چې تنده يې پرې ماته شي) ، مګر ګرمې اُوبه او د زخمونو وِينې زَوې به وي. (٤)

---

(١) الرحمن آية ٤٤.

(٢) {يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ} قَدِ انْتَهَى حَرُّهُ. قَالَ الزَّجَّاجُ: أَنَى يَأْنَى فَهُوَ آنٌ إِذَا انْتَهَى فِي النُّضْجِ، وَالْمَعْنَى: أَنَّهُمْ يَسْعَوْنَ بَيْنَ الْجَحِيمِ وَالْحَمِيمِ فَإِذَا اسْتَغَاثُوا مِنْ حَرِّ النَّارِ جُعِلَ عَذَابُهُمُ الْحَمِيمَ الْآنِيَ الَّذِي صَارَ كَالْمُهْلِ، وَهُوَ قَوْلُهُ "وَ إِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ". (الكهف آية ٢٩) . وَقَالَ كَعْبُ الْأَحْبَارِ: "آنٍ" وَادٍ مِنْ أَوْدِيَةِ جَهَنَّمَ يَجْتَمِعُ فِيهِ صَدِيدُ أَهْلِ النَّارِ فَيُنْطَلَقُ بِهِمْ فِي الْأَغْلَالِ فَيُغْمَسُونَ فِي ذَلِكَ الْوَادِي حَتَّى تَنْخَلِعَ أَوْصَالُهُمْ، ثُمَّ يَخْرُجُونَ مِنْهُ وَقَدْ أَحْدَثَ اللهُ تَعَالَى لَهُمْ خَلْقًا جَدِيدًا فَيُلْقَوْنَ فِي النَّارِ وَذَلِكَ قَوْلُهُ: "يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ". تفسير البغوي ج ٧ ص ٤٥٠ سورة الرحمن في تفسير آية ٤٤.

(٣) النبا آية ٢٤ ، ٢٥.

(٤) وَقَوْلُهُ: {لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا} أَيْ: لَا يَجِدُونَ فِي جَهَنَّمَ بَرْدًا لِقُلُوبِهِمْ، وَلَا شَرَابًا طَيِّبًا يَتَغَذَّوْنَ بِهِ. وَلِهَذَا قَالَ: {إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا} قَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ: اِسْتَثْنَى مِنَ الْبَرْدِ الْحَمِيمَ وَمِنَ الشَّرَابِ الْغَسَاقَ. وَكَذَا قَالَ الرَّبِيعُ بْنُ أَنَسٍ. فَأَمَّا الْحَمِيمُ: فَهُوَ الْحَارُّ الَّذِي قَدِ انْتَهَى حَرُّهُ وحموه. والغَسَّاق: هُوَ مَا اجْتَمَعَ مِنْ صَدِيدِ أَهْلِ النَّارِ وَعَرَقِهِمْ وَدُمُوعِهِمْ وَجُرُوحِهِمْ. فَهُوَ بَارِدٌ لَا يُسْتَطَاعُ مِنْ بَرْدِهِ. وَلَا يُوَاجَهُ مِنْ نَتْنِهِ. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٣٠٧ سورة النبا في تفسير آية ٢٤ ، ٢٥. ←←←←← ←←←←←

Scanned with CamScanner

۲ . کله چې د قيامت په ورځ سَرکشه خلق جهنم ته داخل کړې شي نو دا به ورته وويلې شي :

﴿ هَٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ۝ وَآخَرُ مِن شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ ﴾ .(۱)

ترجمه : پس تاسو همدا د ګرمو اوبو او وِينو زَوُو عذاب اُوڅکئ ، او ددينه علاوه ددې په شکل نور ډير قِسمه عذابونه ( او د جهنم خوراکونه ) دي .

**د غساق په باره کې بل قول** : د غساق په باره کې بل قول دا هم دى چې ددينه مراد هغه تورې بَدبويه او زهريله اُوبه دي کومې چې د جهنميانو د وِينو زَوُو او نَوُونو نه جوړې شوي وي ، او دومره زياتې به يخې وي چې د ډير يَخوالي په وجه به ددې شکل د جهنميانو د پاره لوي عذاب وي .(۲)

---

←←← { لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا } رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَنَّ الْبَرْدَ النَّوْمُ. وَمِثْلُهُ قَالَ الْكِسَائِيُّ . وَ قَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ، تَقُولُ الْعَرَبُ: مَنَعَ الْبَرْدُ الْبَرْدَ أَيْ أَذْهَبَ الْبَرْدُ النَّوْمَ. وَقَالَ الْحَسَنُ وَعَطَاءٌ: "لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا " أَيْ: رَوْحًا وَرَاحَةً . وَقَالَ مُقَاتِلٌ: "لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا " يَنْفَعُهُمْ مِنْ حَرٍّ. "وَلَا شَرَابًا" يَنْفَعُهُمْ مِنْ عَطَشٍ. { إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : "اَلْغَسَّاقُ " الزَّمْهَرِيرُ يَحْرِقُهُمْ بِبَرْدِهِ. وَقِيلَ: صَدِيدُ أَهْلِ النَّارِ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٣١٥ . وهكذا في تفسير القرطبي ج ١٩ ص ١٨٠ .

(١) ص آية ٥٧ ، ٥٨ .

(٢) { هَٰذَا } أَيْ هَٰذَا الْعَذَابُ. { فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ } قَالَ الْفَرَّاءُ: أَيْ هَٰذَا حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ فَلْيَذُوقُوهُ، وَالْحَمِيمُ: الْمَاءُ الْحَارُّ الَّذِي انْتَهَى حَرُّهُ . "وَغَسَّاقٌ" ... وَاخْتَلَفُوا فِي مَعْنَى الْغَسَّاقِ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: هُوَ الزَّمْهَرِيرُ يَحْرِقُهُمْ بِبَرْدِهِ، كَمَا تَحْرِقُهُمُ النَّارُ بِحَرِّهَا. وَقَالَ مُقَاتِلٌ وَمُجَاهِدٌ: هُوَ الَّذِي انْتَهَى بَرْدُهُ. وَقِيلَ: هُوَ الْمُنْتِنُ بِلُغَةِ التُّرْكِ. وَقَالَ قَتَادَةُ: هُوَ مَا يَغْسِقُ أَيْ: مَا يَسِيلُ مِنَ الْقَيْحِ وَالصَّدِيدِ مِنْ جُلُودِ أَهْلِ النَّارِ، وَلُحُومِهِمْ، وَفُرُوجِ الزُّنَاةِ... { وَآخَرُ مِنْ شَكْلِهِ } مِثْلِهِ أَيْ: مِثْلُ الْحَمِيمِ وَالْغَسَّاقِ. { أَزْوَاجٌ } أَيْ: أَصْنَافٌ أُخَرُ مِنَ الْعَذَابِ. تفسير البغوي ج ٧ ص ٩٨ .

{ هَٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ } أي هذا هو العذاب الأليم فليذوقوه . وهو الحميم أي الماء الحار المحرق، والغسّاق وهو ما يسيل من صديد أهل النار قال الطبري: في الآية تقديم وتأخير →→→→

**نوټ** : چې کله د غسّاق نه مونږ دا دویمه معنٰی واخلو نو دا به بیا د جهنمیانو د پاره د څکلو مستقل قسم شي.

## که د جهنمیانو د غسّاق ( یعنی د وِینو او زَوُو ) یوه بُوقه دنیاته راواړولې شي نو ټوله دُنیا به بَدبُویه شي

په جهنم کې چې د جهنمیانو د زخمونو نه کومه وِینه ، نَوُونه او پیپ خارجیږي ( کوم ته چې غَساق وایي او دا به د جهنمیانو خوراک او څکاک هم وي ) دا به دومره بَدبُویه وي که چیرته د دینه د اُوبو یوې بُوقې په اندازه دُنیا ته رااُوغورځولې شي نو دا ټوله دُنیا به بَدبویه شي . دا خبره په احادیثو کې هم ذکر ده .

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهْرَاقُ فِي الدُّنْيَا لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا . (١)

که چیرته د جهنمیانو د وِینو او زَوُو نه یوه بُوقه دنیا ته راواړولې شي نو د ټولې دُنیا خلق به بَدبودار ( سخا ) شي .

## جهنمیان به وِینې او زَوې په ګوټ ګوټ څکي خو په آسانه به یې نشي تیرولی

الله تعالی فرمایي :

---

←←← أي هذا حميم وغساق فليذوقوه، والحميمُ الذين أُغلي حتى انتهى حره، والغسَّاق ما يسيل من جلودهم من الصديد والدم {وَآخَرُ مِن شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ} أي وعذابٌ أخر من هذا العذاب المذكور كالزمهرير، والسموم، وأكل الزقوم له منه أنواع وأصناف. صفوة التفاسير ج ٣ ص ٥٧ .

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَرَابِ أَهْلِ النَّارِ بعد رقم الحديث ٢٥٨٤ ، مسند احمد مخرجا ج ١٧ ص ٣٣١ بعد رقم الحديث ١١٢٢٩ ، و رقم الحديث ١١٧٨٦ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥١٤ ، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٨٢(١٨) ، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٤٨٤ ، تفسير الطبري ج ٢٤ ص ٣١ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤٤٠٧ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٥٨٥ ، تفسير القرطبي ج ١٥ ص ٢٢٢ ، تفسير ابن كثير ج ٥ ص ٤٠٧ ، و ج ٧ ص ٧٨ ، الزواجر ج ٢ ص ٤٢١ .

Scanned with CamScanner

﴿ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ ۝ يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ ﴾.(١)

ترجمه : او په جهنمي باندې به وينې او زوې څکلې شي ، دا به يې په ګوټ ګوټ څکي، او قريبه نده چې دا په آسانه ( د حلق نه ) تېر کړي.

يعنې دا وينې او زوې به ورباندې په زوره څکلې شي خو په آسانه به يې نشي تيرولی ؛ ځکه خوند رنګ او بوی به يې خراب وي ، او ډير زيات به ګرم وي.(٢)

د نبي عليه السلام نه ددې مذکوره آيت په تفسير کې نقل دي چې کله دا وينې او زوې جهنمي ته ورنږدې کړې شي نو دا به ددې ځکل بَد اُوګڼي ، پس کله چې دا دده مخ ته ورنږدې کړې شي نو دده مخ به وريت شي او د سَر څرمن به يې ښکته راأوغورځيږي ، بيا چې کله دوی دا اُوڅکي نو د ده کولمې به ټوټې ټوټې کړي تر دې چې دده په شا لار ( دُبره ) باندې به ښکته اُوغورځيږي ( او ددې بيان د قرآن کريم په مختلفو آيتونو کې هم شته ).(٣)

---

(١) ابراهيم آية ١٦ ، ١٧ .

(٢) {وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ} أَيْ: فِي النَّارِ لَيْسَ لَهُ شَرَابٌ إِلَّا مِنْ حَمِيمٍ أَوْ غَسَّاقٍ. فَهَذَا فِي غَايَةِ الْحَرَارَةِ. وَهَذَا فِي غَايَةِ الْبَرْدِ وَالنَّتَنِ، كَمَا قَالَ: {هَذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ وَآخَرُ مِنْ شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ} [ص: ٥٧،٥٨] .

وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَعِكْرِمَةُ: اَلصَّدِيدُ: مِنَ الْقَيْحِ وَالدَّمِ. وَقَالَ قَتَادَةُ: هُوَ مَا يَسِيلُ مِنْ لَحْمِهِ وَجِلْدِهِ. وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ: اَلصَّدِيدُ: مَا يَخْرُجُ مِنْ جَوْفِ الْكَافِرِ قَدْ خَالَطَ الْقَيْحَ وَالدَّمَ .... وَقَوْلُهُ : {يَتَجَرَّعُهُ} أَيْ: يَتَغَصَّصُهُ وَيَتَكَرَّهُهُ، أَيْ: يَشْرَبُهُ قَهْرًا وَقَسْرًا، لَا يَضَعُهُ فِي فِيهِ حَتَّى يَضْرِبَهُ الْمَلَكُ بِمِطْرَاقٍ مِنْ حَدِيدٍ، كَمَا قَالَ تَعَالَى: {وَلَهُمْ مَقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ} [الحج : ٢١] . {وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ} أَيْ: يَزْدَرِدُهُ لِسُوءِ لَوْنِهِ وَطَعْمِهِ وَرِيحِهِ، وَحَرَارَتِهِ أَوْ بَرْدِهِ الَّذِي لَا يُسْتَطَاعُ. تفسير ابن كثير ج ٤ ص ٤٨٥

(٣) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ : {وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ} قَالَ : "يُقَرَّبُ إِلَيْهِ فَيَتَكَرَّهُهُ، فَإِذَا أُدْنِيَ مِنْهُ شَوَى وَجْهَهُ، وَوَقَعَتْ فَرْوَةُ رَأْسِهِ، فَإِذَا شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ. يَقُولُ اللهُ تَعَالَى {وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ} [مُحَمَّد : ١٥] . وَيَقُولُ: {وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ} [الكهف: ٢٩] . تفسير ابن كثير ج ٤ ص ٤٨٥ سورة ابراهيم في تفسير آية ١٦ ، ١٧ .

Scanned with CamScanner

# ۳. په جهنميانو باندې به د تېلو د خيري يا ويلې شوې تانبې په شان ګرمې اوبه هم څکلې شي

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا ﴾.(١)

ترجمه: او که چيرته دوی (د سختې تندې نه) فرياد اوکړي (او اوبه اوغواړي) نو د دوی فريادرَسي به په داسې اوبو سره کولې شي چې هغه به د تېلو د خِيري په شان (يا د ويلې شوې تانبې په شان) وي، چې مخونه به وريتوي، دا به ډير بَد څکل وي، او (جهنم) ډير بَد ځای د اَستوګنې دی.(٢)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مذکوره آيت ﴿ بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ ﴾ په تفسير کې فرمايي: كَعَكَرِ الزَّيْتِ، فَإِذَا قَرَّبَهُ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ.

---

(١) الكهف آية ٢٩.

(٢) {وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا} مِنْ شِدَّةِ الْعَطَشِ {يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ} ... كَعَكَرِ الزَّيْتِ... وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: هُوَ مَاءٌ غَلِيظٌ مِثْلُ دُرْدِيِّ الزَّيْتِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ: هُوَ الْقَيْحُ وَالدَّمُ. وَسُئِلَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ: "الْمُهْلِ" فَدَعَا بِذَهَبٍ وَفِضَّةٍ فَأَوْقَدَ عَلَيْهِمَا النَّارَ حَتَّى ذَابَا ثُمَّ قَالَ: هَذَا أَشْبَهُ شَيْءٍ بِالْمُهْلِ. {يَشْوِي الْوُجُوهَ} يُنْضِجُ الْوُجُوهَ مِنْ حَرِّهِ. {بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءَتْ} النَّارُ {مُرْتَفَقًا} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: مَنْزِلًا وَقَالَ مُجَاهِدٌ: مُجْتَمَعًا وَقَالَ عَطَاءٌ: مَقَرًّا. وَقَالَ الْقُتَيْبِيُّ: مَجْلِسًا. وَأَصْلُ "الْمُرْتَفَقِ": الْمُتَّكَأُ. تفسير البغوي ج ٥ ص ١٦٨. و تفسير القرطبي ج ١٠ ص ٣٩٤.

{ بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "الْمُهْلُ": مَاءٌ غَلِيظٌ مِثْلُ دُرْدِيِّ الزَّيْتِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: هُوَ كَالدَّمِ وَالْقَيْحِ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ: هُوَ الشَّيْءُ الَّذِي انْتَهَى حَرُّهُ. وَقَالَ آخَرُونَ: هُوَ كُلُّ شَيْءٍ أُذِيبَ. وَقَالَ قَتَادَةُ: أَذَابَ ابْنُ مَسْعُودٍ شَيْئًا مِنَ الذَّهَبِ فِي أُخْدُودٍ، فَلَمَّا انْمَاعَ وَأَزْبَدَ قَالَ: هَذَا أَشْبَهُ شَيْءٍ بِالْمُهْلِ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: مَاءُ جَهَنَّمَ أَسْوَدُ، وَهِيَ سَوْدَاءُ وَأَهْلُهَا سُودٌ. وَهَذِهِ الْأَقْوَالُ لَيْسَ شَيْءٌ مِنْهَا يَنْفِي الْآخَرَ، فَإِنَّ الْمُهْلَ يَجْمَعُ هَذِهِ الْأَوْصَافَ الرَّذِيلَةَ كُلَّهَا. فَهُوَ أَسْوَدُ مُنْتِنٌ غَلِيظٌ حَارٌّ، وَلِهَذَا قَالَ: {يَشْوِي الْوُجُوهَ} أَيْ: مِنْ حَرِّهِ. إِذَا أَرَادَ الْكَافِرُ أَنْ يَشْرَبَهُ وَقَرَّبَهُ مِنْ وَجْهِهِ شَوَاهُ حَتَّى يَسْقُطَ جِلْدُ وَجْهِهِ فِيهِ. تفسير ابن كثير ج ٥ ص ١٥٤ سورة الكهف في تفسير آية ٢٩.

Scanned with CamScanner

دا اُوبه به د زيتونو د خِيرې په شان وي ، ( دومره به ګرمې وي ) کله چې جهنمي دا خپلې خُلې ته نزدې کړي نو د ده د مخ څرمن به په دې کې را اُوغورځيږي . (١)

## ۴ . په دُنيا کې نشه کوونکي خلقو باندې به په آخرت کې طِيْنَةُ الْخَبَال ( يعنى د جهنميانو خوَله ) څکلې شي

څوک چې په دُنيا کې د نَشې واله حرام څيزونه څکي لکه شراب وغيره نو په آخرت کې به په داسې ګناهګارانو باندې د جهنميانو د بدن خوَله څکلې شي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم يو کس ته اوفرمايل :

كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ. إِنَّ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَهْدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ .

هر نَشه آور څيز حرام دی ، بيشکه الله تعالى دا عهد کړی ( يعنى په ځان يې لازمه کړی ) چې څوک نَشه آور څيز څکي نو په ده باندې به ( په جهنم کې ) طِيْنَةُ الْخَبَال څکي .

صحابه کرامو د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوکړه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَمَا طِيْنَةُ الْخَبَالِ ؟

اې د الله رسوله ! طِيْنَةُ الْخَبَال څه شی دی ؟

---

(١) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: { كَالْمُهْلِ } [ الكهف: ٢٩ ] قَالَ : « كَعَكَرِ الزَّيْتِ ، فَإِذَا قَرَّبَهُ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيْهِ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْآنِ بَاب وَمِنْ سُوْرَةِ سَأَلَ سَائِلٌ رقم الحديث ٣٣٢٢ ، و رقم الحديث ٢٥٨١ و رقم الحديث ٢٥٨٤ أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَرَابِ أَهْلِ النَّارِ . المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْأَهْوَالِ رقم الحديث ٨٧٨٦ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٦٧٢ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٧٣ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٣١٣٧ ، مشکاة المصابيح کتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَة وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٧٨(١٤) ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٤٤٠٧ ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٥٠ ، کنز العمال رقم الحديث ٣٩٥٠٠ .

Scanned with CamScanner

پيغمبر عليه السلام ورته او فرمايل :

« عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ » أَوْ « عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ »

دا د جهنميانو د بدن خولې دي . يا ( يې دا أو فرمايل چې ) د جهنميانو د بدن نه نچوړ شوې وينې او زوې دي . (١)

## هميشه شراب څکونکی به په جهنم کې د زناکاره ښځو د شرمګاه او به څکي

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

ثَلَاثَةٌ لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ: مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَقَاطِعُ الرَّحِمِ ، وَمُصَدِّقٌ بِالسِّحْرِ . وَمَنْ مَاتَ مُدْمِنَ الْخَمْرِ سَقَاهُ اللهُ مِنْ نَهْرِ الْغُوطَةِ .

درې ( ٣ ) کسان به جنت ته نه داخليږي : ( اول : ) هميشه شراب څکونکی ، ( دويم : ) صِله رَحمي کټ کوونکی ، او ( دريم : ) د سِحر تصديق کوونکی . او څوک چې په داسې حالت کې مړ شي چې هغه هميشه شراب څکل نو الله تعالی به ( په قيامت کې ) په ده باندې د "نهر غُوطه " نه أوبه أوڅکي .

د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه : وَمَا نَهْرُ الْغُوطَةِ ؟

نهر غوطه څه شی دی ؟

---

(١) پوره حديث داسې دی : عَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّ رَجُلًا قَدِمَ مِنْ جَيْشَانَ ، وَجَيْشَانُ مِنَ الْيَمَنِ ، فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَرَابٍ يَشْرَبُونَهُ بِأَرْضِهِمْ مِنَ الذُّرَةِ ، يُقَالُ لَهُ: الْمِزْرُ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَوَ مُسْكِرٌ هُوَ ؟ » قَالَ : نَعَمْ ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ ، إِنَّ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَهْدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ » قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ ! وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ ؟ قَالَ: « عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ » أَوْ « عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ بَابُ بَيَانِ أَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَأَنَّ كُلَّ خَمْرٍ حَرَامٌ رقم الحديث ٧٢(٢٠٠٢) . سنن ابى داؤد كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْمُسْكِرِ رقم الحديث ٣٦٨٠ . سنن النسائي رقم الحديث ٥٧٠٩ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٣٥٧ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧٢٣٣ ، مشكاة بَابُ بَيَانِ الْخَمْرِ وَوَعِيدِ شَارِبِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٣٦٣٩(٦) .

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

نَهْرٌ يَخْرُجُ مِنْ فُرُوْجِ الْمُوْمِسَاتِ يُؤْذِيْ أَهْلَ النَّارِ رِيْحُ فُرُوْجِهِمْ .

دا داسې يو نهر دى چې د زِناكارو ښځو د شرمګاهو نه به راأوځي ، ( دا به دومره بَدبويه وي چې ) د دوى د شرمګاهو بَدبوئي به جهنميانو ته نور ضرر ( او عذاب ) هم زيات كړي . (١)

## جهنميانو ته به يوه قطره خوړې اوبه او يوه خوړه نوړۍ هم نشي وركولى

په جهنميانو باندې الله تعالى دا حرام كړي چې يوه قطره خوږې اوبه اُوڅكي او يا يوه صحيح خوَږه نوړۍ اُوخوري ، بلكه هميشه به د اوبو په ځاى د جهنم ګرمې اُوبه او د زخمونو وِينې او زَوې څكي ، او د خوراک په ځاى به د زقوم بَدبويه اُونه او په مرۍ كې نختونكې اَزغي دار بُوټي خوري .

په قرآن كريم كې ذكر دي :

﴿ وَنَادَىٰ أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ۚ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او جهنميان به جنتيانو ته آواز اوكړي چې تاسو په مونږ باندې څه ( لږې شان ) اُوبه راتوى كړئ يا چې تاسو ته الله تعالى كوم خوراک دركړې دى د هغې نه ( څه ) مونږ ته هم راكړئ . جنتيان به ورته اووايي : بيشكه الله تعالى دا دواړه څيزونه په كافرانو باندې

(١) عَنْ أَبِي مُوْسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " ثَلَاثَةٌ لَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ : مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَقَاطِعُ الرَّحِمِ وَمُصَدِّقٌ بِالسِّحْرِ ، وَمَنْ مَاتَ مُدْمِنَ الْخَمْرِ سَقَاهُ اللهُ مِنْ نَهْرِ الْغُوْطَةِ " قِيْلَ : وَمَا نَهْرُ الْغُوْطَةِ ؟ قَالَ : « نَهْرٌ يَخْرُجُ مِنْ فُرُوْجِ الْمُوْمِسَاتِ يُؤْذِيْ أَهْلَ النَّارِ رِيْحُ فُرُوْجِهِمْ » المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ رقم الحديث ٧٢٣٤ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ " ووافقه الذهبي . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٩٥٦٩ ، صحيح ابن حبان ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ اللهَ جَلَّ وَعَلَا يَسْقِي مُدْمِنَ الْخَمْرِ مِنْ نَهْرِ الْغُوْطَةِ فِي النَّارِ نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْهَا رقم الحديث ٥٣٤٦ . مجمع الزوائد كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ بَابٌ فِي مُدْمِنِ الْخَمْرِ رقم الحديث ٨٢٠٦ وقال الهيثمي : رَوَاهُ أَحْمَدُ ، وَأَبُو يَعْلَى ، وَالطَّبَرَانِيُّ ، وَرِجَالُ أَحْمَدَ وَأَبِي يَعْلَى ثِقَاتٌ . كنز العمال رقم الحديث ٤٣٨٠٦ .

(٢) الاعراف آية ٥٠ .

Scanned with CamScanner

حرام كړي دي.

بلكه جهنميان به په جهنم كې د آرام و راحت هيڅ خوند اُو نه ګوري، او نه به داسې اُوبه اُوڅكي چې تنده يې پرې ماته شي.(١)

## جهنميانو ته به د سختې تندې او سختې اُولږې عذاب وركولې شي

جهنميانو ته به يو عذاب دا هم وركولې شي چې دوی به سخت تږي او سخت اُوږي كولې شي، خو چې كله دوی ددينه فرياد اوكړي نو بيا به ورته د جهنم هغه ازغي دار او خراب خوراكونه وركولې شي چې په مرۍ كې به نخلي، او د جهنم سختې ګرمې اُوبه او وينې زوې به وركولې شي.

## مجرمان به په جهنم كې تږي غور ځولې شي

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴾.(٢)

ترجمه: او مونږ به مجرمان (كافران) جهنم ته تږي اُوشړو.

جهنميان به دومره تږي كولې شي چې د ډيرې تندې د وجې به يې څټونه كاږه او كږ شي.(٣)

## يهود او نصارى به د تندې په حالت كې جهنم ته غور ځولې شي

په بخاري شريف او مسلم شريف كې اُوږد حديث دی، په هغې كې دا هم ذكر دي: چې الله تعالى به يهود او نصارىٰ ته اوفرمايي:

---

(١) الله تعالى فرمايي: ﴿ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ۝ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴾. النبا آية ٢٤، ٢٥.

ترجمه: دوی به په دې جهنم كې نه خوند د يخنۍ څكي او نه به خوند د ښه اُوبو څكي (يعنى نه به راحت اُوګوري او نه به داسې اُوبه اُوڅكي چې تنده يې پرې ماته شي)، مګر ګرمې اُوبه او د زخمونو وينې زوې به وي.

(٢) مريم آية ٨٦.

(٣) {وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ} الْكَافِرِينَ {إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا} أَيْ مُشَاةً. وَقِيلَ: عِطَاشًا قَدْ تَقَطَّعَتْ أَعْنَاقُهُمْ مِنَ الْعَطَشِ. "وَالْوِرْدُ" جَمَاعَةٌ يَرِدُونَ الْمَاءَ وَلَا يَرِدُ أَحَدٌ الْمَاءَ إِلَّا بَعْدَ عَطَشٍ. تفسير البغوي ج ٥ ص ٢٥٥.

Scanned with CamScanner

فَمَاذَا تَبْغُوْنَ ؟ تاسو څه غواړئ ؟

دوی به اووایي : عَطِشْنَا رَبَّنَا فَاسْقِنَا .

اې زمونږ ربه ! مونږ ډیر تږي شوي یو پس په مونږ باندې اُوبه اُوڅکه.

دوی ته به اِشاره اوکړې شي چې تاسو ولې دې جهنم طرف ته نه ورځئ ؟

پس دوی به د جهنم اُور ته راجمع کړې شي دا به ورته د اُوبو په شان ښکاره شي چې په یو بل به چپې وهي ( حالانکه دا به په حقیقت کې اُوبه نه وي ) نو دوی ټول به په جهنم کې ( د دې اُوبو د طلب پسې ) اُوغورځیږي . (١)

## د کافرانو د اُولږې او تندې نه فریادونه

د ترمذي شریف او مشکوة شریف حدیث دی ، رسول الله ﷺ فرمایي :

يُلْقَى عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوْعُ فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيْهِ مِنَ الْعَذَابِ .

په جهنمیانو باندې به داسې اُولږه مسلّط کړې شي چې دا به د هغه عذاب سره برابر وي په کوم کې چې دوی د مخکې نه ګرفتار دي .

پس دوی به د ډیرې اُولږې د وجې فریاد اوکړي .

فَيُغَاثُوْنَ بِطَعَامٍ مِنْ ضَرِيْعٍ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ .

(١) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ تَتْبَعُ كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ ، فَلَا يَبْقَى مَنْ كَانَ يَعْبُدُ غَيْرَ اللهِ مِنَ الْأَصْنَامِ وَالْأَنْصَابِ إِلَّا يَتَسَاقَطُوْنَ فِي النَّارِ ، حَتَّى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ بَرٌّ أَوْ فَاجِرٌ ، وَغُبَّرَاتُ أَهْلِ الْكِتَابِ فَيُدْعَى الْيَهُوْدُ فَيُقَالُ لَهُمْ : مَنْ كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ؟ قَالُوْا : كُنَّا نَعْبُدُ عُزَيْرَ ابْنَ اللهِ فَيُقَالُ لَهُمْ : كَذَبْتُمْ مَا اتَّخَذَ اللهُ مِنْ صَاحِبَةٍ وَلَا وَلَدٍ ، فَمَاذَا تَبْغُوْنَ ؟ فَقَالُوْا : عَطِشْنَا رَبَّنَا فَاسْقِنَا . فَيُشَارُ أَلَا تَرِدُوْنَ فَيُحْشَرُوْنَ إِلَى النَّارِ كَأَنَّهَا سَرَابٌ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيَتَسَاقَطُوْنَ فِي النَّارِ ، ثُمَّ يُدْعَى النَّصَارَى فَيُقَالُ لَهُمْ : مَنْ كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ؟ قَالُوْا : كُنَّا نَعْبُدُ الْمَسِيْحَ ابْنَ اللهِ ، فَيُقَالُ لَهُمْ : كَذَبْتُمْ ، مَا اتَّخَذَ اللهُ مِنْ صَاحِبَةٍ وَلَا وَلَدٍ ، فَيُقَالُ لَهُمْ : مَاذَا تَبْغُوْنَ ؟ فَكَذَلِكَ مِثْلَ الْأَوَّلِ ... صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ : {إِنَّ اللهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ} [ النساء : ٤٠ ] رقم الحديث ٤٥٨١ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ مَعْرِفَةِ طَرِيْقِ الرُّؤْيَةِ رقم الحديث ٣٠٢ (١٨٣) .

Scanned with CamScanner

نو د دوی فریادرَسي به په ضریع ( اَزغي دار ، تریخ ، بَدبویه بُوټي ) سره اوکړې شي ، چې دا ضریع به جهنمیان نه څړبوي او نه به یې اُولږه ختموي .

دوی به بیا فریاد اوکړي او خوراک به اُوغواړي :

فَيُغَاثُوْنَ بِطَعَامٍ ذِيْ غُصَّةٍ .

پس د دوی فریادرسي به په ذا غُصّه خوراک سره اوکړې شي ( یعنی داسې خوراک به ورکړې شي چې په مرۍ کې به اُونخلي ، نه به بیا ښکته ځي او نه به پورته راځي ) .

په دې وخت کې به دوی‌ته وریاد شي چې کله به په دُنیا کې د دوی په مرۍ کې څه څیز اُونختلو نو په اُوبو څکلو سره به یې ښکته کولو ، پس دوی به د اُوبو د پاره فریاد اوکړي .

( چې دا خوراک پرې د مَرۍ نه ښکته کړي ) .

فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمُ الْحَمِيْمُ بِكَلَالِيْبِ الْحَدِيْدِ. فَإِذَا دَنَتْ مِنْ وُجُوْهِهِمْ شَوَتْ وُجُوْهَهُمْ. فَإِذَا دَخَلَتْ بُطُوْنَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ .

پس دوی ته به ګرمې اِیشیدلې اُوبه د اُوسپنو په اَنبورونو کې نیولو سره ورپورته کړې شي ( یعنی فرښتو به دا د ګرمو خُوټکیدلو اُوبو لوخي د اُوسپنې په اَنبورونو کې نیولي وي او د دوی خُلو ته به یې د څکلو د پاره ورپورته کړي ) ، هر کله چې دا د ګرمو اُوبو لوخي د دوی خُلو ته ورنزدې شي نو د دوی د مخونو غوښه به ورِیته کړي ، بیا کله چې دا ګرمې اُوبه د دوی خېټو ته داخلې شي نو په خېټه کې دننه چې هر څه وي ( لکه ګولمې وغیره ) دا ټول به ټُوټې ټُوټې کړي .

پس ځنې کافران به دې ځنو نورو ته اُووایي :

اُدْعُوْا خَزَنَةَ جَهَنَّمَ . تاسو په جهنم باندې مقرر فرښتې رااُوغواړئ .

( پس دوی به هغه رااُوغواړي ، کله چې هغوی راشي نو دوی به ورته اووایي : تاسو د خپل رَب نه زمونږ د پاره دُعا اوغواړئ چې هغه د مونږ نه یوه ورځ عذاب سپک کړي ) .

هغه فرښتې به ورته اووایي : ﴿ أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ﴾ . (١)

---

(١) غافر (مؤمن) آیة ٥٠ .

Scanned with CamScanner

ترجمه : آیا تاسو ته ستاسو پیغمبران په واضحه معجزو سره نه وو راغلي ؟
دوی به ورته ووایي : آو ( راغلي وو ) .
هغوی به ورته اووایي : ﴿ فَادْعُوا ۚ وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴾ . (۱)
ترجمه : پس تاسو پخپله دُعا اوغواړئ ( مونږ ستاسو شفاعت نه شو کولی ) او ( دا یاد ساتئ چې ) د کافر دُعا خو د ګمراهۍ نه علاوه بل هیڅ شی ندی .
( یعنی د کافر دُعا نه قبلیږي ، ضائع ده ) .
نبي علیه السلام فرمایي چې بیا به کافران یو بل ته اووایي :
اُدْعُوا مَالِكًا . تاسو د جهنم مالِک ( داروغه او مشر ) رااُوغواړئ.
کله چې هغه راشي نو دوی به ورته آواز اوکړي :
﴿ يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ﴾ . (۲)
ترجمه : اې مالک ( د جهنم د فرښتو سرداره ) ! ستا رب دې په مونږ باندې ( د مرګ ) فیصله اوکړي .
( یعنی مونږ له دې مرګ راولي چې ددې عذاب نه خلاص شو ) .
هغه به ورته ( څه وخت پس ) جواب ورکړي : ﴿ إِنَّكُم مَّاكِثُونَ ﴾ . (۳)
ترجمه : بیشکه تاسو به همیشه دلته پراته یئ . ( او په دې عذاب کې به ګرفتاریَی ) .
_ اعمش رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې ما ته ( د صحابه کرامو د طرفه ) دا خبر راکړې شوی چې ددې کافرانو د جهنم داروغه ته درخواست او د هغه د طرفه د جواب په مینځ کې به زر ( ۱۰۰۰ ) کاله وقفه وي ، ( یعنی د جهنم داروغه به ورته زر کاله پس جواب ورکړي ) _
نبي علیه السلام فرمایي چې دا کافران به په خپل مینځ کې یو بل ته اووایي چې ( ددې نورو نه خو کار اُو نه شو ) :

---

(۱) غافر آية ۵۰ .

(۲) الزخرف آية ۷۷ .

(۳) الزخرف آية ۷۷ .

Scanned with CamScanner

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ فَلَا أَحَدَ خَيْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ .

تاسو خپل رَب رااُوبلئ ؛ ځکه تاسو د پاره ( په عذاب لرې کولو کې ) د خپل رَب نه علاوه بل هيڅوک بهتر نشته .

نو دوی به الله تعالی ته درخواست اوکړي :

﴿ رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ ۞ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴾ .(١)

ترجمه : اې زمونږ ربه ! په مونږ باندې خپله بَدبختي غالبه شوی او مونږ ( په دُنيا کې ) گمراه قوم وو ، اې زمونږ ربه ! مونږ د دې جهنم نه اُوباسه بيا که چيرته مونږ دوباره دغه شان کارونه ( شِرک او کُفر ) اوکړل نو بيشکه مونږ به بيا ظالمان يو .

الله تعالی به ورته جواب ورکړي : ﴿ اِخْسَئُوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴾ .(٢)

ترجمه : تاسو په دې جهنم کې چَخې ( گورې ) شئ ( يعنی د سپو په شان ذليل شئ ) او ماسره ( د عذاب لرې کولو باره کې ) خبرې مه کوئ .

نبي عليه السلام فرمايي :

فَعِنْدَ ذٰلِكَ يَئِسُوْا مِنْ كُلِّ خَيْرٍ ، وَعِنْدَ ذٰلِكَ يَأْخُذُوْنَ فِي الزَّفِيْرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ .

په دې وخت کې به دا کافران د هر څيز نه محروم شي . ( يعنی د دوی به يقين پيدا شي چې نه خو د مونږ نه عذاب لرې کولې شي او نه رانه سپکولې شي ) ، او په دې وخت کې به دوی چغې سُورې ، اَفسونونه ، او ځان ته هلاکت ( خبرې ) شروع کړي .(٣)

---

(١) المؤمنون آية ١٠٦ ، ١٠٧ .

(٢) المؤمنون آية ١٠٨ .

(٣) عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " يُلْقَى عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوْعُ فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيْهِ مِنَ الْعَذَابِ . فَيَسْتَغِيْثُوْنَ . فَيُغَاثُوْنَ بِطَعَامٍ مِنْ ضَرِيْعٍ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ . فَيَسْتَغِيْثُوْنَ بِالطَّعَامِ فَيُغَاثُوْنَ بِطَعَامٍ ذِيْ غُصَّةٍ . فَيَذْكُرُوْنَ أَنَّهُمْ كَانُوْا يُجِيْزُوْنَ الْغُصَصَ فِي الدُّنْيَا بِالشَّرَابِ فَيَسْتَغِيْثُوْنَ بِالشَّرَابِ فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمُ الْحَمِيْمُ بِكَلَالِيْبِ الْحَدِيْدِ . فَإِذَا دَنَتْ مِنْ وُجُوْهِهِمْ شَوَتْ وُجُوْهَهُمْ . فَإِذَا دَخَلَتْ ←←←←

Scanned with CamScanner

# کافرانو ته په ميدانِ محشر کې پنځوس زره کاله خوراک او څکاک نه ورکول ، او بيا پرې د جهنم ګرمې اوبه څکل

د حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ نه نقل دي :

مَا ظَنُّكَ بِقَوْمٍ قَامُوا عَلَى أَقْدَامِهِمْ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ لَمْ يَأْكُلُوا فِيهَا أَكْلَةً وَلَمْ يَشْرَبُوا فِيهَا شَرْبَةً حَتَّى انْقَطَعَتْ أَعْنَاقُهُمْ عَطَشًا وَاحْتَرَقَتْ أَجْوَافُهُمْ جُوعًا. ثُمَّ انصرفَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ فَيُسْقَوْنَ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ قَدْ آنَ حَرُّهَا وَاشْتَدَّ نَضْجُهَا. (١)

په هغه خلقو باندې ستا څه خيال دی چې هغوی به ( د قيامت په ورځ ) په خپلو قدمونو باندې پنځوس زره ( ٥٠٠٠٠ ) کاله ولاړ وي ، په دې دومره اوږد وخت کې به يې نه يوه

←←← بُطُونَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِي بُطُونِهِمْ، فَيَقُولُونَ: ادْعُوا خَزَنَةَ جَهَنَّمَ، فَيَقُولُونَ: أَلَمْ {تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا بَلَى قَالُوا فَادْعُوا وَمَا دُعَاءُ الكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ} [غافر: ٥٠] " قَالَ: " فَيَقُولُونَ: ادْعُوا مَالِكًا، فَيَقُولُونَ: {يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ} [الزخرف: ٧٧] " قَالَ: " فَيُجِيبُهُمْ {إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ} [الزخرف: ٧٧] ـ قَالَ الأَعْمَشُ: نُبِّئْتُ أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ وَبَيْنَ إِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَامٍ ـ قَالَ فَيَقُولُونَ: ادْعُوا رَبَّكُمْ فَلَا أَحَدَ خَيْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ. فَيَقُولُونَ: {رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ} [المؤمنون: ١٠٧] " قَالَ: « فَيُجِيبُهُمْ {اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ} » قَالَ: « فَعِنْدَ ذَلِكَ يَئِسُوا مِنْ كُلِّ خَيْرٍ، وَعِنْدَ ذَلِكَ يَأْخُذُونَ فِي الزَّفِيرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ طَعَامِ أَهْلِ النَّارِ رقم الحديث ٢٥٨٦ مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٨٦.(٢٢) ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٤٧ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٥٨٩ ، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٥٢٦ ، احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٣٢ ، تفسير الطبري ج ١٧ ص ١٢٣ .

(١) التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي الباب الحادي والعشرون في ذكر أنواع عذاب أهل النار فيها وتفاوتهم في العذاب بحسب أعمالهم فصل فيما يتحف به أهل النار عند دخولهم إليها أجارنا الله منها ص ١٩٨ . تفسير ابن رجب الحنبلي ج ٢ ص ٣٣ . مجموع رسائل لابن رجب ج ٤ ص ٣٠٤ . احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥١٥ . عمدة القاري شرح صحيح البخاري لعلامة بدر الدين العينى ج ١٩ ص ٢٨٩ . مجموع فتاوى ورسائل فضيلة الشيخ محمد بن صالح العثيمين ج ٢٠ ص ٣٧٣ . مجالس شهر رمضان ص ١٤٤ .

Scanned with CamScanner

نوري خوړلې وي او نه به يې يو غرَپ اُوبه څکلي وي، تر دې چې د دوی څټونه به د ډيرې تَندې د وجې نه کټ (کاږه) شي، او ځيګرونه به يې د اُولږې د وجې نه اُوسوزي، بيا به دوی جهنم ته بوتلې شي، هلته به د ګرمې خُوټکيدلې چيني نه په دوی باندې هغه اُوبه اُوڅکلې شي چې د هغې ګرمائش به آخري حَد ته رسيدلې وي، او ښه به جُوشيدلې وي.

# په جهنميانو باندې به د سختې تندې نه پس ګرمې خُوټکيدلې اُوبه څکلې شي

۱. د حضرت کعب رَحِمَهُ اللهُ نه نقل دي چې الله تعالی به د قيامت په ورځ يو بنده ته د غضب په نظر اوګوري، او حکم به اوکړي: خُذُوْهُ. دا اُونيسئ.

نو يولک (۱۰۰۰۰۰) يا زياتې فرښتې به دا جهنمي رااُونيسي، دوی به د الله تعالی د غضب په وجه دده د تَندې او قدمونو په مينځ کې غضب جمع کړي او جهنم ته به يې راکاږي، د جهنم اُور به هم په ده باندې د الله د غضب په وجه اُويا چنده زيات په غصه وي.

فَيَسْتَغِيْثُ بِشَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ. پس دا به د اُوبو څکلو د پاره فرياد اوکړي.

فَيُسْقَ شَرْبَةً يَسْقُطُ مِنْهَا لَحْمُهُ وَعَصَبُهُ، ثُمَّ يُرْكَسُ فِي النَّارِ.

نو په ده باندې به داسې (ګرمې) اُوبه اُوڅکلې شي چې ددې په وجه به دده د بدن غوښې او پَټې رااُوغورځيږي، بيا به دا پَرمخ (اَلټه) په جهنم کې اُوغورځولې شي.

پس دده د پاره په جهنم کې هلاکت دی. (۱)

---

(۱) عَنْ كَعْبٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: إِنَّ اللهَ يَنْظُرُ إِلَى عَبْدِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهُوَ غَضْبَانُ، فَيَقُوْلُ: خُذُوْهُ، فَيَأْخُذُهُ مِائَةُ أَلْفِ مَلَكٍ وَيَزِيْدُوْنَ، فَيَجْمَعُوْنَ بَيْنَ نَاصِيَتِهِ وَقَدَمَيْهِ غَضَبًا لِغَضَبِ اللهِ، فَيَسْحَبُوْنَهُ عَلَى وَجْهِهِ إِلَى النَّارِ، فَالنَّارُ عَلَيْهِ أَشَدُّ غَضَبًا مِنْ غَضَبِهِ سَبْعِيْنَ ضِعْفًا، فَيَسْتَغِيْثُ بِشَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ، فَيُسْقَ شَرْبَةً يَسْقُطُ مِنْهَا لَحْمُهُ وَعَصَبُهُ، ثُمَّ يُرْكَسُ فِي النَّارِ، فَوَيْلٌ لَهُ مِنَ النَّارِ. وَحُدِّثْتُ عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ أَنَّهُ يَتَقَلَّبُ فِي أَيْدِيْهِمْ إِذَا أَخَذُوْهُ، فَيَقُوْلُ: أَلَا تَرْحَمُوْنِي؟ فَيَقُوْلُوْنَ: وَكَيْفَ نَرْحَمُكَ وَلَمْ يَرْحَمْكَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ؟ . الزهد والرقائق لابن المبارک والزهد لنعيم بن حماد بَابُ صِفَةِ النَّارِ ج ۲ ص ۸۳ ، التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي الباب الحادي والعشرون في ذکر أنواع عذاب أهل النار فيها وتفاوتهم في العذاب بحسب أعمالهم فصل فيما يتحف به أهل النار عند دخولهم إليها أجارنا الله منها ص ۱۹۹ .

Scanned with CamScanner

٣ . جهنمیان چې کله د زقوم اُونه اُوخوري نو ددې پسې به هم سخت تږي شي، کله چې دوی د اُوبو د پاره فریاد اوکړي نو دوی ته به ګرمې څوټکیدلې اُوبه ورکړې شي ، دوی به دومره تږي وي چې د تږې اُوښ په شان به یې زر زر څکي . (١)

# جهنمیانو د پاره د اُور خطرناک لباس

جهنمیانو ته به د اُور مختلف قِسمه لباس ورأغوستلې شي :

## کافرانو ته به د اُور کپړې وَر اغوستلې شي

الله تعالی فرمايي : ﴿ فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ ﴾ . (٢)

ترجمه : پس څوک چې کافران دي نو د دوی د پاره به د اُور نه کپړې پریکړې شي . (یعنی د اُور کپړې به ورله جوړې کړې شي ، او دوی ته به وَر واغوستولې شي ) . (٣)

---

(١) الله تعالی فرمايي : ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ ۞ لَآكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ۞ فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ۞ فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ۞ فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ ﴾ . الواقعة آية ٥١ تا ٥٥ .

ترجمه : اې ګمراهانو دروغ ګڼړونکو ! بیا به تاسو خامخا د زقوم د اُونې نه خوراک کوی ، بیا به ددینه خیټې ډکوی ، بیا به (د خوراک نه پس) ددې د پاسه ګرمې څوټکیدلې اُوبه څکی ، پس دوی به دا د سخت تږې اُوښ د اُوبو څکلو په شان څکی .

(٢) الحج آية ١٩ .

(٣) ( قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ) أَيْ خِيطَتْ وَسُوِّيَتْ، وَشُبِّهَتِ النَّارُ بِالثِّيَابِ لِأَنَّهَا لِبَاسٌ لَهُمْ كَالثِّيَابِ. وَقَوْلُهُ: "قُطِّعَتْ" أَيْ تُقَطَّعُ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ ثِيَابٌ مِنْ نَارٍ، وَذُكِرَ بِلَفْظِ الْمَاضِي لِأَنَّ مَا كَانَ مِنْ أَخْبَارِ الْآخِرَةِ فَالْمَوْعُودُ مِنْهُ كَالْوَاقِعِ الْمُحَقَّقِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: "وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ" [ المائدة : ١١٦] أَيْ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى. وَيَحْتَمِلُ أَنْ يُقَالَ قَدْ أُعِدَّتِ الْآنَ تِلْكَ الثِّيَابُ لَهُمْ لِيَلْبَسُوهَا إِذَا صَارُوا إِلَى النَّارِ. وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ رَحِمَهُ اللَّهُ : "مِنْ نَارٍ" مِنْ نُحَاسٍ، فَتِلْكَ الثِّيَابُ مِنْ نُحَاسٍ قَدْ أُذِيبَتْ وَهِيَ السَّرَابِيلُ الْمَذْكُورَةُ فِي "قَطِرَانٍ" [ابراهيم : ٥٠] وليس في الآنية شي إذا حمي يكون أشد حرًّا مِنْهُ. وَقِيلَ: الْمَعْنَى أَنَّ النَّارَ قَدْ أَحَاطَتْ بِهِمْ كَإِحَاطَةِ الثِّيَابِ الْمَقْطُوعَةِ إِذَا لَبِسُوهَا عَلَيْهِمْ، فَصَارَتْ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ ثِيَابًا لِأَنَّهَا بِالْإِحَاطَةِ كَالثِّيَابِ، مِثْلُ: "وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا" . تفسير القرطبي ج ١٢ ص ٢٦ سورة الحج في تفسير آية ٥٠ . ←←←← ←←←

Scanned with CamScanner

# د بعضې مجرمانو قمیصونه به د ګوګړو (رانځړو) وي

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ ۞ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ النَّارُ ﴾.(١)

ترجمه: او ته به ګوري مجرمان په دغه ورځ (د قیامت) باندې چې په زنځیرونو کې به ترلې شوي وي، د دوی قمیصونه به د ګوګړو (رانځړو) وي، او اور به د دوی مخونه پټ کړي وي.

**تشریح**: د مجرمانو قمیصونه به ځکه د ګوګړو (رانځړو) چې دا اور ډیر زر اخلي، نو دوی ته به په دې کې عذاب سخت وي؛ ځکه د دې ګرمائش به هم ډیر زیات وي.(٢)

---

←←← {فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ} أَيْ: فُصِّلَتْ لَهُمْ مُقَطَّعَاتٌ مِنْ نَارٍ. قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: مِنْ نُحَاسٍ وَهُوَ أَشَدُّ الْأَشْيَاءِ حَرَارَةً إِذَا حَمِيَ. تفسیر ابن کثیر ج ٥ ص ٤٠٦.

(١) ابراهیم آیة ٤٩، ٥٠.

(٢) {سَرَابِيلُهُمْ} أَيْ: قُمُصُهُمْ، وَاحِدُهَا سِرْبَالٌ. {مِنْ قَطِرَانٍ} هُوَ الَّذِي تُهْنَأُ بِهِ الْإِبِلُ. وَقَرَأَ عِكْرِمَةُ وَيَعْقُوبُ "مِنْ قَطِرٍ آنٍ" عَلَى كَلِمَتَيْنِ مُنَوَّنَتَيْنِ، وَالْقِطْرُ: النُّحَاسُ وَالصُّفْرُ الْمُذَابُ. وَالْآنُ: الَّذِي انْتَهَى حَرُّهُ، قَالَ اللهُ تَعَالَى: {يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ} (الرحمن ٤٤). {وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ} أَيْ: تَعْلُو. تفسیر بغوي ج ٤ ص ٣٦٣. و تفسیر ابن کثیر ج ٤ ص ٥٢٢.

(سَرَابِيلُهُمْ) أَيْ قُمُصُهُمْ ... "مِنْ قَطِرَانٍ" يَعْنِي قَطِرَانَ الْإِبِلِ الَّذِي تُهْنَأُ بِهِ، قَالَهُ الْحَسَنُ. وَذَلِكَ أَبْلَغُ لِاشْتِعَالِ النَّارِ فِيهِمْ ... وَرُوِيَ عَنْ حَمَّادٍ أَنَّهُمْ قَالُوا: هُوَ النُّحَاسُ. وَقَرَأَ عِيسَى بْنُ عُمَرَ "قَطْرَانٍ" بِفَتْحِ الْقَافِ وَتَسْكِينِ الطَّاءِ. وَفِيهِ قِرَاءَةٌ ثَالِثَةٌ: كَسْرُ الْقَافِ وَجَزْمُ الطَّاءِ، ... وَقِرَاءَةٌ رَابِعَةٌ: "مِنْ قِطْرٍ آنٍ" رُوِيَتْ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَعِكْرِمَةَ وَسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ وَيَعْقُوبَ، وَالْقِطْرُ النُّحَاسُ وَالصُّفْرُ الْمُذَابُ، وَمِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: "آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْراً". وَالْآنُ: الَّذِي قَدِ انْتَهَى إِلَى حَرِّهِ، وَمِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: "وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ". (وَتَغْشَى) أَيْ تَضْرِبُ (وُجُوهَهُمُ النَّارُ) فَتُغَشِّيهَا. تفسیر القرطبي ج ٩ ص ٣٨٥.

# د جهنم د کپړو ګرمائش

یو ځل حضرت جبریل علیه السلام نبي علیه السلام ته د جهنم څه احوال بیانول، په هغې کې یې دا هم ذکر کړل:

وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَوْ أَنَّ ثَوْبًا مِنْ ثِيَابِ النَّارِ عُلِّقَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَمَاتَ مَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا مِنْ حَرِّهِ. (١)

قسَم په هغه ذات چې هغه تاسو لره بَرحق رسول رالیږلي یَی که چیرته د جهنم کپړې د آسمان او زمکې په مینځ کې زوړندې کړې شي نو ددې د ګرمائش په وجه به د زمکې ټول مخلوقات مړه شي.

# د جهنم لباس به اول ابلیس ته وَرا غوستلې شي

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

أَوَّلُ مَنْ يُكْسَى حُلَّةً مِنَ النَّارِ إِبْلِيْسُ.

اول هغه کس چې هغه ته به د جهنم کپړې وَراغوستلې شي هغه به ابلیس وي.

ابلیس به دا کپړې په خپلو وریزو باندې کیږدي او شاته به یې د ځان پسې راکاږي، او دده اَولاد (او تابعدار) به دده پسې شاته روان وي، ابلیس به دا آواز کوي:

وَا ثُبُوْرَاهُ. هایۍ هلاک شوم.

دده پیروکار (مُتّبِعین) به دا آواز کوي: يَا ثُبُوْرَهُمْ. هایۍ زمونږ د پاره هلاکت دی.

---

(١) قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷺ: جَاءَ جِبْرِيْلُ عليه السلام إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حِيْنِ غَيْرِ حِيْنِهِ الَّذِيْ كَانَ يَأْتِيْهِ فِيْهِ. فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: « يَا جِبْرِيْلُ مَا لِيْ أَرَاكَ مُتَغَيِّرَ اللَّوْنِ؟» فَقَالَ: « مَا جِئْتُكَ حَتَّى أَمَرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِمَفَاتِيْحِ النَّارِ» فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَا جِبْرِيْلُ! صِفْ لِيَ النَّارَ، وَانْعَتْ لِيْ جَهَنَّمَ» فَقَالَ جِبْرِيْلُ: .... وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَوْ أَنَّ ثَوْبًا مِنْ ثِيَابِ النَّارِ عُلِّقَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَمَاتَ مَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا مِنْ حَرِّهِ .... المعجم الاوسط للطبراني ج ٣ ص ٨٩ رقم الحديث ٢٥٨٣ . كنز العمال كتاب القيامة باب في أمور تقع بعد البعث النار رقم الحديث ٣٩٧٨٤ .

Scanned with CamScanner

(دوی به مسلسل همدا چغې وهي) تر دې چې د جهنم اُور ته به وَراُورسي ، هلته به ابليس بيا اووايي :

هایٔ زما د پاره هلاکت دی. دده مُتّبِعين به هم اووايي : هایٔ زمونږ د پاره هلاکت دی.

پس دوی ته به (د الله ﷻ د طرفه) وويلې شي :

﴿لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَّاحِدًا وَّادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا﴾.(١)

ترجمه: تاسو نن ورځ يو هلاکت (مرګ) مه غواړئ بلکه ډير هلاکتونه اُوغواړئ.

(يعنې اوس به هميشه د هلاکت چغې وهئ خو څه فائده به نه درکوي).(٢)

## په مړي باندې چغې سُورې وهونکې ښځې ته به د اُور لباس او خارِښ ګرته وَرواغوستلې شي

د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلنَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ، وَ دِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ.(٣)

(١) الفرقان آية ١۴.

(٢) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَوَّلُ مَنْ يُكْسَى حُلَّةً مِنَ النَّارِ إِبْلِيسُ، فَيَضَعُهَا عَلَى حَاجِبِهِ، وَيَسْحَبُهَا مِنْ خَلْفِهِ، وَذُرِّيَّتُهُ مِنْ بَعْدِهِ، وَهُوَ يُنَادِي: وَا ثُبُورَاهُ. وَيُنَادُونَ: يَا ثُبُورَهُمْ - قَالَ: عَبْدُ الصَّمَدِ: قَالَهَا مَرَّتَيْنِ - حَتَّى يَقِفُوا عَلَى النَّارِ، فَيَقُولُ: يَا ثُبُورَهُ. وَيَقُولُونَ: يَا ثُبُورَهُمْ. فَيُقَالُ لَهُمْ": { لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَّاحِدًا وَّادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا } [الفرقان : ١۴]. قَالَ عَفَّانُ: "وَذُرِّيَّتُهُ خَلْفَهُ، وَهُمْ يَقُولُونَ: يَا ثُبُورَهُمْ". مسند احمد مخرجا ج ٢٠ ص ١۴ مُسْنَدُ الْمُكْثِرِينَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ رقم الحديث ١٢٥٣٦. مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٥٩٠٧، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٩٠، كنز العمال رقم الحديث ٣٠١٨، تفسير البغوي ج ٣ ص ۴٣٨، تفسير القرطبي ج ١٣ ص ٨، تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٩٧، البحر المحيط في التفسير ج ٨ ص ٨٨.

(٣) صحيح مسلم كتاب الجنائز باب التشديد في النياحة رقم الحديث ٢٩(٩٣۴). مشكاة المصابيح البكاء على الميّت الفصل الأول رقم الحديث ١٧٢٧(٦). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٢٩٠٣، صحيح ابن حبان رقم ٣١۴٣.

Scanned with CamScanner

کله چې په مړي باندې چغې سُورې وهونکې ښځه د خپل مرګ نه مخکې توبه اُو نه باسي نو دا به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راپاڅولې شي چې په دې باندې به د ګوګړو (رَنځرو) قمیص وي (ددې د پاره چې اُور زر واخلي)، او د خارښ ګرته به وي. (یعنی په ټول بدن باندې به یې خارښ وي او سوَزي به).

**تشریح**: په مړي چغې سورې وهونکې ښځې په اندامونو باندې به خارښ ځکه لږولې شي چې دې به په دُنیا کې په چغو او سُورو سره د مړي کورواله وُ زړونه سیزل، او د ګوګړو قمیص به ځکه وراَغوستلې شي چې دې به د غم په وخت توري کپړې واغوستې او په مړي باندې به یې ماتَم کولو، نو الله تعالی ورته همدغه سزا هم ورکوي.

علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ لیکلي چې زمونږ آئمه وُ د همدغه شان احادیثو نه معلومه کړې چې په مړي باندې چغې سُورې وهل، مخ وهل، ګریوان شلول، ویښتان ویستل، مخ تورول، په سَر باندې خاورې شیندل، او ماتم کول دا ټول کارونه حرام دي.

(ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په مرقاة کې ددې حدیث بهترینه تشریح هم نقل کړې). (۱)

---

(۱) (اَلنَّائِحَةُ) أَيِ: الَّتِيْ صَنْعَتُهَا النِّيَاحَةُ. (وَإِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا) أَيْ: قَبْلَ حُضُوْرِ مَوْتِهَا.... (تُقَامُ) مَجْهُوْلٌ مِنَ الْإِقَامَةِ. (يَوْمَ الْقِيَامَةِ) بَيْنَ أَهْلِ النَّارِ وَأَهْلِ الْمَوْقِفِ لِلْفَضِيْحَةِ. قَالَ الطِّيْبِيُّ: أَيْ: تُحْشَرُ، وَيُحْتَمَلُ أَنَّهَا تُقَامُ عَلَى تِلْكَ الْحَالَةِ بَيْنَ أَهْلِ النَّارِ وَأَهْلِ الْوَقْفِ. جَزَاءً عَلَى قِيَامِهَا فِي الْمَنَاحَةِ. وَهُوَ الْأَمْثَلُ. (وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ) أَيْ: قَمِيْصٌ مَطْلِيٌّ. (مِنْ قَطِرَانٍ) بِفَتْحِ الْقَافِ وَكَسْرِ الطَّاءِ. طِلَاءٌ يُطْلَى بِهِ. وَقِيْلَ: دُهْنٌ يُدْهَنُ بِهِ الْجَمَلُ الْأَجْرَبُ. وَمَا ضَبَطْنَاهُ هُوَ الْمَحْفُوْظُ فِي الْحَدِيْثِ. وَعَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ فِي الْآيَةِ أَيْضًا إِلَّا مَا شَذَّ. وَفِي الْقَامُوْسِ: اَلْقَطِرَانُ بِالْفَتْحِ وَالْكَسْرِ وَكَظَرِبَانٍ: عُصَارَةُ الْأَبْهَلِ. وَأَمَّا قَوْلُ ابْنِ حَجَرٍ بِكَسْرِ الطَّاءِ وَسُكُوْنِهَا فَقَاصِرٌ مِنْ جِهَةِ الرِّوَايَةِ وَالدِّرَايَةِ. قَالَ الطِّيْبِيُّ: اَلْقَطِرَانُ مَا يَتَحَلَّبُ مِنْ شَجَرٍ يُسَمَّى الْأَبْهَلَ فَيُطْبَخُ. وَيُدْهَنُ بِهِ الْإِبِلُ الْجَرْبَاءُ. فَيَحْرِقُ الْجَرَبَ بِحَرَارَتِهِ وَحِدَّتِهِ الْجِلْدَ. وَقَدْ تَبْلُغُ حَرَارَتُهُ الْجَوْفَ. (وَدِرْعٌ) عَطْفٌ عَلَى سِرْبَالٍ. قَالَ الطِّيْبِيُّ: دِرْعُ الْحَدِيْدِ يُؤَنَّثُ، وَدِرْعُ الْمَرْأَةِ قَمِيْصُهَا. اَلسِّرْبَالُ الْقَمِيْصُ مُطْلَقًا. (مِنْ جَرَبٍ) أَيْ: مِنْ أَجْلِ جَرَبٍ كَائِنٍ بِهَا. قَالَ الطِّيْبِيُّ: أَيْ يُسَلَّطُ عَلَى أَعْضَائِهَا الْجَرَبُ وَالْحِكَّةُ. بِحَيْثُ يُغَطِّيْ جِلْدَهَا تَغْطِيَةَ الدِّرْعِ. فَتُطْلَى مَوَاقِعُهُ بِالْقَطِرَانِ. لِتُدَاوَى فَيَكُوْنُ الدَّوَاءُ أَدْوَى مِنَ الدَّاءِ لِاشْتِمَالِهِ عَلَى لَذْعِ الْقَطِرَانِ. وَإِسْرَاعِ النَّارِ فِي الْجُلُوْدِ. وَاللَّوْنِ الْوَحْشِ. قَالَ التُّوْرِبِشْتِيُّ: خُصَّتْ بِدِرْعٍ مِنَ الْجَرَبِ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَجْرَحُ بِكَلِمَاتِهَا الْمُحْرِقَةِ قُلُوْبَ ذَوَاتِ الْمُصِيْبَاتِ، وَتَحُكُّ بِهَا بَوَاطِنَهُنَّ، فَعُوْقِبَتْ فِي ذٰلِكَ الْمَعْنَى بِمَا يُمَاثِلُهُ فِي الصُّوْرَةِ. ←←←←

# د اُور پڼړې

بعضې جهنميانو ته به د اُور پڼړې اچولې شي چې ددې په وجه د دوی دِماغ هم جوش وهي.

(مخکې د مسلم شريف حديث تير شو) رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم فرمايي:

إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ. مَا يَرَى أَنَّ أَحَدًا أَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا وَإِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا. (١)

بيشکه په جهنميانو کې به د ټولو نه سپک عذاب د هغه چا وي چې د هغه په خپو کې به دوه (٢) د اُور پڼړې وي، د پڼړو د پاسه به د اُور دوه تَسمې وي، ددې دواړو (د ګرمائش) په وجه به دده دِماغ داسې جوش وهي لکه څنګه چې کټوی (ديګچې) جُوش وهي، دا کس به دا ګمان نه کوي چې ګني بل کس دده نه په سخت عذاب کې مبتلاء دی (يعنی خپل ځان به د ټولو نه په سخت عذاب کې ګرفتار ګڼړي) حالانکه دا به په جهنميانو کې د ټولو نه په سپک عذاب کې مبتلاء وي.

---

←←← وَخُصَّتْ أَيْضًا بِسَرَابِيلَ مِنْ قَطِرَانٍ؛ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَلْبَسُ الثِّيَابَ السُّودَ فِي الْمَآتِمِ، فَأَلْبَسَهَا اللهُ تَعَالَى السَّرَابِيلَ لِتَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهَا .... قَالَ ابْنُ حَجَرٍ رَحِمَهُ اللهُ: وَأَخَذَ أَئِمَّتُنَا مِنْ هَذِهِ الْأَحَادِيثِ تَحْرِيمَ النَّوْحِ، وَتَعْدِيدَ مَحَاسِنِ الْمَيِّتِ، بِنَحْوِ وَاكَهْفَاهُ مَعَ رَفْعِ الصَّوْتِ وَالْبُكَاءِ، وَتَحْرِيمِ ضَرْبِ الْخَدِّ، وَشَقِّ الْجَيْبِ، وَنَشْرِ الشَّعْرِ وَحَلْقِهِ وَنَتْفِهِ، وَتَسْوِيدِ الْوَجْهِ، وَإِلْقَاءِ التُّرَابِ عَلَى الرَّأْسِ، وَالدُّعَاءِ بِالْوَيْلِ وَالثُّبُورِ. قَالَ إِمَامُ الْحَرَمَيْنِ وَآخَرُونَ: وَالضَّابِطُ أَنَّهُ يَحْرُمُ كُلُّ فِعْلٍ يَتَضَمَّنُ إِظْهَارَ جَزَعٍ يُنَافِي الْإِنْقِيَادَ وَالتَّسْلِيمَ لِقَضَاءِ اللهِ تَعَالَى. قَالُوا: وَمِنْ ذَلِكَ تَغْيِيرُ الزِّيِّ، وَلِبْسُ غَيْرِ مَا جَرَتِ الْعَادَةُ بِلُبْسِهِ، أَيْ: وَإِنِ اعْتِيدَ لُبْسُهُ عِنْدَ الْمُصِيبَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٣ ص ١٢٣٥ بَابُ الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ أَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا رقم الحديث ٣٦٤(٢١٣). مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٦٦٧(٣).

وفي رواية: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَنْتَعِلُ بِنَعْلَيْنِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي دِمَاغُهُ مِنْ حَرَارَةِ نَعْلَيْهِ». صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ أَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا رقم الحديث ٣٦١(٢١١). مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٤١٣٣.

Scanned with CamScanner

# د دِین احکامات پټونکي عالِم ته به د قیامت په ورځ په خُله کې د اُور واګې وَرواچولې شي

کوم عالِم چې سره د عِلمه حق پټ کړي ، یا د خلقو نه د دِین احکامات پټ کړي نو د قیامت په ورځ به ده ته په خُله کې د اُور واګې وَرواچولې شي .

د ترمذي شریف او ابوداؤد شریف حدیث دی ، رسولُ الله ﷺ فرمایي :

مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ . (١)

د چا نه چې د عِلم په باره کې څه تپوس اوکړې شي او هغه ده ته معلوم وي خو پټ یې کړي (او هغه ته یې اُو نه وایي) نو د قیامت په ورځ به ده ته د اُور واګې واچولې شي .

**تشریح** : په دې حدیث کې د هغه عالِم د پاره سخت وعید ذکر شوی چې دده نه خلق د داسې عِلم په باره کې پوښتنه اوکړي چې د هغې تعلیم واجب او ضروري وی خو دا یې سره د عِلمه ورته اُو نه ښایي نو ده ته به د قیامت په ورځ په همدغه خُله کې د اُور واګې اچولې شي خو دا یاد ساتئ چې ددینه هغه عِلم مراد دی چې د هغې تعلیم ضروري وي ، مثلاً یو کافر د اسلام راوړلو اِراده لري او هغه چا عالِم ته اووایي چې " ماته د اسلام تعلیمات اُوښایه " ، یا د عالِم نه څوک د مانځه د احکاماتو متعلق پوښتنه اوکړي ، یا د څه حلال و حرام متعلق ورنه پوښتنه اوکړي او دې عالِم ته ددې صحیح جواب معلوم وي نو ددې جواب ورکول په دې عالِم لازمي دي ، که جواب ورنکړي نو په مذکوره وعید کې راځي .

البته که دده نه څوک د مُباح یا نوافلو په باره کې پوښتنه اوکړي او دا جواب ورنکړي نو

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْعِلْمِ بَابُ مَا جَاءَ فِي كِتْمَانِ الْعِلْمِ رقم الحديث ٢٦٤٩ وقال الترمذي: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وقال الالباني: صحيح . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْعِلْمِ بَابُ كَرَاهِيَةِ مَنْعِ الْعِلْمِ رقم الحديث ٣٦٥٨ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ٢٦٤ ، و رقم ٢٦٦ ، المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ٣٤٤ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ تَدَاوَلَهُ النَّاسُ بِأَسَانِيدَ كَثِيرَةٍ تُجْمَعُ وَيُذَاكَرُ بِهَا، وَهَذَا الْإِسْنَادُ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي . و رقم الحديث ٣٤٦ . مشكاة المصابيح كتاب العلم الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٢٢٣(٢٦) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧٥٧١ .

Scanned with CamScanner

يا په دې مذکوره وعيد کې نه راځي. (١)

## د جهنميانو بِستره او بړستن دواړه به د اُور وي

د جهنميانو د پاره به لاندې د غوړلو بِستره هم د اُور وي ، او د پاسه چې کومه بړستن اغوندي هغه به هم د اُور وي.

اللّٰه تعالى فرمايي : ﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ﴾. (٢)

ترجمه : ددې مجرمانو د پاره به د جهنم بِسترې ( فرشونه ) وي ، او د دوی د پاسه به د اُور بړستنې وي. (٣)

## جهنميان به د هر طرف نه اُور راګير کړي وي

١. د جهنميانو د پاسه او بښکته به د اُور وريځې وي .

اللّٰه تعالى فرمايي :

﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾. (٤)

ترجمه : د دوی د پاره به د دوی د پاسه د اُور وريځې ( لمبې ) وي ، او د دوی لاندې به هم د اُور وريځې وي.

٣ . او هر طرف نه به اُور راګېر کړي وي. اللّٰه ربّ العزت فرمايي :

---

(١) مظاهرحق ج ١ كتاب العلم.

(٢) الاعراف آية ٤١ .

(٣) {لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ} أَيْ: فِرَاشٌ، {وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ} أَيْ: لُحُفٌ، وَهِيَ جَمْعُ غَاشِيَةٍ، يَعْنِي مَا غَشَّاهُمْ وَغَطَّاهُمْ. يُرِيدُ إِحَاطَةَ النَّارِ بِهِمْ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ، كَمَا قَالَ اللهُ، "لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ" ( الزمر ، ١٦). تفسير البغوي ج ٣ ص ٢٢٩ .

"المهاد" الْفِرَاشُ. وَ"غواشٍ" جَمْعُ غَاشِيَةٍ، أَيْ نِيرَانٌ تَغْشَاهُمْ. تفسير القرطبي ج ٧ ص ٢٠٧ .

(٤) الزمر آية ١٦ .

﴿ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ بِالْكٰفِرِيْنَ ۝ يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴾.(١)

ترجمه : او بیشکه جهنم به خامخا کافرانو لره راګیرونکې وي ، په کومه ورځ به چې دوی لره عذاب د دوی د پاسه نه ، او د دوی د لاندې خپو طرف نه پټ کړي (يعنی د هر طرف نه به يې عذاب راګېر کړي) ، او الله تعالی به ورته اوفرمايل : تاسو اُوڅکئ مزه د هغه اعمالو کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.

## د جهنميانو هر څه به د اُور وي

**١** . حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ به چې کله د جهنميانو تذکره کوله نو دا به يې فرمايل :

قد حذيت لَهُمْ نِعَالٌ مِن نَارٍ ، وسرابيلُ مِن قطرانٍ ، وطَعَامُهُمْ مِنْ نَارٍ ، وشرابُهُم مِن نَارٍ وفرشٌ مِن نَارٍ ، ولُحُف مِن نَارٍ ، ومساكنُ مِن نَارٍ ، في شرِّ دارٍ وأسوأ عذابٍ في الْأَجْسَادِ أَكْلًا أَكْلًا ، وَصَهْرًا صَهْرًا ، وَحُطْمًا حُطْمًا .(٢)

د دوی څپلی به د اُور وي ، قميصونه به يې د ګوګړو وي ، خوراک به يې د اُور وي ، څکاک به يې د اُور وي ، بسترې به يې د اُور وي ، څادرونه به يې د اُور وي ، د اُوسيدو ځای به يې د اُور وي ، په بَدترين کور کې به وي ، په ډير تور (خطرناک) عذاب کې به مبتلاء وي چې د دوی جِسم به باربار خُوري ، ويلې کوي به يې ، او ماتوي به يې .

**٢** . وهب بن مُنَبِّه رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

إِنَّ أَهْلَ النَّارِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُهَا ، فَهُمْ فِي النَّارِ لَا يَهْدَؤُوْنَ وَلَا يَنَامُوْنَ وَلَا يَمُوْتُوْنَ ، يَمْشُوْنَ

---

(١) العنكبوت آية ٥٤ ، ٥٥ .

(٢) عن الحسن، أنه كان إذا ذكر أهل النار قال في وصفهم: قد حذيت لهم نعال من نار ... التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي ١٦٤ الباب التاسع عشر في ذكر كسوة أهل النار ولباسهم فيها فصل تفسير قوله تعالى : " لهم من جهنم مهاد ومن فوقهم غواش" . تفسير ابن رجب الحنبلي ( روائع التفسير ) ج ١ ص ٤٨١ سورة الاعراف في تفسير آية ٤١ .

Scanned with CamScanner

عَلَى النَّارِ، وَيَجْلِسُونَ عَلَى النَّارِ، وَيَشْرَبُونَ مِنْ صَدِيدِ أَهْلِ النَّارِ وَيَأْكُلُونَ مِنْ زَقُّومِ النَّارِ، لُحُفُهُمْ نَارٌ، وَفُرُشُهُمْ نَارٌ، وَقُمُصُهُمْ نَارٌ وَقَطِرَانٌ، {وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ} [إبراهيم: ٥٠] " قَالَ: وَجُمِعَ أَهْلُ النَّارِ فِي سَلَاسِلَ بِأَيْدِي الْخَزَنَةِ أَطْرَافُهَا، يَجْذِبُونَهُمْ مُقْبِلِينَ وَمُدْبِرِينَ، فَيَسِيلُ صَدِيدُهُمْ إِلَى حُفَرٍ فِي النَّارِ، فَذَلِكَ شَرَابُهُمْ.

بيشكه كوم جهنميان چې به هميشه په جهنم كې وي دوى به په اُور كې وي ، نه به سكون مُومي ، نه به اُوده كيدې شي ، او نه به وربانديې مرګ راځي ، د دوى تلل به په اُور وي ، كيناستل به يې په اُور وي ، د جهنميانو د زخمونو وينې او زَوې به څكي ، د جهنم زقوم اُونه به خوري ، بِسترې او څادرونه به يې د اُور وي ، قميصونه به يې د اُور او ګوګړو وي ، اُور به د دوى مخونه پټ كړي وي . او جهنميان به په زنځيرونو كې جمع كړې شي ، فرښتو به دا زنځيرونه په لاسونو كې نيولي وي ، مخكې او شاته به يې راكاږي ، د دوى د زخمونو نه به وِينې او زَوې د جهنم په كندو كې بهيږي او همدا به د دوى څكاک هم وي .

وهب بن مُنَبِّه رَحِمَهُ اللَّهُ ددې خبرې كولو نه پس په ژړا شو ، دومره يې اُوژړل چې آخر بې هوشه شو او را اُوغورځيد . (١)

(١) عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ رَحِمَهُ اللَّهُ ، قَالَ: "إِنَّ أَهْلَ النَّارِ الَّذِينَ هُمْ أَهْلُهَا .... قَالَ: ثُمَّ بَكَى وَهْبُ بْنُ مُنَبِّهٍ حَتَّى سَقَطَ مَغْشِيًّا عَلَيْهِ. قَالَ: وَغَلَبَ بَكْرَ بْنَ خُنَيْسٍ الْبُكَاءُ حَتَّى قَامَ، وَلَمْ يَقْدِرْ أَنْ يَتَكَلَّمَ وَبَكَى مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ بُكَاءً شَدِيدًا . صفة النار لابن ابي الدنيا أَلْوَانُ الْعَذَابِ ج١ ص ٨٧ رقم ١٢٣ . التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي ص ١٦٣ الباب التاسع عشر. في ذكر كسوة أهل النار ولباسهم فيها فصل تفسير قوله تعالى: "لهم من جهنم مهاد ومن فوقهم غواش "

Scanned with CamScanner

# د جهنميانو چغې او سُورې

جهنميان به په جهنم کې د خَر په شان چغې سُورې وهي.

١. الله تعالی فرمايي: ﴿ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴾.(١)

ترجمه: ددې کافرانو د پاره به په دې جهنم کې تېزې چغې (او سورې) وي، او دوی به په دې کې هيڅ نه اوري.

٢. بل ځای الله رب العزّت فرمايي:

﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴾.(٢)

ترجمه: پس کوم خلق چې بَدبخت دي نو دوی به په جهنم کې وي، د دوی د پاره به په دې جهنم کې تېزې چغې او کمزورې چغې وي.

**د زَفير او شهيق تشريح:** د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چې "زَفِيْر" تېز آواز ته وايي، او "شَهِيْق" کمزوري آواز ته وايي.

د امام ضحاک رحمه الله او مقاتل رحمه الله نه نقل دي چې د خَر اول آواز ته زفير وايي (کوم چې تېز وي)، او آخري آواز ته شهيق وايي (کوم چې کمزورې وي).

ابوالعالية رحمه الله فرمايي چې زفير هغه آواز ته وايي چې په مَرۍ کې وي، او شهيق هغه آواز ته وايي چې په سِينه کې وي.(٣)

---

(١) الانبياء آية ١٠٠.

(٢) هود آية ١٠٦.

(٣) { لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ } صَوْتٌ شَدِيدٌ { وَشَهِيقٌ } صوت ضعيف. تفسير الجلالين ص ٣٠٠ سورة هود آية ١٠٦.

قَوْلُهُ: { فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: اَلزَّفِيْرُ: الصَّوْتُ الشَّدِيْدُ، وَالشَّهِيْقُ الصَّوْتُ الضَّعِيْفُ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ رَحِمَهُ اللهُ وَمُقَاتِلٌ رَحِمَهُ اللهُ: اَلزَّفِيْرُ أَوَّلُ نَهِيْقِ الْحِمَارِ، وَالشَّهِيْقُ آخِرُهُ إِذَا رَدَّدَهُ فِي جَوْفِهِ. وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ رَحِمَهُ اللهُ: اَلزَّفِيْرُ فِي الْحَلْقِ وَالشَّهِيْقُ فِي الصَّدْرِ.
تفسير البغوي ج ٣ ص ٢٠٠.

Scanned with CamScanner

(په دې کې څه نور اقوال هم شته). (١)

بهر حال، جهنميان به په جهنم کې د سخت عذاب په وجه په تېز آواز او کمزوري آواز دواړو سره چغې سُورې وهي.

٣. بل ځای الله جلّ جلاله فرمايي: ﴿ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا ﴾. (٢)

ترجمه: او دا کافران به په دې جهنم کې چغې وهي.

## د جهنميانو ژړا

### جهنميان به د سخت عذاب په وجه دومره اُوژاړي چې په آخر کې به يې د سترګو نه د اُوښکو په ځای وِينې روانې شي

جهنميان به د سخت عذاب په وجه دومره اُوژاړي چې په آخر کې به يې په سترګو کې اُوښکې ختمې شي او د سترګو نه به يې د اُوښکو په ځای وِينې روانې شي، دا اُوښکې او وِينې به دومره زياتې وي چې که په دې کې کِشتۍ پريخودلې نو هم په کې تللې به شي.

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

يَاَيُّهَا النَّاسُ اِبْكُوْا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِيعُوْا فَتَبَاكَوْا، فَإِنَّ أَهْلَ النَّارِ يَبْكُوْنَ فِي النَّارِ حَتّٰى تَسِيْلَ

---

(١) (لَهُمْ فِيهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ) قَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ: اَلزَّفِيْرُ مِنَ الصَّدْرِ، وَالشَّهِيْقُ مِنَ الْحَلْقِ. وَعَنْهُ أَيْضًا ضِدُّ ذٰلِكَ. وَقَالَ الزَّجَّاجُ: اَلزَّفِيْرُ مِنْ شِدَّةِ الْأَنِيْنِ، وَالشَّهِيْقُ مِنَ الْأَنِيْنِ الْمُرْتَفِعِ جِدًّا، قَالَ: وَزَعَمَ أَهْلُ اللُّغَةِ مِنَ الْكُوفِيِّيْنَ وَالْبَصْرِيِّيْنَ أَنَّ الزَّفِيْرَ بِمَنْزِلَةِ اِبْتِدَاءِ صَوْتِ الْحَمِيْرِ فِي النَّهِيْقِ، وَالشَّهِيْقَ بِمَنْزِلَةِ آخِرِ صَوْتِ الْحِمَارِ فِي النَّهِيْقِ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَكْسَهُ، قَالَ: اَلزَّفِيْرُ الصَّوْتُ الشَّدِيْدُ، وَالشَّهِيْقُ الصَّوْتُ الضَّعِيْفُ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ وَمُقَاتِلٌ: اَلزَّفِيْرُ مِثْلُ أَوَّلِ نَهِيْقِ الْحِمَارِ، وَالشَّهِيْقُ مِثْلُ آخِرِهِ حِيْنَ فَرَغَ مِنْ صَوْتِهِ. وَقِيْلَ: اَلزَّفِيْرُ إِخْرَاجُ النَّفَسِ وَهُوَ أَنْ يَمْتَلِئَ الْجَوْفُ غَمًّا فَيَخْرُجُ بِالنَّفَسِ، وَالشَّهِيْقُ رَدُّ النَّفَسِ. وَقِيْلَ: اَلزَّفِيْرُ تَرْدِيْدُ النَّفَسِ مِنْ شِدَّةِ الْحُزْنِ مَأْخُوْذٌ مِنَ الزَّفْرِ وَهُوَ الْحَمْلُ عَلَى الظَّهْرِ لِشِدَّتِهِ، وَالشَّهِيْقُ النَّفَسُ الطَّوِيْلُ الْمُمْتَدُّ، مَأْخُوْذٌ مِنْ قَوْلِهِمْ: جَبَلٌ شَاهِقٌ، أَيْ طَوِيْلٌ. وَالزَّفِيْرُ وَالشَّهِيْقُ مِنْ أَصْوَاتِ الْمَحْزُوْنِيْنَ. تفسير القرطبي ج ٩ ص ٩٨.

(٢) فاطر آية ٣٧.

Scanned with CamScanner

دُمُوْعُهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ كَأَنَّهَا جَدَاوِلُ حَتّٰى تَنْقَطِعَ الدُّمُوْعُ ، فَتَسِيْلُ الدِّمَاءُ ، فَتَقْرَحُ الْعُيُوْنُ ، فَلَوْ أَنَّ سُفُنًا أُزْجِيَتْ فِيْهَا لَجَرَتْ . (١)

اې خلقو ! تاسو ( د الله ﷻ د يرې نه ، يا د الله ﷻ په شوق کې ) اُوژاړئ ، که د حقيقي ژړا طاقت مو نه وي نو بيا په تکلف سره اُوژاړئ ( يعنی د الله تعالی د عذاب تصوّر کولو سره د ژړا صورت اختيار کړئ ) ځکه جهنميان به په جهنم کې دومره اُوژاړي چې اُوښکې به يې په مخونو باندې داسې روانې وي ګويا چې دا بهيدونکې نالې دي ، تر دې چې اُوښکې به يې ( په سترګو کې ) ختمې شي ، بيا به يې د سترګو نه ( د اُوښکو په ځای ) وينې بهيږي ، پس سترګې به يې زخمي شي ، ( د دوی د سترګو نه به دومره اُوښکې او وينې لاړې شي چې ) که چيرته کشتی په دې اُوښکو او وينو کې پريخودلې شي نو روانې به شي . (٢)

( همداسې مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی ) . (٣)

---

(١) شرح السنة للبغوي كِتَابُ الْفِتَنِ بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا نَعُوذُ بِاللهِ مِنْهَا ج ١٥ ص ٢٥٣ . الزهد والرقائق لابن المبارک والزهد لنعيم بن حماد ج ٢ ص ٨٥ . الرقة والبكاء لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٦١ رقم الحديث ٢٥ . تفسير البغوي ج ٣ ص ٨٠ سورة التوبة في تفسير آية ٨٢ . تفسير القرطبي ج ٨ ص ٢١٧ ، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٨٥(٢١) . الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ٥٢٧ . تفسير ابن كثير ج ٣ ص ١٩١ سورة التوبة في تفسير آية ٨٢ . الدر المنثور ج ٣ ص ٢٥٧ . مجمع الزوائد باب بكاء اهل النار رقم الحديث ١٨٦٠٣ ، الزواجر ج ٢ ص ٣٢٣ .

(٢) ( يَا أَيُّهَا النَّاسُ ابْكُوْا ) أَيِ ابْكُوْا خَوْفًا عَلٰى ذُنُوْبِكُمْ ، أَوْ شَوْقًا إِلٰى رَبِّكُمْ ، كَمَا أَخْبَرَ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى عَنْ حَالَةِ أَنْبِيَائِهِ وَأَصْفِيَائِهِ : { إِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَبُكِيًّا } [ مريم : ٥٨ ] وَقَدْ سَجَدَ بَعْضُ السَّلَفِ فِيْ هٰذِهِ الْآيَةِ فَقَالَ : هٰذِهِ السَّجْدَةُ فَأَيْنَ الْبُكَاءُ ؟ ( فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِيْعُوْا ) أَيْ لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَى الْبُكَاءِ الْحَقِيْقِيِّ فَإِنَّهُ لَيْسَ بِالْأَمْرِ الْإِخْتِيَارِيِّ ( فَتَبَاكَوْا ) وَالْمَعْنٰى تَحْمِلُوْا أَنْفُسَكُمْ بِالتَّكَلُّفِ عَلَى الْبُكَاءِ ، وَفِيْهِ إِيْمَاءٌ إِلٰى قَوْلِهِ تَعَالٰى : { فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا } [ التوبة : ٨٢ ] ( فَإِنَّ أَهْلَ النَّارِ ) أَيْ مِنَ الْكُفَّارِ ، وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَعُمَّ الْفُجَّارَ .... مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٦٢١ في تشريح حديث ٥٦٨٥ .

(٣) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ ﷺ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « إِنَّ أَهْلَ النَّارِ لَيَبْكُوْنَ حَتّٰى لَوْ أُجْرِيَتِ السُّفُنُ فِيْ دُمُوْعِهِمْ لَجَرَتْ ، وَإِنَّهُمْ لَيَبْكُوْنَ الدَّمَ يَعْنِيْ مَكَانَ ←←←←←←←←

Scanned with CamScanner

## د ډیرې ژړا په وجه به د جهنمیانو آواز کیني

یو ورځ صالح مُرّي رَحِمَهُ اللهُ خلقو ته وعظ کولو او په جهنم کې یې د ظالمانو د پاره مقرر شوي سزاګانې ذکر کولې ، نو دا یې هم اوفرمایل :

لَقَدْ بَلَغَنِيْ أَنَّهُمْ يَصْرُخُوْنَ فِي النَّارِ حَتَّى تَنْقَطِعَ أَصْوَاتُهُمْ فَلَا يَبْقَى مِنْهَا إِلَّا كَهَيْئَةِ الْأَنِيْنِ مِنَ الْمُدْنِفِ . (۱)

په تحقیق سره ماته دا خبره رارسیدلې ده چې جهنمیان به په جهنم کې چغې سُورې وهي تر دې چې د دوی آوازونه به کیني ، په دوی کې به نور د ژړا طاقت نه وي صرف د خُلې نه به یې د قریبُ الموت کس په شان د ژړا کمزورې آواز راأوځي .

## جهنمیان به په تنګ ځای کې اَچولې شي

څوک چې د آخرت نه مُنکروي نو دوی به د جهنم په تَنګ او تیاره ځای کې اچولې شي ، او ګېرچاپېره به ورنه اُوروي .

۱ . الله تعالی فرمایي : ﴿وَإِذَآ أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ۝ لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا﴾ . (۲)

---

←←← الدَّمْعِ » المستدرک علی الصحیحین للحاکم كِتَابُ الْأَهْوَالِ ج ۴ ص ۶۴۸ رقم الحدیث ۸۷۹۱ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ " ، ووافقه الذهبي . التفسیر المظهري ج ۴ ص ۲۷۴ ، الترغیب والترهیب للمنذري رقم الحدیث ۶۵۱۸ .

وفي روایة : عَنْ أَبِي مُوسَى ﷺ قَالَ : إِنَّ أَهْلَ النَّارِ لَيَبْكُوْنَ فِي النَّارِ حَتَّى لَوْ أُجْرِيَتِ السُّفُنُ فِيْ دُمُوْعِهِمْ لَجَرَتْ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَيَبْكُوْنَ الدَّمَ بَعْدَ الدُّمُوْعِ وَبِمِثْلِ مَا هُمْ فِيْهِ . مصنف ابن ابي شیبة كِتَابُ ذِكْرِ النَّارِ مَا ذُكِرَ فِيْمَا أُعِدَّ لِأَهْلِ النَّارِ وَشِدَّتِهِ ج ۷ ص ۵۰ رقم الحدیث ۳۴۱۳۱ ، حلیة الاولیاء ج ۱ ص ۲۶۱ ، کنزالعمال رقم الحدیث ۳۹۵۲۸ .

(۱) حلیة الأولیاء وطبقات الأصفیاء ج ٦ ص ١٦٥ صَالِحُ بْنُ بَشِيْرٍ الْمُرِّيُّ . التخویف من النار والتعریف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي الباب الثاني والعشرون في ذکر بکاء اهل النار وزفیرهم وشهیقهم وصراخهم ودعائهم الذي لا یستجاب بهم ص ۲۰۲ .

(۲) الفرقان آیة ۱۳ ، ۱۴ .

ترجمه : او هر کله چې دوی د جهنم په تَنګ ځای کې اُوغورځولې شي چې لاسونه به يې د څټونو سره په زنځيرونو باندې تړل شوي وي نو هلته به دوی د مرګ دُعاګانې غواړي (يعنى دا به وايي چې "واى هلاک شو" نو دوى ته به ووپلې شي :) تاسو نن ورځ يو هلاکت (مرګ) مه غواړئ بلکه ډير هلاکتونه اُوغواړئ (يعنى اوس هميشه د هلاکت چغې وهئ) . (١)

٢. د نبي عليه السلام نه د مذکوره آيت متعلق پوښتنه اوشوه ، نو دوی ورته اوفرمايل :

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّهُمْ لَيُسْتَكْرَهُوْنَ فِي النَّارِ كَمَا يُسْتَكْرَهُ الْوَتِدُ فِي الْحَائِطِ .

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده يقيناً جهنميان به د اُور په دې تَنګ ځای کې دومره په زُور ورننويستلې شي لکه ميخ چې په ديوال کې په زُور وَرتَک وهلې شي . (٢)

٣. حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي :

إِنَّ جَهَنَّمَ لَتَضِيْقُ عَلَى الْكَافِرِ كَتَضْيِيْقِ الزُّجِّ عَلَى الرُّمْحِ . (٣)

بيشکه جهنم به په کافر باندې داسې راتنګولې شي لکه د نېزې د بيخ اُوسپنه چې په نېزه

(١) {وَإِذَا أُلْقُوْا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : تَضِيْقُ عَلَيْهِمْ كَمَا يَضِيْقُ الزُّجُّ فِي الرُّمْحِ ، {مُقَرَّنِيْنَ} مُصَفَّدِيْنَ قَدْ قُرِنَتْ أَيْدِيْهِمْ إِلَى أَعْنَاقِهِمْ فِي الْأَغْلَالِ . وَقِيْلَ: مُقَرَّنِيْنَ مَعَ الشَّيَاطِيْنِ فِي السَّلَاسِلِ، {دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : وَيْلًا . وَقَالَ الضَّحَّاكُ: هَلَاكًا . تفسير البغوي ج ٦ ص ٧٥ . وهكذا في تفسير القرطبي ج ١٣ ص ٨ . / اَلزُّجُّ: حديدة في أسفل الرمح.

{دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا} أَيْ: بِالْوَيْلِ وَالْحَسْرَةِ وَالْخَيْبَةِ . تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٩٧ .

(٢) عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِيْ أُسَيْدٍ ـ يَرْفَعُ الْحَدِيْثَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ قَوْلِ اللهِ {وَإِذَا أُلْقُوْا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُقَرَّنِيْنَ} قَالَ : "وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّهُمْ لَيُسْتَكْرَهُوْنَ فِي النَّارِ كَمَا يُسْتَكْرَهُ الْوَتِدُ فِي الْحَائِطِ" . تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٩٧ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٦ ص ٢٤٠ ، تفسير ابي السعود ج ٦ ص ٢٠٦ ، التفسير المظهري ج ٧ ص ١٤ .

(٣) تفسير القرطبي ج ١٣ ص ٨ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٦ ص ٢٤٠ . التفسير المظهري ج ٧ ص ١٤ .

Scanned with CamScanner

باندې راتنګولې شي.

## کافران به د اور په تابوتونو کې بند وي

**١.** حضرت عبدالله بن مسعود ﷜ د قرآن کريم دا آیت اولوست:

﴿ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَّهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴾.(١)

ترجمه: ددې کافرانو د پاره به په دې جهنم کې تېزې چغې (او سورې) وي، او دوی به په دې کې هیڅ نه اوري.

بیا ابن مسعود ﷜ اوفرمایل:

إِذَا أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَنْ يُخَلَّدُ فِيهَا جُعِلُوا فِي تَوَابِيتَ مِنْ نَارٍ، ثُمَّ جُعِلَتْ تِلْكَ التَّوَابِيتُ فِي تَوَابِيتَ أُخْرَى، ثُمَّ جُعِلَتِ التَّوَابِيتُ فِي تَوَابِيتَ أُخْرَى، فِيهَا مَسَامِيرُ مِنْ نَارٍ، فَلَا يَرَى أَحَدٌ مِنْهُمْ أَنَّ فِي النَّارِ أَحَدًا يُعَذَّبُ غَيْرُهُ.

کله چې په جهنم کې هغه خلق اوغورځولې شي کوم چې به په دې کې همیشه وي (یعنی کافران) نو دوی به د اور په تابوتونو کې بند کړې شي، بیا به دا تابوتونه په نورو تابوتونو کې بند کړې شي، بیا به هغه تابوتونه په نورو تابوتونو کې بند کړې شي، په دې باندې به د اور میخونه وي، په دوی کې به هیڅوک هم دا ګمان نه کوي چې ګنې په جهنم کې بل چاته هم عذاب ورکولې شي (ځکه دوی به په تابوتونو کې ډیر بند پراته وي).

بیا ابن مسعود ﷜ (ددې د تائید د پاره) دا آیت تلاوت کړو:

﴿ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَّهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴾.(٢)

---

(١) الانبياء آية ١٠٠.

(٢) عَنْ يُونُسَ بْنِ خَبَّابٍ، قَالَ: قَرَأَ ابْنُ مَسْعُودٍ ﷜ هَذِهِ الْآيَةَ: {لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ} [الأنبياء: ١٠٠] قَالَ: "إِذَا أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَنْ يُخَلَّدُ فِيهَا جُعِلُوا فِي تَوَابِيتَ مِنْ نَارٍ، ثُمَّ جُعِلَتْ تِلْكَ التَّوَابِيتُ فِي تَوَابِيتَ أُخْرَى، ثُمَّ جُعِلَتِ التَّوَابِيتُ فِي تَوَابِيتَ أُخْرَى، فِيهَا مَسَامِيرُ مِنْ نَارٍ، فَلَا يَرَى أَحَدٌ مِنْهُمْ أَنَّ فِي النَّارِ أَحَدًا يُعَذَّبُ غَيْرُهُ. ثُمَّ قَرَأَ: {لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ} [الأنبياء: ١٠٠]". ←←←←←

Scanned with CamScanner

۲. سُوید بن غَفَله رَحِمَهُ اللهُ فرمایي :

إِذَا أَرَادَ اللهُ أَنْ يَنْسَى أَهْلُ النَّارِ جُعِلَ لِكُلِّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ تَابُوتٌ مِنْ نَارٍ عَلَى قَدْرِهِ ، ثُمَّ أُقْفِلَ عَلَيْهِ بِأَقْفَالٍ مِنْ نَارٍ فَلَا يُضْرَبُ مِنْهُ عِرْقٌ إِلَّا وَفِيهِ مِسْمَارٌ مِنْ نَارٍ ، ثُمَّ جُعِلَ ذَلِكَ التَّابُوتُ فِي تَابُوتٍ آخَرَ مِنْ نَارٍ ، ثُمَّ أُقْفِلَ عَلَيْهِ بِأَقْفَالٍ مِنْ نَارٍ ، ثُمَّ يُضْرَمُ بَيْنَهُمَا نَارٌ ، فَلَا يَرَى أَحَدٌ مِنْهُمْ أَنَّ فِي النَّارِ أَحَدًا غَيْرَهُ .

کله چې الله تعالی د جهنمیانو همیشه په جهنم کې د پرېخودو اِراده اوکړي نو په دوی کې به د هر انسان د پاره دده د قد موافق د اُور یو تابوت مقرر کړي ( او په هغې کې به یې واچوي ) ، بیا به دې تابوت ته د اُور قلفونه (تالې) وَر واچولې شي ، د انسان په هر رګ باندې به د اُور میخونه ټک وهلې شي ، بیا به دا تابوت د اُور په یو بل تابوت کې واچولې شي ، دیته به هم د اُور قلفونه (تالې) وَر واچولې شي ، بیا به دې تابوتونو په مینځ کې اُور بَل کړې شي ، په دې جهنمیانو کې به هیڅوک هم دا ګمان نه کوي چې ګنې په جهنم کې دده نه علاوه بل څوک هم شته . ( ځکه دوی به د اُور په تابوتونو کې بَند وي ، د بل چا آواز به نه آوري ) .

ددې په باره کې الله تعالی هم فرمایي :

﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾.(۱)

ترجمه : د دوی د پاره به د دوی د پاسه د اُور وریځې (لمبې) وي ، او د دوی لاندې به هم د اُور وریځې وي .

او ددې په باره کې الله تعالی دا هم فرمایي :

←←← تفسیر الطبري ج ١٦ ص ٤١٤ سورة الانبیاء في تفسیر آیة ١٠٠ . تفسیر مجاهد ص ٤٧٥ ، تفسیر البغوي ج ٣ ص ٣١٨ ، تفسیر القرطبي ج ١١ ص ٣٤٥ ، البحر المحیط فی التفسیر ج ٧ ص ٤٦٩ ، تفسیر ابن کثیر ج ٥ ص ٣٧٧ سورة الانبیاء آیة ١٠٠ ، ، التفسیر الطبري ج ٦ ص ٢٣٩ ، صفوة التفاسیر ج ٢ ص ٢٥٢ . المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ٩٠٨٧ ، البعث والنشور للبیهقي رقم الحدیث ٥٩٧ ، مجمع الزوائد رقم الحدیث ١١١٧٩ .

(١) الزمر آیة ١٦ .

Scanned with CamScanner

﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴾.

ترجمه: ددې مجرمانو د پاره به د جهنم بِسترې (فرشونه) وي، او د دوی د پاسه به د اُور بړستنې وي، او مونږ ظالمانو ته همدغه شان سزا ورکوو. (۱)

# د جهنم دروازې به په کافرانو باندې رابندولې شي او په ستنو پورې به کلک تړلې شي

۱. الله تعالى فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ۝ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴾.(۲)

ترجمه: او کومو خلقو چې زمونږ د آيتونو نه انکار اوکړو نو دوی خاوندان د چَپ لاس دي (يعني سپيره دي)، په دوی باندې به اُور بند کړې شوې وي.

(يعني د جهنم دروازې به په دوی باندې بندې وي).

۲. بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ۝ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴾.(۳)

ترجمه: بيشکه دا اُور به په دوی باندې (د هر طرف نه) بند کړې شي، جهنميان به په اُوږدو اُوږدو ستنو کې تړل شوي وي. (۴)

---

(۱) عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ قَالَ: إِذَا أَرَادَ اللهُ أَنْ يَنْسَى أَهْلُ النَّارِ جُعِلَ لِكُلِّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ تَابُوتٌ مِنْ نَارٍ عَلَى قَدْرِهِ، ثُمَّ أُقْفِلَ عَلَيْهِ بِأَقْفَالٍ مِنْ نَارٍ فَلَا يُضْرَبُ مِنْهُ عِرْقٌ إِلَّا وَفِيهِ مِسْمَارٌ مِنْ نَارٍ. ثُمَّ جُعِلَ ذَلِكَ التَّابُوتُ فِي تَابُوتٍ آخَرَ مِنْ نَارٍ، ثُمَّ أُقْفِلَ عَلَيْهِ بِأَقْفَالٍ مِنْ نَارٍ، ثُمَّ يُضْرَمُ بَيْنَهُمَا نَارٌ، فَلَا يَرَى أَحَدٌ مِنْهُمْ أَنَّ فِي النَّارِ أَحَدًا غَيْرَهُ. فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: { لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ } [ الزمر: ١٦]، وَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: {لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ} [الاعراف: ٤١]". مصنف ابن ابي شيبة ج ٧ ص ٢١٠ رقم ٣٥٤١٢. حلية الاولياء ج ٤ ص ١٧٦. البعث والنشور للبيهقي رقم ٥٣٩، صفة الصفوة رقم ٣٧٨. الترغيب والترهيب للمنذري رقم ٥٦١٥.

(۲) البلد آية ۱۹، ۲۰.

(۳) الهمزه آية ۸، ۹.

(۴) { إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ } أي إن جهنم مطبقة مغلقة عليهم، لا يدخل إليهم روح ولا ريحان ←←←←

Scanned with CamScanner

**وجه** : د جهنم دروازې به په دوی باندې ځکه بندولې شي چې د جهنم ګرمائش ختم نشي . دغه وجه ده چې کله کافران جهنم ته راوستې شي نو د مخکې نه به دَروازې بندې وي چې کله دوی رااورسي نو په همدې وخت کې به ورته کلاوُ کړې شي ددې د پاره چې ګرمائش يې کم نشي . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا ﴾ .(١)

ترجمه : او کافران به جهنم ته ډَلې ډَلې روان کړې شي تر دې چې کله دوی جهنم ته راشي نو ددې دَروازې به ورته (په همدغه وخت کې) کلاوُ کړې شي . (٢)

امام مُقاتِل رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

أَطْبَقَتِ الْأَبْوَابُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ سُدَّتْ بِأَوْتَادٍ مِنْ حَدِيْدٍ مِنْ نَارٍ حَتَّى يَرْجِعَ عَلَيْهِمْ غَمُّهَا وَحَرُّهَا ، فَلَا يُفْتَحُ عَلَيْهِمْ بَابٌ وَلَا يَدْخُلُ عَلَيْهِمْ رَوْحٌ . (٣)

---

←←← {فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ} أي وهم موثوقون في سلاسل وأغلال. تشدُّ بها أيديهم وأرجلهم. بعد إطباق أبواب جهنم عليهم، فقد يئسوا من الخروج بإطباق الأبواب عليهم، وتمدد العمد إيذانًا بالخلود إلى غير نهاية. صفوة التفاسير ج ٣ ص ٥٧٧ .

وَقَوْلُهُ: {إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ} أَيْ: مُطْبَقَةٌ ...عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ} قَالَ : " مُطْبَقَةٌ "....عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : {فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ} يَعْنِي:الْأَبْوَابُ هِيَ الْمَمْدُودَةُ . وَقَالَ قَتَادَةُ فِي قِرَاءَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ بِعَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ . وَقَالَ الْعَوْفِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ : أَدْخَلَهُمْ فِي عَمَدٍ فَمُدَّتْ عَلَيْهِمْ بِعِمَادٍ ، وَفِي أَعْنَاقِهِمُ السَّلَاسِلُ فَسُدَّتْ بِهَا الْأَبْوَابُ . وَقَالَ قَتَادَةُ : كُنَّا نُحَدَّثُ أَنَّهُمْ يُعَذَّبُونَ بِعَمَدٍ فِي النَّارِ . وَاخْتَارَهُ ابْنُ جَرِيرٍ . وَقَالَ أَبُو صَالِحٍ : {فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ} يَعْنِي الْقُيُودَ الطِّوَالَ. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٤٨٢ . تفسير البغوي ج ٨ ص ٥٣١ سورة الهمزه آية ٨ ، ٩ .

(١) الزمر آية ٧١ .

(٢) {حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا} أي حتى إذا وصلوا إليها فتحت أبواب جهنم فجأة لتستقبلهم . صفوة التفاسير ج ٣ ص ٨١ سورة الزمر .

(٣) تفسير البغوي ج ٨ ص ٥٣١ سورة الهمزه .

Scanned with CamScanner

د جهنم دروازې به په دوی باندې رابندې شي بيا به د اُوسپنې او اُور په ميخونو باندې کلکې کړې شي تر دې چې په دوی باندې به ددې غم او گرمائش راشي ، نه به دوی ته دا دَروازې کلاوُلې شي ، او نه به دوی ته هوا ورځي.

همداسې مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی. (١)

## د الله تعالى عذاب او تړل ډير سخت دي

١. په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ۝ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴾. (٢)

ترجمه : پس په دغه ورځ به هيڅوک د الله تعالى د عذاب په شان ( سخت ) عذاب ورنکړي ، او هيڅوک به د الله تعالى د تړلو په شان (په زَنځيرونو ) تړل اونکړي.

يعنى د الله تعالى عذاب او تړل ډير سخت دي. (٣)

٢. بل ځای الله ربّ العزت فرمايي : ﴿ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴾. (۴)

ترجمه : بيشکه ستا د رَب نيول ډير سخت دي.

يعنى چې کله الله تعالى ظالمان او د اسلام دُشمنان اُونيسي نو بيا ورته سخته سزا

(١) وَفِي حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ثُمَّ إِنَّ اللهَ يَبْعَثُ إِلَيْهِمْ مَلَائِكَةً بِأَطْبَاقٍ مِنْ نَارٍ، وَمَسَامِيرَ مِنْ نَارٍ وَعَمَدٍ مِنْ نَارٍ، فَتُطْبِقُ عَلَيْهِمْ بِتِلْكَ الْأَطْبَاقِ ، وَتَشُدُّ عَلَيْهِمْ بِتِلْكَ الْمَسَامِيرِ وَتَمُدُّ بِتِلْكَ الْعَمَدِ ، فَلَا يَبْقَى فِيهَا خَلَلٌ يَدْخُلُ فِيهِ رَوْحٌ ، وَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ غَمٌّ ، وَيَنْسَاهُمُ الرَّحْمَنُ عَلَى عَرْشِهِ ، وَيَتَشَاغَلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ بِنَعِيمِهِمْ، وَلَا يَسْتَغِيثُونَ بَعْدَهَا أَبَدًا ، وَيَنْقَطِعُ الْكَلَامُ ، فَيَكُونُ كَلَامُهُمْ زَفِيرًا وَشَهِيقًا. فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ . فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ. تفسير القرطبي ج ٢٠ ص ١٨٥ سورة الهمزه .

(٢) الفجر آية ٢٥ ، ٢٦ .

(٣) {فَيَوْمَئِذٍ لَا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ} أَيْ: لَيْسَ أَحَدٌ أَشَدَّ عَذَابًا مِنْ تَعْذِيبِ اللهِ مَنْ عَصَاهُ. {وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ} أَيْ: وَلَيْسَ أَحَدٌ أَشَدَّ قَبْضًا وَوَثْقًا مِنَ الزَّبَانِيَةِ لِمَنْ كَفَرَ بِرَبِّهِمْ، عَزَّ وَجَلَّ. هَذَا فِي حَقِّ الْمُجْرِمِينَ مِنَ الْخَلَائِقِ وَالظَّالِمِينَ. تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٤٠٠ . تفسير القرطبي ج ٢٠ ص ٥٦ سورة الفجر .

(۴) البروج آية ١٢ .

ورکوي، او سخت اِنتقام ورنه اخلي . (١)

٣ . بل ځای الله ﷻ فرمايي : ﴿ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ﴾ . (٢)

ترجمه : بيشکه د الله تعالى نيول دَردناک (او) ډير سخت دي . (٣)

## د جهنميانو بَدبُوئي

١ . د مسلمانانو بادشاه " منصور " امام اَوزاعي رَحِمَهُ اللهُ لره رااُوغوښت ، ( کله چې امام اَوزاعي رَحِمَهُ اللهُ راغی نو بادشاه ورته ووېل ) چې څه نصيحتونه راته اوکړه ، نو امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ ورته ډير نصيحتونه اوکړل او د الله تعالى د عذاب نه يې اُويرول ، په هغې کې يو نصيحت دا هم وُ چې :

نبي عليه السلام حضرت جبريل عليه السلام ته اوفرمايل چې ماته د جهنم څه حالات بيان کړه ، نو هغه ورته د جهنم څه حالات بيان کړل ، حضرت جبريل عليه السلام دا هم اوفرمايل :

---

(١) { إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : إِنَّ أَخْذَهُ بِالْعَذَابِ إِذَا أَخَذَ الظَّلَمَةَ لَشَدِيدٌ . تفسير البغوي ج ٨ ص ٣٨٨ .

{ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ } أَيْ: إِنَّ بَطْشَهُ وَانْتِقَامَهُ مِنْ أَعْدَائِهِ الَّذِينَ كَذَّبُوا رُسُلَهُ وَخَالَفُوا أَمْرَهُ، {لَشَدِيدٌ} عَظِيمٌ قَوِيٌّ ، فَإِنَّهُ تَعَالَى ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ، الَّذِي مَا شَاءَ كَانَ كَمَا يَشَاءُ فِي مِثْلِ لَمْحِ الْبَصَرِ، أَوْ هُوَ أَقْرَبُ . تفسير ابن كثير ج ٨ ص ٣٧٢ .

(٢) هود آية ١٠٢ .

(٣) {إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ} يَقُولُ: إِنَّ أَخْذَ رَبِّكُمْ بِالْعِقَابِ مَنْ أَخَذَهُ أَلِيمٌ، يَقُولُ: مُوجِعٌ {شَدِيدٌ} الْإِيجَاعِ، وَهَذَا أَمْرٌ مِنَ اللهِ، تَحْذِيرٌ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ أَنْ يَسْلُكُوا فِي مَعْصِيَتِهِ طَرِيقَ مَنْ قَبْلَهُمْ مِنَ الْأُمَمِ الْفَاجِرَةِ ، فَيَحِلَّ بِهِمْ مَا حَلَّ بِهِمْ مِنَ الْمَثُلَاتِ . تفسير الطبري ج ١٢ ص ٥٧١ سورة هود آية ١٠٢ .

( إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ) أَيْ عُقُوبَتَهُ لِأَهْلِ الشِّرْكِ مُوجِعَةٌ غَلِيظَةٌ . وَفِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ وَالتِّرْمِذِيِّ حَدِيثُ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ" ثُمَّ قَرَأَ " وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى " الْآيَةَ. تفسير القرطبي ج ٩ ص ٩٦ ، وهكذا في تفسير ابن كثير ج ٤ ص ٣٤٩ .

Scanned with CamScanner

جلد 6 19

وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا أُدْخِلَ النَّارَ ثُمَّ أُخْرِجَ مِنْهَا لَمَاتَ أَهْلُ الْأَرْضِ مِنْ نَتَنِ رِيْحِهِ وَتَشْوِيْهِ خَلْقِهِ وَعِظَمِهِ .

که چیرته یو کس جهنم ته داخل کړې شي بیا د هغې نه راأوویستلې شي ( او دُنیا ته رابنکاره کړې شي ) نو د هغه د بَدبُویَی ، بَدصورتی ، او غټ والي په وجه به د زمکې ټول مخلوقات مړه شي .

دې أوریدو سره نبي علیه السلام په ژړا شو ، او حضرت جبریل علیه السلام هم په ژړا شو ..... (١)

٢ . همداسې خبره د عبدالله بن عَمرو رضی الله عنه نه هم نقل ده ، هغه فرمایي :

لَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ النَّارِ أُخْرِجَ إِلَى الدُّنْيَا لَمَاتَ أَهْلُ الدُّنْيَا مِنْ وَحْشَةِ مَنْظَرِهِ ، وَمِنْ رِيْحِهِ .

که چیرته یو جهنمي دُنیا ته راأوویستلې شي نو د ټولې دُنیا مخلوقات به د دهٔ د بَدشکلی او بَدبُویَی په وجه مړه شي .

دې خبرې کولو نه پس عبدالله بن عَمرو رضی الله عنه ډیر زیات أوژړل . (٢)

---

(١) ... بَلَغَنِي يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ " أَنَّ جِبْرِيْلَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : .... وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا أُدْخِلَ النَّارَ ثُمَّ أُخْرِجَ مِنْهَا لَمَاتَ أَهْلُ الْأَرْضِ مِنْ نَتَنِ رِيْحِهِ وَتَشْوِيْهِ خَلْقِهِ وَعِظَمِهِ . فَبَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَبَكَى جِبْرِيْلُ لِبُكَائِهِ . فَقَالَ : بَلَى يَا مُحَمَّدُ ! وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ . قَالَ : أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا ؟ وَلِمَ بَكَيْتَ يَا جِبْرِيْلُ وَأَنْتَ الرُّوْحُ الْأَمِيْنُ ، أَمِيْنُ اللهِ عَلَى وَحْيِهِ ؟ " فَقَالَ : إِنِّيْ أَخَافُ أَنْ أُبْتَلَى بِمِثْلِ مَا ابْتُلِيَ بِهِ هَارُوْتُ ، وَمَارُوْتُ ، فَهُوَ الَّذِيْ مَنَعَنِيْ مِنَ اتِّكَالِيْ عَلَى مَنْزِلَتِيْ عِنْدَ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ ، فَأَكُوْنُ قَدْ أَمِنْتُ مَكْرَهُ ، فَلَمْ يَزَالَا يَبْكِيَانِ حَتَّى نُوْدِيَ مِنَ السَّمَاءِ : أَنْ يَا جِبْرِيْلُ وَيَا مُحَمَّدُ ، إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَمَّنَكُمَا أَنْ تَعْصِيَاهُ فَيُعَذِّبَكُمَا " . شعب الايمان ج ٩ ص ٥٠٨ قِيَامُ الْأَوْزَاعِيِّ مَعَ الْمَنْصُوْرِ وَعِظَتُهُ إِيَّاهُ . حلية الاولياء ج ٦ ص ١٣٨ .

(٢) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنه قَالَ : لَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ النَّارِ أُخْرِجَ إِلَى الدُّنْيَا لَمَاتَ أَهْلُ الدُّنْيَا مِنْ وَحْشَةِ مَنْظَرِهِ ، وَمِنْ رِيْحِهِ . قَالَ : ثُمَّ بَكَى عَبْدُ اللهِ بُكَاءً شَدِيْدًا . الرقة والبكاء لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٩٨ رقم ١٠٢ مَنْ وَعَظَ وَبَكَى . الترغيب والترهيب للمنذري فصل في عظم أهل النار وقبحهم فيها رقم الحديث ٥٥٩١ . التخويف من النار لابن رجب الحنبلي ص ١١٧ الباب العشرون في ذكر عظم خلق أهل النار فيها وقبح صورهم وهيئاتهم فصل في نتن ريح أهل النار .

Scanned with CamScanner

# د څلور قسمه جهنميانو د عذاب نه به نور جهنميان هم تنګ وي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې څلور قِسمه جهنميان داسې دي چې په دوی باندې کوم عذاب وي دوی به د دې په وجه نورو جهنميانو ته د يو تکليف د پاسه نور تکليف رسوي، دا څلور کسان به د جهنم د ګرمو اُوبو او اُور په مينځ کې منډې وهي، هلاکت او مرګ به غواړي، بعضې جهنميان به نورو ته اووايي:

مَا بَالُ هٰؤُلَاءِ قَدْ آذَوْنَا عَلٰى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى.

په دې خلقو باندې څه شوي؟ دوی خو مونږ ته د خپل تکليف د پاسه نور تکليف راأورسول.

په دې (څلورو) کې به يو هغه کس وي چې د هغه نه به د سکروټو تابوت راتاؤ شوې وي. دويم به هغه کس وي چې خپلې کولمې به راکاږي، دريم به هغه کس وي چې د خُلې نه به يې زوې او وِينې بهيږي، او څلورم به هغه کس وي چې خپله غوښه به خوري.

د تابوت واله ته به وويلې شي:

مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلٰى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟

د الله د رحمت نه لرې ددې کس څه حال دی چې ده مونږ د خپل تکليف د پاسه په بل تکليف کې واچولو؟ (يعنی ستا څه جُرم دی چې ستا په وجه مونږ نور هم په مصيبت کې آخته شو؟)

هغه به ورته اووايي: إِنَّ الْأَبْعَدَ مَاتَ وَفِي عُنُقِهِ أَمْوَالُ النَّاسِ لَمْ يَجِدْ لَهَا قَضَاءً.

بيشکه دا بَدنصيبه (د الله ﷻ د رحمت نه لرې کس) په داسې حالت کې مړ شوی چې ده په غاړه باندې د خلقو مالونه وو او هغه يې نه وو پوره کړي.

بيا چې کوم کس کولمې راکاږي هغه ته به وويلې شي:

مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلٰى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟

په دې مَحرومُ القِسمة (د الله ﷻ د رحمت نه لرې کس) باندې څه شوي چې ده په مونږ باندې خپل مصيبت نور هم زيات کړو؟

هغه به ووايي : إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ لَا يُبَالِي أَيْنَ أَصَابَ الْبَوْلُ مِنْهُ، ثُمَّ لَا يَغْسِلُهُ.

بيشکه دې بَدنصيبه به ددې هيڅ پرواه نه کوله چې تشې مِتيازې ده د بدن په کوم ځای لږيدلې ؟ بيا به ده دا نه وينځلی.

بيا چې د چا د خُلې نه زوې او وينې بهيږې هغه ته به هم دا وويلې شي :

مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذَى ؟

ددې اَبعد ( يعنی د الله ﷻ د رحمت نه لرې کس ) څه حال دی چې په مونږ باندې کوم تکليف وُ ده د هغې د پاسه نور تکليف هم مونږ ته راأورسول ؟

هغه به ووايي :

إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَنْظُرُ إِلَى كُلِّ كَلِمَةٍ قَذِعَةٍ خَبِيثَةٍ، يَسْتَلِذُّهَا كَمَا يَسْتَلِذُّ الرَّفَثَ.

بيشکه دې بَدقِسمته به چې کله بې کاره ، خبيثه خبره اُوليده نو د هغې نه به يې داسې خوَند اخيستو لکه د بَدکارۍ نه چې خوَند اخلي.

بيا چې کوم کس خپله غوښه خوري هغه ته به وويلې شي :

مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذَى؟

ددې اَبعد ( د الله ﷻ د رحمت نه لرې کس ) څه حال دی چې ده مونږ ته د خپل تکليف د پاسه نور تکليف هم راأورسول ؟

هغه به اووايي : إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَأْكُلُ لُحُومَ النَّاسِ بِالْغَيْبِ، وَيَمْشِيْ بِالنَّمِيمَةِ .

دې بَدقِسمته به ( د غيبت کولو په وجه ) د خلقو غوښې خوړې او چُغل خوري به يې کوله . (١)

---

(١) عَنْ شُفَيِّ بْنِ مَاتِعٍ الْأَصْبَحِيِّ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: "أَرْبَعَةٌ يُؤْذُوْنَ أَهْلَ النَّارِ عَلَى مَا بِهِمْ مِنَ الْأَذَى، يَسْعَوْنَ بَيْنَ الْحَمِيْمِ وَالْجَحِيْمِ ، يَدْعُوْنَ بِالْوَيْلِ وَالثُّبُوْرِ، يَقُوْلُ أَهْلُ النَّارِ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: مَا بَالُ هٰؤُلَاءِ قَدْ آذَوْنَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذَى ؟" قَالَ : « فَرَجُلٌ مُغْلَقٌ عَلَيْهِ تَابُوْتٌ مِنْ جَمْرٍ ، وَرَجُلٌ يَجُرُّ أَمْعَاءَهُ، وَ رَجُلٌ يَسِيْلُ فُوْهُ قَيْحًا وَدَمًا، وَ رَجُلٌ يَأْكُلُ لَحْمَهُ » . قَالَ : " يُقَالُ لِصَاحِبِ التَّابُوْتِ : مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذَى؟" قَالَ : "فَيَقُوْلُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ مَاتَ وَفِيْ عُنُقِهِ أَمْوَالُ النَّاسِ، لَمْ يَجِدْ لَهَا قَضَاءً" . ←←←←

# په جهنم کې کولمې راوتل او د ځان پسې را ښکل

کوم عالِم يا مُبلّغ چې نورو خلقو ته نصيحت کوي خو پخپله پرې عمل نه کوي ، يا نور خلق د بَدو کارونو نه منع کوي خو پخپله يې کوي نو دده د پاره د قيامت په ورځ په جهنم کې سخته سزا ذکر شوې .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ ، فَيَدُورُ كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِرَحَاهُ.

د قيامت په ورځ به يو کسّ راوستې شي او جهنم ته به اُوغورځولې شي ، دده ګولمې به په اُور کې بهر رااُووځي ، دا به په جهنم کې دومره په تېزئ باندې تاويږي لکه څرنګې چې خَر د ژرَندې د کاڼي نه ګېرچاپېره ( د ګرځولو د پاره ) تاويږي .

نور جهنميان به ده ته راجمع شي او ورته اُو به وايي :

أَيْ فُلَانُ مَا شَأْنُكَ ؟ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ ؟

---

←←← قَالَ: "وَيُقَالُ لِلَّذِي يَجُرُّ أَمْعَاءَهُ: مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذَى؟" قَالَ: "فَيَقُولُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ لَا يُبَالِي أَيْنَ أَصَابَ الْبَوْلُ مِنْهُ، ثُمَّ لَا يَغْسِلُهُ. ثُمَّ يُقَالُ لِلَّذِي يَسِيلُ فُوهُ قَيْحًا وَدَمًا: مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذَى؟" قَالَ: "فَيَقُولُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَنْظُرُ إِلَى كُلِّ كَلِمَةٍ قَذِعَةٍ خَبِيثَةٍ، يَسْتَلِذُّهَا كَمَا يَسْتَلِذُّ الرَّفَثَ. ثُمَّ يُقَالُ لِلَّذِي يَأْكُلُ لَحْمَهُ: مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذَى؟ فَيَقُولُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَأْكُلُ لُحُومَ النَّاسِ بِالْغَيْبِ، وَيَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ . صفة النار لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۱۴۲ رقم الحديث ۲۲۹ بُكَاءُ أَهْلِ النَّارِ. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۲۲۶ ، حلية الاولياء وطبقات الاصفياء ج۵ ص ۱۶۷ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۰۳۲ باب الاستنزاه من البول والاحتراز منه لما فيه من العذاب ، وقال الهيثمي : رواه الطبراني في الكبير و رجاله مؤثقون ، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۹۷۹ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج۱ ص ۲۰۸ الكبيرة الحادية والسبعون عدم التنزّه من البول في البدن او الثوب ، و ج ۲ ص ۱۴ الغيبة والسكوت عليها ، الكبائر للذهبي ج۱ ص ۱۴۱ الكبيرة السادسة والثلاثون عدم التنزّه من البول وهو شعار للنصارى ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۱۸۶ و رقم الحديث ۳۲۳ ، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۴۹ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۲۶۴ الترهيب من اصابة البول الثوب وعدم الاستبراء منه ، و رقم الحديث ۲۷۸۹ ، و رقم الحديث ۴۲۹۳ .

Scanned with CamScanner

اې فلانکیه! دا ستا څه حالت دی؟ آیا تا به مونږ ته د ښه کارونو حکم نه کولو او د بَدو کارونو نه به دې نه منع کولو؟

دا به ورته او وایي: كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَا آتِيْهِ، وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيْهِ.

(آو)، ما به تاسو ته د ښه کارونو حکم کولو خو پخپله مې نه کول، او د بدو کارونو نه به مې منع کولی خو پخپله مې بَد کارونه کول (نو ځکه په دې عذاب کې ګرفتاریم).(۱)

## د جهنمیانو جِسمونه به د عذاب د پاره غټولې شي

د کافرانو او نورو ګناهګارانو جِسمونه به په جهنم کې غټولې شي؛ ددې د پاره چې د دوی په عذاب کې نور زیاتوالې هم راشي او دَرد زیات محسوس کړي.(۲)

بیا په احادیثو کې د جهنمیانو د مختلفو اندامونو مختلف قِسمه غټ والې ذکر شوی، مثلا په بعضې احادیثو کې د یو اندام یو شان غټ والې ذکر شوی او په بعضو نورو احادیثو کې د همدې اندام زیات غټ والې ذکر شوی؛ دا ځکه چې د هر جهنمي بدن به د خپلو ګناهونو په مقدار غټولې شي. (ددې متعلق درته یو څو احادیث ذکر کوم:)

## د کافر د غاښونو او څرمن غټ والې

د مسلم شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

---

(۱) .... يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ، فَيَدُوْرُ كَمَا يَدُوْرُ الْحِمَارُ بِرَحَاهُ. فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُوْلُوْنَ: أَيْ فُلَانُ مَا شَأْنُكَ؟ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ؟ قَالَ: كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَا آتِيْهِ، وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيْهِ. صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ النَّارِ، وَأَنَّهَا مَخْلُوْقَةٌ رقم الحديث ۳۲۶۷، ورقم الحديث ۷۰۹۸ كِتَابُ الْفِتَنِ بَابُ الْفِتْنَةِ الَّتِي تَمُوْجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ عُقُوْبَةِ مَنْ يَأْمُرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَا يَفْعَلُهُ، وَيَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ وَيَفْعَلُهُ رقم الحديث ۵۱(۲۹۸۹). مشكاة المصابيح باب الامر بالمعروف الفصل الاول رقم الحديث ۵۱۳۹(۳)، كنز العمال رقم الحديث ۱۴۷۶۷.

(۲) قَالَ الْقَاضِي رَحِمَهُ اللهُ: يُزَادُ فِي مِقْدَارِ أَعْضَاءِ الْكَافِرِ زِيَادَةً فِي تَعْذِيْبِهِ بِسَبَبِ زِيَادَةِ الْمُمَاسَّةِ لِلنَّارِ. مرقاة المفاتيح بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا ج ۹ ص ۳۶۱۶ في تشريح حديث ۵۶۷۲.

Scanned with CamScanner

ضِرْسُ الْكَافِرِ أَوْ نَابُ الْكَافِرِ مِثْلُ أُحُدٍ ، وَغِلَظُ جِلْدِهِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ .

د کافر غاښ یا داړې به (په جهنم کې) د اُحدغر په اندازه غټې وي ، او دده څرمن به د درې (٣) ورځو مسافت په اندازه غټه وي . (١)

په یو حدیث کې ددې سره څه نوره اضافه هم شته :

## د کافر د مټ ، ورنون ، او د ناستې ځای غټوالې

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

ضِرْسُ الْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلُ أُحُدٍ ، وَعَرْضُ جِلْدِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا ، وَعَضُدُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ ، وَفَخِذُهُ مِثْلُ وَرِقَانَ ، وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ مَا بَيْنِي وَبَيْنَ الرَّبَذَةِ . (٢)

د قیامت په ورځ به د کافر غاښ د اُحدغر په اندازه غټ وي ، د څرمنې پلنوالې (او غټ والې) به یې اویا (٧٠) ګزه وي ، مټ به یې د بَیضاء غر په اندازه غټ وي ، ورنون به یې د وَرِقَان غر په اندازه غټ وي ، او د ناستې ځای به یې دومره غټ وي لکه ددې ځای نه ترد

---

(١) صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٤٤(٢٨٥١) . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي عِظَمِ أَهْلِ النَّارِ رقم الحديث ٢٥٧٩ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَال الْقِيَامَة وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٦٧٢(٨) . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٨٧ .

(٢) المستدرک على الصحيحين للحاكم ج ٤ ص ٦٣٧ رقم الحديث ٨٧٥٩ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ بِهَذِهِ السِّيَاقَةِ ، إِنَّمَا اتَّفَقَا عَلَى ذِكْرِ ضِرْسِ الْكَافِرِ فَقَطْ . وقال الذهبي : صحيح . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَال الْقِيَامَة وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٧٤(٢) . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي عِظَمِ أَهْلِ النَّارِ رقم الحديث ٢٥٧٨ وقال الالباني : حسن . مجمع الزوائد كِتَابُ صِفَةِ النَّارِ بَابُ عِظَمِ خَلْقِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ رقم الحديث ١٨٦٠٧ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : « إِنَّ ضِرْسَ الْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلُ أُحُدٍ ، وَرَأْسُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ ، وَفَخِذُهُ مِثْلُ وَرِقَانَ ، وَغِلَظُ جِلْدِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا ، وَإِنَّ مَجْلِسَهُ فِي النَّارِ كَمَا بَيْنَ الْمَدِينَةِ وَالرَّبَذَةِ » قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : « وَكَانَ يُقَالُ بَطْنُهُ مِثْلُ بَطْنِ إِضَمٍ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم ج ٤ ص ٦٣٨ رقم الحديث ٨٧٦١ وقال الحاكم : هَذَا إِسْنَادٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ لِتَوْقِيفِهِ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

Scanned with CamScanner

زَيده مقام پورې.

په يو حديث کې د کافر د څرمنې پلنوالې دوه څلويښت (٤٢) ګزه هم راغلې.(١)

## د کافر د اوږو د مينځ غټوالې

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الْكَافِرِ مَسِيْرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْرِعِ.(٢)

د کافر د دواړو اوږو (اولو) د مينځ فاصله به د تېز رَفتاره سوار د درې (٣) ورځو مسافت په اندازه وي.

يعنى د دواړو اوږدو مينځ به يې دومره غټ وي چې په تېز رَفتار سوَرلۍ باندې سور کس به ددې په مينځ کې درې ورځې سفر کولې شي.

## د جهنميانو د غوږونو نرمۍ نه تر د اوږې پورې غټوالې

د جهنميانو د غوږونو نرمۍ نه تر اوږې پورې به د اووه سوه (٧٠٠) کاله مسافت په اندازه فاصله وي.

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

يَعْظُمُ أَهْلُ النَّارِ فِي النَّارِ حَتَّى إِنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيْرَةَ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ.

جهنميان به اور کې غټولې شي تر دې پورې چې په دوى کې به د يو کس د غوږونو د

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ضِرْسُ الْكَافِرِ مِثْلُ أُحُدٍ، وَفَخِذُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ، وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ كَمَا بَيْنَ قُدَيْدٍ وَمَكَّةَ، وَكَثَافَةُ جِلْدِهِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا بِذِرَاعِ الْجَبَّارِ». مسند احمد مخرجا ج ١٤ ص ١٣٤ رقم الحديث ٨٤١٠، و ج ١٦ ص ٥٤٣ رقم الحديث ١٠٩٣١. صحيح ابن حبان ذِكْرُ وَصْفِ غِلَظِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْهَا رقم الحديث ٧٤٨٦. مجمع الزوائد كِتَابُ صِفَةِ النَّارِ بَابُ عِظَمِ خَلْقِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ رقم الحديث ١٨٦٠٥.

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٥١. صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارِ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٤٥(٢٨٥٢). كنز العمال رقم الحديث ٣٩٥٣١.

Scanned with CamScanner

نَرمۍ نه تر د اُوږې ( اُولې ) پورې اُووه سوه ( ٧٠٠ ) کاله مسافت په اندازه فاصله وي.(١)

## د جهنميانو د غوږونو د نرمۍ او اوږې په مينځ کې به د نُوونو او وِينو وادۍ (خوَړونه) بهيږي

امام مجاهد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ماته ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اوفرمايل:

أَتَدْرِيْ مَاسَعَةُ جَهَنَّمَ؟ آيا ته پوهيږې چې جهنم څومره کلاوُ (غټ) دی؟

ما ورته وويل: نه. نو هغه راته وويل:

أَجَلْ وَاللهِ مَا تَدْرِيْ أَنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ وَبَيْنَ عَاتِقِهِ مَسِيْرَةَ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا، تَجْرِيْ فِيْهِ أَوْدِيَةُ الْقَيْحِ وَالدَّمِ.

قسَم په الله، تاته پته نشته ( خو اوس يې واوره: ) بيشکه په جهنميانو کې به د يو کس د غوږونو د نَرمۍ او اُوږې ( اُولې ) په مينځ کې به اُووه سوه ( ٧٠٠ ) کاله مسافت په اندازه فاصله وي چې په دې کې به د نُوونو (پيپ) او وِينې وادۍ (خوَړونه) بهيږي.

مجاهد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ما ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته وويل:

أَنْهَارٌ؟ آيا د نُوونو او وِينو نهرونه به په کې بهيږي؟

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اوفرمايل: لَا، بَلْ أَوْدِيَةٌ.

نه، بلکه د نُوونو او وِينو وادۍ ( خوَړونه او نالې ) به په کې بهيږي.

---

(١) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « يَعْظُمُ أَهْلُ النَّارِ فِي النَّارِ، حَتَّى إِنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيْرَةَ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ، وَإِنَّ غِلَظَ جِلْدِهِ سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا، وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ ». مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ الْمُكْثِرِيْنَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ج ٨ ص ٤١٨ رقم الحديث ٤٨٠٠ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٢٤١٠ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٣٤٨٢ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٥٦٩ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٥٩٧ ، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ٥٦٩٠(٢٦) . . مجمع الزوائد كِتَابُ صِفَةِ النَّارِ بَابُ عِظَمِ خَلْقِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ رقم الحديث ١٨٦٠٥ . كنز العمال رقم الحديث ٣٩٥١٨ ، ورقم الحديث ٣٩٥٣٨ .

Scanned with CamScanner

... ( بيا ورته ابن عباس رضي الله عنهما د جهنم کلاؤ والې هم ذکر کړو ) .(١)

# بعضې مسلمانان به د خپلو ګناهونو په وجه دومره غټ شي چې د جهنم يو ګنج به مکمل اونيسي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

..... وَإِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَعْظُمُ لِلنَّارِ حَتَّى يَكُونَ أَحَدَ زَوَايَاهَا .(٢)

بيشکه زما په امت کې به بعضې هغه خلق هم وي چې هغوی به د جهنم ( د عذاب ) د پاره غټولې شي تردې چې دا به د جهنم يو ګنج ( ګټ ) شي .

(١) عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ ، قَالَ : قَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا : أَتَدْرِي مَا سَعَةُ جَهَنَّمَ ؟ قُلْتُ: لَا، قَالَ : أَجَلْ وَاللهِ مَا تَدْرِي أَنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ وَبَيْنَ عَاتِقِهِ مَسِيرَةَ سَبْعِينَ خَرِيفًا، تَجْرِي فِيهِ أَوْدِيَةُ الْقَيْحِ وَالدَّمِ . قُلْتُ لَهُ: أَنْهَارٌ ؟ قَالَ: لَا، بَلْ أَوْدِيَةٌ . ثُمَّ قَالَ : أَتَدْرِي مَا سَعَةُ جَهَنَّمَ ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَجَلْ وَاللهِ مَا تَدْرِي، حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ} . قُلْتُ: فَأَيْنَ النَّاسُ يَا رَسُولَ اللهِ يَوْمَئِذٍ ؟ قَالَ : « عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ » . البعث والنشور للبيهقي ج ١ ص ٣١٧ رقم الحديث ٥٧٣ . المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الزُّمَرِ رقم الحديث ٣٦٣٠ وقال الحاکم : ذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ بِهَذِهِ السِّيَاقَةِ . ووافقه الذهبي . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٤٨٥٦ . الزهد والرقائق لابن المبارک ج ٢ ص ٨٥ . حلية الاولياء ج ٨ ص ١٨٣ . شرح السنة للبغوي ج ١٥ ص ٢٥١ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٠١ .

(٢) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ ، قَالَ : كُنْتُ عِنْدَ أَبِي بُرْدَةَ ذَاتَ لَيْلَةٍ، فَدَخَلَ عَلَيْنَا الْحَارِثُ بْنُ أُقَيْشٍ ، فَحَدَّثَنَا الْحَارِثُ لَيْلَتَئِذٍ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « إِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِشَفَاعَتِهِ أَكْثَرُ مِنْ مُضَرَ ، وَإِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَعْظُمُ لِلنَّارِ حَتَّى يَكُونَ أَحَدَ زَوَايَاهَا » سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ ذِكْرِ الشَّفَاعَةِ رقم الحديث ٤٣٢٣ قال الالباني: صحيح . المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْأَهْوَالِ ج ٤ ص ٦٣٥ رقم الحديث ٨٧٦١ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٤١٥٠ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٧٨٥٩ ، و رقم الحديث ٢٢٦٦٥ . مجمع الزوائد بَابٌ فِيمَنْ مَاتَ لَهُ ابْنَانِ رقم الحديث ٣٩٨٤ وقال الهيثمي : رَوَاهُ أَحْمَدُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَرْزَةَ، وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ . كنز العمال رقم الحديث ٥٦٨١ ، و رقم الحديث ٨٦٧٩ . المعجم الکبير للطبراني ٣٣٦٠ ، و رقم الحديث ٣٣٦١ ، الزواجر ج ٢ ص ٣٢٢ .

(یعنی دومره به غټ شي چې د جهنم په یو ګنج کې به راځي).

## کافر به د ځان پسې دوه فرسخه مقدرا غټه ژبه راکاږي

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِنَّ الْكَافِرَ لَيَجُرُّ لِسَانَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَرَاءَهُ قَدْرَ فَرْسَخَيْنِ، يَتَوَطَّؤُهُ النَّاسُ. (۱)

بیشکه کافر به د قیامت په ورځ د ځان پسې شاته د دوه (۲) فرسخه مزل په اندازه غټه ژبه راکاږي چې نور خلق به په دې باندې خپې ږدي.

**نوټ**: یو فرسخ درې (۳) میله وي، نو ګویا کافر به شپږ (٦) میله اُوږه ژبه د ځان پسې شاته راکاږي او نور خلق به په دې باندې خپې ږدي.

## دوالدینو نافرماني کوونکي کس وجود به هم د عذاب د پاره غټولې شي

څوک چې په دُنیا کې د والدینو نافرماني کوي نو دده وجود به هم په جهنم کې د عذاب د پاره غټولې شي، تر دې چې دده یو پټون (ورنون) به د اُحد غر هومره غټ وي، او غاښ به یې د بیضاء غر هومره غټ وي.

په احادیثو کې ددې تذکره شوې ده. (۲)

---

(۱) مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ الْمُكْثِرِينَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ج ۹ ص ۴۸۲ رقم الحديث ۵٦۷۱ . كنز العمال رقم الحديث ۳۹۵۳۵ ، و رقم الحديث ۳۹۵۳۴ . التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي الباب العشرون في ذكر عظم خلق أهل النار فيها وقبح صورهم وهيئاتهم ص ۱٦۹.

(۲) عَنْ أَبِي غَسَّانَ الضَّبِّيِّ قَالَ: خَرَجْتُ أَمْشِي مَعَ أَبِي بِظَهْرِ الْحَرَّةِ، فَلَقِيَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه. فَقَالَ لِي: مَنْ هَذَا؟ قُلْتُ: أَبِي. فَقَالَ: لَا تَمْشِ بَيْنَ يَدَيْ أَبِيكَ، وَلَكِنِ امْشِ خَلْفَهُ أَوْ إِلَى جَنْبِهِ، وَلَا تَدَعْ أَحَدًا يَحُولُ بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ، وَلَا تَمْشِ فَوْقَ إِجَارٍ أَبُوكَ تَحْتَهُ، وَلَا تَأْكُلْ عِرْقًا قَدْ نَظَرَ أَبُوكَ إِلَيْهِ، لَعَلَّهُ قَدِ اشْتَهَاهُ. ثُمَّ قَالَ: أَتَعْرِفُ عَبْدَ اللهِ بْنَ خِدَاشٍ؟ قُلْتُ: لَا قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «فَخِذُهُ فِي جَهَنَّمَ مِثْلُ أُحُدٍ، وَضِرْسُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ» قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: فَقُلْتُ: وَلِمَ ذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَقَالَ: «كَانَ عَاقًّا لِوَالِدَيْهِ». المعجم الاوسط ج ۷ ص ٦۳ رقم الحديث ٦۸۵۷ بَابُ الْمِيمِ مَنِ اسْمُهُ: مُحَمَّدٌ. التخويف من النار والتعريف بحال دار البوار لابن رجب الحنبلي الباب العشرون في ذكر عظم خلق أهل النار فيها وقبح صورهم وهيئاتهم ص ۱۷۰. الترغيب والترهيب للمنذري فصل في عظم أهل النار وقبحهم فيها رقم الحديث ۵٦۰۳

# د احادیثو په مینځ کې تطبیق

په مذکوره احادیثو کې ذکر شو چې د جهنمیانو جسم به د عذاب د پاره غټولې شي.

خو بل طرف ته په احادیثو کې دا هم ذکر دي چې مُتکبّرین به د قیامت په ورځ د سرو وړو میږو په اندازه واړه واړه وي.

هغه حدیث دادی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِيْ صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ.

مُتکبّرین به د قیامت په ورځ د سرُو وړو میږو هومره د سړو په صورت کې په یو ځای کې راجمع کړې شي (یعنی شکل و صورت به یې د سړو په شان وي خو په جِسم کې به د سرو وړو میږو هومره وي)، د هر طرف نه به په ذِلّت کې راګېر وي.(١)

نو په ظاهره په مخکیني احادیثو او دې حدیث کې تعارُض معلومیږي؛ ځکه په مخکیني احادیثو کې د جهنمیانو د جِسم غټیدو خبره وه او په دې حدیث کې د متکبّرینو د جِسم وړوکي کیدو خبره ده.

**تعارُض دفع کول**: خو په حقیقت کې ددې دواړو احادیثو په مینځ کې هیڅ تعارض او تضاد نشته ځکه د متکبرینو جسم به اول سرو وړو میږو په اندازه وي ددې د پاره چې خلق یې د خپو لاندې ښه مېده کړي، بیا به د دوی وجود واپس اصلي حالت ته راوستې شي او جهنم ته به اُوغورځولې شي، بیا به په جهنم کې د دوی جِسمونه د عذاب د پاره غټ کړې

(١) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِيْ صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ، فَيُسَاقُوْنَ إِلَى سِجْنٍ فِيْ جَهَنَّمَ يُسَمَّى بُوْلَسَ، تَعْلُوْهُمْ نَارُ الْأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِيْنَةَ الْخَبَالِ. سنن الترمذي رقم الحديث ٢٤٩٢ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ. وقال الالباني: حسنٌ. الادب المفرد للبخاري رقم الحديث ٥٥٧ باب الكبر، مسند احمد رقم الحديث ٦٦٧٧، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٨٢٧، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٩١١(٢٢) الترغيب فى التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار، مشكوة المصابيح باب الغضب والكبر الفصل الثاني رقم الحديث ٥١١٢(٩)، الزواجر ج١ ص ١١٠ الكبيرة الرابعة الكبر والعجب والخيلاء، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٥٩٠.

Scanned with CamScanner

شي. (١)

## كافرانو د پاره به په جهنم كې د تكبر په وجه د رسوايۍ عذاب وي

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَفْسُقُونَ ﴾. (٢)

ترجمه: او (هاغه ورځ د يادولو قابله ده) په كومه ورځ چې كافران د جهنم اُور ته پيش (مخامخ) كړې شي (او دوى ته به وويلې شي) تاسو د دُنيا په ژوند كې خپل د مزو څيزونه ختم كړل (يعنى خپل خوندونه مو حاصل كړل)، او د هغې نه مو ښه فائده واخيسته، پس نن ورځ به تاسو ته د ذِلت عذاب دركولې شي، (دا) په سبب د دې سره چې تاسو به (په دُنيا كې) په زمكه كې په ناحقه تكبر كولو، او په سبب د دې سره چې تاسو به نافرماني كوله.

## الله تعالى به د بعضې كافرانو ذليله كولو د پاره د هغوى په پُوزه باندې داغ اُولږوي

الله تعالى د يو كافر په باره كې فرمايي: ﴿ سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ ﴾. (٣)

ترجمه: ډير زر به مونږ د دې كافر په پُوزه باندې داغ اُولږوو.

(يعنى پُوزه او مخ به يې تُور كړو چې په دې سره به يې ټول خلق پيژني).

(١) مظاهر حق ج ٩ باب صفة النار واهلها.

ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللّٰه هم د څه تحقيق ذكر كولو نه پس فرمايلي .... عَلَى أَنَّ الْأَظْهَرَ فِي الْجَمْعِ أَنْ يَكُونُوا أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي مَوْقِفٍ يُدَاسُونَ فِيهِ. ثُمَّ تَعْظُمُ أَجْسَامُهُمْ وَيَدْخُلُونَ النَّارَ وَيَكُونُوا فِيهَا كَذَٰلِكَ. مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٦١٦ بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا

(٢) الاحقاف آية ٢٠.

(٣) القلم آية ١٦.

Scanned with CamScanner

ددې آيت نور مطلبونه هم مفسّرينو ذکر کړي . (١)

## د جهنميانو په عذاب کې به هيڅ کمې نشي کولی

د جهنميانو په عذاب کې به هيڅ کمې نشي کولی بلکه مسلسل به ورته سخت سخت عذابونه ورکولې شي ، تر دې چې جهنميان به بار بار د مرګ آرزو اوکړي چې په دې سره ددې سختو عذابونو نه خلاص شي خو چونکه په جهنم کې به مرګ نه وي نو ځکه به يې دا آرزو نشي پوره کولی ، او په عذاب کې به يې کمې هم نشي کولی .

١. الله تعالى فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَى عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِنْ عَذَابِهَا كَذَلِكَ نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ ﴾.(٢)

ترجمه : او کومو خلقو چې کُفر اوکړو نو د دوی د پاره د جهنم اُور دی ، نه خو به په دوی باندې دا فيصله کولې شي چې مړه شي ، او نه به په دوی باندې د جهنم عذاب کمولې شي ، مونږ هر ناشکره (کافر) ته همدغه شان سزا ورکوو .

٢ . بل ځای الله ربّ العزت فرمايي :

﴿إِنَّهُ مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَى ﴾.(٣)

---

(١) {سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ} وَ"الْخُرْطُومُ": الْأَنْفُ . قَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ وَمُجَاهِدٌ: أَيْ نُسَوِّدُ وَجْهَهُ، فَنَجْعَلُ لَهُ عَلَمًا فِي الْآخِرَةِ يُعْرَفُ بِهِ، وَهُوَ سَوَادُ الْوَجْهِ. قَالَ الْفَرَّاءُ: خَصَّ الْخُرْطُومَ بِالسِّمَةِ فَإِنَّهُ فِي مَذْهَبِ الْوَجْهِ لِأَنَّ بَعْضَ الشَّيْءِ يُعَبَّرُ بِهِ عَنْ كُلِّهِ . وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا : سَنَخْطِمُهُ بِالسَّيْفِ، وَقَدْ فَعَلَ ذَلِكَ يَوْمَ بَدْرٍ . وَقَالَ قَتَادَةُ: سَنُلْحِقُ بِهِ شَيْئًا لَا يُفَارِقُهُ. قَالَ الْقُتَيْبِيُّ تَقُولُ الْعَرَبُ لِلرَّجُلِ سَبَّ الرَّجُلَ سَبَّةً قَبِيحَةً : قَدْ وَسَمَهُ مِيسَمَ سُوءٍ. يُرِيدُ: أَلْصَقَ بِهِ عَارًا لَا يُفَارِقُهُ. كَمَا أَنَّ السِّمَةَ لَا يَنْمَحِي وَلَا يَعْفُو أَثَرُهَا وَقَدْ أَلْحَقَ اللَّهُ بِمَا ذَكَرَ مِنْ عُيُوبِهِ عَارًا لَا يُفَارِقُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ، كَالْوَسْمِ عَلَى الْخُرْطُومِ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ وَالْكِسَائِيُّ : سَنَكْوِيهِ عَلَى وَجْهِهِ.
تفسير البغوي ج ٨ ص ١٩۴ .

(٢) فاطر آية ٣٦.

(٣) طه آية ٧۴.

Scanned with CamScanner

ترجمه: بیشکه څوک چې خپل رب ته مُجرم (مشرک) راشي نو نه خو به دا په دې جهنم کې مړ کیږي، او نه به داسې ژوندې وي چې ده ته فائده حاصله شي.

(یعنی ده ته به په دې جهنم کې مرګ هم نه راځي؛ ځکه په مرګ سره بیا د عذابونو نه خلاصیږي، او نه به داسې ژوندې وي چې د ژوند نه فائده واخلي، بلکه همیشه به په بَدحالت او عذاب کې وي). (۱)

۳. همدغه شان مضمون په سورة الاعلی کې هم ذکر دی، الله تعالی فرمایي:

﴿ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾. (۲)

ترجمه: بیا به دا په دې جهنم کې نه مړ کیږي، او نه به داسې ژوندې وي چې د ژوند نه فائده واخلي. (۳)

---

(۱) { إِنَّهُ مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا } قِيلَ: هَذَا ابْتِدَاءُ كَلَامٍ مِنَ اللهِ تَعَالَى. وَقِيلَ: مِنْ تَمَامِ قَوْلِ السَّحَرَةِ {مُجْرِمًا} أَيْ: مُشْرِكًا، يَعْنِي: مَاتَ عَلَى الشِّرْكِ، { فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا } فَيَسْتَرِيحُ، { وَلَا يَحْيَا } حَيَاةً يَنْتَفِعُ بِهَا. تفسير البغوي ج ٥ ص ۲۸٦.

اَلْمَسْأَلَةُ الرَّابِعَةُ: اَلْجِسْمُ الْحَيُّ لَا بُدَّ وَأَنْ يَبْقَى إِمَّا حَيًّا أَوْ يَصِيرُ مَيِّتًا. فَخُلُوُّهُ عَنِ الْوَصْفَيْنِ مُحَالٌ، فَمَعْنَاهُ فِي الْآيَةِ أَنَّهُ يَكُونُ فِي جَهَنَّمَ بِأَسْوَإِ حَالٍ لَا يَمُوتُ مَوْتَةً مُرِيحَةً وَلَا يَحْيَا حَيَاةً مُمْتِعَةً. التفسير الكبير ج ۲۲ ص ۷۹ سورة طه في تفسير آية ۷۴.

(۲) الاعلی آية ۱۳.

(۳) { ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا } فَيَسْتَرِيحُ {وَلَا يَحْيَا} حَيَاةً تَنْفَعُهُ. تفسير البغوي ج ۸ ص ۴۰۲.

{ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَا} فَفِيهِ مَسْأَلَتَانِ: اَلْمَسْأَلَةُ الْأُولَى: لِلْمُفَسِّرِينَ فِيهِ وَجْهَانِ: أَحَدُهُمَا: لَا يَمُوتُ فَيَسْتَرِيحُ وَلَا يَحْيَا حَيَاةً تَنْفَعُهُ، كَمَا قَالَ: ﴿ لَا يُقْضَى عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِنْ عَذَابِهَا ﴾ [فاطر: ٣٦] وَهَذَا عَلَى مَذْهَبِ الْعَرَبِ تَقُولُ لِلْمُبْتَلَى بِالْبَلَاءِ الشَّدِيدِ: لَا هُوَ حَيٌّ وَلَا هُوَ مَيِّتٌ. وَثَانِيهِمَا: مَعْنَاهُ أَنَّ نَفْسَ أَحَدِهِمْ فِي النَّارِ تَصِيرُ فِي حَلْقِهِ فَلَا تَخْرُجُ فَيَمُوتُ، وَلَا تَرْجِعُ إِلَى مَوْضِعِهَا مِنَ الْجِسْمِ فَيَحْيَا. التفسير الكبير ج ۳۱ ص ۱۳۵ سورة الاعلی في تفسير آية ۱۳.

Scanned with CamScanner

ترجمه: بیشکه څوک چې خپل رب ته مُجرم (مشرک) راشي نو نه خو به دا په دې جهنم کې مړ کيږي، او نه به داسې ژوندې وي چې ده ته فائده حاصله شي.

(يعنی ده ته به په دې جهنم کې مرګ هم نه راځي؛ ځکه په مرګ سره بيا د عذابونو نه خلاصيږي، او نه به داسې ژوندې وي چې د ژوند نه فائده واخلي، بلکه هميشه به په بَدحالت او عذاب کې وي). (۱)

۳. همدغه شان مضمون په سورة الاعلى کې هم ذکر دی، الله تعالى فرمايي:

﴿ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾. (۲)

ترجمه: بيا به دا په دې جهنم کې نه مړ کيږي، او نه به داسې ژوندې وي چې د ژوند نه فائده واخلي. (۳)

---

(۱) { إِنَّهُ مَن يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا } قِيلَ: هَذَا ابْتِدَاءُ كَلَامٍ مِنَ اللهِ تَعَالَى. وَقِيلَ: مِنْ تَمَامِ قَوْلِ السَّحَرَةِ {مُجْرِمًا} أَيْ: مُشْرِكًا، يَعْنِي: مَاتَ عَلَى الشِّرْكِ، { فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا } فَيَسْتَرِيحُ. { وَلَا يَحْيَا } حَيَاةً يَنْتَفِعُ بِهَا. تفسير البغوي ج ٥ ص ٢٨٦.

اَلْمَسْأَلَةُ الرَّابِعَةُ: اَلْجِسْمُ الْحَيُّ لَا بُدَّ وَأَنْ يَبْقَى إِمَّا حَيًّا أَوْ يَصِيرُ مَيِّتًا. فَخُلُوُّهُ عَنِ الْوَصْفَيْنِ مُحَالٌ، فَمَعْنَاهُ فِي الْآيَةِ أَنَّهُ يَكُونُ فِي جَهَنَّمَ بِأَسْوَإِ حَالٍ لَا يَمُوتُ مَوْتَةً مُرِيحَةً وَلَا يَحْيَا حَيَاةً مُمْتِعَةً. التفسير الكبير ج ٢٢ ص ٧٩ سورة طه في تفسير آية ٧٤.

(۲) الاعلى آية ١٣.

(۳) { ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا } فَيَسْتَرِيحُ {وَلَا يَحْيَا} حَيَاةً تَنْفَعُهُ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٤٠٢.

{ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَا} فَفِيهِ مَسْأَلَتَانِ: اَلْمَسْأَلَةُ الْأُولَى: لِلْمُفَسِّرِينَ فِيهِ وَجْهَانِ: أَحَدُهُمَا: لَا يَمُوتُ فَيَسْتَرِيحُ وَلَا يَحْيَا حَيَاةً تَنْفَعُهُ، كَمَا قَالَ: ﴿ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا ﴾ [فاطر: ٣٦] وَهَذَا عَلَى مَذْهَبِ الْعَرَبِ تَقُولُ لِلْمُبْتَلَى بِالْبَلَاءِ الشَّدِيدِ: لَا هُوَ حَيٌّ وَلَا هُوَ مَيِّتٌ. وَثَانِيهِمَا: مَعْنَاهُ أَنَّ نَفْسَ أَحَدِهِمْ فِي النَّارِ تَصِيرُ فِي حَلْقِهِ فَلَا تَخْرُجُ فَيَمُوتُ، وَلَا تَرْجِعُ إِلَى مَوْضِعِهَا مِنَ الْجِسْمِ فَيَحْيَا. التفسير الكبير ج ٣١ ص ١٣٥ سورة الاعلى في تفسير آية ١٣.

Scanned with CamScanner

## جهنمیانو ته به د هر طرف نه د مرګ اَسباب راځي خو مړه کیږي به نه

جهنمیانو ته به په جهنم کې د هر طرف نه د مرګ آسباب (یعنی سخت سخت عذابونه) راځي خو بیا به هم نه مړه کیږي.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِن وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴾.(١)

ترجمه: او هر طرف نه به جهنمي ته (آسباب د) مرګ راځي خو دا به نه مړ کیږي، او دده مخې ته به ډیر سخت عذاب وي.

(یعنی د یو بل پسې به سخت سخت عذابونه وي).

ابراهیم تیمي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې د کافر د بدن د هر ویښته لاندې به د مرګ آسباب برابر وي یعنی د څلور واړه طرفونو نه به سخت سخت عذابونه وي خو بیا به هم نه مَړ کیږي ځکه په مرګ سره خو بیا د عذابونو نه راحت مُومي، بلکه کافر به مسلسل په دې عذاب کې ګرفتار وي. (مفسّرینو ددې آیت بهترین تحقیق هم رانقل کړی) .(٢)

---

(١) ابراهیم آیة ١٧.

(٢) وَقَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ} يَعْنِي: يَجِدُ هَمَّ الْمَوْتِ وَأَلَمَهُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ مِنْ أَعْضَائِهِ. قَالَ إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ: حَتَّى مِنْ تَحْتِ كُلِّ شَعْرَةٍ مِنْ جَسَدِهِ. وَقِيلَ: يَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ قُدَّامِهِ وَمِنْ خَلْفِهِ، وَمِنْ فَوْقِهِ وَمِنْ تَحْتِهِ، وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ. {وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ} فَيَسْتَرِيحُ. قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: تُعَلَّقُ نَفْسُهُ عِنْدَ حَنْجَرَتِهِ فَلَا تَخْرُجُ مِنْ فِيهِ فَيَمُوتُ، وَلَا تَرْجِعُ إِلَى مَكَانِهَا مِنْ جَوْفِهِ فَتَنْفَعُهُ الْحَيَاةُ. نَظِيرُهَا {ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَا} (الأعلى ١٣). {وَمِنْ وَرَائِهِ} أَمَامَهُ. {عَذَابٌ غَلِيظٌ} شَدِيدٌ. وَقِيلَ: الْعَذَابُ الْغَلِيظُ الْخُلُودُ فِي النَّارِ. تفسير البغوي ج ٤ ص ٣٤٢.

(وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَيْ يَأْتِيهِ أَسْبَابُ الْمَوْتِ مِنْ كُلِّ جِهَةٍ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ، وَمِنْ فوقه وتحته ومن قدامه وخلفه، كقوله: "لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ" [الزمر: ١٦]. وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ: يَأْتِيهِ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ، لِلْآلَامِ التي في كل مكان من جسد. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: إِنَّهُ لَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ نَاحِيَةٍ وَمَكَانٍ حَتَّى مِنْ إِبْهَامِ رِجْلَيْهِ. ←←←←

# د قیامت په ورځ به مرګ د جنت او جهنم په مینځ کې ذبح کړې شي

په جهنم کې به مرګ نه وي ځکه مرګ به د قیامت په ورځ د جنت او جهنم په مینځ کې ذبح کړې شي. دا خبره په قرآن کریم او احادیثو کې ذکر ده:

۱. الله تعالی فرمایي:

﴿وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾.(۱)

ترجمه: او (اې پیغمبره!) ته دوی اُویروه د ورځې د پښیمانتیا نه (یعنی د قیامت د ورځې نه) کله چې د کار فیصله اوشي (یعنی مرګ د ګډ په شکل د جنت او جهنم په مینځ کې ذبح کړې شي)، حالانکه دوی (نن ورځ په دُنیا کې) په غفلت کې پراته دي او دوی ایمان نه راوړي.

یعنی نن ورځ د عِناد په وجه اِیمان نه راوړي خو د قیامت په ورځ چې کله فیصله اوشي او مرګ ذبح کړې شي نو دوی ته به هلته افسوس ورشي.(۲)

←←← وَقَالَ الْأَخْفَشُ: يَعْنِي الْبَلَايَا الَّتِي تُصِيبُ الْكَافِرَ فِي النَّارِ سَمَّاهَا مَوْتًا، وَهِيَ مِنْ أَعْظَمِ الْمَوْتِ.... " وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ". قَالَ الضَّحَّاكُ: لَا يَمُوتُ فَيَسْتَرِيحُ. وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: تَعَلَّقُ رُوحُهُ فِي حَنْجَرَتِهِ فَلَا تَخْرُجُ مِنْ فِيهِ فَيَمُوتُ، وَلَا تَرْجِعُ إِلَى مَكَانِهَا مِنْ جَوْفِهِ فَتَنْفَعُهُ الْحَيَاةُ. وَنَظِيرُهُ قَوْلُهُ: "لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَى" [طه: ۷۴]. وَقِيلَ: يَخْلُقُ اللهُ فِي جَسَدِهِ آلَامًا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهَا كَأَلَمِ الْمَوْتِ. وَقِيلَ: "وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ" لِتَطَاوُلِ شَدَائِدِ الْمَوْتِ بِهِ، وَامْتِدَادِ سَكَرَاتِهِ عَلَيْهِ، لِيَكُونَ ذَلِكَ زِيَادَةً فِي عَذَابِهِ. قُلْتُ: وَيَظْهَرُ مِنْ هَذَا أَنَّهُ يَمُوتُ، وَلَيْسَ كَذَلِكَ، لقول تَعَالَى: "لَا يُقْضَى عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِنْ عَذَابِهَا" [فاطر: ۳۶] وَبِذَلِكَ وَرَدَتِ السُّنَّةُ. فَأَحْوَالُ الْكُفَّارِ أَحْوَالُ مَنِ اسْتَوْلَى عَلَيْهِ سَكَرَاتُ الْمَوْتِ دَائِمًا، وَاللهُ أَعْلَمُ. (وَمِنْ وَرَائِهِ) أَيْ مِنْ أَمَامِهِ. (عَذَابٌ غَلِيظٌ) أَيْ شديد متواصل الآلام من غير فتور. تفسير القرطبي ج ۹ ص ۳۵۲. وهكذا في تفسير ابن كثير ج ۴ ص ۴۸۵. و تفسير النسفي ج ۲ ص ۱۶۷.

(۱) مریم آية ۳۹.

(۲) ﴿إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ﴾ فُرِغَ مِنَ الْحِسَابِ وَأُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، وَذُبِحَ الْمَوْتُ. تفسير البغوي ج ۳ ص ۲۳۴. ←←←←

۲ . په بخاري شريف او مسلم شريف کې ددې تفصيل ذکر دی : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې د قيامت په ورځ به مرګ د سپين او تور رنګ واله (يعنی برګ) ګډ په شکل راوستې شي ، د جنت او جهنم په مينځ کې به اودرولې شي ، بيا به او ويلې شي :

يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ! هَلْ تَعْرِفُوْنَ هٰذَا ؟ اې جنتيانو ! آيا تاسو دا پيژنئ ؟

دوی به ورته سر را اوچت کړي او به يې ګوري ، بيا به او وايي :

نَعَمْ ، هٰذَا الْمَوْتُ . آو (مونږ دا پيژنو) دا مرګ دی .

بيا به دوباره وويلې شي : يَا أَهْلَ النَّارِ ! هَلْ تَعْرِفُوْنَ هٰذَا ؟

اې جهنميانو ! آيا تاسو دا پيژنئ ؟

دوی به هم ورته سر را اوچت کړي ، ورته او به ګوري او بيا به او وايي :

نَعَمْ ، هٰذَا الْمَوْتُ . آو ، دا مرګ دی .

فَيُؤْمَرُ بِهٖ فَيُذْبَحُ . بيا به ددې مرګ په باره کې حکم اوشي او دا به ذبح کړې شي .

بيا به وويلې شي : يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ! خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتَ ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ ! خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتَ .

اې جنتيانو ! اوس به تاسو هميشه ژوندي يئ مرګ به (درله) نه راځي ، او اې جهنميانو ! اوس به تاسو هميشه ژوندي يئ مرګ به نه راځي .

بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آيت مبارک اولوست :

﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : او ته دوی اويروه د ورځې د پښيمانتيا نه کله چې د کار فيصله اوشي (يعنی مرګ د ګډ په شکل د جنت او جهنم په مينځ کې ذبح کړې شي) ، حالانکه دوی (نن ورځ په

←←← رُوِيَ أَنَّهُ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهٖ : ﴿ قُضِيَ الْأَمْرُ ﴾ فَقَالَ : حِيْنَ يُجَاءُ بِالْمَوْتِ فِيْ صُوْرَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ فَيُذْبَحُ وَالْفَرِيْقَانِ يَنْظُرَانِ فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا عَلٰى فَرَحٍ وَأَهْلُ النَّارِ غَمًّا عَلٰى غَمٍّ .

التفسير الكبير ج ۲۱ ص ۱۵۴ .

(۱) مريم آية ۳۹ .

Scanned with CamScanner

دُنيا کې) په غفلت کې پراته دي او دوی ايمان نه راوړي.
نبي عليه السلام په لاس مبارک سره دُنيا طرف ته اِشاره اوکړه (چې دوی دلته په دُنيا کې په غفلت کې دي). (١)

٣. د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې (کله) جنتيان جنت ته او جهنميان جهنم ته داخل شي نو بيا به د دوی په مينځ کې يو اِعلان کوونکي اُودريږي (او دا اِعلان به اوکړي):

يَاأَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ ، وَيَاأَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ، خُلُوْدٌ .

اې جهنميانو! مرګ نشته، او اې جنتيانو! مرګ نشته، تول به (په خپلو خپلو ځايونو کې) هميشه يئ. (٢)

---

(١) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُجَاءُ بِالْمَوْتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، كَأَنَّهُ كَبْشٌ أَمْلَحُ فَيُوقَفُ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَيُقَالُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ هَلْ تَعْرِفُوْنَ هَذَا؟ فَيَشْرَئِبُّوْنَ وَيَنْظُرُوْنَ وَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ، هَذَا الْمَوْتُ، قَالَ: وَيُقَالُ: يَا أَهْلَ النَّارِ هَلْ تَعْرِفُوْنَ هَذَا؟ قَالَ فَيَشْرَئِبُّوْنَ وَيَنْظُرُوْنَ وَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ، هَذَا الْمَوْتُ، قَالَ فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُذْبَحُ، قَالَ: ثُمَّ يُقَالُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ! خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ! خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتَ" قَالَ: ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ} وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الدُّنْيَا . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارِ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُوْنَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٤٠(٢٨٤٩) . صحيح البخاري . رقم الحديث ٤٧٣٠ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٠٦٦ ، مسند البزار رقم الحديث ٧٩٥٧ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٢٥٤ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٣٣٤٦ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٧٨ .

(٢) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، ثُمَّ يَقُوْمُ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ: يَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ، خُلُوْدٌ . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَبْعُوْنَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ رقم الحديث ٦٥٤٤ .

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُدْخِلُ اللهُ أَهْلَ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَيُدْخِلُ أَهْلَ النَّارِ النَّارَ، ثُمَّ يَقُوْمُ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ فَيَقُوْلُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ، كُلٌّ خَالِدٌ فِيْمَا هُوَ فِيْهِ . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارِ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُوْنَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٤٢ (٢٨٥٠) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٦١٣٨ ، شعب الايمان رقم الحديث ٣٨١ ، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٤٥٤ .

Scanned with CamScanner

# جهنميان به د الله ﷻ د ديدار نه محروم وي

د جهنميانو د پاره به يو عذاب دا هم وي چې دوی به د الله تعالی د دِيدار نه محروم وي، او الله ﷻ به د دوی نه ناراضه وي. په قرآن کريم کې ذکر دي:

﴿ كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ ۝ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيمِ ۝﴾.(١)

ترجمه: حقه ده دا خبره چې بيشکه جهنميان به په دغه ورځ (د قيامت باندې) د خپل رَب (د دِيدار) نه منع کولې شي، بيا به دوی يقينًا جهنم ته داخلولې شي.

او دا يقيني چې لويه بَدبختي ده "چې انسان د الله تعالی د دِيدار نه هم محروم شي او بيا جهنم ته هم داخل کړې شي". (٢)

## د کافرانو او مجرمانو د پاره بعضې نامعلوم عذابونه

د جهنم بعضې عذابونه خو هغه دي د کومو تذکره چې په قرآن کريم او حاديثو کې صراحةً ذکر شوی ليکن بعضې داسې عذابونه هم شته چې د هغې پوره حقيقت صرف الله تعالی ته معلوم دی. دې بعضې جهنميانو ته به الله تعالی همدغه شان نامعلوم سخت عذابونه ورکوي.

**١.** الله ﷻ په قرآن کريم کې د جهنميانو د پاره د څه عذابونو تذکره کړی، بيا فرمايي:

---

(١) المطففين آية ١٥.

(٢) {كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ} يَوْمَ الْقِيَامَةِ {لَمَحْجُوبُونَ} [قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: "كَلَّا" يُرِيدُ: لَا يُصَدِّقُونَ، ثُمَّ اسْتَأْنَفَ فَقَالَ: "إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ"] قَالَ بَعْضُهُمْ: عَنْ كَرَامَتِهِ وَرَحْمَتِهِ مَمْنُوعُونَ. وَقَالَ قَتَادَةُ: هُوَ أَلَّا يَنْظُرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيَهُمْ. وَقَالَ أَكْثَرُ الْمُفَسِّرِينَ: عَنْ رُؤْيَتِهِ. قَالَ الْحَسَنُ: لَوْ عَلِمَ الزَّاهِدُونَ الْعَابِدُونَ أَنَّهُمْ لَا يَرَوْنَ رَبَّهُمْ فِي الْمَعَادِ لَزَهَقَتْ أَنْفُسُهُمْ فِي الدُّنْيَا. قَالَ الْحُسَيْنُ بْنُ الْفَضْلِ: كَمَا حَجَبَهُمْ فِي الدُّنْيَا عَنْ تَوْحِيدِهِ حَجَبَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَنْ رُؤْيَتِهِ. وَسُئِلَ مَالِكٌ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ فَقَالَ: لَمَّا حَجَبَ اللَّهُ أَعْدَاءَهُ فَلَمْ يَرَوْهُ تَجَلَّى لِأَوْلِيَائِهِ حَتَّى رَأَوْهُ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: فِي قَوْلِهِ: "كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ" دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ يَرَوْنَ اللَّهَ. تفسير البغوي ج ٨ ص ٣٦٦ المطففين في تفسير آية ١٥.

Scanned with CamScanner

﴿ وَ اٰخَرُ مِنۡ شَكۡلِهٖۤ اَزۡوَاجٌ ؕ ﴾.(١)

ترجمه : او ددينه علاوه ددې په شکل نور ډير قِسمه عذابونه ( او د جهنم خوراکونه ) دي . (٢)

٢ . کله الله ربّ العزت د کافرانو په باره کې فرمايي : ﴿ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ؕ ﴾.(٣)

ترجمه : د دوی د پاره سخت عذاب دی .

٣ . کله د کافرانو په باره کې فرمايي : ﴿ وَلَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴾.(٤)

ترجمه : او د دوی د پاره دَرد ناک عذاب دی .

٤ . کله د کافرانو په باره کې فرمايي : ﴿ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴾.(٥)

ترجمه : او ددوی د پاره لوي عذاب دی .

٥ . او کله د کافرانو په باره کې فرمايي :

---

(١) ص آية ٥٨ .

(٢) { وَآخَرُ مِنْ شَكْلِهِ } مِثْلِهِ أَيْ: مِثْلُ الْحَمِيمِ وَالْغَسَّاقِ، { أَزْوَاجٌ } أَيْ: أَصْنَافٌ أُخَرُ مِنَ الْعَذَابِ. تفسير البغوي ج ٧ ص ٩٨ .

{وَآخَرُ مِن شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ} أي وعذابٌ آخر من هذا العذاب المذكور كالزمهرير، والسموم، وأكل الزقوم له منه أنواع وأصناف. صفوة التفاسير ج ٣ ص ٥٧ .

(٣) ﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيۡزٌ ذُو انۡتِقَامٍ ﴾ . آل عمران آية ٤ .

بل ځاى فرمايي : ﴿ يَمۡكُرُوۡنَ السَّيِّاٰتِ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ؕ وَمَكۡرُ اُولٰٓـئِكَ هُوَ يَبُوۡرُ ﴾ . فاطر آية ١٠ .

(٤) پوره آيت داسې دی : ﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَوۡ اَنَّ لَهُمۡ مَّا فِى الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا وَّمِثۡلَهٗ مَعَهٗ لِيَفۡتَدُوۡا بِهٖ مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنۡهُمۡ‌ ۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴾ . المائدة آية ٣٦ .

(٥) پوره آيت داسې دی : ﴿ وَلَا يَحۡزُنۡكَ الَّذِيۡنَ يُسَارِعُوۡنَ فِى الۡكُفۡرِ‌ۚ اِنَّهُمۡ لَنۡ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيۡـئًا ؕ يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظًّا فِى الۡاٰخِرَةِ‌ ۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴾ . آل عمران آية ١٧٦ .

Scanned with CamScanner

﴿ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴾. (١)

ترجمه: د دوی د پاره به سخت ترین دَردناک عذاب وي. (٢)

پس معلومه شوه چې د کافرانو د پاره به په جهنم کې نامعلوم خطرناک عذابونه وي.

## د قیامت په ورځ به په کافرانو او ګناهګارانو باندې د دوی غوږونه، سترګې، او څرمن د دوی خلاف ګواهي ورکړي

د قیامت په ورځ به په کافرانو او ګناهګارانو باندې د دوی خپل غوږونه، خپلې سترګې، او خپله څرمن دا ګواهي ورکړي چې دوی په مونږ باندې دا ګناهونه کړي وو.

الله تعالی ددې بیان داسې کړی:

﴿ وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَاءُ اللَّهِ إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ۝ حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝ وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ۖ قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ۝ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ۝ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ الْخَاسِرِينَ ﴾. (٣)

ترجمه: او (هغه ورځ یاده کړه) په کومه ورځ چې به د الله تعالی دُښمنان جهنم ته راجمع

---

(١) پوره آیت داسې دی: ﴿ هَٰذَا هُدًى ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴾. الجاثية آية ١١

بل ځای الله رب العزت فرمایي: ﴿ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴾. سبا آية ٥.

(٢) {لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ} أي لهم عذاب من أشدّ أنواع العذاب مؤلمٌ موجعٌ. قال الزمخشري: والرجزُ أشدُّ العذاب. صفوة التفاسير ج ٣ ص ١٧٠ سورة الجاثية آية ١١.

{أولئك لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ} أي فهؤلاء المجرمون لهم عذاب من أسوأ العذاب، شديد الإيلام، قال قتادة: الرجزُ: سوء العذاب. صفوة التفاسير ج ٢ ص ٥٠٠ سورة سبا آية ٥.

(٣) حم السجدة (فصّلت) آية ١٩ تا ٢٣.



Scanned with CamScanner

کړې شي ؟ پس دوی به جهنم ته دِیکه کولې شي (۱) تر دې چې کله دوی جهنم ته راشي نو په دوی باندې به د دوی غوږونه ، د دوی سترګې ، او د دوی څرمن په هغه څه باندې ګواهي ورکړي کوم چې دوی (په دُنیا کې) کول ، دوی به خپلو څرمنو ته اُووايي : تاسو ولې په مونږ ګواهي اوکړه ؟ اندامونه به ورته اووايي : "مونږ هغه ذات ګويا کړو کوم چې هر څيز ګويا کړې دی" . او دې الله تاسو په (دُنيا کې په) اول ځل پيدا کړي يَی او هم هغه طرف ته به تاسو وَر واپس کولې شی . او تاسو خو (د ګناه کولو په وخت) خپل ځانونه ددينه نه شو پټولی چې په تاسو باندې به ستاسو غوږونه ، ستاسو سترګې ، او ستاسو څرمنې ګواهي اوکړي ، بلکه تاسو دا ګمان کولو چې ګني الله تعالی ستاسو ډير کارونه نه پيژني ، او تاسو همدې (غلط) ګمان هلاک کړی کوم چې تاسو په الله ﷻ باندې کړې وُ ("چې ګني هغه زمونږ د ډيرو کارونو نه خبر ندی") . پس تاسو (په دواړه جِهانه) نقصان موندونکي شوی .

## د قيامت په ورځ به په کافرانو او ګناهګارانو باندې د دوی لاسونه او خپې د دوی خلاف ګواهي ورکړي

الله تعالی فرمايي :

﴿ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰٓ اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ .(۲)

ترجمه : نن ورځ به مونږ د دوی په خُلو باندې مُهر اُولږوو ، او د دوی لاسونه به د مونږ سره خبرې اوکړي ، او د دوی خپې به په هر هغه څه باندې ګواهي اوکړي کوم چې دوی (په دُنيا کې) کول .

---

(۱) ﴿ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴾ دوی به جهنم ته دِيکه کولې شي . يا دا مطلب چې دوی به په ډَلو ډَلو کې تقسيم کړې شي . يا دامطلب چې دا اوله ډَله به دې آخري ډَلې ته حصارولې شي چې ورسره يو ځای شي نو بيا به جهنم ته داخلولې شي .

{فَهُمْ يُوزَعُونَ} يُسَاقُونَ وَيُدْفَعُونَ إِلَى النَّارِ، وَقَالَ قَتَادَةُ وَالسُّدِّيُّ: يُحْبَسُ أَوَّلُهُمْ عَلَى آخِرِهِمْ لِيَتَلَاحَقُوا.
تفسير البغوي ج ۷ ص ۱۷۰ . وتفسير القرطبي ج ۱۵ ص ۳۵۰ .

(۲) يس آية ۶۵ .

Scanned with CamScanner

# د جهنميانو دَرخواستونه او آرزوګانې

جهنميان به په جهنم کې الله تعالى ته ډير دَرخواستونه اوکړي ، او ډيرې آرزوګانې به اوکړي خو يو درخواست به يې هم نه قبليږي او يوه آرزو به يې هم نه پوره کيږي.

## جهنميان به د جهنم نه د وتلو او دُنيا ته د واپس تللو درخواست اوکړي خو قبول به نشي

جهنميان به الله تعالى ته درخواست اوکړي "چې د جهنم نه مو اُوباسه او دُنيا ته مو دوباره اُوليږه چې نېک اعمال اوکړو" خو د دوی دا درخواست به قبول نشي.
دا مضمون د قرآن کريم په مختلفو آيتونو کې په مختلف اَندازسره ذکر شوی :

۱. الله تعالى فرمايي :

﴿ وَهُمۡ يَصۡطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴾.(۱)

ترجمه : او کافران به په دې جهنم کې چغې وهي (او دا به وايي) اې زمونږ ربه ! مونږ ددې جهنم نه اُوباسه (او دُنيا ته مو اُوليږه) مونږ به نېک عمل اوکړو غير د هغه عمل نه کوم چې مونږ (په دُنيا کې) کولو. (الله تعالى به ورته اوفرمايي :) آيا مونږ تاسو ته دومره عُمر نه وُ درکړی چې څوک نصيحت حاصلول غواړي هغه په دې کې نصيحت حاصلولې شي ؟ او آيا تاسو ته ويرووُنکی نه وُ راغلی ؟ پس (اوس) عذاب اُوڅکئ ، د ظالمانو د پاره څوک مددګار نشته.

۲. بل ځای الله ﷻ ددې بيان داسې کړی :

﴿ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَإِنۡ عُدۡنَا فَإِنَّا ظَٰلِمُونَ ۝ قَالَ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴾.(۲)

---

(۱) فاطر آية ۳۷.

(۲) المؤمنون آية ۱۰۷ ، ۱۰۸.

Scanned with CamScanner

ترجمه: (کافران به اووايي:) اې زمونږ ربه! مونږ ددې جهنم نه اُوباسه بيا که چيرته مونږ (کُفر او شِرک ته) دوباره واپس شو نو يقينًا مونږ به ظالمان يو. الله تعالى به ورته اوفرمايي: تاسو په دې جهنم کې چَخې (ګورې) شئ او ماسره (د جهنم نه وتلو باره کې) خبرې مه کوئ.

سپې چې خلق شړي نو ورته وايي چې "چَخې شه" نو همدغه شان به الله تعالى کافرانو ته هم په جواب کې اووايي چې: ﴿ اِخۡسَـُٔوۡا فِيۡهَا . تاسو په دې جهنم کې چَخې شئ ﴾ يعنى ذليل او لرې شئ. (١)

( په وروستي آيتونو کې الله تعالى د دوی جهنم ته د تللو وجه دا هم ذکر کړی چې دوی به د مؤمنانو پورې ټوقې او خندا کوله ). (٢)

۳. بل ځای الله تعالى د مجرمانو بيان داسې کړی:

﴿ وَلَوۡ تَرٰۤى اِذِ الۡمُجۡرِمُوۡنَ نَاكِسُوۡا رُءُوۡسِهِمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡؕ رَبَّنَاۤ اَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا فَارۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَالِحًا اِنَّا مُوۡقِنُوۡنَ ۝ وَلَوۡ شِئۡنَا لَاٰتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدٰٮهَا وَلٰـكِنۡ حَقَّ الۡقَوۡلُ مِنِّىۡ لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجۡمَعِيۡنَ ۝ فَذُوۡقُوۡا بِمَا نَسِيۡتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيۡنٰكُمۡ وَذُوۡقُوۡا عَذَابَ الۡخُلۡدِ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴾. (٣)

---

(١) { اِخۡسَـُٔوۡا فِيۡهَا } أي ذلوا في النار وانزجروا كما تُزجر الكلاب { وَلَا تُكَلِّمُوۡنِ } في رفع العذاب قال في التسهيل: اخسئوا: كلمة تستعمل في زجر الكلاب ففيها إهانةٌ وإبعاد. صفوة التفاسير ج ٢ ص ٢٩٣.

{ اِخۡسَـُٔوۡا فِيۡهَا } اسكتوا سكوت ذلة وهوان {وَلَا تُكَلِّمُوۡنِ} في رفع العذاب عنكم فإنه لا يرفع ولا يخفف قيل هو آخر كلام يتكلمون به ثم ولا كلام بعد ذلك إلا الشهيق والزفير. تفسير النسفي ج ٢ ص ٤٨٣.

(٢) هغه آيتونه دادي: ﴿ اِنَّهٗ كَانَ فَرِيۡقٌ مِّنۡ عِبَادِىۡ يَقُوۡلُوۡنَ رَبَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاغۡفِرۡ لَنَا وَارۡحَمۡنَا وَاَنۡتَ خَيۡرُ الرّٰحِمِيۡنَ ۝ فَاتَّخَذۡتُمُوۡهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتّٰٓى اَنۡسَوۡكُمۡ ذِكۡرِىۡ وَكُنۡتُمۡ مِّنۡهُمۡ تَضۡحَكُوۡنَ ۝ اِنِّىۡ جَزَيۡتُهُمُ الۡيَوۡمَ بِمَا صَبَرُوۡۤا اَنَّهُمۡ هُمُ الۡفَآئِزُوۡنَ ﴾. المؤمنون آية ١٠٩ تا ١١١.

(٣) السجدة آية ١٢ تا ١٤.

Scanned with CamScanner

ترجمه : او كه چيرته ته هغه وخت اوګورې كله چې مجرمانو خپل سرونه (د ذِلت په وجه) د خپل رَب په وړاندې ټيټ كړي وي (او دا به وايي :) اې زمونږ ربه ! (اوس) مونږ (هرڅه) اُوليدل او وَاورېدل پس ته مونږ (دُنيا ته) واپس اُوليږه مونږ به نيك اعمال اوكړو ، بيشكه (اوس) مونږ (د آخرت په اُمورو) يقين كوونكي يو ، (الله تعالى فرمايي :) او كه چيرته زمونږ خوَښه وې نو مونږ به هر كس ته دده هدايت (جبرًا) وركړې وُ (يعنى د دوى د اِختيار نه بغير په زُوره به مو ورته هدايت كړې وُ) خو ليكن زما د طرفه دا خبره ثابته شوې چې " زه به خامخا جهنم (د سَركشه) جِنّاتو او (سَركشه) انسانانو ټولو نه ډكوم " پس اوس (د خپل عمل) سزا اُوڅكئ په سبب ددې سره چې تاسو ددې ورځې ملاقات هېر كړې وُ ، بيشكه مونږ به تاسو په عذاب كې پرېږدو ، او تاسو دائمي عذاب اُوڅكئ په سبب د هغه كارونو (كُفر او ګناهونو) سره كوم چې تاسو كول .(١)

٤ . بل ځاى په قرآن كريم كې ذكر دي : چې كله دا باطل معبودان او ګمران پَرمخ جهنم

---

(١) {ولو ترى} الخطاب لرسول الله صلى الله عليه وسلم أو لكل أحد ولو امتناعية والجواب محذوف أي لرأيت أمراً عظيمًا { إذ المجرمون} هم الذين قالوا أئذا ضللنا في الأرض ولو واذ للمضي وإنما جاز ذلك لأن المترقب من الله بمنزله الموجود لا يقدر لترى ما يتناوله كأنه قيل ولو تكون منك الرؤية واذ ظرف له {ناكسو رؤوسهم} من الذل والحياء والندم {عند ربّهم} عند حساب ربهم ويوقف عليه لحق الحذف اذ التقدير يقولون {ربنا أبصرنا} صدق وعدك ووعيدك وسمعنا منك تصديق رسلك أو كنا عميا وصما فأبصرنا وسمعنا {فارجعنا} إلى الدنيا {نعمل صالحًا} أي الإيمان والطاعة {إنّا موقنون} بالبعث والحساب الآن {ولو شئنا لآتينا كلّ نفسٍ هداها} في الدنيا أي لو شئنا أعطينا كل نفس ما عندنا من اللطف الذي لو كان منهم اختيار ذلك لاهتدوا لكن لم نعطهم ذلك الطف لما علمنا منهم اختيار الكفر وإيثاره .... {ولكن حقّ القول منّي لأملأنّ جهنّم من الجنّة والنّاس أجمعين} ولكن وجب القول مني بما علمت أنه يكون منهم ما يستوجبون به جهنم وهو ما علم منهم أنهم يختارون الرد والتكذيب. تفسير النسفي ج ٣ ص ٨ .

{وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا } رُشْدَهَا وَتَوْفِيقَهَا لِلْإِيمَانِ، { وَلَكِنْ حَقَّ} وَجَبَ. {الْقَوْلُ مِنِّي لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ} وَهُوَ قَوْلُهُ لِإِبْلِيسَ: "لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ" . (ص آية ٨٥) تفسير البغوي ج٦ ص٣٠٢ سورة السجدة آية ١٣ .

Scanned with CamScanner

ته اوغورځولې شي نو په دغه وخت کې به دا کافران ډير آرمانونه اوکړي (١) يو ارمان به په کې دا هم وي :

﴿ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾.(٢)

ترجمه : کاش ، که چيرته زمونږ د پاره دوباره (دُنيا ته) واپس کيدل اوشي نو مونږ به مؤمنان شو .

## د عذاب په ليدلو اقرار کول ، او دُنيا ته دواپس تللو آرزو کول

الله تعالى فرمايي :

﴿ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُ يَوْمَ يَأْتِي تَأْوِيلُهُ يَقُولُ الَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَاءَ فَيَشْفَعُوا لَنَا أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ قَدْ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾.(٣)

ترجمه : مشرکين اِنتظار نه کوي مګر صرف (د قرآني آيتونو د اِنکار) د اَنجام (جزاء) اِنتظار کوي ، پس په کومه ورځ چې ددې انجام راشي (يعنی د قيامت په ورځ جزاء او سزا اوګوري) نو کومو خلقو چې ددينه وړاندې دا ورځ هېره کړې وه هغوی به اووايي : " يقينًا (مونږ ته) زمونږ د رَب رسولان په حقې خبرې سره راغلي وو پس آيا (اوس) زمونږ د پاره څوک سفارش کوونکی شته چې زمونږ سفارش اوکړي ؟ او يا مونږ (دُنيا ته) واپس اوليږلې شو پس مونږ چې (مخکې په دُنيا کې) کوم کارونه کول (اوس به د هغې نه بدل کارونه اوکړو " (الله فرمايي) يقينًا دوی خپل ځانونه (د شِرک په کولو سره) نقصاني کړي

---

(١) هغه آيتونه دادي : ﴿ فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُونَ ۝ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ۝ قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ۝ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ۝ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ۝ وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ۝ فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ ۝ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴾.الشعراء آية ٩٣ تا ١٠١ .

(٢) الشعراء آية ١٠٢ .

(٣) الاعراف آية ٥٣ .

Scanned with CamScanner

او کوم دروغ به يې چې جوړول (چې ګڼي د الله سره بل شريک شته) هغه ورنه ورک شول.

## د جهنم په ليدلو دُنيا ته د واپس کيدلو آرزو کول

١. الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۞ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾.(١)

ترجمه: او که چیرته ته هغه وخت اوګورې کله چې کافران په جهنم باندې اُودرولې شي نو دوی به اووايي " اې کاش، چې مونږ (دُنيا ته) بيا واپس کړې شو نو مونږ به د خپل رب د آيتونو تکذيب نه کوو، او مونږ به مؤمنان شو ". (الله تعالى فرمايي:) بلکه دوی ته هغه څيز (کُفر او شِرک) ښکاره شو کوم چې به دوی ددينه وړاندې پټولو، او که چيرته (بالفرض) دوی (دُنيا ته) واپس کړې شي نو دوی به ضرور بيا هغه کارونه اوکړي د کوم نه چې دوی منع کړې شوي وو، او بيشکه دوی خامخا دروغجن دي.

٢. بل ځای الله ربّ العزت فرمايي:

﴿ وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ ۞ وَتَرَاهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا خَاشِعِينَ مِنَ الذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ ﴾.(٢)

ترجمه: او ته به ګورې ظالمان چې هر کله دوی (د جهنم) عذاب اوګوري نو دوی به وايي " آيا (دُنيا ته) د واپس تللو څه لار شته؟ ". او ته به اوګورې چې هر کله دا ظالمان جهنم ته پيش کولې شي نو د ذِلّت په وجه به ټيټ شوي وي، جهنم ته به پَټ پَټ ګوري. (ځکه سَرونه به يې د ذِلّت په وجه ښکته وي نو د ډيرې يَرې په وجه به جهنم ته په ټيټو سترګو پَټ پَټ ګوري).

---

(١) الانعام آية ٢٧، ٢٨.

(٢) الشورى آية ٤٤، ٤٥.

Scanned with CamScanner

ددينه علاوه په نورو ډيرو آيتونو کې هم دا مضمون شته " چې کله کافران په قيامت کې د جهنم د عذاب سختې اوګورې نو ددينه د وتلو به مختلف قِسمه درخواستونه او آرزوګانې اوکړې خو يو به هم نشې قبلولی. (١)

## د جهنم په ليدلو اَفسوس کول: " چې کاش ما په دُنيا کې نيک اعمال کړې وی "

الله تعالى فرمايې:

﴿ وَجِايْٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۚ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ۝ يَقُولُ يٰلَيْتَنِيْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ﴾. (٢)

ترجمه: او په دغه ورځ (د محشر) به جهنم راوستلې شي نو په دغه ورځ به انسان نصيحت حاصل کړي، او نصيحت به ده ته څه فائده ورکړي؟ (يعنی په دغه ورځ به ده ته نصيحت اخيستل هيڅ فائده ورنکړي)، انسان به اووايي: " اې کاش، چې ما د خپل (دائمي) ژوند د پاره وړاندې څه (نيک اعمال) ليږلي وی.

## کافران به د جهنم په ليدلو دا آرزو اوکړي: " چې کاش په دُنيا کې مو د الله او رسول اِطاعت کړې وی "

الله تعالى فرمايې:

﴿ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا اللّٰهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴾. (٣)

---

(١) الله تعالى فرمايې: ﴿إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ أَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ أَنْفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى الْإِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ۝ قَالُوْا رَبَّنَآ أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا فَهَلْ إِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ۝ ذٰلِكُمْ بِأَنَّهٗٓ إِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ وَإِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ تُؤْمِنُوْا ۚ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ﴾. المؤمن (غافر) ١٠ تا ١٢.

(٢) الفجر آية ٢٣، ٢٤.

(٣) الاحزاب آية ٦٦.

Scanned with CamScanner

ترجمه: په کومه ورځ چې به ددې کافرانو مخونه په اور کې اړولې راړولې شي دوی به وايي: اې کاش، مونږ د الله او رسول اطاعت کړې وی.

## کافران به په جهنم کې په خپلو کارونو پښيمانتيا ښکاره کړي

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ۝ فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ فَسُحْقًا لِأَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴾.(١)

ترجمه: او کافران به او وايي: که چيرته مونږ (د پيغمبرانو نه) اوريدلی، او يا پوهيدلی (عقل مو لرلی) نو نن به د جهنميانو په ډله کې داخل نه وی، (الله تعالى فرمايي:) نو دوی به د خپلې ګناه اِقرار اوکړي، پس د جهنميانو د پاره هلاکت (د الله د رحمت نه لرې والې) دی.(٢)

**په کافر کې عقل نه وي**: د قرآن کريم ددې آيت نه دا خبره هم معلومه شوه چې په کافر

---

(١) الملک آية ١٠، ١١.

(٢) {وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ} مِنَ الرُّسُلِ مَا جَاءُونَا بِهِ {أَوْ نَعْقِلُ} مِنْهُمْ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ الْهُدَى أَوْ نَعْقِلُهُ فَنَعْمَلُ بِهِ {مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ} قَالَ الزَّجَّاجُ: لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ سَمْعَ مَنْ يَعِي وَيَتَفَكَّرُ أَوْ نَعْقِلُ عَقْلَ مَنْ يُمَيِّزُ وَيَنْظُرُ مَا كُنَّا مِنْ أَهْلِ النَّارِ {فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ فَسُحْقًا} بُعْدًا. تفسير البغوي ١٧٧/٨.

ثُمَّ اعْتَرَفُوا بِجَهْلِهِمْ فَقَالُوا وهم في النار: (لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ) مِنَ النُّذُرِ ـ يَعْنِي الرُّسُلَ ـ مَا جَاءُوا بِهِ (أَوْ نَعْقِلُ) عَنْهُمْ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ الْهُدَى أَوْ نَعْقِلُهُ. أَوْ لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ سَمَاعَ مَنْ يَعِي وَيُفَكِّرُ، أَوْ نَعْقِلُ عَقْلَ مَنْ يُمَيِّزُ وَيَنْظُرُ. وَدَلَّ هَذَا عَلَى أَنَّ الْكَافِرَ لَمْ يُعْطَ مِنَ الْعَقْلِ شَيْئًا. وَقَدْ مَضَى فِي "الطُّورِ" بَيَانُهُ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ. (مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ) يَعْنِي مَا كُنَّا مِنْ أَهْلِ النَّارِ. وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "لَقَدْ نَدِمَ الْفَاجِرُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ فَقَالَ اللهُ تَعَالَى فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ أي بتكذيبهم الرسل... (فَسُحْقًا لِأَصْحَابِ السَّعِيرِ) أَيْ فَبُعْدًا لَهُمْ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ. وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَأَبُو صَالِحٍ: هُوَ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ يُقَالُ لَهُ السُّحْقُ. تفسير القرطبي ج ١٨ ص ٢١٢ سورة الملك آية ١٠، ١١.

Scanned with CamScanner

کې عقل نه وي ، ځکه که چیرته عقل یې لرلی نو بیا به یې ایمان راوړی وی ، البته ذهن یې کار کوي ، نو ځکه خو یې په ایمان نه راوړلو سره مؤاخذه کیږي ، په احادیثو کې هم دا خبره مذکوره ده .(١)

## کافر به د جهنم په لیدلو آرزو اوکړي چې "کاش زه خاورې وی"

الله ربّ العزت فرمایي :

﴿ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴾.(٢)

ترجمه : بیشکه مونږ ( تاسو ) د نزدې عذاب نه اُویرولی . په کومه ورځ چې به هر کس هغه عمل اوګوري کوم چې دده لاسونو وړاندې لیږلې وي ، او کافر به اووایي : اې کاش چې زه خاورې وی . ( دوباره نه وې ژوندې شوی ) .

## ظالمان به د عذاب په لیدلو پښیمانتیا ښکاره کړي خو فائده به نه ورکوي

الله تعالی فرمایي : ﴿ وَأَسَرُّوا ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا ٱلْعَذَابَ ﴾ .(٣)

ترجمه : او دوی به پټوي پښیمانتیا هر کله چې دوی عذاب اوګوري .

(یعنی د عذاب په لیدلو سره به په پټ په زړه کې پښیمانه شي خو دا پښیمانتیا به ورته څه فائده نه ورکوي . یا دا مطلب چې دا مشران به د خپلو ماتحتو خلقو نه خپله پښیمانتیا

---

(١) .... لِأَنَّ العَقْلَ لَا يُعْطَى لِلْكَافِرِ وَلَوْ كَانَ لَهُ عَقْلٌ لَآمَنَ . وَإِنَّمَا يُعْطَى الكَافِرُ الذِّهْنَ فَصَارَ عَلَيْهِ حُجَّةً . وَالذِّهْنُ يَقْبَلُ العِلْمَ جُمْلَةً ، وَالعَقْلُ يُمَيِّزُ العِلْمَ وَيُقَدِّرُ المَقَادِيرَ لِحُدُودِ الأَمْرِ وَالنَّهْيِ . وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! مَا أَعْقَلَ فُلَانًا النَّصْرَانِيَّ . فَقَالَ : ( مَهْ إِنَّ الكَافِرَ لَا عَقْلَ لَهُ أَمَا سَمِعْتَ قَوْلَ اللهِ تَعَالَى : ) وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ . وَفِي حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ : فَزَجَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ثُمَّ قَالَ : ( مَهْ فَإِنَّ العَاقِلَ مَنْ يَعْمَلُ بِطَاعَةِ اللهِ ) ذَكَرَهُ التِّرْمِذِيُّ الحَكِيمُ أَبُو عَبْدِ اللهِ بِإِسْنَادِهِ .
تفسیر القرطبي ج ١٧ ص ٧٣ سورة الطور في تفسیر آية ٣٢ .

(٢) النبأ آية ٤٠ .

(٣) یونس آية ٥٤ .

Scanned with CamScanner

پټوي ځکه د هغوی د ملامتيا نه به ويرېږي ) . (١)

## ظالمان چې په دُنيا کې عذاب اوګوري نو نور مهلت به غواړي خو نه به شي ورکولی

الله تعالی فرمايي :

﴿ وَأَنذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او ( اې پيغمبره ! ) ته خلق د هغه ورځې نه اُويروه په کومه ورځ چې به په دوی باندې ( په دُنيا کې ) عذاب راشي نو ظالمان به وايي : " اې زمونږ ربه ! ته مونږ نزدې مُودې پورې نور روستو کړه ( يعنی لږ شان مهلت نور راکړه ) نو مونږ به دعوت ( بَلنه ) قبول کړو او د رسولانو پيروي به اوکړو " . ( دوی ته به جواب ورکړې شي : ) آيا تاسو به ددينه وړاندې قسَمونه نه خوړل چې تاسو له ( د دُنيا نه ) هيڅ زوال نشته ؟ . او ( حالانکه ) تاسو خو د هغه خلقو په کورونو کې اُوسيدلي وی کومو چې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړې وُ او تاسو ته دا ښه واضحه شوې وه چې مونږ د هغوی سره څه کار اوکړو ؟ او تاسو ته مو ( په قرآن کريم کې د عِبرت ) ډير مثالونه بيان کړي وو .

( يعنی تاسو خو د حضرت نوح عليه السلام د قوم ، د عاديانو ، او ثموديانو په کورنو کې اُوسيدلي يَی خو بيا مو هم د هغوی نه عِبرت وانه خيست ) .

(١) {وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ} قَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ : مَعْنَاهُ : أَظْهَرُوا النَّدَامَةَ، لِأَنَّهُ لَيْسَ ذَلِكَ الْيَوْمُ يَوْمَ تَصَبُّرٍ وَتَصَنُّعٍ. وَقِيلَ: مَعْنَاهُ أَخْفَوْا أَيْ: أَخْفَى الرُّؤَسَاءُ النَّدَامَةَ مِنَ الضُّعَفَاءِ خَوْفًا مِنْ مَلَامَتِهِمْ وَتَعْيِيرِهِمْ . تفسير البغوي ج ٤ ص ١٣٧ . التفسير المظهري ج ٥ ص ٣٤ .

(٢) ابراهيم آية ٤٤ ، ٤٥ .

جلد 6 21

(امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ په خپل تفسير کې د جهنميانو پنځه درخواستونه او د الله ﷻ د طرفه دوی ته جوابونه هم ذکر کړي دي). (١)

## کافران او ګناهګاران به د مرګ په وخت هم دا آرزو کوي چې په دُنيا کې د نېک عمل د پاره نور وخت راکړې شوی وی

کافران او ګناهګاران به د مرګ په وخت هم دا سوال او آرزو کوي چې " مونږ ته دې نور وخت راکړې شي چې په هغې کې نېک اعمال او کړو " خو د دوی دا آرزو به نشي پوره کولی

1. الله ربّ العزت په قرآن کې د دې بيان داسې کړی :

﴿ حَتّٰى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ ۝ لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴾. (٢)

---

(١) وَذَكَرَ الْبَيْهَقِيُّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ قَالَ: لِأَهْلِ النَّارِ خَمْسُ دَعَوَاتٍ يُجِيبُهُمُ اللهُ فِي أَرْبَعَةٍ، فَإِذَا كَانَ فِي الْخَامِسَةِ لَمْ يَتَكَلَّمُوا بَعْدَهَا أَبَدًا. يَقُولُونَ: ﴿ رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴾ [غافر: ١١] فَيُجِيبُهُمُ اللهُ ﴿ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ وَإِن يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ ﴾ [غافر: ١٢]. ثُمَّ يَقُولُونَ: ﴿ رَبَّنَا أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴾ [السجدة: ١٢] فَيُجِيبُهُمُ اللهُ تَعَالَى: ﴿ فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا إِنَّا نَسِينَاكُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ [السجدة: ١٤]. ثُمَّ يَقُولُونَ: ﴿ رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ﴾ فَيُجِيبُهُمُ اللهُ تَعَالَى ﴿ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴾ فَيَقُولُونَ: ﴿ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ﴾ [فاطر: ٣٧] فَيُجِيبُهُمُ اللهُ تَعَالَى: ﴿ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ" [فاطر: ٣٧]. وَيَقُولُونَ: ﴿ رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ ﴾ [المؤمنون: ١٠٦] فَيُجِيبُهُمُ اللهُ تَعَالَى: ﴿ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴾ [المؤمنون: ١٠٨] فَلَا يَتَكَلَّمُونَ بَعْدَهَا أَبَدًا. خَرَّجَهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ فِي " دَقَائِقِهِ" بِأَطْوَلَ مِنْ هَذَا وَقَدْ كَتَبْنَاهُ فِي كِتَابِ "التَّذْكِرَةِ" . تفسير القرطبي ج ٩ ص ٣٧٨ سورة ابراهيم في تفسير آية ٤٣ .

(٢) المؤمنون آية ٩٩ ، ١٠٠ .

ترجمه : تر دې چې کله په دوی (کافرانو) کې يو چاته مرګ راشي نو دوی به وايي : اې زما ربه ! ما واپس دُنيا ته اُوليږه کيدې شي چې زه نېک اعمال اوکړم په هغه دُنيا کې کومه چې ما پريښې ده ( يعنې کوم عُمر مې چې ضائع کړی د هغې تلافي به اوکړم . الله تعالی فرمايي :) هيڅ کله داسې نشي کيدی ، بيشکه دا دُنيا ته د واپس کيدو خبره داسې قول دی چې دا ددې ويونکی دی ( خو ده ته هيڅ فائده نه رَسوي ) ، او دده مخې ته بَرزخ دی (يعنې داسې مانِع دی چې دوی دوباره دُنيا ته نه پريږدي . او دا برزخ به ) تر د هغه ورځې پورې (وي) په کومه ورځ چې به دوی دوباره راپاڅولې شي .(١)

٢ . بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَاَنۡفِقُوۡا مِنۡ مَّا رَزَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِىَ اَحَدَكُمُ الۡمَوۡتُ فَيَقُوۡلَ رَبِّ لَوۡلَاۤ اَخَّرۡتَنِىۡۤ اِلٰۤى اَجَلٍ قَرِيۡبٍۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنۡ مِّنَ الصّٰلِحِيۡنَ ۝ وَلَنۡ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفۡسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ وَاللّٰهُ خَبِيۡرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴾.(٢)

ترجمه : (اې مومنانو !) مونږ چې درته څه درکړي دي د هغې نه (په حقوقِ واجبه او خيرات کې) خرچ کوئ ، ددې نه وړاندې چې په تاسو کې يو چاته مرګ راشي او هغه بيا (د آرزو او آرمان په ډَول) دا وايي : اې زما ربه ! تا ولې ماته يو څو ورځې نور مهلت رانه کړو چې ما خيرات کړې وی ، او زه د نيکانو خلقو نه شمار شوې وی ، ( خو دده دا آرمان به فائده مَند څکه نه وي چې ) الله تعالی هيڅ کله يو چاته مُهلت نه ورکوي کله چې دده نيټه راشي ، او الله تعالی خبر دار دی د هغه کارونو نه چې تاسو يې کوی .

---

(١) {حَتّٰى} ابتِدائِيَّة { إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ } وَرَأَى مَقْعَدَه مِنَ النَّارِ وَمَقْعَدَه مِنَ الْجَنَّةِ لَوْ آمَنَ { قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ} الْجَمْع لِلتَّعْظِيمِ { لَعَلِّيْ أَعْمَلُ صَالِحًا} بِأَنْ أَشْهَدَ أَنْ لَا إِله إلا الله يكون {فِيْمَا تَرَكْتُ} ضَيَّعْت مِنْ عُمْرِيْ أَيْ فِي مقابلته . قال تعالى {كَلَّا} أَيْ لَا رُجُوع { إِنَّهَا} أَيْ رَبّ ارْجِعُوْنِ {كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا} وَلَا فَائِدَة لَهُ فِيهَا {وَمِنْ وَرَائِهِمْ} أَمَامهمْ {بَرْزَخٌ} حَاجِز يَصُدّهُمْ عَنِ الرُّجُوع {إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ} وَلَا رُجُوع بعده . تفسير الجلالين ص ٤٥٣ سورة المؤمنون في تفسير آية ٩٩ ، ١٠٠ .

(٢) المنافقون آية ١٠ ، ١١ .

Scanned with CamScanner

# مُجرم او کافر که د جهنم د عذاب نه ځان بچ کولو د پاره هر څه ورکول اُو غواړي خو دا به نشي قبلولی

۱ . مُجرم که د جهنم د عذاب نه ځان بچ کولو د پاره خپل ځوي ، خپله بي بي ، خپل ورور او د دُنیا ټول مخلوق په عِوض کې ورکول اوغواړي خو دا به ورنه نشي قبلولی .

الله‌تعالی فرمايي :

﴿ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ۝ وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ۝ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ ۝ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ ۝ كَلَّا ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ۝ نَزَّاعَةً لِلشَّوَىٰ ﴾.(۱)

ترجمه : مُجرم به په دغه ورځ ( د قيامت ) باندې دا خوښوي چې ددغې ورځې د عذاب نه ( د ځان خلاصولو د پاره ) خپل ځامن ، خپله ښځه ، خپل ورور ، خپله هغه قبيله کومې چې ده ته پناه ورکړې وه ( او دا په کې اُوسيدلو ) ، او د زمکې ټول مخلوق په بدله کې ورکړي بيا ده ته ( ته د جهنم د عذاب نه ) نجات ورکړي خو هيڅ کله به داسې اُونشي، حقه داده چې دا د جهنم اُور لمبې وهونکې اُور دی چې د سَر څرمن لرې کوي .

۲ . که کافر د جهنم د عذاب نه ځان بچ کولو د پاره د زمکې ډکوالي په اَندازه سره زَر ورکول اوغواړي خو بيا به هم ورنه نشي قبلولی .

الله‌تعالی فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِمْ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ۗ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴾.(۲)

ترجمه : بيشکه کومو خلقو چې کُفر اوکړو او بيا د کُفر په حالت کې مړه شو نو هرګز به په دوی کې د هيچا نه د زمکې ډکوالي په مقدار سره زَر قبول نشي اګر چې دا د خپل ځان په

(۱) المعارج آية ۱۱ تا ۱۶ .

(۲) آل عمران آية ۹۱ .

Scanned with CamScanner

فِديه کي (يعنى د عذاب نه ځان خلاصولو په عِوض کې) ورکول اوغواړي ، د همدې خلقو د پاره دَردناک عذاب دى ، او د دوى د پاره به څوک مدد گار نه وي .

**٣ .** همدا مضمون په بخاري شريف او مسلم شريف کې هم ذکر شوى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې د قيامت په ورځ به يو کافر راوستې شي ، او هغه ته به اوويلې شي :

أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا ، أَكُنْتَ تَفْتَدِيْ بِهِ ؟

دا راته اووايه که چيرته د تا سره د زمکې د ډکوالي په اندازه سره زَر وى نو آيا تا به (د جهنم د عذاب نه ځان خلاصولو دپاره) دا په فِديه (عِوض) کې ورکولى ؟

هغه به ووايي : آو . (ما به دا ورکولى) .

ده ته به وويلې شي : قَدْ كُنْتَ سُئِلْتَ مَا هُوَ أَيْسَرُ مِنْ ذَلِكَ .

د تا نه (په دُنيا کې) ددينه د آسان څيز مطالبه شوې وه . (خو تا نه وُ منلى) . (١)

هغه آسان څيز دا وُ چې " ته د ما سره په عبادت کې بل څوک مه شريکوه " خو تا بيا هم د ما سره بل څوک په عبادت کې شريک کړې وُ . (٢)

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ : " يُجَاءُ بِالْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، فَيُقَالُ لَهُ : أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا ، أَكُنْتَ تَفْتَدِيْ بِهِ ؟ فَيَقُوْلُ : نَعَمْ . فَيُقَالُ لَهُ : قَدْ كُنْتَ سُئِلْتَ مَا هُوَ أَيْسَرُ مِنْ ذَلِكَ " . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ : مَنْ نُوقِشَ الحِسَابَ عُذِّبَ رقم الحديث ٦٥٣٨ . صحيح مسلم كتاب صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابُ طَلَبِ الْكَافِرِ الْفِدَاءَ بِمِلْءِ الْأَرْضِ ذَهَبًا رقم الحديث ٥٢(٢٨٠٥) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٤١٠٧ .

(٢) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " يَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ : لَوْ أَنَّ لَكَ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِيْ بِهِ ؟ فَيَقُوْلُ : نَعَمْ . فَيَقُوْلُ : أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هَذَا ، وَأَنْتَ فِيْ صُلْبِ آدَمَ : أَنْ لَا تُشْرِكَ بِيْ شَيْئًا ، فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِيْ " . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٥٧ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٦٧٠(٦) .

Scanned with CamScanner

٤ . بلکه که ظالمان د قيامت په ورځ د جهنم د عذاب نه د ځان خلاصولو د پاره د ټولې دُنيا مال و دولت يو په دَبل ورکول اوغواړي خو بيا به هم ورنه نشي قبلولی .

الله ﷻ د قيامت د ورځې عذاب بيانولو سره فرمايي :

﴿ وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ۝ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴾.(١)

ترجمه : او که چيرته ظالمانو سره په مخ د زمکه موجود ټول مال و دولت وي ، او ددې سره همدومره مقدار نور هم وي نو د قيامت د ورځې د سخت عذاب نه ځان بچ کولو د پاره به دا په عِوض کې ورکوي ( خو دا به ورنه نشي قبلولی ) ، او دوی ته به د الله تعالی د طرفه هغه عذابونه ښکاره شي د کومو چې دوی ګمان هم نه کولو . او دوی ته به ټول هغه بَد کارونه ښکاره شي کوم چې دوی ( په دُنيا کې ) کول ، او هغه عذابونه به ورباندې نازل شي په کوم پورې چې دوی ټوقې کولی .

## د جهنم داروغه ګانو ( نِګرانانو فرښتو ) ته د عذاب سپکولو درخواست کول

الله تعالی فرمايي :

﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ۝ قَالُوْٓا اَوَ لَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۭ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰۗؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴾.(٢)

ترجمه : او کوم خلق چې په اُور (دوزخ) کې دي نو هغوی به د جهنم داروغه ګانو ( نِګرانانو

(١) الزمر آية ٤٧ ، ٤٨ .

(٢) مؤمن (غافر) آية ٤٩ ، ٥٠ .

Scanned with CamScanner

فرښتو ) ته اووايي : " تاسو ( زمونږ د پاره ) د خپل رَب نه دُعا اوغواړئ چې په مونږ باندې يوه ورځ عذاب سپَک کړي " . فرښتې به ورته اووايي : آيا تاسو ته ستاسو پيغمبران په واضحه مُعجزو سره نه وو راغلي ؟ دوی به ورته ووايي : آو ( راغلي وو ) . فرښتې به ورته اووايي : تاسو پخپله ( د ځان د پاره ) دُعا اوغواړئ ( ځکه مونږ ستاسو د پاره دُعا نه شو غوښتلی . الله تعالی فرمايي : ) د کافر دُعا نده مګر باطله ( ضائِع ) ده ( هيڅ فائده ورته نه ورکوي ) . (١)

## د جهنم د ټولو فرښتو سردار " مالِک " ته درخواست کول " چې مونږ ته دې مرګ راشي "

کافران چې کله د عذاب نه ډير تَنګ شي نو د جهنم د ټولو فرښتو سرپراه " مالِک " ته به درخواست اوکړي چې " مونږ ته دې مرګ راشي ددې د پاره چې ددې عذاب نه خلاص شو " خو د دوی دا درخواست به قبول نشي .

الله تعالی ددې بيان داسې کړی :

﴿ وَنَادَوْا يَٰمَٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ﴾ .(٢)

ترجمه : او کافران به آواز اوکړي : اې مالِک ( د جهنم د فرښتو سرداره ) ! ستا رب دې په مونږ باندې ( د مرګ ) فيصله اوکړي . ( يعنی مونږ له دې مرګ راولي چې ددې عذاب نه خلاص شو ) . هغه به ورته ( څه وخت پس ) جواب ورکړي : بيشکه تاسو به هميشه دلته ( په عذاب کې ) پراته يَئ .( او په دې عذاب کې به ګرفتاريَی ) .

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي : فَلَا يُجِيبُهُمْ أَلْفَ سَنَةٍ .

---

(١) {وَقَالَ الَّذِينَ فِي النَّارِ} حِينَ اشْتَدَّ عَلَيْهِمُ الْعَذَابُ، {لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِنَ الْعَذَابِ} . { قَالُوا} يَعْنِي خَزَنَةُ جَهَنَّمَ لَهُمْ، {أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا بَلَى قَالُوا فَادْعُوا } أَنْتُمْ إِذًا رَبَّكُمْ، إِنَّا لَا نَدْعُو لَكُمْ، لِأَنَّهُمْ عَلِمُوا أَنَّهُ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ. قَالَ اللهُ تَعَالَى: {وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ} أَيْ: يَبْطُلُ وَيَضِلُّ وَلَا يَنْفَعُهُمْ. تفسير البغوي ج ٧ ص ١٥٢ .

(٢) الزخرف آية ٧٧ .

Scanned with CamScanner

( د جهنم د ټولو فرښتو سردار ) " مالک " به دوی ته زر ( ۱۰۰۰ ) کاله پس جواب ورکړي. ( نور اَقوال هم په کې شته ). (۱)

امام اعمش رحمه الله هم فرمايي :

نُبِّئْتُ أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ وَبَيْنَ إِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَامٍ .

ماته ( د صحابه کرامو د طرفه ) دا خبر راکړې شوی چې ددې کافرانو د جهنم داروغه ته درخواست او د هغه د طرفه د جواب په مينځ کې به زر ( ۱۰۰۰ ) کاله وقفه وي ، ( يعنی د جهنم داروغه به ورته زر کاله پس جواب ورکړي ). (۲)

محمد بن کعب قُرظي رحمه الله فرمايي چې د کافرانو درخواست او د مالک فرښتې جواب په مينځ کې به اَتيا ( ۸۰ ) کاله فاصله وي ، او په هر کال کې درې سوه شپيته ( ۳۶۰ ) ورځې وي ، او ( د آخرت ) هره ورځ به د دُنيا د زرو ( ۱۰۰۰ ) کالو په مقدار اُوږده وي. (۳)

## د جهنم داروغه ګان ( محافظې فرښتې ) به د کافرانو نه پوښتنې او کړي

۱. الله تعالى فرمايي :

﴿ وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُوا بَلَىٰ

---

(۱) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : يَقُوْلُوْنَ ذَلِكَ فَلَا يُجِيْبُهُمْ أَلْفَ سَنَةٍ ، ثُمَّ يَقُوْلُ إِنَّكُمْ مَاكِثُوْنَ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَنَوْفٌ الْبِكَالِيُّ: بَيْنَ نِدَائِهِمْ وَإِجَابَتِهِ إِيَّاهُمْ مِائَةُ سَنَةٍ. وَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو : أَرْبَعُوْنَ سَنَةً. ذَكَرَهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ. تفسير القرطبي ج ١٦ ص ١١٧ سورة الزخرف في تفسير آية ٧٧ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ طَعَامِ أَهْلِ النَّارِ رقم ٢٥٨٦ مشكاة المصابيح كتاب أحوال الْقِيَامَة وبدء الخلق بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم ٥٦٨٦(٢٢).

(۳) قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ الْقُرَظِيُّ:.... فَلَمَّا يَئِسُوا مِمَّا عِنْدَ الْخَزَنَةِ نَادَوْا: {يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ} (الزخرف ٧٧) سَأَلُوا الْمَوْتَ. فَلَا يُجِيْبُهُمْ ثَمَانِيْنَ سَنَةً وَالسَّنَةُ سِتُّوْنَ وَثَلَاثُمِائَةِ يَوْمًا، وَالْيَوْمُ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّوْنَ. ثُمَّ لَحَظَ إِلَيْهِمْ بَعْدَ الثَّمَانِيْنَ إِنَّكُمْ مَاكِثُوْنَ . تفسير البغوي ج ٤ ص ٣٤٣ سورة ابراهيم في تفسير آية ٢١ . تفسير القرطبي ج ١٦ ص ١١٧ .

Scanned with CamScanner

وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۞ قِيْلَ ادْخُلُوْا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴾.(١)

ترجمه: او کافران به جهنم ته ډلې ډلې روان کړې شي تر دې چې کله دوی جهنم ته راشي نو ددې دروازې به ورته (په همدغه وخت کې) کلاوُ کړې شي، او دوی ته به د جهنم محافظې فرښتې (د تَوبیخ د پاره) اووايي: آیا تاسو ته د خپل قوم نه پیغمبران نه وو راغلي چې په تاسو باندې یې ستاسو د رَب آیتونه تلاوت کړي وی؟ او تاسو یې ددې ورځې د ملاقات نه یَرولي وی؟ دا کافران به ورته اووايي: ولې نه (رسولان راغلي وو) خو لیکن په کافرانو باندې د عذاب حکم ثابت شو. دوی ته به وویلې شي: (اوس) تاسو د جهنم دَروازو ته داخل شئ، په دې کې به همیشه پراته یَی، پس جهنم د مُتکبّرینو د پاره ډیر بَد ځای دی.

۲. بل ځای الله ﷻ ددې بیان داسې کړی:

﴿ كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ ۞ قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۚ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ كَبِيْرٍ ﴾.(٢)

ترجمه: هر وارې چې په دې جهنم کې یوه ډله اُغورځولې شي نو د جهنم محافظې فرښتې به د دوی نه (د دوی د توبیخ د پاره) پوښتنې کوي چې: "آیا تاسو ته څوک ویرَوُونکی (پیغمبر) نهٔ راغلی؟" دوی به ورته اووايي: آوُ، یقینًا مونږ ته ویروُونکی (پیغمبر) راغلې وُ خو مونږ د هغوی تکذیب اوکړو، او مونږ (هغه رسولانو ته) وویل: الله تعالی هیڅ څیز ندې نازل کړی، تاسو پخپله په لویه ګمراهۍ کې یَی.(٣)

---

(١) الزمر آية ٧١، ٧٢.

(٢) الملك آية ٨، ٩.

(٣) {كُلَّمَا اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ} جَمَاعَةٌ مِنْهُمْ {سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَا} سُؤَالَ تَوْبِيْخٍ {اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ} رَسُوْلٌ يُنْذِرُكُمْ. {قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَاءَنَا نَذِيْرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا} لِلرُّسُلِ {مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ...} تفسير البغوي ج ٨ ص ١٧٧.

Scanned with CamScanner

# منافقان به د قيامت په ورځ د مؤمنانو نه د نور حاصلولو درخواست اوکړي خو قبول به نشي

الله تعالى فرمايي :

﴿ يَوْمَ يَقُولُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ۝ يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴾.(١)

ترجمه : (د قيامت) په کومه ورځ باندې چې به منافقان سړي او منافقانې ښځې اووايي: " مونږ ته لږ انتظار اوکړئ چې ستاسو د نُور نه څه رڼا واخلو " دې منافقانو ته به (د مؤمنانو يا فرښتو د طرفه اِستهزاءً) وويلې شي : " تاسو واپس شاته (دُنيا ته) لاړ شئ هلته نُور اُولټوئ (ځکه د نُور حاصلولو ځاى دُنيا ده) ". پس ددې مؤمنانو او منافقينو په مينځ کې به يو دِيوال اُودرولې شي ، ددې دِيوال به يوه دَروازه وي ، ددې دننه طرف به رحمت (جنت) وي او بهر طرف به ترينه عذاب وي. منافقان به مؤمنانو ته (د دِيوال بهر نه) آواز اوکړي : آيا مونږ د تاسو سره په دُنيا کې يو ځاى نه وو ؟ (چې مونږ به مو يو ځاى کولو او روژې به مو يو ځاى نيولې ؟ ) مؤمنان به ورته اووايي : آو (تاسو د مونږ سره يو ځاى وئ) خو ليکن تاسو خپل ځانونه په هلاکت کې اچولي وو (کُفر او شِرک مو کولو) او تاسو (په مونږ باندې د مصيبتونو راتلو) اِنتظار کولو ، (د نبي عليه السلام په نبوّت او قيامت باره کې) شک مو کولو ، او (باطلو) آرزوګانو درته دُهوکه درکړه تر دې پورې چې د الله تعالى حکم (مرګ راغى) ، او دُهوکه باز شيطان تاسو ته د الله په حقله دُهوکه درکړه ، پس نن ورځ به د تاسو نه نه څه فِديه (عِوض) اخيستلې شي (چې تاسو پرې د عذاب نه بچ

---

(١) الحديد آية ١٣ تا ١٥.

Scanned with CamScanner

شی ) ، او نه به د کافرانو نه فِدیه اخیستلې شي ، ( اوس ) ستاسو ځای جهنم دی ، همدا (جهنم) ستاسو د پاره لائق او د ورتللو بَدځای دی .

**د مذکوره آیتونو تشریح** : د مذکوره آیتونو خلاصه داده چې مؤمنانو ته به الله تعالی د قیامت په ورځ د نېکو اعمالو په بدله کې یو نُور ورکړي چې په پُلِ صراط باندې به وربانده ځي ، د منافقانو سره به دغه نُور نه وي ، دوی به تر یو ځای پورې د مؤمنانو په نُور باندې لاړ شي ، کله چې مؤمنان ورته مخکې لاړ شي نو دوی به په تیاره کې پاتې شي ، دوی به مؤمنانو ته اووایي : " مونږ ته لږ اِنتظار اوکړئ چې ستاسو د نُور نه رڼا واخلو " ، دې منافقینو ته به د مؤمنانو د طرفه یا د فرښتو د طرفه وویلې شي چې : " واپس لاړ شئ او هلته نُور طلب کړئ مونږ تاسو ته نُور نه شو درکولی " .

( ددې مطلب دادی چې مؤمنان به دوی ته اِستهزاءً اووایي چې تاسو دُنیا ته لاړ شئ او هلته نُور طلب کړئ . ځکه د قیامت نه خو دوباره دُنیا ته راتلل ممکن ندي .

یا دا مطلب دی چې مؤمنان به ورته هماغه ځای اُوښایي چې شاته لاړ شئ د کوم ځای نه چې راغلي يَی ) .

بیا به ددې مؤمنانو او منافقانو په مینځ کې یو دِیوال حائِل شي چې دَننه طرف به يې جنت وي په دې کې به مؤمنان وي ، او بهر طرف به يې جهنم وي په دې کې به دغه منافقان وي . بیا به دا منافقان دې مؤمنانو ته اووایي : آیا مونږ د تاسو سره په دُنیا کې ملګري نه وو چې هلته به مو یو ځای عبادت کولو ؟

دوی به ورته اووایي : صحیح ده تاسو د مونږ سره وَی خو ستاسو په زړونو کې منافقت وُ ، تاسو به دا اِنتظار کولو چې په مسلمانانو او نبي علیه السلام باندې څه مصیبت راشي چې مونږ ورنه خَلاص شو ، او د نبي علیه السلام په نبوّت کې مو شک کولو ، او په زړونو کې مو باطلې آرزوګانې وی ، تاسو په همدې حالت وی چې آخر مرګ درله راغی او شیطان دُهوکه کړی ، اوس که تاسو د عذاب نه ځان خلاصولو د پاره هر څومره فِدیه یا عِوض ورکوی خو دا به درنه نشي اخیستلی ، لهذا ستاسو ځای همدا جهنم دی ، او دا ستاسو د پاره لائق هم دی ځکه تاسو په دُنیا کې منافقت کولو .

Scanned with CamScanner

## د جنتیانو او جهنمیانو په خپل مینځ کې خبرې

جنتیان به د جهنمیانو نه د هغوی د توبیخ د پاره څه پوښتنې کوي ، الله تعالی د دې بیان داسې کړی :

﴿ وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا۟ نَعَمْ ۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ أَن لَّعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ۝ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴾.(١)

ترجمه : او جنتیان به جهنمیانو ته ( د هغوی د توبیخ د پاره ) دا آواز اوکړي چې مونږ خو تولې ( د جنت ) هغه وعدې ریښتنیې اُوموندی کومې چې زمونږ رب د مونږ سره کړې وی ، نو آیا تاسو هم ( د جهنم ) هغه وعدې ریښتینې اُوموندی کومې چې درسره خپل رَب کړې وی ؟ جهنمیان به اووایي : آو ( مونږ هغه وعدې ریښتینې اُوموندی ) ، بیا به یو آواز کوونکی د دوی په مینځ کې دا آواز اوکړي چې : " په ظالمانو باندې د الله تعالی لعنت دی کومو به چې د الله تعالی د لارې نه خلق منع کول او په دې کې به یې کوږوالې لټولو ( یعنی د خلقو په زړونو کې به یې د اسلام متعلق شُبهې اچولی ) او دوی د آخرت نه هم مُنکِر وو " .

## د قیامت په ورځ په مُجرمانو پسې خندل

کوم مجرمان ( کافران یا منافقین ) چې نن په دُنیا کې په مسلمانانو پسې خاندي نو د قیامت په ورځ به همدا مؤمنان په هغوی پسې خاندي .

١ . الله ربّ العزت په قرآن کریم کې د دې بیان داسې کړی :

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ ۝ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ۝ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُوا۟ فَكِهِينَ ۝ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ۝ وَمَآ أُرْسِلُوا۟ عَلَيْهِمْ حَٰفِظِينَ ۝ فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ۝ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ

---

(١) الاعراف آية ٤٤ ، ٤٥ .

Scanned with CamScanner

يَنْظُرُوْنَ ۞ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴾.(١)

ترجمه: بیشکه کومو خلقو چې جُرمونه کړي (یعنی کافران دي) دوی به (په دُنیا کې) په مؤمنانو پورې خندا کوله. او کله به چې دا کافران په مسلمانانو باندې تیریدل نو یو بل ته به یې سترګې وهلې. او کله به چې دوی خپلو کورونو ته واپس کیدل نو (د تکبّر په وجه) خوشحال به وو. او کله به چې دې کافرانو مسلمانان اُولیدل نو دوی به (د مسلمانانو په باره کې دا) ویل "چې دا خلق ګمراهان دي". او (حال دا چې) کافران په مسلمانانو باندې نګرانان نه وو لیږل شوي. پس نن (د قیامت په) ورځ به مؤمنان په کافرانو پورې خندا کوي. مؤمنان به (د ملغلرو او یاقوتو) په تختونو به ناست وي ګوري به چې آیا کافرانو ته د هغه کارونو جزاء ورکړې شوه چې کوم دوی کول؟

۲. ابوصالح رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې جهنمیانو ته به د جهنم دروازې کلاؤ کړې شي، دوی ته به اوویلې شي چې "تاسو د جهنم نه اُووځئ" کله چې جهنمیان دا دروازې کلاؤ اُوګوري نو دیته به رامنډه کړي چې ورنه اُووځي، مؤمنان به په دې وخت کې جهنمیانو ته ګوري. پس کله چې دا جهنمیان دې دروازو ته راشي نو دا به ورته بَندې کړې شي (هغوی به واپس شي)، بار بار به ورسره همدا عمل کولې شي.

وَالْمُؤْمِنُوْنَ يَضْحَكُوْنَ. او مؤمنان به خاندي.

(دا ځکه چې دې مُجرمانو به په دُنیا کې په مؤمنانو پسې خندل، نو اوس به ورپسې مؤمنان خاندي).(٢)

---

(١) المطففین آیة ٢٩ تا ٣٦.

(٢) ﴿فَالْيَوْمَ﴾ يَعْنِيْ فِي الْآخِرَةِ ﴿الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ﴾ قَالَ أَبُوْ صَالِحٍ: وَذٰلِكَ أَنَّهُ يُفْتَحُ لِلْكُفَّارِ فِي النَّارِ أَبْوَابُهَا، وَيُقَالُ لَهُمْ: اُخْرُجُوْا، فَإِذَا رَأَوْهَا مَفْتُوْحَةً أَقْبَلُوْا إِلَيْهَا لِيَخْرُجُوْا، وَالْمُؤْمِنُوْنَ يَنْظُرُوْنَ إِلَيْهِمْ فَإِذَا انْتَهَوْا إِلٰى أَبْوَابِهَا غُلِّقَتْ دُوْنَهُمْ، يُفْعَلُ ذٰلِكَ بِهِمْ مِرَارًا وَالْمُؤْمِنُوْنَ يَضْحَكُوْنَ. تفسیر البغوي ج ٨ ص ٣٦٩ سورة المطففین في تفسیر آیة ٣٤.

عَنْ أَبِيْ صَالِحٍ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى: ﴿ اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ ﴾ [ البقرة: ١٥] قَالَ: يُقَالُ لِأَهْلِ النَّارِ وَهُمْ فِي النَّارِ: اُخْرُجُوْا، فَتُفْتَحُ لَهُمْ أَبْوَابُ النَّارِ، فَإِذَا رَأَوْهَا قَدْ فُتِحَتْ أَقْبَلُوْا إِلَيْهَا يُرِيْدُوْنَ الْخُرُوْجَ، وَالْمُؤْمِنُوْنَ ←←←

۳ . حضرت کعب رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې د جنت او جهنم په مینځ کې به یو رُوشندان وي ، کله چې مؤمن دا اِراده اوکړي چې په دُنیا کې دده کوم دُشمن وُ هغه په جهنم کې اُوګوري نو په دې رُوشن دان کې به جهنم ته اوګوري ، لکه الله تعالی هم ددې بیان داسې کړی :

﴿ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِیْ سَوَآءِ الْجَحِیْمِ ﴾ .(۱)

ترجمه : پس دا به ( جهنم طرف ته ) اوګوري نو هغه ( ملګری ) به د جهنم په مینځ کې اوګوري .

پس دا مؤمن به خپل دُشمنان په جهنم کې اوګوري چې د سَر کوپړی به یې د ګرمائش په وجه جُوش وهي . (۲)

## په جهنم کې به تابعین د خپلو ګمراه مشرانو نه د عذاب کمولو درخواست اوکړي خو هغوی به یې څه مدد اونکړې شي

۱ . الله ربّ العزت فرمایي :

﴿ وَاِذْ یَتَحَآجُّوْنَ فِی النَّارِ فَیَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْٓا اِنَّا کُنَّا لَکُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِیْبًا مِّنَ النَّارِ ۞ قَالَ الَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْٓا اِنَّا کُلٌّ فِیْهَآ ۙ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَکَمَ بَیْنَ

---

←←← یَنظُرُونَ إِلَیهِمْ عَلَى الأَرَائِكِ. فَإِذَا انتَهَوْا إِلَى أَبْوَابِهَا غُلِقَتْ دُونَهُمْ. فَذَلِكَ قَوْلُهُ ﴿ اَللّٰهُ یَسْتَهْزِئُ بِهِمْ ﴾ [البقرة: ١٥] وَیَضْحَكُ مِنهُمُ الْمُؤْمِنُونَ حِینَ غُلِقَتْ دُونَهُمْ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ فَالْیَوْمَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ یَضْحَكُوْنَ ﴾. تفسیر القرطبي ج ١٩ ص ٢٦٨ سورة المطففین في تفسیر آیة ٣٤ .

(١) الصافات آیة ٥٥ .

(٢) ذَكَرَ ابنُ الْمُبَارَكِ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: ذُكِرَ لَنَا أَنَّ كَعْبًا رَحِمَهُ اللهُ كَانَ یَقُولُ إِنَّ بَیْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ كُوًى، فَإِذَا أَرَادَ الْمُؤْمِنُ أَنْ یَنظُرَ إِلَى عَدُوٍّ كَانَ لَهُ فِي الدُّنْیَا اِطَّلَعَ مِنْ بَعْضِ الْكُوَى. قَالَ اللهُ تَعَالَى فِي آیَةٍ أُخْرَى: ﴿ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِیْ سَوَآءِ الْجَحِیْمِ ﴾ [الصافات: ٥٥] قَالَ: ذُكِرَ لَنَا أَنَّهُ اطَّلَعَ فَرَأَى جَمَاجِمَ الْقَوْمِ تَغْلِي. تفسیر القرطبي ج ١٩ ص ٢٦٨ سورة المطففین في تفسیر آیة ٣٤ . تفسیر البغوي ج ٨ ص ٣٦٩ . التفسیر المظهري ج ١٠ ص ٢٢٧ .

Scanned with CamScanner

الْعِبَادِ ﴾.(١)

ترجمه : او کله چې جهنميان په جهنم کې د يو بل سره جګړه کوي ( هغه جګړه به دا وي چې ) کمزوري خلق ( يعنی تابِعين ) به هغه خلقو ته اووايي کومو چې تکبّر کولو ( يعنی متبوعينو ته ) : " بيشکه مونږ ( په دُنيا کې ) ستاسو تابِع وو پس آيا تاسو د مونږ نه د اُور څه حصه لرې کولې شئ ؟ " . متکبّرين ( يعنی دا مشران ) به ورته اووايي : بيشکه مونږ ټول پدې جهنم کې يو ( نو مونږ به ستاسو څه دِفاع اوکړو ؟ ) ، بيشکه الله تعالی د بندګانو په مينځ کې ( قطعي ) فيصله کړې ده .

٢ . همدا اسې مضمون په يو بل آيت کې هم ذکر دی ، الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَٰٓؤُا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَىٰنَا اللَّهُ لَهَدَيْنَٰكُمْ ۖ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴾.(٢)

ترجمه : او دوی ټول به الله تعالی ته ظاهر ( يعنی حاضِر ) شي ، پس کمزوري خلق ( يعنی تابِعين ) به متکبّرينو ( مَتبوعينو ) ته اووايي : بيشکه مونږ خو ( په دُنيا کې ) ستاسو تابِع وو پس آيا تاسو د مونږ نه د الله تعالی څه قدرې عذاب لرې کولې شئ ؟ دا متبوعين به ورته اووايي : که چيرته الله تعالی مونږ ته هدايت کړې وُ نو مونږ به هم تاسو ته هدايت کړې وُ ( خو مونږ پخپله ګمراه وو نو ځکه مو تاسو ګمراه کړئ . اوس ) مونږ ټولو ته يو شان خبره ده که مونږ اُوژاړو يا صبر اوکړو خو زمونږ د پاره هيڅ د تښتې ( او خلاصي ) ځای نشته .(٣)

---

(١) المؤمن (غافر) آية ٤٧ ، ٤٨ .

(٢) ابراهيم آية ٢١ .

(٣) {وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا} أَيْ: خَرَجُوا مِنْ قُبُورِهِمْ إِلَى اللَّهِ وَظَهَرُوا جَمِيعًا {فَقَالَ الضُّعَفَاءُ} يَعْنِي: الْأَتْبَاعَ، {لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا} أَيْ: تَكَبَّرُوا عَلَى النَّاسِ وَهُمُ الْقَادَةُ وَالرُّؤَسَاءُ: {إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا} جَمْعُ تَابِعٍ. ←←←

Scanned with CamScanner

# په جهنم کې به تابعین د خپلې ګمراهۍ پړه په ګمراه متبوعینو وَرواچوي خو هغوی به اِنکار اوکړي

په جهنم کې به تابعین (یعنی کشران) د خپلې ګمراهۍ پړه په ګمراه متبوعینو (مشرانو) باندې وَرواچوي، هغوی ته به اووایي چې: "تاسو مونږ له ګمراه کړي وو". خو هغوی به د دینه اِنکار اوکړي او ورته به اووایي چې: تاسو خو پخپله سَرکشه خلق وی، مونږ خو درباندې څه زُور ندې کړی.

۱. الله تعالی ددې بیان داسې کړی:

﴿ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ۝ قَالُوٓا إِنَّكُمْ كُنتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ۝ قَالُوا بَل لَّمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ۝ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ ۖ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ۝ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۖ إِنَّا لَذَائِقُونَ ۝ فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ ۝ فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ۝ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴾.(۱)

---

←←← مِثْلُ: حَرَسٍ وَحَارِسٍ. {فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ} دَافِعُونَ {عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ شَيْءٍ}. {قَالُوا} يَعْنِي الْقَادَةَ الْمَتْبُوعِينَ {لَوْ هَدَانَا اللهُ لَهَدَيْنَاكُمْ} أَيْ: لَوْ هَدَانَا اللهُ لَدَعَوْنَاكُمْ إِلَى الْهُدَى، فَلَمَّا أَضَلَّنَا دَعَوْنَاكُمْ إِلَى الضَّلَالَةِ {سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَحِيصٍ} مَهْرَبٍ وَلَا مَنْجَاةٍ. تفسير البغوي ج ۴ ص ۳۴۳.

{وَبَرَزُوا} أَيِ الْخَلَائِقُ وَالتَّعْبِيرُ فِيهِ وَفِيمَا بَعْده بِالْمَاضِي لِتَحْقِيقِ وُقُوعه {لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ} الْأَتْبَاع {لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا} الْمَتْبُوعِينَ {إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا} جَمْع تَابِع {فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ} دَافِعُونَ {عَنَّا مِنْ عَذَاب اللهِ مِنْ شَيْء} " مِن " الْأُولَى لِلتَّبْيِينِ وَالثَّانِيَة لِلتَّبْعِيضِ {قَالُوا} الْمَتْبُوعُونَ {لَوْ هَدَانَا اللهُ لَهَدَيْنَاكُمْ} لَدَعَوْنَاكُمْ إِلَى الْهُدَى {سَوَاء عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ} زَائِدَة {مَحِيص} ملجأ. تفسير الجلالين ص ۳۳۲ سورة ابراهيم آية ۲۱.

(۱) الصافات آية ۲۷ تا ۳۴.

ترجمه: او په دې جهنميانو کې به بعضې بعضو نورو ته (يعنى تابِعين به مَتبوعينو ته) رامخامخ شي چې د يو بل نه به پوښتنې کوي. تابعين به ورته اووايي " بيشکه تاسو به په (په دُنيا کې) مونږ ته د خي طرف نه راتلئ (يعنى پاخه قسَمونه به مو راته کول او د دِين نه مو ګمراه کړي وو). مَتبوعين به ورته اووايي " بلکه تاسو خو (پخپله) مؤمنان نه وئ. او زمونږ خو په تاسو باندې څه زُور نه ؤ بلکه تاسو (پخپله) سَرکشه قوم وئ. پس په مونږ باندې د خپل رب خبره ثابته شوه ((( چې جهنم به د سَرکشه جِنّاتو او سَرکشه شيطانانو نه ډکوم ))) بيشکه مونږ به (اوس ټول) ضرور د عذاب مزه څکو. پس مونږ تاسو (په وَسوسې اچولو سره) ګمراه کړئ (ځکه چې) يقيناً مونږ پخپله ګمراه وو. (الله تعالى فرمايي :) پس دوی (تابعين او متبوعين) ټول به په دغه ورځ په عذاب کې شريک وي. بيشکه مونږ د مجرمانو سره همدغه شان کار کوو.(١)

---

(١) {وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ} أَيِ: الرُّؤَسَاءُ وَالْأَتْبَاعُ {يَتَسَاءَلُونَ} يَتَخَاصَمُونَ. {قَالُوا} أَيِ: الْأَتْبَاعُ لِلرُّؤَسَاءِ. {إِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ} أَيْ: مِنْ قِبَلِ الدِّينِ فَتُضِلُّونَنَا عَنْهُ ... وَقَالَ مُجَاهِدٌ: عَنِ الصِّرَاطِ الْحَقِّ، وَالْيَمِينُ عِبَارَةٌ عَنِ الدِّينِ وَالْحَقِّ، كَمَا أَخْبَرَ اللهُ تَعَالَى عَنْ إِبْلِيسَ : "ثُمَّ لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ" (الأعراف ١٧) ، فَمَنْ أَتَاهُ الشَّيْطَانُ مِنْ قِبَلِ الْيَمِينِ أَتَاهُ مِنْ قِبَلِ الدِّينِ فَلَبَّسَ عَلَيْهِ الْحَقَّ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: كَانَ الرُّؤَسَاءُ يَحْلِفُونَ لَهُمْ أَنَّ مَا يَدْعُونَهُمْ إِلَيْهِ هُوَ الْحَقُّ، فَمَعْنَى قَوْلِهِ: "تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ" أَيْ: مِنْ نَاحِيَةِ الْأَيْمَانِ الَّتِي كُنْتُمْ تَحْلِفُونَهَا فَوَثِقْنَا بِهَا. وَقِيلَ : "عَنِ الْيَمِينِ" أَيْ: عَنِ الْقُوَّةِ وَالْقُدْرَةِ، كَقَوْلِهِ : "لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ" (الحاقة ٤٥) ، وَالْمُفَسِّرُونَ عَلَى الْقَوْلِ الْأَوَّلِ.

{قَالُوا} يَعْنِي: الرُّؤَسَاءَ لِلْأَتْبَاعِ. {بَلْ لَمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ} لَمْ تَكُونُوا عَلَى الْحَقِّ فَنُضِلَّكُمْ عَنْهُ، أَيْ: إِنَّمَا الْكُفْرُ مِنْ قِبَلِكُمْ. {وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ} مِنْ قُوَّةٍ وَقُدْرَةٍ فَنَقْهَرَكُمْ عَلَى مُتَابَعَتِنَا. {بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ} ضَالِّينَ. {فَحَقَّ} وَجَبَ، {عَلَيْنَا} جَمِيعًا، {قَوْلُ رَبِّنَا} يَعْنِي: كَلِمَةُ الْعَذَابِ، وَهِيَ قَوْلُهُ: "لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ" (السجدة ١٣)

{إِنَّا لَذَائِقُونَ} الْعَذَابَ، أَيْ: أَنَّ الضَّالَّ وَالْمُضِلَّ جَمِيعًا فِي النَّارِ. {فَأَغْوَيْنَاكُمْ} فَأَضْلَلْنَاكُمْ عَنِ الْهُدَى وَدَعَوْنَاكُمْ إِلَى مَا كُنَّا عَلَيْهِ {إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ} ضَالِّينَ. قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ} الرُّؤَسَاءُ وَالْأَتْبَاعُ. {إِنَّا كَذَلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: الَّذِينَ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ. تفسير البغوي ج ٧ ص ٣٨.

جلد 6 22

۲ . بل ځای الله جلّ جلاله فرمايي : ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ ٱلْقَوْلَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ۞ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوٓا۟ أَنَحْنُ صَدَدْنَٰكُمْ عَنِ ٱلْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَآءَكُم بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ۞ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ بَلْ مَكْرُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَآ أَن نَّكْفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۚ وَجَعَلْنَا ٱلْأَغْلَٰلَ فِىٓ أَعْنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : او که چیرته ته هغه وخت اوګورې چې کله ظالمان د خپل رَب د وړاندې اُودرولې شي ، يو بل ته به خبرې وَرګرځوي ( يعنى جګړه به يې جوړه کړي وي او په يو بل به اِلزامونه لګوي ) ، کمزوري خلق ( تابعين ) به متکبّرينو ( متبوعينو ) ته اووايي " که چیرته تاسو نه وی نو مونږ به ضرور مؤمنان وو " . متکبّرين به کمزورو خلقو ته اووايي : " آيا مونږ تاسو د هدايت نه منع کړي وی ، پس ددينه چې تاسو ته هدايت راغلې ؤ ؟ بلکه تاسو خو پخپله مجرمان وی " . کمزوري خلق ( تابِعين ) به مُتکبّرينو ( متبوعينو ) ته اووايي : " ( نه ) بلکه دا خو ( ستاسو هغه ) د شپې او ورځې مکر ؤ کله به چې تاسو مونږ ته حکم کولو چې مونږ د الله نه اِنکار اوکړو او د هغه سره ( په عبادت کې ) شريک مقرر کړو " . پس دوی چې کله عذاب اوګوري نو پښيمانتيا به پټوي ( يعنى د عذاب په ليدلو سره به دا مشران پښيمانه شي او د خپلو مَاتَحتو خلقو نه پښيمانتيا پټوي ځکه د هغوی د ملامتيا نه به ويرېږي ) ، او مونږ به د کافرانو په څټونو کې طوقونه ( زَنځيرونه ) واچوو ، دوی ته به صرف د هغه عملونو سزا ورکولې شي کوم چې دوی ( په دُنيا کې ) کول .

## مَتبوعين به د عذاب په ليدلو سره ځان د تابعينو نه بې زاره کړي

۱ . الله رب العزت فرمايي :

---

(۱) سبا آية ۳۱ تا ۳۳ .

Scanned with CamScanner

﴿ وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّاۤ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ مَاۤ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَاۤ اَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴾.(١)

ترجمه : او هر کله چې د کار فيصله اوشي ( يعنی جنتيان جنت ته لاړ شي او جهنميان جهنم ته لاړ شي ) نو شيطان به ( خپلو پيروکارو ته ) اووايي : بيشکه الله تعالی تاسو سره ( د پيغمبر په ژبه ريښتيني ) وعده کړې وه ( او هغه يې درسره پوره کړه ) اوما هم درسره وعده کړې وه خو ما تاسو سره وعده خلافي اوکړه ، او زما په تاسو باندې څه زور نه وُ صرف ما تاسو رااوبللی پس تاسو زما خبره اُومنله ، پس تاسو ما مه ملامته کوئ بلکه خپل ځانونه ملامته کړئ ، ( اوس ) نه زه ستاسو فريادرَسي ( مددګار ) يم او نه تاسو زما فريادرَسيان يئ ، بيشکه زه د هغه څه نه اِنکار کوم چې ددينه وړاندې تاسو زه د الله تعالی سره ( په عبادت کې ) شريکولم ، بيشکه د ظالمانو د پاره دَردناک عذاب دی .(٢)

---

(١) ابراهيم آية ٢٢ .

(٢) ﴿وَقَالَ الشَّيْطَانُ﴾ يَعْنِي: إِبْلِيسَ. ﴿لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ﴾ أَيْ: فُرِغَ مِنْهُ فَأُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ. وَقَالَ مُقَاتِلٌ: يُوضَعُ لَهُ مِنْبَرٌ فِي النَّارِ، فَيَرْقَاهُ فَيَجْتَمِعُ عَلَيْهِ الْكُفَّارُ بِاللَّائِمَةِ فَيَقُولُ لَهُمْ: ﴿إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ﴾ فَوَفَّى لَكُمْ بِهِ، ﴿وَوَعَدْتُكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ﴾ وَقِيلَ: يَقُولُ لَهُمْ: قُلْتُ لَكُمْ لَا بَعْثَ وَلَا جَنَّةَ وَلَا نَارَ. ﴿وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ﴾ وِلَايَةٍ. وَقِيلَ: لَمْ آتِكُمْ بِحُجَّةٍ فِيمَا دَعَوْتُكُمْ إِلَيْهِ. ﴿إِلَّا أَنْ دَعَوْتُكُمْ﴾ هَذَا اسْتِثْنَاءٌ مُنْقَطِعٌ مَعْنَاهُ: لَكِنْ ﴿دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنْفُسَكُمْ﴾ بِإِجَابَتِي وَمُتَابَعَتِي مِنْ غَيْرِ سُلْطَانٍ وَلَا بُرْهَانٍ. ﴿مَا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ﴾ بِمُغِيثِكُمْ. ﴿وَمَا أَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ﴾ بِمُغِيثِيَّ. ﴿إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِنْ قَبْلُ﴾ أَيْ: كَفَرْتُ بِجَعْلِكُمْ إِيَّايَ شَرِيكًا فِي عِبَادَتِهِ وَتَبَرَّأْتُ مِنْ ذَلِكَ. ﴿إِنَّ الظَّالِمِينَ﴾ الْكَافِرِينَ. ﴿لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ .
تفسير البغوي ج ٤ ص ٣٤٥ .

Scanned with CamScanner

# تابعين به الله ﷻ ته درخواست اوکړي چې ''زمونږ دې ګمراه مشرانو ته دُوچند عذاب ورکړه ، او لعنت پرې رااُوليږه''

١ . په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ۝ رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴾ .(١)

ترجمه : او تابعين به اووايي : اې زمونږ ربه ! بيشکه مونږ د خپلو سردارانو او غټانو (مشرانو) حکم منلې وُ پس دوی مونږ د (حقې) لارې نه ګمراه کړو ، اې زمونږ ربه ! دوی ته دُوچند عذاب ورکړه او په دوی باندې لوی لعنت رااُوروه .

٢ . بل ځای الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ قَالُوا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴾ .(٢)

ترجمه : تابعين به اووايي : اې زمونږ ربه ! چا چې مونږ ته دا مصيبت (او عذاب) رامخې ته کړی نو هغه ته په جهنم کې دوچند عذاب زيات کړه .(٣)

٣ . د کافرانو مَتبوعينَ (سرداران) به اول جهنم ته داخليږي بيا به ورپسې دا تابعين (پيروکار) داخليږي ، تابعين به په خپلو مشرانو باندې لعنت وايي او ددوی د پاره به د الله تعالى نه د دُوچند عذاب ورکولو مطالبه کوي .

ددې بيان الله تعالى داسې کړی : ﴿ قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ مِنَ الْجِنِّ

---

(١) الاحزاب آية ٦٧ ، ٦٨ .

(٢) ص آية ٦١ .

(٣) ﴿قَالُوا﴾ يَعْنِي: الْأَتْبَاعُ ﴿رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هَذَا﴾ أَيْ: شَرَعَهُ وَسَنَّهُ لَنَا. ﴿فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ﴾ أَيْ: ضَعِّفْ عَلَيْهِ الْعَذَابَ فِي النَّارِ. قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ ﷺ: يَعْنِي حَيَّاتٍ وَأَفَاعِيَ. تفسير البغوي ج ٧ ص ١٠٠ .

Scanned with CamScanner

وَالْإِنْسِ فِي النَّارِ ۚ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ۝ وَقَالَتْ أُولَاهُمْ لِأُخْرَاهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴾.(١)

ترجمه : الله تعالى به (كافرانو ته) اووايي :" تاسو په جهنم كې د هغه أمتونو سره داخل شئ كوم چې ستاسو نه وړاندې د پيريانو او انسانانو نه جهنم ته تللي دي "، كله چې يوه ډله جهنم ته داخله شي نو پخپله هَم مثله ډَله باندې به لعنت وايي (كومه چې د دوى سره په شِرک کې شريکه وي)، تر دې چې كله دا ټول په دې جهنم کې راجمع شي نو روستونی (د تابعينو) ډَله به د مخكيني (يعنى مَتبوعينو) په حق کې أووايي : " اې زمونږ ربه! دې مشرانو خو مونږ ګمراه کړي وو پس ته دوى ته د جهنم دُوچند عذاب ورکړه ". الله تعالى به ورته اوفرمايي : " په تاسو کې هر يو ته دوچند عذاب دى خو تاسو پرې نه پوهيږئ ". او دا أولنۍ (د مَتبوعينو) ډَله به دې روستنو (تابعينو) ته اووايي " چې تاسو ته خو په مونږ باندې څه فضيلت نشته (ځکه مونږ او تاسو ټول په کُفر کې شريک يو) پس أوڅکئ عذاب د هغه کارونو په وجه كوم چې تاسو كول.(٢)

---

(١) الاعراف آية ٣٨ ، ٣٩ .

(٢) {قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ} يَعْنِي: يَقُولُ اللهُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أُدْخُلُوا فِي أُمَمٍ. أَيْ: مَعَ جَمَاعَاتٍ. {قَدْ خَلَتْ} مَضَتْ. {مِنْ قَبْلِكُمْ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ فِي النَّارِ} يَعْنِي كُفَّارَ الْأُمَمِ الْخَالِيَةِ. {كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَعَنَتْ أُخْتَهَا} يُرِيدُ أُخْتَهَا فِي الدِّينِ لَا فِي النَّسَبِ. فَتَلْعَنُ الْيَهُودُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى النَّصَارَى، وَكُلُّ فِرْقَةٍ تَلْعَنُ أُخْتَهَا وَيَلْعَنُ الْأَتْبَاعُ الْقَادَةَ. وَلَمْ يَقُلْ أَخَاهَا لِأَنَّهُ عَنَى الْأُمَّةَ وَالْجَمَاعَةَ. {حَتَّى إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا} أَيْ: تَدَارَكُوا وَتَلَاحَقُوا وَاجْتَمَعُوا فِي النَّارِ. {جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ} قَالَ مُقَاتِلٌ: يَعْنِي أُخْرَاهُمْ دُخُولًا النَّارَ وَهُمُ الْأَتْبَاعُ. {لِأُولَاهُمْ} أَيْ: لِأُولَاهُمْ دُخُولًا وَهُمُ الْقَادَةُ. لِأَنَّ الْقَادَةَ يَدْخُلُونَ النَّارَ أَوَّلًا. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: يَعْنِي آخِرَ كُلِّ أُمَّةٍ لِأُولَاهَا. وَقَالَ السُّدِّيُّ: أَهْلُ آخِرِ الزَّمَانِ لِأُولَاهُمُ الَّذِينَ شَرَعُوا لَهُمْ ذَلِكَ الدِّينَ. {رَبَّنَا هَؤُلَاءِ} الَّذِينَ. {أَضَلُّونَا} عَنِ الْهُدَى يَعْنِي الْقَادَةَ {فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِنَ النَّارِ} أَيْ: ضَعِّفْ عَلَيْهِمُ الْعَذَابَ ←←←←

## الله تعالی ته درخواست کول : " چې مونږ لره ګمراه کوونکي مشران راته اوښایه چې په خپو پرې اوخیجو "

په قرآن کریم کې ذکر دي :

﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَا أَرِنَا الَّذَيْنِ أَضَلَّانَا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ الْأَسْفَلِينَ ﴾.(١)

ترجمه : او کافران به (په جهنم کې) اووایي : اې زمونږ ربه ! مونږ ته هغه خلق اوښایه کومو چې مونږ ګمراه کړي وو که هغه پیریان وي او که انسانان وي چې مونږ یې د خپلو قدمونو لاندې اومږو ، ددې د پاره چې د ډیرو ښکته (ذلیلو) خلقو نه شي .

## د کافرانو نه به په قیامت کې خپل باطل معبودان ورک شي

الله تعالی د کافرانو د پاره د جهنم سزا ذکر کولو نه روستو فرمایي :

﴿ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ۝ مِن دُونِ اللَّهِ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُوا مِن قَبْلُ شَيْئًا كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ ﴾.(٢)

ترجمه : بیا به دې کافرانو ته وویلې شي : (نن) ستاسو هغه شریکان چیرته دي کوم چې تاسو د الله تعالی نه علاوه د هغه سره (په عبادت کې) شریکول ؟ هغوی به اووایي : هغه ټول د مونږ نه ورک شو ، بلکه مونږ خو ددینه وړاندې (په دُنیا کې) د بل هیڅ شي عبادت نه کولو ، الله تعالی کافران همدغه شان ګمراه کوي .

←←← {قَالَ} اللهُ تَعَالَى. {لِكُلٍّ ضِعْفٌ} يَعْنِي لِلْقَادَةِ وَالْأَتْبَاعِ ضِعْفٌ مِنَ الْعَذَابِ. {وَلَكِنْ لَا تَعْلَمُونَ} مَا لِكُلِّ فَرِيقٍ مِنْكُمْ مِنَ الْعَذَابِ... {وَقَالَتْ أُولَاهُمْ} يَعْنِي الْقَادَةَ {لِأُخْرَاهُمْ} لِلْأَتْبَاعِ. {فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ} لِأَنَّكُمْ كَفَرْتُمْ كَمَا كَفَرْنَا فَنَحْنُ وَأَنْتُمْ فِي الْكُفْرِ سَوَاءٌ وَفِي الْعَذَابِ سَوَاءٌ. {فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ} . تفسير البغوي ج ٣ ص ٢٢٨ .

(١) حم السجدة (فصلت) آية ٢٩ .

(٢) المؤمن (غافر) آية ٧٣ ، ٧٤ .

## اوس الله ﷻ طرف ته متوجه کيدل په کار دي ، ګنې بيا به سرې ارمانونه کوي خو په ګوتو به ورته څه نه ورځي

انسان ته په کار دي چې اوس د دُنيا ژوند غنيمت اوګنړي او الله ﷻ طرف ته متوجه شي ځکه د الله تعالى عذاب راتلو نه پس به بيا انسان مختلف قِسمه ارمانونه کوي خو په لاس به هيڅ نه ورځي .

الله تعالى ددې تفصيلي بيان داسې کړى :

﴿ وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ۝ وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۝ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ۝ اَوْ تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ اَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴾.(١)

ترجمه : او تاسو خپل رَب ته راجع شئ او د هغه حکم اومنئ مخکې ددينه چې په تاسو باندې عذاب راشي بيا به ستاسو مدد نشي کولى . او تاسو تابعداري اوکړئ د ډير بهترين هغه څيز کوم چې تاسو ته نازل کړې شوى (چې هغه قرآن کريم دى) مخکې ددينه چې په تاسو باندې ناڅاپه عذاب راشي او تاسو خبر هم نه يَئ . ددې د پاره چې بيا يو نفس او نه وايي چې : هاى افسوس ما د الله تعالى په حق کې کوتاهي اوکړه ، او ما خو (د دِين پورې) توقې کولى . يا يو کس دا او نه وايي : که چيرته الله تعالى ماته هدايت کړې وى نو زه به (اوس) د پرهيزګارانو په ډَله کې شماروم . يا کله چې عذاب اوګوري نو يو کس دا او نه وايي : که چيرته زما د پاره دوباره (دُنيا ته) تلل وي نو زه به بيا د نېکانو خلقو نه شم . (ده ته به د الله ﷻ د طرفه ووېلې شي :) او ، بيشکه تاته زما آيتونه راغلل خو تا هغه دروغ اوګڼل ، لوئي دې اوکړه ، او د کافرانو نه شوى .

---

(١) الزمر آية ٥٣ تا ٥٩ .

Scanned with CamScanner

# خپل ځان او خپل اَولاد د جهنم د اُور نه بچ کول په کار دي

انسان ته په کار دي چې خپل ځان او خپل اَولاد د داسې کارونو نه اُوساتي چې د هغې په وجه دوی د جهنم مستحق کرځي.

۱. الله تعالی هم په قرآن کریم کې مؤمنانو ته د جهنم د عذاب نه د بچ کیدو حکم کړی:

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾.(۱)

ترجمه: اې مؤمنانو! تاسو خپل ځانونه او خپل کوروالهٔ د هغه اُور نه اُوساتئ چې د هغې خشاک خلق او کانړي دي.

**نوټ**: خپل ځان او خپل اَولاد د جهنم نه په دې طریقه بچ کیږي چې انسان پخپله هم ځان د ګناهونو نه اُوساتي او خپل اَولاد هم د ګناهونو نه اُوساتي، همدغه شان پخپله هم نېک اعمال کوي او خپلو بچو ته هم د دې حکم کوي.(۲)

۲. بل ځای الله ربّ العزت فرمايي:

﴿ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۚ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴾.(۳)

---

(۱) پوره آیت داسې دی: ﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴾. التحریم آیة ٦.

(۲) {يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا أَنْفُسَكُمْ} قَالَ عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: أَيْ بِالْإِنْتِهَاءِ عَمَّا نَهَاكُمُ اللّٰهُ تعالی عنه وَالْعَمَلِ بِطَاعَتِهِ {وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا} يَعْنِيْ: مُرُوْهُمْ بِالْخَيْرِ وَانْهَوْهُمْ عَنِ الشَّرِّ وَعَلِّمُوْهُمْ وَأَدِّبُوْهُمْ تَقُوْهُمْ بِذٰلِكَ نَارًا. تفسير البغوي ج ٨ ص ١٦٩.

{يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا} فِيْهِ مَسْأَلَةٌ وَاحِدَةٌ: وَهِيَ الْأَمْرُ بِوِقَايَةِ الْإِنْسَانِ نَفْسَهُ وَأَهْلَهُ النَّارَ. قَالَ الضَّحَّاكُ: مَعْنَاهُ قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلُوْكُمْ فَلْيَقُوْا أَنْفُسَهُمْ نَارًا. وَرَوَى عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَلْحَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأْمُرُوْا أَهْلِيْكُمْ بِالذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ حَتّٰى يَقِيَهُمُ اللّٰهُ بِكُمْ. وَقَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقَتَادَةُ وَمُجَاهِدٌ: قُوْا أَنْفُسَكُمْ بِأَفْعَالِكُمْ وَقُوْا أَهْلِيْكُمْ بِوَصِيَّتِكُمْ. تفسير القرطبي ج ١٨ ص ١٩٤.

(۳) البقرة آية ۲۴.

Scanned with CamScanner

ترجمه : تاسو د هغه اُور نه اُويريږئ چې د هغې خشاک خلق او کانړي دي ، کوم اُور چې د کافرانو د پاره تيار کړې شوې دى .

۳ . بل ځاى الله ﷻ فرمايي : ﴿ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّى ﴾ .(۱)

ترجمه : پس ما تاسو د هغه اُور نه اُويرولی چې هغه لمبې وهي .

## د آخرت ناكامي ډير غټ تاوان دی

كه انسان په آخرت كې ناكام شي او د جهنم مستحق اوگرځي نو يقينًا چې دا ډير غټ تاوان دی . الله تعالى هم داسې خلقو ته كامِل تاوانيان ويلي :

﴿ قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴾ .(۲)

ترجمه : ته ورته اووايه : بيشكه (كامِل) تاوانيان هغه خلق دي كومو چې د قيامت په ورځ خپل ځانونه او خپل كوروالـه په تاوان كې واچول ، خبردار همدا ښكاره تاوان دی .(۳)

---

(۱) الليل آية ۱۴ .

(۲) الزمر آية ۱۵ .

(۳) {قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ} أَيْ: إِنَّمَا الْخَاسِرُونَ كُلَّ الْخُسْرَانِ ..... {ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ} أَيْ: هَذَا هُوَ الْخَسَارُ الْبَيِّنُ الظَّاهِرُ الْوَاضِحُ. تفسير ابن كثير ج ۷ ص ۹۰ .

{ قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ} أَزْوَاجَهُمْ وَخَدَمَهُمْ. {يَوْمَ الْقِيَامَةِ} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : وَذَلِكَ أَنَّ اللهَ جَعَلَ لِكُلِّ إِنْسَانٍ مَنْزِلًا فِي الْجَنَّةِ وَأَهْلًا فَمَنْ عَمِلَ بِطَاعَةِ اللهِ كَانَ ذَلِكَ الْمَنْزِلُ وَالْأَهْلُ لَهُ، وَمَنْ عَمِلَ بِمَعْصِيَةِ اللهِ دَخَلَ النَّارَ وَكَانَ ذَلِكَ الْمَنْزِلُ وَالْأَهْلُ لِغَيْرِهِ مِمَّنْ عَمِلَ بِطَاعَةِ اللهِ . وَقِيلَ : خُسْرَانُ النَّفْسِ بِدُخُولِ النَّارِ، وَخُسْرَانُ الْأَهْلِ بِأَنْ يُفَرَّقَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَهْلِهِ. {أَلَا ذَلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ} .تفسير البغوي ج ۷ ص ۱۱۲ .

{قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ} بِتَخْلِيدِ الْأَنْفُسِ فِي النَّارِ وَبِعَدَمِ وُصُولِهِمْ إِلَى الْحُورِ الْمُعَدَّةِ لَهُمْ فِي الْجَنَّةِ لَوْ آمَنُوا {أَلَا ذَلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ} البين . تفسير الجلالين

Scanned with CamScanner

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې په قرآن كريم او احاديثو كې د كافرانو او ګناهګارانو د پاره د جهنم سختې سزاګانې او مختلف عذابونه ذكر شوي :

د دوی په سَر باندې به ګرمې اُوبه اړولې شي ، د جهنميانو د ټولو نه سپَک عذاب به هم ډير خطرناک وي ، جهنميان به د اُور په زَنځيرونو او هَتکړو کې کلک تړلې شي ، په زنځيرونو کې د تړلو نه پس به په ګرمو اُوبو کې راښکلې شي او جهنم ته به غورځولې شي ، د جهنم زنځيرونه به ډير اُوږده او ډير درَانه وي .

کافران به د اُوسپنو په ګُرزُونو باندې وهلې شي ، دا ګُرزونه به ډير درَانه وي ، په دې باندې وهلو سره به د جهنمي ټول اندامونه ټوټې ټوټې شي .

کافرانو ته به په جهنم کې د اُور په غر باندې د ختلو سزا هم ورکولې شي .

د جهنميانو خوراک به د زقوم اُونه ، وِينې او زَوې ، په مَرۍ کې نښتونکې خوراک ، او آزغي داربُوټې وي .

جهنميانو ته به د څکلو د پاره د تېلو د خيرې په شان ګرمې جُوشيدلې اُوبه ، د جهنميانو د زخمونو پيپ ، او د جهنميانو د بدن خوَله ورکولې شي .

جهنميانو ته به د سختې تَندې او سختې اُولږې عذاب هم ورکولې شي ، د سختې تَندې نه پس به ورباندې ګرمې خُوټېدلې اُوبه څکلې شي .

د جهنميانو لباس به هم ډير خطرناک وي : ځکه کافرانو ته به د اُور کپړې وَراغوستلې شي ، د بعضې مجرمانو قميصونه به د ګوګړو ( رانځړو ) وي .

جهنميانو ته به د اُور پَنړې وَرپه خپو کولې شي ، دا به دومره ګرمې وي چې د دې په وجه به د دوی دِماغ د کټوۍ په شان جوش وهي .

د جهنميانو بِستره او بړَستن دواړه به د اُور وي ، بلکه د هر طرف نه به اُور راګير کړي وي ، او هر څه به يې د اُور وي .

جهنميان به په جهنم کې تېزې چغې او سُورې وهي ، د سخت عذاب په وجه به دومره اُوژاړي چې په آخر کې به يې د سترګو نه د اُوښکو په ځای وِينې روانې شي ، او د ډيرې ژړا په وجه به يې آواز کينې .

Scanned with CamScanner

جهنميان به په تنګ ځای کې اَچولې شي ، بلکه کافران به د اُور په تابوتونو کې بند وي په دوی باندې به د جهنم دروازې رابندولې شي او په ستَنو پورې به کلک تړلې شي ، دا ځکه چې د الله تعالى عذاب او تړل ډير سخت دي .

بعضې جهنميانو ته به دومره سخت عذاب ورکولې شي چې د دوی په وجه به نور جهنميان هم تنګ وي .

بعضې جهنميان به د ځان پسې خپلې ګولمې راکاږي ، بعضې به د ځان پسې دوه فرسخه غټه ژبه راکاږي .

د جهنميانو جِسمونه به د عذاب د پاره غټولې شي ؛ ددې د پاره چې د دوی په عذاب کې نور زياتوالې هم راشي او دَرد زيات محسوس کړي .

د جهنميانو په عذاب کې به هيڅ کمې نشي کولی ، دوی ته به د هر طرف نه د مرګ اَسباب راځي خو مړه کيږي به نه ، ځکه په جهنم کې به مرګ نه وي ، مرګ به د قيامت په ورځ د جنت او جهنم په مينځ کې ذبح کړې شي . همدارنګې جهنميان به د الله ﷻ د دِيدار نه محروم وي .

ددينه علاوه د کافرانو او مجرمانو د پاره په جهنم کې نور نامعلوم عذابونه هم شته .

د قيامت په ورځ به په کافرانو او ګناهګارانو باندې د دوی غوږونه ، سترګې ، څرمن ، لاسونه او خپې د دوی خلاف ګواهي ورکړي .

جهنميان به په جهنم کې مختلف قِسمه دَرخواستونه اوکړي ، خو يو به يې هم نشي قبلولی : تر دې چې دُنيا ته د واپس تللو ، د جهنم نه د وتلو ، او د جهنم عذاب سپکولو درخواست به اوکړي خو قبول به نشي . همدارنګې د عذاب په ليدلو به ډيرې آرزوګانې هم اوکړي خو يوه به يې هم پوره نشي .

مُجرم او کافر که د جهنم د عذاب نه ځان بچ کولو د پاره خپل ځامن ، خپله ښځه ، خپل ورور ، د ټولې دُنيا مخلوقات او د ټولې دُنيا مال و دولت ورکول اوغواړي خو دا به ورنه نشي قبلولی .

په جهنم کې به تابعين د خپلو ګمراه مشرانو نه د عذاب کمولو او مدد کولو درخواست اوکړي خو هغوی به يې هيڅ مدد اونکړې شي ، تابعين به د خپلې ګمراهۍ پړه په ګمراه متبوعينو وَرواچوي خو هغوی به اِنکار اوکړي او ځان به ورنه بې زاره کړي . بيا به تابعين

Scanned with CamScanner

الله ﷻ ته دَرخواست اوکړي چې" زمونږ دې ګمراه مشرانو ته دُوچند عذاب ورکړه او لعنت پرې رااُوليږه ، او الله ته به درخواست اوکړي چې ګمراه مشران راته اُوښايه چې په خپو پرې اُوخيجو .

لهذا همدا اوس الله ﷻ طرف ته متوجّه کيدل په کار دي ، ګنې بيا به سرې اَرمانونه کوي خو په ګوتو به هيڅ نه ورځي .

خپل ځان او خپل اَولاد د جهنم د اُور نه بچ کول په کار دي ؛ ځکه که انسان په آخرت کې ناکام شي او د جهنم مستحق اوګرځي نو يقينًا چې دا ډير غټ تاوان دی .

## دُعا

الله تعالى دې مونږ او تاسو ټول د جهنم د عذابونو نه محفوظ اُوساتي .

ربِّ کريم دې مونږ ټول د آخرت د شرمندګۍ ، رَسوايۍ او ناکامۍ نه اُوساتي .

پروردګارِ عالَم دې مونږ د ټولو هغه ګناهونو نه محفوظ اوساتي چې د هغې په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي ، بلکه د هغه نېکو اعمالو توفيق دې راته راکړي چې د هغې په وجه انسان د جنت مستحق کيږي .

الله ﷻ دې مونږ ته د شريعت په ټولو احکاماتو باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# خوشخبري

ددې پسې به اِنۡ شَآءَ اللّٰه اُووم جلد وي ، او دا سلسله به د الله جل جلاله په توفيق سره تر يو وخته پورې همداسې جاري وي

## په اُووم جلد کې به دا موضوع ګانې وي:

د جهنم نه ويريدل ، او د ويريدونکو خلقو واقعات

جهنم ته داخلوُونکي بَد اعمال

د قيامت د ورځې احوال

او ددې سره مناسب نورې موضوع ګانې به وي.

په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو ياد ساتئ

ستاسو ورور :

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

Scanned with CamScanner

د عُلماؤ، طُلباؤ، مُقرِّرینو او عامو مسلمانانو د پاره په مختلفو موضوع گانو باندې

د تقریرونو یوه مُفصّله، مُعتَمَده، عِلمي، او تحقیقي ذَخِیره:

# اِصلاحي مُدَلَّل تقرِيرُونه

جلد ۱ تا جلد ۱۵

تالِیف


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنهُ

فاضلِ جامعه امدادُالعلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربیة ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

## اول جلد

۱. د زَنانهؤ د پاره د شرعي پَردې اَهميت او ثبوت
۲. د زَنانهؤ د پاره د پَردې فضائل او بې پَردګۍ سزاګانې
۳. ښځو د پاره د كور نه د بهر وتلو شرائط او آداب
۴. د پَردې متعلق اعتراضات او د هغې جوابات
۵. د پَردې متعلق ضروري فِقهي مسائل

## دويم جلد

۱. پَردې، ښځې سره خَلوَت او اِختِلاط حرام دى
۲. د بَدنظرۍ سزاګانې او ددينه د بچ كيدو طريقې
۳. د نظر حفاظت كول
۴. د تواضع فضائل او فوائد (ورسره)
د نبي ﷺ، صحابه كرامو او نورو بزرګانو د تواضع واقعات
۵. د جُمعې او اخترونو خُطبې

## دريم جلد

۱. د تقوى فضائل او فوائد
۲. د نبي عليه السلام، صحابه كرامو او نورو بزرګانو د تقوى واقعات
۳. د الله ﷻ د عذاب نه ويريدل (ورسره)
د نبي عليه السلام، صحابه كرامو او نورو بزرګانو د الله ﷻ نه د ويريدو واقعات
۴. د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل

## څلورم جلد

۱. د ختمِ نبوت تفصيلي بيان
۲. په دروغه د نبوّت دعوىٰ كوونكو خلقو احوال
۳. ګستاخِ رسول مرتد او كافر دى او سزا يې صرف مرګ دى
۴. نبي عليه السلام په ټولو پيغمبرانو كې افضل دى

Scanned with CamScanner

## پنځم جلد


۱. د جنت نعمتونه او خوشحالۍ (اول بيان)

۲. د جنت نعمتونه او خوشحالۍ (دويم بيان)

۳. جنت ته داخلوونكي نېک اعمال


## شپږم جلد


۱. د جنت حُورې بيبياني او خادِمان

۲. د جنت او حُورو متعلق فِقهي مسائل

۳. د جهنم عذابونه

۴. د جهنميانو د پاره سختې سزاګانې او مختلف عذابونه












Design by: NoorPrinters +923115661212

# مكتبة اعزازيه

جاده میوند پخته فروشی کابل : 0764857797

Scanned with CamScanner